د حکیم سنائی غزنوي د زیږیدو د نه سوم تلین د نمانځنې په ویاړ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت
د پښتو د پرمختیا او ودې ریاست
۱۳۵۶

دیونس دیوان

د خیبر ندوي خدمتګار په زیار

ACKU

دعبیدالله سحر او حفیظ ا لله رهجو په ا هتمام

دتلی دمیاشتی ۳۰ ـ۱۳۵٦ کال

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00002314 2

د یونس دیوان

نقل، مقابله، سمون
مقدمه او حاشیې

د
څېړندوی عبدالله خدمتګار
له خوا

PROPERTY OF ACKU

د اطلاعاتو او کلتور وزارت
د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت
کابل - افغانستان

د چاپ شمېر: یو زر ټوکه
د چاپ نېټه: د ۱۳۵۶ هـ ش د تلې ۲۵مه

د یونس خیبري دیوان

یونس خیبري د پښتو له خوږژبو کلاسیکو شاعرانو څخه دی چې د رحمان بابا مستقیم شاګرد او د هغه د ادبي مکتب او سبک پیرو دی.

د دې خوږژبي شاعر دیوان په ګلستان کې چې د حسن او ښکلا رنګینو ګلانو څخه ووړ موږ په عین کې د عشق او محبت د بلبلانو د سوز او ساز نغمې او سندرې اورېدل کېږي.

د یونس د مینې په دنیا کې یوازې د مجازي عشق جلوې او کرشمې نه وینو بلکه د حقیقي عشق او عرفان نور او تجلي یې زیات ځلیږي او د دیني مسایلو او ښو اجتماعي اخلاقو د پاللو او روزلو د پاره هم اغېزناک درسونه لري.

په ادبي لحاظ د پښتو د کلاسیک ادب د شعر له خوا ښو او غوره مونو څخه ګڼل کېږي او د پښتو ادب په ذخیره کې یې د قدر وړ اضافه کړې.

ACKU

د یونس خیبري شعرونه که څه هم دلته او هلته د مطبوعاتو په پاڼو کښې خپاره شوي دي، مګر تر اوسه پورې لا د اشعارو بشپړ دیوان نه و چاپ شوی. خو مره چې مونږ ته معلوم دی د یونس د دیوان بله خطي نسخه هم بل چیرته نه ده موندل شوې او دغه لوانۍ خطي نسخه د جمهوري ارګ په کتابتون کښې خوندي ده چې د احمدشاه بابا د سلطنت په وخت په ۱۱۷۶ هق کال د پښتو زین الدین په ښکلي لیک لیکل شوې او ښکلې هنري تزئینات او طلاکاري هم لري.

د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د مشورتي علمي غونډې په سپارښتنه خپرندوی عبدالله بختاني خدمتګار د دغه نسخې نقل، تصحیح او مقابله کړه او ورباندې مقدمه او حاشیې ولیکلې.

زه خوشحالیږم چې د یونس د ښکلو شعرونو دغه ښکلی دیوان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا د امریت له خوا د حضرت حکیم سنائي د نمانځنې د علمي غونډې په موقع، د ښاغلي نصیر هنري په ښکلي خطاطۍ د لومړي ځل د پاره له چاپه وځي او تولنې ته وړاندې کیږي.
هیله لرم چې د هنري او ادبي ذوق خاوندان ترې خوند واخلي او د ادبیاتو د استادانو او شاګردانو په درد وخوري.

پوهاند دکتور نوین
د اطلاعاتو او کلتور وزیر

سریزه

ACKU

محمد یونس او د هغه دیوان

د بایزید روښان د ملي، انقلابي، مترقي، عرفاني
حرکت په ملګرو کښې ډېر ستر شاعران وروزل شول
او د پښتو په خزانه کښې یې خورا زیاته باارزښته
ذخیره زیاته کړه. د روښان تر عصره د مخه زمانو نه لږ
اثار مونږ پورې رسېدلي دي مګر د دغې د وړې
ادبي اثارو د ښکلا، قوت او د فورم او د محتوی
او د هغو د بډایتوب، پراختیا او ژورتیا له مخه
سړی ویلی شي چې دا د یوې قوي ادبي
غنځې پرله پسې ادامه ده چې د روښاني تحریک

په ترځ کښې لا پراخ او پیاوړې شوې دی.

د روښاني ادبي دورې په پای کښې خوشحال خټک پیدا کیږي، چې د شعر او ادب د کیفیت او کمیت له مخه د پښتو لوی شاعر ګڼل کیږي. خوشحال خان په خپله په پښتو شعر کښې نوړ نوي مضامین زیات کړل، په تېره بیا د ملي حماسي مضمون په پراخ ډګر کښې یې سبه په میړانه منډه وکړه او دې مضمون ته یې پوره ترقي ورکړه.

د خوشحال خان خټک په لوی کور کښې، نور لوی، ستر او نوموړ - شاعران هم راپورته شو او د پښتو ادب پانګه یې لا زیاته کړه.

بایزید روښان او د هغه کورنۍ او پلویانو، په علمي، نظري او عملي توګه د هند، د ګورګاني سلطنت د قدرت او طاقت په مقابل کښې پرله پسې مبارزه کوله، او د خپلې زمانې ننګیالي خوشحال خټک هم، د خپل ژوند په وروستیو کلونو، د همدغه پردي قوت په مقابل کښې د افغان په ننګ توره وتړله او د تورې او قلم د تودو او سرو جنګونو څخه ډېر یادګارونه او خاطرات یې د تاریخ او ادب په پاڼو کښې پرېښودل.

په دې وختونو کښې، په سیاسي لحاظ، د حاکمه قدرتونو استبداد، د فیوډالي طاقتونو په مرسته، ورځ په ورځ ټینګېده او په ادبیاتو کښې د مبارزې ملي محتوا تر تهدید لاندې وه، او د ودې او پراختیا فضا یې

ACKU

تنګه، زهرجن او محدود وه.

د بايزيد روښان تحريک په زوره خپل شوی او محوه شوی و.

خوشحال د حاکمه مقاماتو په لمسه په خپل تورپک ويشتل شوی و او د خپلو زامنو له لاسه زهر چاودی شو ....

د دغو عواملو لاندې د پښتو ادب را پيدا شوی، پراخ ژور او قوي جريان د حسن او ښکلا، عشق او محبت، وصال او هجران، معشوق او رقيب، ګل او بلبل، ساقي او صراحي، شراب او رباب رنګين جهان ته مخه وکړه، ځکه چه په دې کړو نده کښې دلير يکو ادبياتو د رنګينو ګلانو د زرغونېدو او غوړېدو زمينه ډېره مساعده وه.

په دربارونو کښې په هندي او دري ژبه، د هندي سبک هنري اوج د نازکخيالو اوج ته رسېدلی او د برښاغلي شاعران د موهومې ليلا د زلفو په تال کښې خپل لوستونکي د ومړه وزنګوي چه پکښې اوده شي او په خوب کښې د جنت په منارو کښې د شنو توتيانو سره والوزي را والوزي.

د پښتنو د جامعې په اولسي ادبياتو کښې هم د غه رنګين مضمون تسلط موجود و او ليريک شعر او عشقي غزل پکښې، د مومن او شيرينو، ليلی او مجنون، شيرين او فرهاد، شاهد او عزيز، بهرام او ګل اندام، آدمخان او درخو .... د رنګينو افسانو د کاميابيو او ناکاميو، د عشق او مينې د خوږو ترخو

ساعتونو په رومانونو کښې ونغښتل شي او په خواګښې یې تغزل مخ په بره روان شي.

لکه څرنګه چه ګورو، په دغه دوره کښې، د تغزل په خواګښې، د تصوف رنګ او آهنګ هم قوي او پراخ شوی او د روحاني ژوند په ملکوتي دنیا کښې د آفاقي او انفسي سیر و نو تجلیاتو پکښې ښه انعکاس موندلی دی.

په دې وخت کښې ملي او قومي آثار خال خال موندل کېږي او یا د دغه فکر د شاعرانو د افکارو په هینداره کښې ډېر تت ښکاري.

د پښتو ادب په معلوم تاریخ کښې د شعر له مخه د دغې دورې نسبتاً خورا زیات شاعران دي او د دوی د معلومو آثارو له مخه د دوی په هنر د عشق او حسن جهان خورا ښایسته او رنګین شوی دی.

د دې دورې یو پوخ، قوي او زبردست شاعر، محمد یونس دی چه د اشعارو دیوان یې تراوسه نه دی چاپ شوی او په قلمي توګه په ټوله نړۍ کښې، د هغه یوازې آیکې یوه نسخه موږ ته معلومه ده اوس.

د دغه خوږ ژبي رنګین بیان لوی شاعر، څومره چه د شاعرۍ جهان پراخ دی هومره زموږ د ځېر دی او نه ارزېږي په تنګ جهان کښې، د هغه شهرت تر خپلو همزولو هم پایه شاعرانو کم او محدود پاتې شوی دی.

پنځم

د شاعر د پېژندنې په باره کښې د شاه حسین هوتک د دربار ستر لیکوال، د شاعر معاصر، محمد هوتک بن داود په خپله تذکرة الشعراء پټه خزانه (د ۱۱۴۱/۲ هق تالیف) کښې په زړه پورې معلومات ورکوي چه مونږ يې دلته د یو موثوق سند په حیث کټ مټ راخلو.

"ذکر د شاعر شیوا بیان محمد یونس خان

هسې روایت کا زما تربور رحمت هوتک چه په سنه ۱۱۳۰ هجري پېښور ته تللی وم او هلته مې په خیبر کښې محمد یونس خان شاعر شیوا بیان ولید او د ده اشعار مې سماع کړل. محمد یونس په دغه کال یو دېرش کلن ځوان و او په قوم موسی خېل و چه پلار يې نور محمد خان له موسی خېلو څخه د کسی د بابر و سره راغلی او په خیبر کښې اوسېدی. محمد یونس په پېښور کښې علمونه او کتابونه ولوستل او په هغه وقت چه عبدالرحمان بابا ژوندی و د هغه شاگرد سو. او د شعر دیوان يې جوړ کا چه ډېر غزل لري او په خیبر کښې معروف سو. محمد یونس

ACKU

مېلمه دوست او کریم سړی دی. مسافرین یې په خیبر کښې په ډېره او سي. او که څوک عالم او شاعر د ده کره ورسي ډېر قدر یې او په عزت داری او مېلمه نوازي کښي همت کا. رحمت هوتک حکایت کا چه محمد یونس په خپله ډېره کښې ډېر پاته کرم او ډېره ورځ یې ماته ویل چه یوه نن شپه لا و کړه بیا نو ولاړ سه. یوه میاشت یې زما عزت وکا او هره ورځ به یې اشعار ابدار راته ویل. دغه دوه غزل رحمت د ده له دیوانه ماته راوړل چه په دې کتاب کښې یې ثبت کاندم.

(۱)

خدای دې محمد یونس خان ژوندی او معزز ولري"

که څه هم د پټې خزانې پورتنۍ لیکنه، د شاعر د اصل او نسب، شخصیت او اخلاقو، علم او ادب په باره کښې روښانه هینداره ده، مګر د موضوع

---

(۱) محمد هوتک: پټه خزانه.
ـ قلمي نسخه د اطلاعاتو او کولتور د وزارت د قلمي نسخو کتابخانه.
ـ د ۱۳۲۲، ۱۳۳۹، ۱۳۵۴ هش چاپ.

د زیات وضاحت د پاره به یې لنډ تشریح کړو :

- د شاعر سره د رحمت هوتک د ملاقات په وخت ، په ۱۱۳۰ هق کال شاعر یودېرش کلن ځوان و . دلته که مونږ ، یودېرش = ۳۱ وبولو، بیا نو شاعر په ۱۰۹۹ هق کال کښې ، او که (یو) د وحدت د پاره د (ځوان) عددي صفت وګڼو (لکه : یو ځوان ، یو سړی ، یو شاعر ، - یو یودېرش کلن ځوان) بیا نو شاعر په ۱۱۰۰ هق کښې زیږېدلی دی چه په هر صورت د یو کال فرق دومره مهم نه دی.

- محمد هوتک ، د پټې خزانې د تالیف نه په ۱۱۴۲ هق کال کښې فراغت مونډلی دی او تر دغه کاله پورې یونس ژوندی و . ځکه چه مولف ورته دعا کوي چه "خدای تعالی دې محمد یونس خان ژوندی او معزز ولري! " او د هغه د دوهم شعر په عنوان کښې لیکي :

" غزل - وله ایضاً اطال الله عمره!" یعني : " د هغه بل غزل ، خدای دې یې عمر اوږد کړي!"

په دې صورت په دغه وخت کښې یونس یو دوه څلوېښت کلن ځوان کېږي او تر دغه کاله او دې عمره پورې دده ژوند یقیني او مستند دی، چه پرته له دې دده د نور عمر ، وفات او د خښېدو د ځای په باره کښې مونږ سره نور معلومات نشته ، یوازې د هغه د ځینو -

ACKU

اتم

بیتونو نه دا راوځي چه هغه د زړښت عمر ته رسېدلی و. لکه چه وايي:

تللی عمر به مې راشي کله ته راشي
ګرچه نه راځي بیا عمر د شباب

* * *

مهر د بوسې که په یونس و شي له یاره
نوي به د حیات پیدا و بوسه د سره ځوان شي

* * *

چه ایام دې د حیات په سن شست شي
حلاوت به دې د عمر په شکست شي

وروستی بیت د یو غزل سر (مطلع) دی چه په ټول غزل کښې د زړتیا غند نه شوې ده. د دې بیت او غزل له مخه قوي احتمال دا دی چه شاعر دې دا شعر د خپل شپېتم کلنۍ په باره کښې ویلی وي او دا هم کېدی شي چه په یوه عامه معناچې د زوړوالي په باب کښې خپل نظر څرګند کړی وي.

– د پښتو خزانې د لیکنې له مخه، شاعر په خټه موسی خېل و او پلار یې – نور محمد خان له موسی خېلو څخه د کسې د بابر وسره راغلی او په خیبر کښې اوسېده.

دلته دا پوښتنه کېدی شي چه موسی خېل څوک دي؟

ACKU

په دې باره کښې، پوهاند عبدالحي حبيبي د پټې خزانې د پورتنۍ ليکنې په حاشيه کښې ليکي : "موسی خېل اصلاً د سليمان د غره په جنوبي لمنو د ژوب په ختيځه خوا کښې اوسي او د کاکړو يوه پښنه ده."

ښاغلی پروفيسر سيال کاکړ ليکي :

موسی خېل د کاکړستان د بورې د تاريخي ناوې په موسی خېل تحصيل کښې، آباد دي. په کندهار، زابل، سېوې او د غزنۍ په ولايت کښې له پخوا څخه موسی خېل کاکړان استوګنه لري. د غزنۍ د شلګر په اولسوالۍ کښې تر اوسه پورې موسی خېل کاکړ آباد دي....(۱)

بابړ هم د سهيلي پښتونخوا يوه لرغونې اريائي قبيله ده چه له پخوا زمانې څخه د کسی په تاريخي لمن کښې مېشته دي، خو بيا وروسته د پښتونخوا بېلو بېلو سيمو ته تللي دي....(۲)

- پټه خزانه ليکي : محمد يونس په پښتو کښې علمونه او کتابونه ولوستل داچه پر ته له پښتو ژبې د علم د تحصيل د پاره يا په بل مطلب بل چيرې هم تللی دی که نه ؟ په دې باره کښې پټه خزانه پټه خوله ده او مونږ سره هم څه څرګنده بېلګه نشته، يوازې د شاعر ځينې خپل شعرونه

---

(۱) پروفيسر سيال کاکړ - پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کښې - کوټه - د ۱۹۷۲ م. چاپ.
(۲) تېر ماخذ.

د هغه د مسافرۍ په باب، د حسب حال په توګه یو څه حال وایي:

په خاطر لې د وصال وطن ورېږي
هر چه شپه د جدالۍ په هوا د که

* * *

که تنها د جدالۍ په هوا دیم
چه دې غم راسره مل دی زه پرې ښادیم

* * *

ستا الفتې دا دیه وطن او رشو یونس ته
ښایي که روان شي د پوهې دکن د کاته

- د یونس د علمونو او کتابونو د لوستو په باره کښې باید دومره ووایو چه یې د دیوان له اشعارو نه په عمومي ډول د ده د علم او فضیلت اندازه لګېږي او ښکاري چه په تفسیر، حدیث، فقه او عربي او فارسي ادبیاتو کښې خپلې زمانې په معیار پوره وارد و، سره د دې هم په وینا کښې یې هیڅ رنګه فضل فروشي او خودنمایي نه وینو. په ټول دیوان کښې یې یوازې یو ځای په تغزلي انداز کښې، خپل علم او عقل یاد کړی دی، هغه هم د علم او عقل د ګټلو او درلودلو نه، بلکه د هغو د بایللو، وایي:

هسې نه چه عقل علم زما نه وو-
وو خو دواړه مې دیار په چشمان بایلو

ACKU

ـ په دې باره کښې چه دی د رحمان بابا شاګرد و ، پټه خزانه هم صراحت لري، او په دیوان کښې یې هم د رحمان بابا د وفات یوه ویرنه شته چه د هغې له مخه ، رحمان بابا ته یې خپل عقیدت ښکاره کړی دی. په ویرنه کښې وائي:

لـه رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شو
چه لـه دې سرایه په نوي سرای مهمان شو
د پښتو شعر یې هسې نامه ولوړه
چه خبر یې په اشعار ایران توران شو
پر لذت شعر به څوک کاندې یونسه!
چه په مرګ یې ځني خاموش عبدالرحمان شو

داچه دی د بل چا شاګرد و ؟ یا داچه دی د چا مرید و ؟ ، په دې باره کښې مونږ سره هیڅ معلومات نشته . دده په ځینو شعرونو کښې ، په مطلق ډول د (پیر ـ مرشد) ستاینه او یادونه شوې ده. خدای ښه پوهیږي چه دده پیر او مرشد هم عبدالرحمان بابا و او که بل څوک ؟ خو دی وائي :

د مرشد وسیله مه پرېږده یونسه!
هلک خو ږي په اسره ځي د لوی لښکه

چه کوته صورت دې زرګانديې يونسه!
هغه پير صاحب نظر خپل کړی بويه!

— د رحمت هوتك په روايت يونس لا يو د بر ش کلن ځوان وچه د اشعارو د يوان يې جوړ کړی وچه د بر غزليې د رلوداو په خيبر کښې معروف شوی و.

د ده د شعرونو په نمونو کښې، رحمت هوتك د پټې خزانې مؤلف ته، يو د الف رديف نه:

څو ونه ښانده په مينه باندې سرچا
کله بيامومند شيرين وصل د دلبرچا!

او بل د (ی) د رديف نه:

شيرين يار زما دد وار ه وسترګو تورد ی
چه يې تورد سترګو نه وي هغه کوردی

شعرونه وړ کړي دي، چه دا رنګه انتخاب هم په يوادني نزاکت دنورو رديفونو په شعرونو دلالت کوي. ودې شي چه په ديوان کښې ورو سته هم شعرونه زيات شوي وي.

مګر د يو د بر ش کلن شاعر د اشعارو د ديوان موجوديت ثابت نادی، يو وخت دی يو څلويښت کلن سړی شو او کېدی شي چه تر شپيتو کلونو

اوُښتی وي.

په داسې حال کښې دیو داسې لوړې قریحې دخاوند په باره کښې، داخبره دستړي زړه تر ننه لوېږي چه دی دې قرار ناست وي او پرته لدې دېوانه دې نورهیڅ نه وي لیکلي. که څه هم مونږ سره اوس نور هیڅ نشته، مګر خدای دې وکړي چه یوه ورځ یوڅوک په هسکه غاړه دا ناره وکړي : "دغه دی دیونس بل اثر، ماموندلی دی! ... "

ــ دیونس دکسب او کار او اقتصادي وضعې په باره کښې مونږ سره داسې اسناد نشته چه:

ایا دی پرته له عاشقیه نور سل کار و نه درلودل؟
که پرته له کسب و کاره نورې سل عاشقۍ؟؟

د رحمت ځوتاک د روایت له مخه دی یوځوان مړده، مېلمه پال، علم او ادب خوښونکی، دډېرې اوچتې خاوند او لسې مشر دی چه نجې زیاره د کورا و ډېرې خرڅ وررسیږي.

پښتې خزانې دده نوم (محمد یونس خان) او دپلار نوم یې (نور محمد خان) د(خان) دکلمې سره ضبط کړی دی. او په دعائیه جمله کښې لیکي چه: "خدای دې دی ژوندی او معز زلري"، د "معز زلري" ددعا نه هم ثابتیږي چه "اوس خو معز ز دی".

دده په خپلو شعرونو کښې ، ددغو خبرو څه انعکاس مونږ وينو ، يوازې د زميندارۍ او بزگرۍ د ژوندانه ځينې تشبيهات په تغزلي انداز کښې پکښې مونږ ته ښکاره شوي ، لکه :

د هجر د صبر بند به پلتانه وران که
ځکه اوښکې يې په مخ د روهي ورخوند

ځينې بيتونه يې د عسکرۍ وسايلو او مسايلو سره دده اشنايي ښيي :

گورم ستا وخال ته په رقيب د اه گذارکړم
سر د قراول توپچي په ميان د نښانه کا

ديوني شاعري :

اوس چه د شاعر د پېژندنې په باره کښې مو څه نا څه وليکل ، دا به غوره وي چه دده د شعر او شاعرۍ په باره کښې هم څه وواېو ، خو چه په خپله اصلي او واقعي معنا يې وپېژنو .

د هر شاعر د شعر د پېژندنې او ښودنې په وخت بايد مونږ د شعر درې ابعاد و ته وگورو : (۱) هنري معيار (ژبه او ادا) ، (۲) فورم ، (۳) محتوي .
مونږ به ديوني شاعري هم په دې ډول تو گه په دغو درېوار خواو وگورو :

پنځلسم

هنري معيار : یونس د رحمان بابا مستقیم شاګرد او د هغه د ادبي مکتب او سبک پیرو او رښتینی شاګرد دی.

داسې هنرمند شاګرد د چه هنرپال استاد حق لري چه پرې افتخار وکړي.

یونس عموماً د رحمان بابا په شان ساده، روان او خوندور شعر وینه لري چه په ځینو برخو کښې شاګرد تر استاد اوړي.

سربېره پر دې یونس د نازکخیالیو په لړ کښې، کله نا کله د حمید سره جوخت په یوه لار روان وي.

د پر شعر وینه یې داسې دي چه د سادګۍ لباس یې د رحمان بابا د شعرونو غوندې ښکلی او د مضمون تخیّل یې د حمید غوندې رنګین وي.

په پښتو شعر کښې د خوندورو فارسي لغاتو، ترکیباتو، اصطلاحاتو او سمبولونو د ننه ایستلو له مخه، یونس سړي ته د کاظم خان شیدا ورور ښکاري.

د الاخره چه یونس د فارسي ادب د لویو استادانو د اثارو له ذخایرو نه هم په ځای او په معقوله طریقه استفاده کوي او کله نا کله د ایجاز او بلاغت له مخه اقتباس او ترجمه تر اصله ښکلې وي.

د فارسي او عربي ژبو د موادو نه د زیاتې استفادې په وخت، په

ACKU

ځینو برخو کښې په شعر کښې چې یو څه بېخوندي هم لګي او کله کله د لغاتو د غلطې املا، یا غلط استعمال یا تغیر او تحریف عیبونه چې هم شعر عیبجن کړي وي. مګر د یونس ادبي افاده دومره قوي ده چې د هغې په رڼا کښې دا واړه عیبونه سړي ته هیڅ نه ښکاري یا هیڅ هم نه ښکاري.

یونس په خپل شعر کښې د پښتو د دودونو، فولکلوري روایاتو، متلونو او اصطلاحاتو نه هم کار اخیستي دی او په دې توګه په عمومي ډول د ده د هنر یوه ښېګڼه دا ده چې د خپل لیریک شعر ښکلې ناوې ئې په پښتنې جامه او ګېڼه لاښایسته کړې ده.

د ده د خپل هنر له منابعو: دیني روایاتو، فارسي او عربي ادبیاتو، د پښتو د کلاسیکو او معاصرو شاعرانو د اثارو نه خام مواد را اخستي دي او هغه ئې د پښتو په هنر کښې داسې نغښتي دي، لکه څنګه چې بوی په ګلابو او نشه په شرابو کښې نغښتې وي. د ده د کمال د همدغه جمال له مخه د ده شاعري د پښتو په کلاسیک ادب کښې د قدر و مقام حاصلوي.

د یونس د دیوان شعر ونه په پښتو دي، او دی په خپل پښتو شعر نازیږي هم، وائي:

خپله ساده پښتو یونس له کافي ده
څه حاجت په فارسي شعر د صایب

اووه لسم

هو! د یونس یو غزل په فارسي ژبه هم شته خو د غه فارسي غزل په هیڅ رنګ تر پښتو شعر ونو لیسي رسېدلی نه شي. ښایي د همدې لامله هغه یو شعر یو پاته شوی وي او جوړه یې نه ده پیدا کړې، ځکه چه:

خپله ساده پښتو یونس لره کافي ده

یونس په شاعرۍ کښې د رحمان بابا شاګرد دی. دی هم خپل استاد غوندې، د پښتو په ستر شاعر، خوشحال ختک ری نه وهي. استاد وايي،

که یې شعر د رحمان مهمند تر غوږ شي
غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال ځوک

مګر شاګرد په دې برخه کښې د استاذ نه قدم اړوي او ختک ته توصیه کوي چه په خپل شعر دې مغرور نه اوسي، وايي:

حقیقت یې و یونس وته څرګند دی
مغرور دې په خپل شعر ختکا نه

کوم حقیقت؟ او کوم ختک؟

که د ختک نه د شاعر مطلب خوشحال خان ختک وي، نو دا پوښتنه منځ ته راځي چه د هغه د شخصیّت حقیقت؟ که یې د شاعرۍ؟

دا خبره څنګه شوه؟

خدای زده چه اصلي حقیقت به څنګه وي؟

بسم الله

د یونس د شعر په کلمه کلمه، بیت بیت او غزل غزل کښې نې شمیره سنګلې لفظي او ادبي صنایع او بدایع د سرې مخې ته راځي چه د هغو تشریح او تفصیل ځانله ځیړنه غواړي.

همدا رنګه د رحمان بابا، حمید، شیدا او نورو پښتنو شاعرانو او د سعدي او ځینو فارسي شاعرانو سره د یونس د شاعرۍ مقایسه، او د مختلفو اړخونو څخه د ده د شعر څیړنه د اسې مستقل موضوعات دي چه د څیړونکو د پاره د څیړنې ورمواد او عنوانونه دي.

د ادبي صنایعو په لړ کښې د یادولو وړ خبره داده، چه د پښتو ژبې د هر بل کلاسیک او معاصر شاعر په نسبت، د یونس په دیوان کښې زیات شمیر معماګانې راغلي دي چه یو څو یې د (محمدي) صاحب او یو څو یې د (خدمتګار) له خوا، په خپلو خپلو ځایونو کښې حل شوي دي او پاتې برخې یې د ګرانو او درنو لوستونکو د قریحې ازموینې ته پاتې دي.

د شعر فورم: د یونس د شعر وزن اکثراً د پښتو د نورو کلاسیکو شعرونو په شان د رحمان بابا د دیوان په دې وزن د کاچه:

ګوره هسې کردګاري رب زما

ACKU

ځینې شعرونه نوروزنونه هم لري .

خومخمسونه او یونس کره این (معشر) ترکیب بند هم پکښې شته . ځینې غزلونه ، تول مخمسونه او ترکیب بندیې د موسیقۍ سره د چاربیتو په اهنګ هم ویل کېدی شي .

د یونس د شعر و نو فورم د پښتو د کلاسیک شعر عام فورم دی چه هره نوعه یې تقریباً د هر کلاسیک شاعر په کلام کښې موندلی شو .

د یونس په دیوان کښې کوم شعر په ځانله او خاص قالب کښې په نظر نه راځي .

د یونس دیوان د پښتو د نورو کلاسیکو دیوانو نو په شان ردیف واله دی . د دیوان د لومړي شعر د مضمون نه یې معلومېږي چه دیوان یې خپله شاعر مرتب او مدون کړی دی .

که په دقیق نظر وګورو ، کله چه مونږ دیوان لولو او مخکښې ځو د شاعرۍ په لحاظ شعر یا نه په پانه او غزل په غزل مخ په بره ځي ، دا هم سړي ته دا فکر ورکوي چه شاعر له اوله خپل دیوان همدا سې شروع کړی دی او څومره چه دی مخکښې تللی دی هغومره یې شعر هم پر مخ تلی کړی دی .

رحمت هوتک هم وایي : " د شعر دیوان یې جوړ کړ ... "

او یونس په خپله د دیوان په اول شعر کښې وایي :

نن د یوان د یادګارۍ نښانه پرېږدم
د ژوندون بقا لپې نه وینم فردا
ګوندې چې بیا مې یاران په دعا یاد کا
هغه وقت چې تن جدا یم روح جدا

د شعر محتوی:

د یونس د شعرونو په بره برخه عشقي او لیریک شعرونه دي چې د پښتو په لومړۍ درجه کلاسیکو شعرونو کښې راتلی شي. په دغه مضمون شعرونه یې هم ډېر دي او هم خورا ښه شعرونه دي. نو ځکه د کمیت او کیفیت، د ډېر والي او ښه والي له مخه، یونس یو داسې لیریک شاعر ګڼلی شو چې:

څوک چې په الماس د ژبې دُر پیي د شعر
کم به یې په فکر تر یونس بهتر سوی کا

د یونس د شعرونو بل مهم مضمون، تصوفي او مذهبي مضمون دی. تصوفي شعرونه یې اغلباً د کوم خاص تصوفي مکتب د تبلیغ او نمایندګۍ وظیفه نه تر سره کوي. بلکه اکثراً د شریعت ظاهري رنګ، دیني او مذهبي نصیحتونه او روایات، ځای په ځای د قرآن شریف ایتونه، د اسلام د حضرت پیغمبر(ص) احادیث او د مذهبي مشرانو اقوال پکښې تلمیح او ترجمه

ACKU

شوي او یا کټ مټ یا په لنډه توګه راوړل شوي دي. کله کله فقهي مسایل هم پکښې راغلي دي او د حضرت پیغمبر د معراج کیسې هم پکښې نظم شوي دي.

په دې شعرونو کښې، له یوې خوا په دیني علومو کښې د شاعر پراخه مطالعه او له بلې خوا له مذهبي ارزښتونو سره د هغه ټینګه عقیده په پوره توګه څرګندیږي.

سربېره پر دې د یونس په شعرونو کښې حکیمانه نکتې، اجتماعي او اخلاقي توصیې، د پښتنولۍ آداب هم هر ځای په ډېره موثره شاعرانه ژبه، او په ډېر قوي منطقي استدلال بیان شوي دي.

د یونس په دیوان کښې د عصر د سیاسي سیستم نه د راپیدا شویو اجتماعي حالاتو او طبقاتي تضادونو تصویر په عمومي توګه تت غوندې ځلیږي.

هو! په دې برخه کښې ډېر خړ او ډېر سپین ویل شوي دي، مګر په عشقي او تغزلي پیرایه کښې، چه په هغو پوهېدل او د هغو رابرسېره کول ځانله شاعرانه ادراک او بېله ادبي خبرتیا غواړي.

د یونس د دیوان په یوه پارچه کښې، د هغه د عصر د سیاسي - اجتماعي حالاتو څرګندونه په ډېر صراحت شوې ده چه داسې پیلیږي:

ACKU

هسې لاندې د حرص تر جال شو وهر څوک
چه به خلاص و ځنې نه کا پا و سر څوک

په دې پارچه کښې وايي :

بادشاهان په اقليمونو ماړه نه شو و
راپه هسې څه معنی لري ديګر څوک
رعيت د ظالمانو ظلم ورك کړ
په انصاف غوږيږي نه اخلي خبر څوک
اربابان او حاکمان سره يو لاس که
نور د خوار و غريب او ډې شو و شر څوک؟
حاکمان، ارباب، ملك واړه نهر دي
مروي به خوار اولس هوم نهر څوک
پيادګان، کوتوال، رهدار ليوني سپي دي
په ډکه(1) دې خدای څوك نه کا برابر څوك
په رشوت سره به وړ و بل ته پړکه
وادې نه وړي په قاضي، مسلم کافر څوک   (تر پايه)

(1) ډکه، د خيبر نه راوبره يو ځای دی چه پخوا، تر دې عصره پورې ګمرګ پکښې د اولس زمونږ د ژاندارمې سرحدي اداره ده.

ACKU

دخپل وخت دحاکمه طبقاتو، دګورګاني سلطنت د واکدارانو او دربار یانو په باره کښې، په خاصه توګه دیونس کوم خاص مثبت یا منفي نظر مونږ ته په نظر رانه ځي. یوازې دعاشقانه مضمون په پیرایو کښې دیو منفي طنز په سویه، دهغه وخت دځینو نورو پښتنو شاعرانو غوندې دیونس په ځینو شعرونو کښې هم ځینې اشارې او کنایې موندلی شو، لکه داچه:

گدایان دې ددرګاه شاه عالم دي
څه حاجت دی که یې تاج وسریر نشته

* * *

که په خود شاه جهان دزمانې وي
ځان دې وګڼي دیار دکوڅې خس

کله ناکله دغزلو په منځ منځ کښې داجتماعي حالاتو په باره کښې دشاعر فکر، نظر او احساس منعکس کیږي؛ مثلاً، دظلم په باره کښې وایي:

یو بخري او رېه تمام ښهر سره لمبه کا
دبې زورو ور سوي یو آه دی دکمزوري

او په غریبو زورازمایانو ته پیغور ورکوي:

کمینه مرغه دانه له مېږي اخلي
ناقابل په غریبانو زورازمای دی

په لاندې لېرېك بيت کښې، دار بابا نوا و مالکانو زور او ظلم په مزدورانو خرګند وي او دا چه مزدوران څو چه حاکمانو ته عرض و نه کړي د خپلې مزدورۍ مزد له دار بابانو څخه نه شي اخستی، وګورئ:

د هجران جزا لې خوله راکړه اسمانه
د حاکم په حکم مزد د مزدور خېژ ئي

د ښځو په باره کښې، د یونس نظر د پښتنو عام نظر دی چه ښځه یا په کور یا په ګور کښې ښه ګڼي او د نارینه و مجلس ته د هغو راتلل عار او پېغور ګڼي. وايي:

پوچګويي د تکلم د بزم عار دی
لکه ښځه په محفل د مذکر

مګر د هغو ښځو، نوعروسانو په باره کښې چه د اجباري ازدواج او د زوړ دستور په زنځیر و نو تړلې دي او نه د خپلې خوښې او مرضا نه ودېږي او د عشق د ناکامۍ په صورت مجبورېږي چه له خپله ژونده تېرې شي، شاعر په کوکو ژاړي او د ځان سره ټول کاینات د جنت تر حورو پورې په دې ویر کښې ژړوي. یونس وایي:

نوعروس به یې ماتم د عشق وکړي
د جنت حورې لې د روحې په ورا باندې

د یونس په شعر کښې اجتماعي رجحانات یو پراخ مضمون کېږي چه مونږ

دلته په همدغو څو لنډو بسیا کوو او د خپلې خبرې بلې برخې ته اوړو.

د یونس خطي او چاپي آثار:

مونږ چه د یونس او د هغه د شاعرۍ په باره کښې، ګرانو لوستونکو ته لږ او ډېر معلومات او خپل نظریات وړاندې کړه، نو ضرور دغو ښاغلو سره تلوسه پیدا شوې ده چه وپوهیږي چه دا مونږ "د یونس شعر، د یونس شاعرۍ..." وایو، د غه آثار چیرته دي او چیرته چاپ شوي دي؟
مونږ به د دې پوښتنې ځواب د خپلو معلوماتو له مخه په لاندې توګه عرض کړو.

— په پټه خزانه کښې، د محمد یونس خان د پېژندنې په لړ کښې د هغه له دیوانه دوه غزلونه او یوه معما د نمونې په توګه راوړل شوي دي.
پټه خزانه، د یونس د ژوند په زمانه، په ۱۱۴۱-۲ هـ کال، په کندهار کښې محمد هوتک لیکلې ده.
د پټې خزانې یوه قلمي نسخه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د قلمي نسخو په کتابخانه کښې خوندي ده او درې ځله (په ۱۳۲۲، ۱۳۳۹، ۱۳۵۴ هش کلونو) د پوهاند عبدالحی حبیبي په مقدمه، حواشیو او تعلیقاتو په کابل کښې چاپ شوې ده.
د یونس د ژوندانه، دیوان او د هغه د شعرونو په باره کښې دا تر ټولو

ACKU

پخوانی سند دی.

- د لندن په بریټش موزیم کښې د ۲۸۷٤ لمبر لاندې د پښتو د کلاسیکو انتخابي شعرونو یوه قلمي نسخه خوندي ده چه "چمن بې نظیر" نومیږي او پکښې د دیرشو تنو پښتنو شاعرانو ۳٤٤ پارچې شعرونه ضبط دي چه په دغو کښې د یونس (۳۸) پارچې شعرونه هم شته. (۱)

- د "چمن بې نظیر" له قلمي جونګ نه یادې هیوزد یونس خلور پارچې شعرونه انتخاب کړي او په ۱۹۷۲ م. کال، د "کلید افغاني" نومې کتاب د "چمن بې نظیر" په برخه کښې شامل کړي دي. کلید افغاني په نوموړي کال په لاهور کښې چاپ شوی دی، او سږ کال د (خدمتګار) په زیار دوهم ځل چاپ شو

- د میا حسیب ګل کاکاخېل په یو قلمي بیاض کښې، د نورو کلاسیکو شاعرانو د شعرونو په لړ کښې د یونس شعرونه هم شته.(۲) میا صاحب په (۱۳۰۵ هش) مړ دی او خدای زده چه دا بیاض به او س چېرته وي؟(۳)

ښاغلي ظفر کاکاخېل په خپل پښتو قاموس ظفر اللغات کښې د یونس ځینې بیتونه د مثال د پاره راوړي دي. ودې شي چه په کوم دیوان یې لاس بر شوی وي او یا یې له دغه بیاض نه استفاده کړې وي.

---

(۱) راز محمد وېښ - پښتو کتابونه - کابل - د ۱۳۳۷ هش چاپ.
(۲) خېرنده وتې عبدالله خدمتګار - پښتانه شعرا، - څلورم ټوک - چاپ لاندې.
(۳) پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل د دغه بیاض لیدلی دی او وایي چه هغه د میا صاحب کوم خپلوان سره دی

کېدی شي چه پادري هیوز هم دغه بیاض لیدلی وي او "چمن بې نظیر" دپاره یې شعرونه ترې اخستي وي.

- د ۱۳۲۰ هش په شاوخوا کښې د افغانستان د دولت د ارګ کتابخانې ته د یونس یو بشپړ دیوان رسېدلی دی، چه دغه دیوان د هغه له مخه چاپ شوی او وروسته به پرې وګړیږو.

- په کلید افغاني کښې د یونس د چاپ شویو شعرونو، او د ارګ د کتابخانې د ذکر شوي قلمي دیوان له مخه، پوهاند عبدالحی حبیبي، د یونس پېژندنه لیکلې ده او د شعرونو نمونې یې وړاندې کړې دي، چه په ۱۳۲۰ هش کال په پښتانه شعراء ـ لومړی ټوک کښې تر ۴۲ لمبر لاندې چاپ شوې دي.

په هغه وخت کښې لا پټه خزانه د خپرونکو له نظره پټه وه.

- د کلید افغاني، پښتانه شعراء او د یونس د ذکر شوي دیوان له مخه د یونس ځینې شعرونه د استاد قیام الدین خادم په (رومبي ګلونه) نومې کتاب کښې اقتباس شوي او دغه کتاب په ۱۳۲۶ هش کال کښې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

- د پورتنیو ماخذونو له مخه، د یونس شعرونه، وخت په وخت، په کابل مجله، زېری او نورو افغاني خپرونو کښې اقتباس او

چاپ شوي دي چه د تولو استقصاء، بېله خبره نه غواړي.

- د ملا ښايسته خان په قلمي جونګ کښې، د يونس دوه شعرونه ثبت دي. دا يو نور قلمي جونګ دی چه د ليکلو نېټه نه لري او د ښاغلي حبيب الله رفيع د کتابخانې پوري اړه لري. له هغو نه ښاغلي رفيع يو شعر په خپل کتاب (ادبي ستوري - د ۱۳۵۳ هش چاپ - کابل) کښې را اخستی دی او دبل شعر په باره کښې يې ليکلي دي چه هغه په ګندهلو کښې له منځه تللی دی.

د يونس ديوان :

مونږ خوخله د يونس د ديوان يادونه وکړه، دا هغه ديوان دی چه دا احمد شاه بابا د سلطنت په زمانه په ۱۱۷۶ هق کال په پښتو کښې دا شنغر د فيض طلب خان په فرمايش د پېښور د زين الدين په قلم ليکل شوی دی.

سمدستي د يونس د ديوان د غه قلمي نسخه په ټوله نړۍ کښې، يوازنۍ (منحصر په فرد) نسخه ده چه د افغانستان د جمهوريي آرشيف د کتابخانې تر ۲۱۷۶/۱۲۶ لمبر لاندې مساتل کيږي. دا نسخه د رحمان بابا

دېوېې مطلې نسخې سره يو ځاى په يوه وقايه کښېې ګنډل شوې ده،
او ديو کتاب په ډول تر يو رتنې لمبر لاندې خوندي دى.
د رحمان بابا د غه نسخه هم د نوموړي فيض طلب خان په فرمايښ،
د پښتو نوري ګل محمد په قلم په ۱۱۷۶ هق کال ليکل شوې ده چه
ډېره سوه او يوه پانه لري او خورا ښايسته نسخه ده.
فيض طلب خان د دراني تيمور شاه په زمانه کښې د پښتو د اشنغر
والي، او زين الدين او ګل محمد د دغې دورې د پښتو مشهور خطاطان
وو. [1] فيض طلب خان د اشنغر او سېد ونکې و.
د يونس د غه ديوان د ۱۸ × ۱۳ سم په اندازه (۱۷۵) پانې لري چه اول
او اخر مخونه يې سپين دي. چا په پنسل د مخونو شمېره پرې وهلې ده چه
(۳۴۹) کېږي. خو پانې يې سره نه ځايه ګنډل شوي دي. چه
د مخونو له دغې شمېرې او د رکاز له مخه يې پته لګېږي.
د ديوان لومړي مخ ډېر ښايسته مينا تور او دوهم مخ هم تزئينات
او طلاکاري او نور مخونه هم تزئينات لري. دا نسخه د سره زرو،
لاجوردو، فيروزې، شنګرف او نورو قيمتي معدنياتو په تور،
سره، شنه، بنفش، ارغواني او طلائي... رنګونو ښايسته شوې او

(۱) عزيز الدين وکيلي پوپلزائي - تيمور شاه دراني - جلد دوم - کابل - چاپ ۱۳۴۶ هش.

لیکل شوې ده.

د نسخې لیک ښکلی نستعلیق او سر تر پایه یو لاس دی.

دغه چاپي دیوان چه ستاسو په لاس کښې دی د همدغې یوازنۍ نسخې له مخه چاپ شوی دی چه مونږ به په راتلونکو کرښو کښې د خپل کار د طرز ذکر وکړو او په ترڅ کښې د قلمي نسخې نور خصوصیات هم څرګند کړو:

ـ د قلمي نسخې په لیک کښې، د ناسخ نه ډېرې غلطۍ شوې دي چه ځینو یې د شعر معنا او مفهوم ته هم تغیر ورکړی دی.

مونږ هغه غلطۍ د شعر د وزن او معنا له مخې له خپله اندازه سمې کړې او هغه شکلونه چه مونږ ته غلط معلوم شوي دي، هغه مو کټ مټ په حاشیه کښې ښودلي دي. دا ددې د پاره چه که په سمون کښې مونږ په سمه لار روان شوي نه وو، او یا د بلې نسخې د پیدا کېدو په صورت کښې بل راز وي، بیا نو د بل چاپ د پاره، زمونږ د نسخې اصلي شکلونه هم د خبرونکو په لاس کښې وي.

ـ د قلمي نسخې لیک دود هم د اوسني لیک دود سره ډېر فرق لري، مثلاً: ډېر ځله (پ، ب)، (د، و)، (چ، څ)، (ذ، ز) یو د بل په ځای راغلي او د (ګ) په ځای تل (ک) لیکل شوی دی. او د

ACKU

علت د تور وهېځ مراعات نه دی شوی ، ناسخ کله ليکلي دي او کله نه. مونږ دليک دغه برخه هم د چاپي نسخې د پاڼه سمه کړي ده.

- مونږ مخکښې ويلي دي چه د شاعر پلار ، نور محمد خان د کسي دغره د لمنو د موسي خېلو کاکړو څخه خيبر ته راغلي دی ، خو د الاثر گنده نه ده چه يونس هو په ژبه بدلي دی کړدلي ؟ - خو داثر گنده ده چه د يو موسي خېل کاکړ په کور کښې ضرور د پښتو غږ بې لهجه ويل کېدله او په خيبر کښې ، په کلي او ماليت ، د ېره او حجره ، جومات او بازار کښې ضرور شرقي لهجه ويلې شي.

يو نس د مور او پلار نه هغه او د محيط او ماحول نه دغه لهجه او ريدله نو ځکه د ده په مغز و کښې بايد د واړه لهجې ناستې وی ، او ژبه او قلم به يې ضرور په دواړو لهجو چليدلي وی او په شعر کښې به يې د دواړو لهجو خصوصيات موجود وي.

مثلاً : دی په شعر کښې (مغزيّ) لغت هم راوړي چه د کندهار د سيمې خاص لغت دی او د خيبر داپريدو شينوارو سره د (د روم) په لار هم (د رومي) . دغه رنگه يو کار خو د شاعر په کلام کښې د لغاتو ذخيره زياتوي ، د محلي لغاتو د تعميم وسيله گرځي او د ژبې مغيار اوچتوي ، خو د يونس په شعر کښې يو بې خاصې خبرې ، يو څه مشکل

هم پیدا کړې دی، څخه دا چه دا رتباطي اداتو په برخه کښې، شاعر کله دیوې او کله دبلې لهجې نه او کله لا په یوه جمله کښې د دواړو لهجو اداتو نه کار اخستی دی، لکه:

په ښایست ترتا نه بل توانګر نشته

چه (تر) دغربي او (نه) دشرقي لهجې ادات دي.

زما په نظر، دامکان په حدودو کښې، په شعوري ډول او ژوره دقت او بدیع ذوق په لاره ښودنه، دمختلفو لهجو دعناصرو ګډون او امتزاج، دشاعر ژبه بین الافغاني معیار ته نژدې کوي او که دغه رنګه کار دشاعرانو او لیکوالو له خوا، بې له راز تعصبه، په علمي او هنري نظر، د "انتخاب اصح وافصح" تر پرنسیب لاندې، په عام او پراخه پیمانه توګه عملي شي، زمونږ ادبي ژبه به واقعاً یو معیاري مقام ته ورسېږي. مګر دیونس په دیوان کښې، دشاعر دغه ددواړو لهجو تر تاثیر لاندې ژبې، دناسخ په ذهن یو داسې اثر پرې ایستلی دی چه له هغه نه په لیکنه کښې ګډ وډې پېښه شوې ده او کله کله ئې بې ضرورته او بې معنا توګه دکندهار دلهجې یو ادات دبل په ځای لیکلی دی.

مثلاً، دکندهار په لهجه کښې (په) او (پر) په معنا کښې

فرق لري او د استعمال ځایونه یې بېل دي، لکه (پر بام باندې، پر کوټه کښې) چه د خیبر په لهجه کښې د واړه خرو ټونه د (په) په ذریعه ترسره کېږي.

خو ناسخ چه پېښور ی دی او د شاعر په ژوند یا د هغه د ژوند د زمانې سره په نژدې وخت کښې یې د هغه کتاب نقل کړی دی. کېدی شي چه شاعر سره به هم پېژندل او یا ئې ترلنډه په دې خبر وي چه هغه ذو لهجتین دی، نو د هغه د موقعیت د مراعات د و مره اثر پرې شوی دی چه د بر ځله یې د (په) پر ځای هم (پر) لیکلی دی.

د غه رنګه ځایونه مونږ په خپله وسه سم کړي دي.

- مونږ دا هڅه هم کړې ده چه تر وسې پورې د قلمي نسخې لیکلي شکلونه وساتو. هغه کلمې چه د پښتو په هره لهجه کښې، یا په بله ژبه معنا ورکړې ده، یا د بلې ژبې مغلق کلمه د اخرګنده شوې ده، هغه مو په خپل لیکلي شکل را نقل کړې ده او یوازې هغه ځایونه چه څرګند غلط او ښکاره شوي دي هغه مو بدل کړي دي.

- کوم تکي چه د بیت د وزن او معنا له مخه، د ضرورت نه زیات بر پښېدلي دي او امکان لري چه د ناسخ د اشتباه له مخه منځ ته راغلي وي، هغه مو د [ ] نخښې تر منځ قید کړي او څه چه د بیت

د وزن او معنا د رغولو دپاره مونږ ورد زیات کړي دي، هغه مو
د (   ) نخښې تر منځ نیولي دي.

ـ د دیوان د لومړي شعر د مضمون او د رحمت هوتك له روایته
څرګندیږي چه دیوان په خپله د شاعر له خوا مرتب او مدون کړی
شوی دی، نو ځکه د ردیفونو په ترتیب دی. مګر د شاعر او ناسخ له
خوا، د علت د توري د نه لیکلو له مخه، ځینې شعرونه یې داسې دي
چه که مونږ یې په ردیف کښې د علت توری ولیکو بیا نو د شعر
ردیف او موقعیت بدلیږي، مثلاً، دا غزل:

له تقدیر سره مې کار د تدبیر نشته
په تقدیر کښې یې تبدیل و تغییر نشته

په دیوان کښې د (ت) په ردیف کښې راغلی او د شعر په ردیف
کښې (نشت) لیکل شوی دی.

مونږ داوسنی لیك دود له مخه د (نشت) پر ځای (نشته) ـ
لیکلی، مګر غزل مو له خپله ځایه نه دی خوځولی، ځکه مونږ دیوان
دیوازنۍ قلمي نسخې له مخه چاپوو او ده بره څه موکړې چه د نسخې د شکل،
ترتیب او تدوین اصالت وساتو.

هو! که نورې نسخې پیدا شوې او دیوان بیا چاپیده، بیا نو

هغه ساعت او هغه مصلحت.

- دچاپي ديوان په حاشيه کښې دادب د ځوانو شاګردانو او محصلانو د استفادې د پاره د ديوان ګران لغتونه، عبارات او اصطلاحات هم ترجمه او د ضرورت په صورت په لنډه توګه تشريح شوي دي.

ځينې ديني مطالب خو داسې دي چه زمونږ عوام هم پرې فوراً پوهيدی شي او د حاشيې ضرورت نه حس کوي، خو دې د پاره چه خارجي لوستونکو ځينې پوهانو ته اسانتيا پيدا شي، هغه هم په حاشيه کښې ترجمه يا تشريح شوي دي.

- مونږ کښې وويل چه د قلمي نسخې په مخونو باندې چاپه پنسل، شميره ليکلې ده. مګر نه ! دا خو دا وسنۍ زمانې دود نه دی او س د نړۍ په معتبرو کتابخانو کښې د قلمي کتابونو پاڼې شميرلې کيږي، بيا د هرې پاڼې اول مخ د هماغې پاڼې (الف) او دوهم مخ يې د هماغه پاڼې (ب) مخ يادېږي؛ مثلاً د ديوې قلمي نسخې لسم مخ - (۵ - الف) او يوولسم مخ (۵ - ب) پانه نومېږي.

مونږ د يونس د ديوان په چاپي نسخه کښې، د هغه د پاڼو شميره ليکلې ده، په دې توګه:

د قلمي نسخې د هرې پاڼې د (الف) مخ د شروع کېدو په ځای مو دغې پاڼې شمېره لیکلې ده په دې ډول: ○ . او د (ب) مخ د شروع کېدو په ځای مو رسم کړی دی.

مثلاً د کتاب په متن کښې د بیتونو ترمنځ د (۲۱) عدد دا معنا لري چې د قلمي نسخې (۲۱مه) پاڼه له دغه ځایه پیل شوې ده، او له دغه (۲۱) نه وروسته دا ښیي چې د (۲۱) پاڼې بل مخ (ب مخ) له دې ځایه پیلېږي.

موږ دا کار ځکه وکړ چې هم د زمانې د دود له مخې د نسخې د پاڼو شمېره معلومه کړو او هم په کښې د مخ (الف ـ ب) د نه لیکلو او پر شمېره: ○ د (الف) او په ګل: د (ب) په ښودلو د دیوان ظاهري طباعتي ښایست وساتو.

د چاپي دیوان د متن په کینه خوا د اشعارو د پاڼو چوکټه او په ښي خوا کښې یې د دیوان د بیتونو شمېره لیکل شوې ده.

زما د غه کار په هېڅ توګه بشپړ نه دی، بلکه دا به په دې برخه کښې د راتلونکو پراخو څېړنو مقدمه وي.

زه وایم چې د پښتو د چاپ شویو آثارو د سیمینار د علمي مشورتي غونډې په تصویب زه موظف شوم چې د یونس د غه دیوان

ACKU

د لومړي ځل دپاره، چاپ ته تيار کړم.
نو د نورو ګڼو اداري او شخصي، علمي او ادبي مشغوليتونو په ترڅ کښې د سږ کال د غبرګولي د سرنه، د زمري تر دوهمې نېټې پورې يې وکولی شو چه په ډېره بېړه، او په ځان باندې د زيات فشار راوستو په توګه، د کتاب نقل، مقابله او تحشيه پای ته ورسوم او په همدې، خبره داده د کتاب مقدمه هم پای ته رسېږي، نو ځکه زه له تاسو نه اجازه اخلم چه تاسې ته بلنه ورکړم چه د يونس د هنر په رنګين ګلستان کښې، د ده د فکر او خيال د ښکلو، رنګينو او خوشبويه ګلانو په ننداره بوخت شئ.

په درناوي. کابل - خيرخانه - د ۱۳۵۶ هش
د زمري خلورمه.
خيرندوی عبدالله خدمتګار بختانی

يادونه:

څرنګه چه د پښتو په کلاسيک ادب کښې د يونس ديوان يو مهم اثر دی چه د لومړي ځل دپاره چاپېږي نو ځکه داغوره وګڼل شو چه د غه ديوان دې خطاطي او بيا چاپ شي. څرنګه چه د پښتو مطبوعاتو د سيمينار تر ختمه پورې يې لن وخت پاته و او دا کار سرته نه شوای رسېدلای نو ځکه او س د حکيم سنائي د وياړنې مجلس د پاره د ښاغلي نصير هنر پښتون په ښکلي خط خطاطي، نقاشي او چاپ شو.

ACKU

رب یسر بسم الله الرحمن الرحیم وتمم بالخیر

بسم الله چې په اغاز اوده پېړدا
ایش دده د هر کار په ابتدا

هر کار چې اغاز په بسم الله وي — په نقصان به ئې پرېنه موي اعدا
د هغه اسم فایض البرکات(1) دی — ري به سرکړم دا امید سود وسودا
لر ئې چې دده املا په تصور دی — دغه واره په قلم کړم څرګندا(2)
سپین کاغذ ئې په نظر لقطه زیبا کړم — لکه زلفې خال د شکلیو په خدا(3)
که حاسد ئې په نقصان دست دراز کا — د تبا په شان ئې شي تبت یدا(4)
که څوک عیب ئې په هنر شي وړ دانا ته — وئې چې ریت ئې کا دعوی په ردا(5)
زه دیوان د یادګاري د شاندرو ږدم — فرزند وزن بقا ئې نه وینم فردا
ګوندې چېرې ئې یاران په دعا یاد کا — دغه وخت چې تن جدا شم روح جدا
راحت نه دی ئې ځمونږ چا موندلی — دی دا دوار توامان(6) سره پیدا

لکه حق خدای دیاد وي بونسه
پېڅر زندون به ئې څوک نه کا ادا

(1) د برکتونو فیض رسان او بښونکی. (2) څرګند. (3) خد = بارخو. الف د قافیې په رعایت زیات شوی دی. (4) د قرآن شریف آیت دی چه: تَبَّتْ یَدَا اَبِیْ لَهَبٍ، (ترجمه) یعنې هلاک دې وي لاسونه د ابي لهب. د لاسونو هلاکیدل او تباه کیدل مطلب په خپله د سړي تباه کیدل دي. ابي لهب د حضرت محمد (ص) تره و چه ورسره مخالف و. (5) ردا = الحاد. (6) توامان = غبرګوني.

لکه ذات دې له آفته په امان ستا
هسې نشته دې صفات له نقصانه ستا

ګړی پیدا نه دي چې والي تر قیامته
یو صفت نه تمام نه که واصفان ستا

لا ازاله قدیم ته یې بې زواله
ابدالاباد هستي ته جاودان ستا

د قیامت په سخت منزل به یې شفیع وې
چا چې لاس کې ګولې په قرآن ستا

وار مکره دې په فرمان کن فیکون شي(1)
نیم ویشت تجاوز نه کا(2) تر فرمان ستا

په اوبو باندې دې خاورې چبوتره(3) کړې
بې له ستنې په هوا پلې اسمان ستا(4)

فرښتې دې چې مقید په خدمت شوې
د فرمان سره په غاړه انس و جان ستا

چه په احسن تقویم(5) باندې پیدا شه
دا هم فضل اعظم دی په انسان ستا

له عدم دې وجود د هستي وکړه
په دا فضل دې شاکر دي بندګان ستا

چه دې خلاص کړم د زنار(6) له سختې بنده
دم په دم دې شکرګانې نجاني اسما ستا

امیدوار د خدای له فضل شریف نسم
ترڅو که مې بوږنجه دي ګناها ستا

خدای دې نه ګټالې له عشقه د جانانه
پسند کړي(7) دې جانانه په دل جانان ستا

(1) د قرآن شریف آیت دی: کن فیکون. یعنی، شه! پیدا وشو.
(2) په قلمي نسخه کښې: (ته).
(3) چبوتره = چوتره، صفه.
(4) په قلمي نسخه کښې: بې ستنې په هوا پالې اسمان ستا.
(5) د قرآن شریف آیت دی: لقد خلقنا الانسان في احسن تقويم، یعنی، مونږ انسان پیدا کړ په ښه صورت باندې.
(6) په قلمي نسخه کښې: زنیاں. زنار هغه زنځیر دی چه نصارا یې په غاړه اچوي او مقدس یې بولي.
(7) خوښ، غوره.

په کمال بخت مې په زهکه بانده بیاموند — ګنه رخ وه چه غوښتلې په اسمان ما
په ګلا بوسه خوله په احتیاط پر بوله (۳) — هله نوم د دوست ویلې په زبان ما
که مونده په ځګر خون شولې هم او لجه روه — هغه درشاهوار موندلې دی اسان ما
چه صورت سین لې د واره لې نظیر دې — بل و نه لیده دلبر د یار په شان ما
ما د عشق د بحر سر سامان و نه لید — یکښې بایلود هغه خپل سر و سامان ما
که لې خیال په ستر ګو اغلی د رغه د رغه! — چه خبر د عشق په درد کړې خپل مهمان ما
چه زما په غم غمجن وې لې حسابه — بل دیار په خبر و نه لید مهربان ما

یو یونس لې د دیدن په ارمان نه دی
۳۱ خلقې[1] پسې لیدلې په ارمان ما ۳

که غوښې لې ستا په در کښې سر زما — لې له دره دې بل نشتر دی زما
دېښنې[2] ګو ته به هومره حایل نه شي — چه پیت کانده لې د مینې لمر زما
که هر څو مې دستم په غشیو ولي — لې جګره و د تر نشتر سپر[3] زما
اوښې وینې مې له ستر ګو ضایع نه کړي — د امتاع ده د عشق سیم و زر زما
له خاطره مې د صبر بند ویران شه — خکه شه ګریبان پرا وښیو تر زما

---

(۱) خلقې د (خ) او (ل) په زور او مجهوله (ي) د (خلق) جمع ، دا کلمه اصلاً عربي ده خو په پښتو او دري کښې دوګړي ، اولس ، مردم په معنا راحي چه په خپله (اسم جمع) دی او دهغه جمع په پښتو کښې د (خلق) په د ول او په دري کښې د (خلق ها) په شکل رواج موندلی دی.
(۲) دېښنې = دښمنې . (۳) په قلمي نسخه کښې : سفر.

ACKU

وصال ته دې پرېوازې کوم توکړم — دهجران په لمبو[1] وسو پس زما

دیونس غمخوار به کله را پیدا شي
٤ — چه به کم کړ د غمونو غم زما — ٣٨

ته واحد یې بې شریکه رَبَّنَا[2] — بې تا څوک له ما یاري کړه ربنا
بې چراغه ستا د فضل لید نه شم — د غفلت شپه ده تا رڼا کړه ربنا
نه یې ستا د عنایت له چشمې بیا مو نه — چه مې ژبه طراري[3] کړه ربنا
ستا تقدیر یې په تدبیر پوهې خندا — چه بنده مې هوښیاري کړه ربنا
بنه دولت دې د ایمان و بنده ورکړ (٤) — که له غلو یې بیداري کړه ربنا
رنځ راحت مې د واړه دي ستا له لوري — څوک صحت د بیماري کړه ربنا

د یونس د ژبې داتوفیق نصیب کړه
٥ — چه پرې یې ستا اسم جاري که ربنا — ٤٥

که بنده یې د مولی — له خشتنه مه کړه غلا
چه آخر کار یې له ده دی — اوس له ده کړه مشغولا
چه آخر ده ته رجوع شته — ور رجوع شه اوَّلا
مراتب د دوو جهانو — دي د ده په تولا

---

(١) په قلمي نسخه کښې هر ځای : لنبو.
(٢) زمونږ پالونکیه ! ، خدایه !
(٣) چالاکي.

ACKU

زړه و وښان په محبت کړه — لکه هڅ انجلا [1]
شکر داري په نعمت شه — صبر صبي پر بلا
وحدت ملك دقراري — په کثرت کښې چل چلا
که مې ښه ساتې که نه ښه — زه له تا سره پخلا
له جاهله سره سم وې — بې عمله تش ملا
په تنگخه [2] د يونس مله شه

۵۵ — ۶
شهيدان د کربلا

خوچيږي په تنه پورې سر زما — تکيه گاه دی د دلبر ود ر زما
دهجران په جنگ به ږېږ مه بز کسار وم — که اميد د وصل نه وای سپر زما
عاشقي مې لکه نر هسې ښکاره وه — پټيدې په گوتنه نه شي لمر زما
دمقصود د کعبې لار به شي اسانه — که رقيب زبر فرمان شي خضر زما
طوطي شان به دخوبنې په ميوه گرځم — که روزي شي ستا دوصل پر زما
ستا له عشقه مې دا اوبني سر و سپين [3] — لوی دولت دی دغه سيم و زر زما
چه مې نا ورېږي [4] آواز د جدايي — دربغه غوږ د شنوايي وای کر زما

---

(۱) هڅ = لمر ، انجلا دلته د روښان په معنی.
(۲) په قلمي نسخه کښې : (تنگخه) د ه چه اوس تنگسه ليکل کيږي.
(۳) سر و سپين ، د (س) په سکون او د (ر) په زور د شعر د وزن لامله د (سره او سپين) مخفف.
(٤) د شعر د وزن د پاره د (نه اوريږي) مخفف.

ACKU

تل په ما پاندې الغا ودرقيبانو　　په نصيحت شه دغه شور و شر زما

٧ کـه يونس په سايه ستا دحمايت وي

نو ډهور تر لره چا نشته دره زما ٦٤

څو نه ښاندۀ په مينه پاندې سر چا[1]　　کله بيامونده شيرين وصل ددلبر چا

که ښايست يې ستا له حسنه روڼ نه وي　　په دا حسن به ليده شمس و قمر چا؟

که په خپله مې خپل مهر ونه ښوده　　راکاوه به د دلبر د لوري خبر چا

که دستا د زلفو بوی يې تر مشام شوای　　دوباره به يادول مشک و عنبر چا

په وصال پسې خونناب[2] له سترګو ورې　　په اسانه وصل بيامونده کمتر چا

ښايسته [به][3] ليلي به نه مو يې په کوډ کښې　　څو چه الکه مجنون نه شي له هر چا

جدائي به يې چاق ترنج[4] لکه ګنهر که　　چه نوشلی د وصال شهد و شکر چا

عاقبت به له مقصوده بهره ور شي　　چه خپل لاس په دعا ونيوه سحر چا[5]

٨ لو کرم تر يې کار وسپاره يونسه!

مقصود کله دی موندلی په هنر چا ٧٣

(١) داغزل محمد هوتك په "پټه خزانه" (د ٢/١١٤١ هق تاليف) کښې را خستی دی.

(٢) په قلمي نسخه کښې : خونناب . داعبارت عموماً په پښتو او دري ادب کښې د (خوناب) په دول راځي چه د (خون، آب) ترکيبي شکل او يا د همدغه (خوناب) مخفف دول دی ؛ خو نګه چه د قلمي نسخې (خونناب) د (خون ناب) ترکيبي شکل هم معنا ورکوي نو ځکه هماغه شکل وا خستلی شو. (ناب) په دري کښې نګه، سوچه او خالص ته وايي؛ لکه (مي ناب) په پټه خزانه کښې داعبارت (خوناب) راغلی دی.

(٣) په پټه خزانه کښې (به) نشته.

(٤) " " " : ورتر نج.

(٥) " " " دابيت نشته.

چه ازار د غریب واخست هغه چا   گوته د زهرو نصیب واخست هغه چا
په فرسنګ به له ازاره بیرته خښتي[1]   چه نیک پند د ادیب واخست هغه چا
عاقبت به له مقصوده بهره ور شي   چه خدمت د حبیب واخست هغه چا
په هیبت به لکه برګ د دولې[2] رپن دي   چه دهشت د مهیب واخست هغه چا
دوباره به نیابت ورله عاید شي   چه عمل د منیب واخست هغه چا
په اخلاص به یې دعا په اجابت شي ⑨   چه طاعت د مجیب واخست هغه چا
کار و بار به د مزاج په اندازه که   چه هنر د طبیب واخست هغه چا

زه یونس به یې سور تیغ په وینو ککړ کړم
٨١   ٩
که یې خون د رقیب واخست هغه چا

که مه دد وصل نه که یار زما   سزاوار د جدایۍ شوم زار زما
داځکه یاد مې له ازله په نصیب شه   چه تر خولې خبرې لیل و نهار زما
څو به ستر ګولې پردې د عدم نړۍ   پرې به وي د آهو چشمو ښکار زما
درون د وری به د هجران په یې[3] تنده خوړم؟   د وصال په مد کوز کړه بار زما
سم جواب را کاوه نه شي له هیبته   بې بلتانه هسې خطا که وار زما

---

(١) په قلمي نسخه کښې: بتر ته خښتي. (بتر ته) خدمتګار ته د نقل اشتباه و بریښېدله نوځکه (بیرته) شو او (خښتي) خود (تښتي) یوه لهجه ده؛ لکه (خښتن = تښتن) نوځکه په خپل شکل پاتې شو.
(٢) برګ د ولې = دولې پاڼه، برګ بېد.
(٣) په قلمي نسخه کښې (خو).

په هیڅ رنګ به دې له دره منع نه شم ... که هر څو په سر خطر اوړي لار زما
په احتیاط مې غوټه کړې دی د هجران ... مه شلوه د آشنایئ تار زما
له غمه زره به پوه په هغه وقت شم ... که ګردش د فلک راکه وار زما
۹۰ زه یونس چه یار له غیر وسره وینم ... پر وجود لګي نې مثله نار[1] زما ۱۰

کله که نسیم که تو رې زلفې تار په تار ستا
ګوندې راښکاره شي محبوبا د واړه رخسار ستا
ځې په شینه شینه[2] په ښیوه د دلبرئ ... شاباش شاباش شاباش په دا هسې خوش رفتار ستا
سل نافې د مشکو بې په چین کښې وي د زلفو ... کله په عاشق بې ختن[3] وښندې یو تار ستا
سترګې دې قتالې دې منونبې و ځنه ... تل په عاشقانو که داد وه سواره نا تار ستا[*]
د واړه لب جرې[4] دي پر ښې صحت د مار خوړلي ... وخوړم په زره باندې د تورو زلفو مار ستا
دین دنیا مې ستا په ښه کېدن باندې بښندلي ... کله چا صلاح[5] کړه په دا د واړه یو دیدار ستا

(۱) نار = اور .
(۲) شینه شینه ، ښکالو . یا ، په شینه شینه ، په نازاونخرو .
(۳) په قلمي نسخه کښې : خطن .
(٤) جرې = تریاق .
(٥) صلاح = سلا ، مشوره .
(*) په قلمي نسخه کښې ، وده سواره تاتار .

۹۷ (۷) ۱۱

هر چه سخندان دي په ويل باندې پوهېږي
شاباشې به ورولي يونس په گفتار ستا

مست يم بې حسابه په شرابو شاته لا — يار راسره ناست دی تللی نه دی تر خانه لا
کار د عاشقانو له صحرا لره ويرانې — خوښ تر ودانۍ يم يو په دوه په ويرانه لا
کله شو لا کله چې ناوک د غمزې ولې — هسې زما زړه دی ستا د غشيو نشانه لا
دور د فرهاد و شيرين تېر په ورانه وقت شه — پاته نې قصه ده په عالم کښې افسانه لا
د بې هوښيار عالم چې په ديدن سره بېخود کړه — ار وي وجان ته پاته شوي غرزانه لا
کله چې بېخود شي په جرعه د مستو ميو — کم شي و عاشق ته د رست جهان تر جودانه لا

۱۰۴ ۱۲

زلفې د مجنون کړه ولولې هم خوښې
زړه د يونس والي که خوږې شوای په شانه لا

شرم که قاصد په حيا محبوب زما — پټ دده په لاس کښې واچوه مکتوب زما
زړې ستا د هجر مې په کړد اميد نه شي — خرنگ زړ غونې بې پروځ تل هوب[1] زما
درست پرورده ستا لم ما نوميد و صله کړه — هر څه دي څرگند دي تا تر زشت و خوب زما
خلق مې د شپې په آه فرياد سره خبر که — سر را پورته نه که په ژړا مطلوب زما
بخت که مې جلب زما په لاس راکړي يوم — نو ره مې په لاس شي د مقصد مرکوب زما

---

(۱) هوب = سودا، انديښنه.
اوب = ديوځين يا کارسره عارضي او موقتي مينه. (پښتو قاموس ـ ظفر اللغات)

شپه دې د هجران را باندې توره تیاره راغله ... وکه د وصال روښانه نمر غروب نه ما

مار وه ناصحه ما یونس لره مې خوارې ... ۱۳ ۱۱۱

هیڅ دې ترک نکړمه پوره دې ډېر ځنوب نه ما

سرو که رشک نه کا په قامت دیاره ما ... ولې شین لوګي شو وطرف ته د سما[1]

داغ مې د حسرت په سینه ولو ر تل تلله ... تا چه د مخ خال که ولاله وته نما

عشق چه په ملا د مطول[2] باندې زور راوړ ⑧ ... هېر[3] کړه له ملا نه جز کتاب د کریما[4]

هر چه یې نامه په عاشقۍ شهره[5] نه شوه ... لوړ نړو کړې بنسټ وه نه غزو ي له اما[6]

صبر د زاهد دستار نه لیدو موقوف دی ... ویلې به په زړه شي صبر یخ دی د سرما[7]

ثلث لام چه لیرې کړې په قول کښې یونسه! ... ۱۴ ۱۱۷

ستا نامه به وکاږې هله له معما[8]

---

(۱) سما = اسمان، هسک.

(۲) مطول د عربي ژبې په بدیع، بیان، او معانیو کښې، د مسعود ابن عمر چه په سعد تفتازاني یا علامه تفتازاني (۷۱۲ - ۷۹۱ هق) شهرت لري، تالیف او په پخوانۍ درسي سیستم کښې یو انتهایي کتاب دی. دا کتاب د مولف له خوا د وهم حل په لنډه توګه د (مختصر المعاني) په نامه تالیف شوی دی، چه دا هم په پخوانۍ درسي کتابونو کښې هم کتاب دی. دا دواړه کتابونه د ابو یعقوب یوسف سکاکي د (تلخیص المعاني) په شرح کښې دي. تلخیص المعاني د سکاکي د (مفتاح العلوم) نومي کتاب یوه برخه.

(۳) په قلمي نسخه کښې هر ځای: وهېر.

(۴) د پخوانۍ درسي سیستم د (پنج ګنج) یا (پنج کتاب) لومړی منظوم رسالہ چه د (سعدی) په نامه ده او داسې پیلېږي:

کریما ببخشای بر حال ما ... که هستم اسیر کمند هوا

(۵) په قلمي نسخه کښې: تنه (۶) اما = ام، موږ، مادر. (۷) ژمی، ساړه.

(۸) دا بیت د معما په ډول دی چه د یونس نوم ترې راووځي، په دې توګه:

د (قول) د کلمې د توریو نه د ابجد په حساب (۱۳۶) جوړېږي (ل) به د غه حساب (۳۰) کېږي او د هغه ثلث یعنې دریمه برخه (۱۰) کېږي. د (۱۳۶) نه چه (۱۰) لرې شي (۱۲۶) پاته کېږي. د (یونس) نوم هم د ابجد په حساب (۱۲۶) کېږي.

ACKU

مخ دې ګنج دی بې بها — پاس پرې زلفې اژدها [1]
تور يې خوږ [1] سپېره زاغ دی — سپين چمين ترې لاندې ها [2]
تور ګيسو سپين مخ ستا — لکه ليل والضحی [3]
بې له عشقه کربل کار کړي — ترې توبه د نصوحا [4]
بې له عشقه نور خه مړه کړه — ابتدا، تر انتها
مړه چې بيا ژوندي کړه — په انفاس د مسيحا [5]
عشق وژلي ته وګوره — چه تداو [6] نه خون بها
د هجران په تاريکه کښې — يونس ناست دی يک تنها

۱۲۵ — ۱۵

چه همېش په زړه کښې وي کينه حسد ستا — هم د غه د دښمنان بس دي تر ابد ستا
نېک و بد چه تکوې د ستا په ځان وي — په دم د مدغين نه دې نېک و بد ستا
هره چار په اندازه سره بايده د ٤ — لحې [7] پښې بر منډه يې شي خير يې نه د ستا

---

(۱)۔ په قلمي نسخه کښې : خوږ نه يې.
(۲) ها = هاګه، هګه، آګه، اګه، هوږه، وږه.
(۳) د قرآن شريف آيت دی ، وَالضُّحٰی وَاللَّيْلِ اِذَا سَجٰی ... (تر پايه) ، يعنې ، قسم دې وي په څاښت او په شپه چه تيه تياره شي .... د پروشاعرانو د حضرت محمد (ص) د مخ او وېښتانو تشبيه د دغو آيتونو په تلميح کوي.
(٤) نصوحا توبه = د ګناهونو او بد و کارونو نه لاس اخستل او هسې توبه ايستل چه د زړه له کومې وي او هيڅ رنګه ګې بيرګي پکښې نه وي.
(۵) مسيحا د حضرت عيسی (ع) لقب دی چه والي د هغه په دم مړه ژوندي کېدل.
(٦) کېدی شي چه مطلب (تداوي) وي.
(۷) په قلمي نسخه کښې : پڅې.

ACKU

داسراف[1] جام او بده ده بد نمایه — دانصاف جام به بشر الستي[2] په قد ستا

داپندار تکی دي حلك[3] په الف قد کړه — چه احد شي له خودي د عدد ستا

که له کوره دي همراه دي شدت نه وي — له عذابه نه خالي ګنه مرقد ستا

تصرف په هوس ره کار کړه که پوهیږې ⑨ — چه رسیږې ته هغه د فکر حد ستا

خار ریږي په لار کښې مکر مه لهب واره — چه تبت له قهره نه که دواړه ید[4] ستا

چه سل شپږ نحوس و دوه او یا دوه نام که

١٣٤ — ١٦

هغه پوه ګنه یونس[5] په ابجد ستا

مناجات کوم و تا ته ربنا — فمن عندك الكرامي اتنا[6]

دښمنان په لار نهتر د مال عطا کړي — وانظر والایات لن تنا[7]

ته داخل په هغه د ښار! کما قال — ومن دخله كان امنا[8]

---

(١) په قلمي نسخه کښې: اصراف (٢) په قلمي نسخه کښې: لیشي. (٣) په قلمي نسخه کښې: هلك.
(٤) د (تبت یدا ابي لهب) ایت ته اشاره ده چه د حضرت پیغمبر (ص) په لار کښې یې اغزي غوړول.
(٥) دابیت هم د (یونس) په نامه معما ده او په دې توګه حلیږي:
که (١٥٦) د (٧٢) سره یوځای کړو نو (٢٢٨) ترې راووځي. که د (ابجد) د کلمې توري (ا، ب، ج، د) د ابجد په حساب وګڼو نو (١٠) ترې جوړیږي او چه دا (١٠) په پورتني عدد واچوو (٢٣٨) کیږي. د یونس د کلمې توري (ی و ن س) د ابجد په حساب (١٢٦) کیږي، چه دوه ځله یې وګڼو نو هماغه (٢٢٨) ترې جوړیږي. یعنې:
١٥٦ + ٧٢ + ١٠ = ٢٣٨ ÷ ٢ = ١٢٦ = یونس.
(٦) زما څخه چه وي مرام هغه را.
(٧) نظر وکړه په ایات د لن تنا. په قرآن شریف کښې والي: لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون، یعنې: نیکي نه مومئ تر څو چه خپل ګران څیزونه (د خدای په لار) ونه لګوئ. - دا کلمه په قلمي نسخه کښې: (لنتنا) ده.
(٨) چه ورننوت په امن شو هوسا - په قرآن شریف کښې د مکې معظمې په باره کښې والي: ومن دخله كان امنا. یعنې: څوك چه ور ننوت نو په امن کښې شو.

د هر چا تر خپل مقدار پورې کلام دی — تَرَشَّحَ الْاِنَاءُ بِمَا فِي الْاِنَاءِ (۱)
هغه کار چه ترې اهل یې خښتنه — فَيَقْبِضُ لَكَ هُوَ اصْنَعْ بِنَا (۲)
هر عمل چه بل زما په دلالت کې — كَانَ خَيْرًا وَالشَّرُّ كُلُّنَا (۳)
۱۴۱ چه د پاک نبي په دین یې کړې یونسه!
فَهٰذَا الْفَضْلُ الْعَظِيمُ قَدَّسَنَا (٤) ۱۷

چه د حسن د اتره وې صبا ستا — وخاطر ته یې شوق پرې یوست زما ستا
د لختیار جلب مې د رکه ستا په لاس کښې — وهلو ته چه مې بیالې رضا ستا
د بل چا تر شهد و سینه دې د ستا زهر — د بل چا تر وفا سینه د ه جفا ستا
وکړ ته چه بلا والې نادانه — کړم هم درته ناري که چه بلا ستا
د بیمار و عشق ته دا وایه طبیبه! — چه لږ دې زخم دې وهشه دوا ستا
هغه یاران دې په یاري کښې د وغړن دی — چه یکسان نه وي په مخ په قفا ستا (۵)
۱۴۸ که زخمي یې په چشمانو کړې یونسه!
پر لبانو کښې یې هم شته دی شفا ستا ۱۸

---

(۱) ترې څاڅي چه وي لوښي کښې اشیاء . (څه چه په دیګ کښې وي هغه په کاسه کښې ووځي . پښتو متل)
(۲) په خپل فضل هغه چار وکړه له ما
(۳) خیر و شر بې راښیې یې خاځا .
(٤) مونږه پاک کړو د الوی فضل د مولا .
یادونه : د متن د شعر ورستی مصرعې په عربي ژبه دي او په حاشیه کښې د څه مګار لخوا په پښتو نظم ، د متن په وزن ، ترجمه شوي .
(۵) قفا = ترشا .

ACKU

چه دعشق په چشمه وکه اودس ما (۱۰) په ځان وکړه جنازه په هوس ما
مناسب په هغه عمر استغفار دی چه تېر کړی دی بې یاره نفس ما
چه دغم په ودح هېڅوک رفیق نه وي بل دځان په څېر ونه لیده بې کس ما
ښه ارام دا قامت يې منغص[1] شه چه سحر په فریاد ولیده جرس ما
ازاد روح مې له پروازه پکښې بند شه څرنګه خوښ کړ دا دخاوړو قفس ما
چه مې تن په عشق کښې[2] ورکه دامي ووي چه داود په لمبه[3] وسپاره خس ما
دزړه شو مې دعشق په حواله کړ تر يې معزول کړ دخپل عقل عسس ما
غمګسار مې بې له خياله بل ونه لید د بر په دوکه دخپل فکر فرس[4] ما

چه یوګل دې دیونس په مهر به ورکړ
دغه یوګل دې نبولې په لس ما

١٥٧ ١٩

هر بنده چه رضا کښېن دې پر قضا خلق به ورکاندې دنیا کې عمل جزا
دهرچا په خپلو نېکو نتیجه ده دهرچا په خپلو بدو ده سزا
ماضي حال مې په لیده دواړه معلوم شو اوس حیران د مستقبل پر مقتضا
دمحا کافر پر تورو غږ ونوغواړې په خپل کور کښې دنفس نه کوي غزا

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : منفس.
(۲) په قلمي نسخه کښې (کم).
(۳) په قلمي نسخه کښې هرځای (لنبه).
(۴) فرس = اس ، اسپ.

خو فارغ شوای د نفس له چنګ ونې — دایم او سه کمربنده له جوزا
چه طوعاً و کرهاً[1] سر د تخت د رومې — اوس تر خپله سره تېر شه په رضا
په هر چا چه د سختۍ غلا سمې شوه — د قضا فوج به ورشي په درزا[2]
که په زړه کښې دې خبر نقش د انصاف وي — روادار مه شه د هیچا په ایذا

١٦٦ چه د عشق غمونه رایشي یو نسه!
نور غمونه واره جز شي له اجزا ٢٠

(١١)

دل و جان مې در تېر پېش دي دلربا! — دواړه ستا دي که نن وړې يې که سبا
د مړه اختیار په دست کښې د زنده دی — خواه ترمنځنې وکاږې خواه قبا
هر سړی په خپلې خوښې پسې ولاړ شه — د هر چا شوه خپله مینه محبوبا
د عاشق د یار له مخه سره سودا ده — فراموش يې دی مین ادې ابا
ابالغ د معشوقې له قدره خبر زده؟ — ورانده ته برابر زشت و زیبا
هر زحمت چه د جانان له لوري ورشي — که عاشق يې، ورته وایه: مرحبا!
قافلې دې د هجران په بار چلېږي — ستا وصال که ره بدره قدر د غربا
چه نلګاه مې د وصال په مژده شادکه — صد باره هغه برید[3] لره طوبا[4]

---

(١) په خوښه او ناخوښه. خامخا.
(٢) په قلمي نسخه کښې: درزا.
(٣) برید = قاصد، استازی
(٤) طوبی = خوښي دې وی! سخ دې وي!.

ACKU

لاعلاج[1] دې پسې ځم د عشق له سحره — لکه کاه په نمود بيايي کهربا
خلقې سره انفای[2] شوې بې حسابه — لوړ په لوړ د جدايۍ پړو با

۱۷۷ د ژوندون آرام هغه مومي يونسه!
چه شي بند په قناعت ګنجي د بقا

۲۱

تجربه کړه دلبران ده دي يار ما — يو و نه لېده په خبر د هغه يار ما
له دماغه به نظر په کهکشان کړم — که د خاورو ځای پرېږدې په دربار ما
په سنګدل مې د ژړا اثر و نه شو — که چشمان کړه په فراق سره خونبار ما
د شبنم په طرح هر ځای ميشته نه کړم — ستا په سرای کښې صورت خاوره کړې ديوار ما
په خپل لاس به قلاده[3] په خپل ګردن کړم — که دلبر که د سګانو په قطار ما
په درګاه چه يې رويږي شکسته کاندې — سلامت هسې و نه ليده رويدار ما
په جهان لکه هنر د عاشقۍ دی — تر دې کار غوره و نه ليده بل کار ما

۱۸۵ (۱۲) ويونس تر څه تورې برېښې کوې رقيبه!؟
نه به کړې د يار له عشقه توبه ګار ما

۲۲

خدايه ستا له [د] يادومه و باسه ما — بهره مند مې کړه په دين او په دنيا
پوهېږم چه ستا د نظر وشي — که مملوک[4] وي بختور شي تر مولا[5]

---

(۱) ناعلاج (۲) د "نفي" مخ د "اِفعال" شکل.
(۳) قلاده، د سپو تسمه اي غاړه کې (٤) مملوک، دلته د مريي په معنی.
(۵) مولا، دلته د بادار په معنی.

هر بنده چې ستاد یاد و ګنج حاصل که
نه بل ګنج دې و ساتي[1] دی نه کیمیا

بنده ښېښته[2] د ښبستن و درته وکړه
چه آزاد شي په دنیا و په عقبا

هر آفت بلا چه والي د اهستي ده
هستي پرېږده نه آفت شته نه بلا

نن دې کار لکه غنچه په پردو پټ دی
اشکاره به لکه ګل شي په صبا

عاقلان د بل له عیبه سر فرو دي
نظر نه کاندي په عیب د بل چا

زه له رحمه ستړی نه شوم تر له فضله
دا زما رسم دستور دی، د غه ستا

۲۳ — و یونس وته مطاع د دواړو جهانو
د یوه دیدن یې نه لري بها[1] — ۱۹٤

غولک چه شه د حق له دره بې نوا
بې وقاره باد بهکه په هوا

ګرفتار د غفلتونو په مرض شه
هیڅ طبیب ښځه نشته دی د وا

او هغه چه د ښبستن په در قبول شه
د هغه له بخته نه دی غولک سوا

په نظر سره یې خاوړې سره زر کېږي
په عالم کښې سر بلند شي کامروا

د هیڅ حرف پوشیدګي ورځنه نشته
ازلي دانا یې غوږ و وي شنوا

ناپوهان له ناپوهیه بد ښنه وینې
سره لمبه و نادان و وړکي ته وه وا

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: (نه بل ګنج د دې ساتي).
(۲) ښېښته، د (تېښته) بل شکل یا لهجه.

۲۴

۲۰۱ طبیب صِبَّر⁽¹⁾ ورته فرمایلي یونسه!
ستا د نفس خوښی وه په حلوا

دلبران په جهان ولیده هزار ما — یو ونه لیده په ښېښ د هغه یار ما
مکافات د جدائي دیدن غواړي (۱۳) — د بېخکولي دی د وصل انتظار ما
هر زمان چه لېږي په کار وي ورته پیشرې — دل و جان نذر⁽²⁾ منلي د نګار ما
ګل چه ستا د حسن لاف کاوه خجل شه — ځکه ولیده ترلي په بازار ما
د هېڅ سرو رفتار نه دی چا لیدلی — دیار سرو قد لیدلی په رفتار ما
په بازار چه مې ګذر که نې له عشقه — بل ونه لیده د حسن خریدار ما
بلبلان د ګل وصف په چغار که — ښایسته هر وي ستایلي په اشعار ما
سنه کړه زه د عاشقي په درد ازار یم — په راحت دی غوره کړي دا آزار ما

۲۵

۲۱۰ بربڼ راشه د یونس دستر ګو نور ه
هر زمان به یاد وکې په تان بار ما

که رنځور شي چه رغېږي په دعا — له دعا طمع و مه کړه د هېڅ چا
هغه یار چه دي په مخ ځان و قربان که — پسې شاد ربانې غواړي ښو بلا

---

(۱) : صِبَّر : په قلمي نسخه کښې (صِبر) د صاد په زېر لیکل شوی دی. دالو عربي لغت دی چه په سوریاني: علوا، په یوناني: ایلیا، او په هندي: الو، ایلوا او الوا بللی شي. په فارسي کلاسیک ادب کښې د (الوا) په شکل راغلی دی. حکیم سنائي وایي:
چون زرست دوست خوردی بادیت برخوان جان — لقمه را الوا و حلوا هر دو یکسان داشتن.
دا ویلو بوټي د پالو شیره یا کنده ده چه په هند کښې ورېږي. هغه (صبر) چه په (سقوطره) نومې جزیره کښې کېږي په (صبر سقوطري) شهرت لري. صبر د برترېخ او د صفرا نارو غیو ته ګټور دی. په دې بیت کښې (صبر) هم معنی ورکوي.

(۲) په قلمي نسخه کښې: (نظر).

چه ته پاڅې له مجلسه و بل لوري ته   درست مجلس دې کا له عیبه مشغولا
خپل نقصان دې و هیچا ته ظاهر مکړه   په خوله مه ځه ور ته که په زړه رضا
د جوړښت طمع و مکړه له هغې بیع   که درپیم[1] دې خوله خبر که په سودا
دوست دښمن په معنا واړه کینه گر شو   اوس په هیچا باندې مه کوه وېسا
په دا وقت هغه ښه یار دی که یې گوري   چه ښکنځل و یار ته نه که پسې ښا
ته مقصود پوري یې په سل رنگه لباس که   ته مقصود څوک ته نه پېژني تا
مروت چېرته لیدلی نه شي یونسه!   ۲۱۹

۲۶

په جهان یې نامه شته لکه عنقا
په دوه ملکه د مولا   که دنیا ده که عقبا
کې پیدا دي که فنا دي ⑭   لا چه راشي په دنیا
له اوله تر آخره   ابتدا، تر انتها
کل اطلس نه قام   کل د دوو کونو اشیا
که سما دي که غبرا[2] دي   تر اسفله[3] تر اعلا[4]
فرښتې که آدم زاد دي   که دیوان پرې یې بلا

---

(۱) په قلمي نسخه کښې (درپیلم)
(۲) سپېره، دوړن. مطلب ترې ځمکه ده.
(۳) ښکته.
(۴) پورته.

که چار یاري که دوه یاري — که یکپیاده دی په دریا
ددې واړو چې مې ووې — خالق یو دی په رښتیا
دی پادشاه دی بې وزیره — بې شریکه بې همتا
په خواهش کښې یې کثرت و — هم ددوو کونو غوغا
ولولاک(۱) وته نظر کړه — چه دې زړه شي مصفا
دین دنیا دده له رویه — غني خدای کړه هویدا
له یقینه یې معلوم کړه — محمدؐ دی مصطفی
دی شفیع المذنبین(۲) دی — هم دکل عالم پیشوا
په هغه شپه چې پیدا شه — کوټ ویران شه دکسرا
ددرې شپو و، پلار یې و مړ — په پنځم یې مور فنا
هم یتیم وهم یسین و — په ساتل یې شوه دعوا
په تفسیر یې باندې نظر کړه — په سوره د والضحی(۳)
لوی یې کړ له یتیمي — له عایله شه اغنا
بې حده راغلو دجبرئیل(۴) شه — خدای ستایلی په طاها(۵)

---

(۱) په حدیث قدسي کښې راغلی دی: لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْأَفْلَاكَ ؛ یعنی: که ته نه وای نو ما به افلاک (اسمانونه) پیدا کړي نه وای.
(۲) دګناهګارو شفاعتګر.
(۳) په قرآن شریف د والضحی په سوره کښې والي: فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ؛ یعنی: په یتیم قهر مه کوه!
(۴) جبرائیل، لومړنی مقرب ملایکه چه په پیغمبرانو وحې راوړي.
(۵) طٰهٰ، د قرآن شریف دیوې سورې نوم دی چه هلته داسلام پیغمبر ستایل شوی دی.

خدای خبر په قرآن که | په آیات د تیا و بینا
که توحید و عدو وعید و ⑮ | که قصص الانبیا (۱)
مشرف ئې په معراج کړ | خدای په خپل فضل والا
یوه شپه په خواب اوده و | کان د حلم د حیا
هغه ځای کې د ترور کوړ و | بلاشک و اشتباه
جبرئیل له خدایه راغی | له نبي سره آشنا
د جنت براق ئې راولې | و نبي ته شه گویا
و ځلیږ خدا خښتن دې | راضي ستا په مشغولا
دی د نور په براق سور شه | براق تېز و تر برېښنا
یوه پښه ئې په رکاب کړه | بله پښه ئې کړه بالا
لا قرار په براق نه و | چه شه پاس په د اسما
میاشتې (۲) داغ د غلامی | ورته کښېښو پر سیما (۳)
په دوهم کښې عطارد (۴) و | هم منډ شه په عطا
په دریم آسمان زهره (۵) و | شوه له ذوق په نڅا (۶)

ACKU

---

(۱) د پیغمبرانو کیسې. په دې نامه په دري کښې د شیخ فرید الدین عطار یو تالیف هم شته او په پښتو کښې هم د پښتنو شاعرانو له خوا د "قصص الانبیا" په نامه منظوم تالیفات شته.

*(۲) (٤) (۵) او دا نورې نمبر (۱) (۵) (٦) (۷) یا بلیکوو ـ د پخوانی نجوم له مخه، سپوږمۍ، عطارد، زهره، لمر، مریخ، مشتري او زحل هغه سیارې دي چه په ترتیب سره په لومړي، دوهم، دریم، څلورم، پنځم، شپږم او اووم آسمانونو کښې دي.

(۳) وچولی، تندی.

(٦) په قلمي نسخه کښې: یږ.

پہ چارم اسمان[1] افتاب و ... چہ مسکن وو د عیسی[2]
افتاب خیبس[3] افتابہ[4] کړہ ... گونډی وی پنځہ د ست و پا
بیا بهرام[5] یې بهرہ منده کړہ ... په پنځم اسمان بالا
پہ شپږم کښې مشتری[6] و ... خریدار د دې سودا
چہ د ستا دیدن حاصل کړی ... ستا دیدن دی بې بها
پہ اووم اسمان زحل[7] و ... زحل حل کړہ مدعا
پہ کرسی[8] کښې ثوابت[9] و ... او هم نقش ثریا[10]
(۱۶) چا پہ نظم چا پہ نثر[11] ... د نبي کړلہ ثنا
ستارو د کهکشان کړی ... د مقصود گرہ کشا
هغہ حد د جبرئیل و ... چہ و سدرة المنتهی[12]
جبرئیل یې هومره مل و ... نور له دوستہ شہ جدا
اسرافیل[13] و د لرہ راغی ... چہ نور ستا خدمت پہ ما

(۱)، (۵)، (۶)، (۷) : وګوری د (۲۱) مخ د (*) پا یلیک.
(۲) د اسلامي عقیدې له مخه حضرت عیسی پیغمبر ژوندی او په څلورم اسمان کښې دی.
(۳) خیبس : د (خپل سر) مخفف پخوانی مشکل چه د (خپل خان) په معنی هم راغلی دی.
(۴) افتابہ : کوزہ، منګوټی.
(۸) (۹) (۱۰) د اسلامی روایاتو له مخه کرسی د اوو اسمانو نو دپاسه او تر هغې دپاسه ثوابت (نه خوځېدونکی) ستوری او بیا ثریا ده.
(۱۰) په قلمی نسخه کښې : سریا.
(۱۱) په قلمی نسخه کښې : نصر.
(۱۲) د عرش ښی خواته یوه ونه ده چه سدرة المنتهی نومیږی او د اهغه ځای دی چه جبرئیل د هغه نه ندی او ښتی، د سدرة المنتهی ترجمه (د حیرانتیا د ریوستی ځای).
(۱۳) د رالیږ منزلونو پرښتہ.

ACKU

پهٔ سرین رفرف[1] یې واخست — رفرف سپین ولکه ها[2]
چه تر حده کرسي تېر شو — نور لېږ عرش[3] شو منتکا
چه تر عرش پورته تله وو — نه مکان و نه هوا
لهٔ خښتن سره واصل شهٔ — پهٔ عدم مکان بالا
څوک پهٔ روح والي لیدهٔ وو — څوک پهٔ تن والي له تا
پهٔ دید پهٔ نادیدن کښې — مطلق نهٔ والي علما
سزاوار شهٔ لهٔ خښتن — پهٔ ویل د مرحبا
هغه قربت چه د نبي وو — هغه نهٔ وو د هیچا
ده پېشکش التحیات[4] کړهٔ — پهٔ درگاه د کبریا
عبادت چه لساني وو — لومړی[5] وینا معنا
بدني لمونځ چه روژه دی — او مالي زکوة سخا
دا مې ستا پېشکش اوړي — زهٔ عاجز یم تهٔ توانا
خدایه لا یو د خپل سلام کړه — چه لیده شهٔ دې رضا

PROPERTY OF ACKU 2314

---

(۱) د حضرت پیغمبر تخت د اسرافیل پهٔ مقام کښې.
(۲) ها = هاګهٔ، هګۍ، ویګه، هویګه.
(۳) د تولو د پاسه "عرش مجید".
(٤) التحیات: پهٔ عام ډول ستاینه او لمانځنه، خو پهٔ خاص ډول هغه ستاینه ده چه د لمانځهٔ پهٔ ناسته کښې ویل کیږي او داسې شروع کیږي: التحیات لله ....
(۵) پهٔ قلمي نسخه کښې هم داسې ده، کېدی شي چه د (لومړی) وي او مطلب ترې د اسلام (لومړی رکن) یعنې د توحید کلمه وي.

ده وې بې ستا سلام په ما و — بیا په وارو صُلَحا
چه دا انزدوی تمام شه — فرشتو کړه دا صدا
چه خدای یو دی بې شریکه — (١٧) محمد رسول د خدا
د دین یې ونغاړه نې حمده — حمد یې نه و غرض دا
کال و سر روژه یې میاشت کړه — دعاجز [و] امت پیشوا
پنځه وقته یې لمونځ فرض که — لږ غډ کل سره په تجا[١]
نه نوی زره د بل شو و — بهره مند بهره رسا
خوږک گوی نه خوږک[٢] د مگوی[٣] و — خدای علیم دی هم دانا
شپه اتلس کاله ولاړه — په ظاهر هغه بېگا
چه په پېښ ته لوړ ته راغې — دامت مشکل کشا
لاړ نځیر و په جنبش کښې — چه ده کړې د پرې یې وا
د خواب گاه په خاپې لاس که — لاپې تود دارځ ردا[٤]
خدای قادر د هر څه کاندي — دلته نشته چون چرا
اوس په مدح د چار یار کړم — که توفیق که مل زما

---

(١) تجا = مخ اړول، توجه کول.
(٢) په قلمي نسخه کښې : خو.
(٣) گفتگو.
(٤) ردا = څادر

اول یار يې ابو بکر[1] — سر حلقه د اولیا
نبي هم څو ویلی ندوو — په غر راز و دی گویا
په گناه يې زویه مړ که — عمر[2] هسې کړه قضا
عثمان[3] جمع بنه قرآن که — هم و میر اغنیا
چه (هم) فقر هم میرانه — غضنفر[4] و مرتضی[5]
د حسن حسین[6] له رویه — هم په فاطمه زهرا[7]
د نبي امت ازاد کړې — دا مې خواست دا مې دعا
که دې سل کاله شي عمر — یا تر سلو زیا تحلا
که بادشاه د کل عالم شې — یا کچکول په لاس گدا (۱۸)
که اطلس دې اغوستي — یا شړی شاره ختما
که خوراک دې وي اوربشي — یا بره مرغ و حلوا
که حشمت د سکندر[8] شي — یا دې فرشي د دارا[9]

---

(۱) ابو بکر صدیق د حضرت پیغمبر(ص) لومړی خلیفه.
(۲) عمر بن الخطاب دوهم خلیفه.
(۳) عثمان بن عفان دریم خلیفه.
(٤) زمري.
(٥) علي مرتضی څلورم خلیفه.
(٦) حسن(رض) او حسین(رض) د علي مرتضی او لې بي فاطمې زامن او د حضرت پیغمبر(ص) لمسي.
(۷) فاطمة الزهرا، د حضرت پیغمبر(ص) لور.
(۸) (۹) اسکندر او دارا د شاهنامې د داستان قهرمانان چه د دوار وسره جنگو نه هم کړي دي.

٢٦

کړدې درستړوځ په غمونو | یادې درستړوځ خندا
که غره په داڅ وندون وشي | احمق نشتر دی تر تا
ښایسته غنچه د ګلو | چه غوړیږي په صبا
ترمې ترمې په زمان شي | لن مدت لري بقا
عمر هم په دا مثال دې | زندګي ده یو خوسا
کوم زمانه د مرګ بوځي | مال میراث خونه تالا
د لحد تر غاره ملا دې | خپل مین ادې ابا

خدای ستا لره دیره فضله
یونس مه کړې بې نوا

٢٧ ٣١٢

چه غره یې د ژوندون په پنجه ګاهه | معلومېږي چه په دست کښې دې د ساه
د نیکۍ خوشتې دې نیک نوشتر نه که | د بدۍ دفتر دې تور که تر بیګاهه
ته رسې د هدایت له خدایه غواړه! | چه یې وخېږي د مصیبت له چاهه
د ښتن وظیفه خوري کار د خناس کړي | خپل نیکخواه د رخ ګنډي بې له بدخواهه
نصیحت د مشفقانو لو په لار ده | ته په قول د بدګوي مه ځه بې راهه
د رحمت نظر یې هسې فیض بخش دی | چه یې سپک کړه د ګناهو کوه تر کاهه
په هیڅ دریځ د نا غښي اسره[1] نشته | عزازیل[2] چه یې رانده شه له درګاهه

---

(١) په قلمي نسخه کښې: اثر
(٢) شیطان، ابلیس

پهٔ مین و ب[1] باندې تکلیف دا مه نشته ⑲ نه پرېږدي پوښتېدهٔ[2] شي لهٔ ګناهه
پهٔ طلب دا مه زه ش آه و فریاد کړه ستا تصدیق لره کافي دي دا دوه ګواهه

۳۲۲ تهٔ سپین تهٔ سپاهي سنوی لوېږي پونسه!
۲۸ وه وپرېږه د مظلوم[3] لهٔ تیره آهه

لکه شونډې دي د ستا — نه نبات دي نه حلوا
لعل څار شه ستا ترلبو — دي تر لعلو دوی ز یبا
دُر[4] ها لري معلومه — غابس دي دُر دي بې بها
پهٔ خندا شکر ریزي کړې — شکر څار ستا تر خندا
ګل سیالي که ستا له حسنه — شه پر ګلو ستا بلا
ستا تر ستر ګو صد قه شه — غزال[5] واړه د صحرا
هو رې حورې تر تا څار شه — پري دلې په د نیا[6]
ستا د قد برا بر نه دې — د دې سرو قد با لا
نور به لاف د جمال پرېږدي — که ښکاره شي ستا لقا

---

(۱) د مجذوب مفغن شکل ، دلبونې او نې پروا په معنی.
(۲) پهٔ قلمي نسخه کښې : تر پرېږدي پوستیدو ...
(۳) " " " : د مظلومانو.
(٤) مرغلرې .
(٥) هوسه ، کبله.
(٦) پهٔ قلمي نسخه کښې : پروتیا .

هسې رنګه ښایسته خولګ دی؟ ‖ لکه ته یې سر تا پا
ثاني نشته ستا د حسن ‖ دا قسم خورم په رښتیا
وایه خاندم که ژړا کړم؟ ‖ د ستا خبره ده مدعا؟

٣٣٥ زه یونس دې وصل غواړم ٢٩
که مو نه دی شي په دعا

زوړ وړ په سترګو ړوند غوږونو بې شنوا ‖ ولې نه که دوی (د) هسې رنځ دوا
په ویل د غرض ګویو کاروبار که ‖ تحقیق نه که د روا و ناروا
که چا وویل چه اوښ دې پیښو وړ (٣٠) ‖ د پیښو د خښتن پسې که پر هوا
پیښو هم چیرې اوښ(١) وړی دی ظالمه!؟ ‖ تفحص وکړه له عقله نه یې نوا
زوړ وړ په مثال او ر دی حذر وکړه! ‖ ښه و بد واړه ته دواړه دي سوا(٢)
پس چه خلاص کړ له لیوه ته یې حلال کړه ‖ دغه رنګ یې هرګز ومه شه هوا
چه په هره نواله ورته قمریږي ‖ په خوله مه شه د هغه سړي حلوا
زوړ وړ که تر خوله غول خوشالي لوني ‖ همنشین یې خوشامد که چه وه وا

٣٤٤ لکه غم د نور عالم دی په جهان کښې ٣٠
هومره غم د یونس ګوښې دی سوا

(١) په قلمي نسخه کښې: اوس.
(٢) سواء = برابر، مساوي.

ACKU

چه طامع د بلندۍ لکه رجا (۱) — سر به کښته به اسمان وینې کجا (۲)

ملک د قناعت ښه دی تر ملکه د شاهچا — مړه لوڼې ښه دی نه دنیا تر التجا

فوج د امید مې د وصال په جنت ګډ کړه — ای مقصود پښویه په خدمت داد الجا (۳)

خوک چه خلاصی غواړی د حرص له سخته بنده — بې له قناعته بې نور نشته دی نجا (۴)

هر چه په سر و شی خپښته (۵) نه بویه ایښی — عار د مړنې دی چه ګریز کاله هچا (۶)

ناستیم نه مهجور ستا د هجران په تاریکې کښې — چراغ د مخ څرګند کړه تار په تار کړه دجا (۷)

خکه یونس خپښته ستا ولوړ ترکه دلبره

۳۵۱ — ۳۱

بې د ستا له دره بل سر نه لري ملجا (۸)

هغه یار چه موافق نه وي په سرای ستا — له هغه خپښته باید دی په د وپا ستا

د هر اله غلو نه څرنګ په احتیاط آچ — د وه غلګی هیش دروان او سیې سرای ستا

قافلې په کوچ روانې د هجران شوې — هیڅ لاغر په غوږ و نه کړی د درای (۹) ستا

بې پروا له خاطر د رزق له غمه — رب قسمت اماده ایښی دی هر ځای ستا

---

(۱) رجا = امید.
(۲) کجا ؟ = چیرته، کوم ځای ؟ .
(۳) ؟
(۴) نجات.
(۵) خپښته = تپښته.
(۶) جنګ، جګړه، هیجان.
(۷) تیاره
(۸) د دې غزل سر په یو وزن او بند ونه لې په بل وزن دي.
(۹) په قلمي نسخه کښې : ودای . درای یا درا د قافلې جرس ته وایي.

ACKU

لا ته ندوې په جهان کښې پیدا شوی (۲۱) چه د سین برات لیکلی و بند خدای ستا
حقیقت د خپل کردار به در معلوم شي چه اخره ساه وراشی[1] په نای[2] ستا
په مسند د صابرانو دې څه کار دی؟ پښې گنډه دي د رحمن په گنډه لای[3] ستا
د لگیرې له دلبرې کړه خوشحال شه! ستا مشکلونه شته مشکل کشای ستا

۳۲ رنځوران به د رنځور په حال پوهېږي
روغ خندا[4] کوي یونس په وای وای ستا ۳۶۰

څه غرض کار چه وي په زړه کښې دې مطلوب شپه ورځ دې له هغه سره وي خوب
تفحص په اهل بینش[5] باندې لازم دی ورانده وته یکسان دي زشت و خوب
حاسدانو له حسنه یوسف ځکه په فراق یې سترگې سپینې کړې یعقوب
که په حسن منظر لکه یوسف شې عاقبت به دفنا په چاه شې ډوب
له ادم غونډې مرسله نهي راغله زه به څه د ځان پاکي کړم له ذنوب
د جهان اوضاع په عکس شوه پوهېږم د نېکۍ سرې په بد و شر منسوب
ستا له دره مې بل ځای نشته خاونده! هیڅوک نه پېږي د چا من نی[6] معیوب

---

(۱) د (راشی) یو شکل .
(۲) نای = نی ، شپېلۍ ، د شاعر مطلب د تنفس د جریان د ستونې څخه لاره ، چه د شپېلۍ په شکل ده .
(۳) لای = خټې ، چکړې .
(٤) په قلمي نسخه کښې : خندان .
(۵) د نظر خاوند ، د سترگو خاوند ، سترگه ور .
(۶) په قلمي نسخه کښې : مرید

دخپل ځان سزا بخپله کړه که جهل؛ له غالب سره چه بحث کا ندي مغلوب

دپر گوتي خبر بدالي ندده یونسه!

۳۳ ۳۶۹

لن کلام بو یه په فهم په اسلوب

چه له یا فته سره نه لري حساب ته به وويني مُصرِف خانه خراب

که نظر په لَایُحِبُّ الْمُسْرِفِینْ[1] که و به نه کا ندي اِسْرَاف[2] اُولُوالْاَلْبَاب[3]

چه وعده يي خلاف وي هغه کاذب دی پیغمبر امتي نه شمېري کذاب

چه وَاَوْفُوا بِالْعُقُود[4] دی را غلی په وعده ساتل تاکید دی دو ځاب

دمقصود ور مې ترلی نامرادیم ⑳ تړلي واکړه یا مُفَتِّحَ الْاَبْوَاب[5]

دا دنیا په مثال پول دگذرگاه دی عاقلان په پوله کله کاندي خواب

دمعاش اسباب له ماسره ناساز دی تړلي ساز کړه یا مُسَبِّبَ الْاَسْبَاب[6]

په ژړا که پسې تور دستر گو سپین کم را به نه شي گذشته عمر نا یاب

پر یونس باندي کرم وکړه خښتنه!

۳۴ ۳۷۸

چه حصان نه شي د قبر په جواب

---

(۱) اِنَّ اللّٰهَ لَایُحِبُّ الْمُسْرِفِینَ (دقرآن آیت) - ترجمه : بې شکه چه خدای مسرفان نه خوښوي.

(۲) په قلمي نسخه کښې : احراف.

(۳) اولوالالباب = دمغزو (عقل) خاوندان.

(٤) واوفوا بالعقود (آیت) ، ترجمه : او په تړونو ودرېږی ، !!

(۵) یا مفتح الابواب؛ یعنی ، اې ددروازو پرانیستونکی ! -

(٦) یا مسبب الاسباب ، یعنی : اې دسببونو برابرونکی ، اې چاره گره !

ACKU

خدای دې نه لري بې مخه بې مهاب[1] — چه راضي ترې نه اعدا، دي نه احباب
په لږ سود د دنیا هسې ناآشنا شي — لکه کوږ شي د کوتې په ورځ قصاب
آشنایي له منفعته سره سنه ده — بې بارانه څه فایده [څه] د تش سحاب
ناقابل به څوک په وعظ قابل نه کړه — سپې په وله داوبو لاشي منجلاب[2]
چه تمیز د نیک و بد ورڅخه نه وي — وحمار و ته څه بول څه ګلاب
د ګمان په او بومه غولیږه دانا شه! — چه دې غول فریفته نه کا په سراب
په میوه به بهره مند شې لکه زړی — که تلې ځان که له تراب سره تراب
په خودي به یې صورت پوره که له اصله — ځکه سپک شه داو بو په مخ حباب

ته صورت له میانه و باسه یونسه!
۳۸۷ ۳۵
ستا خودي ده و معشوق و ته حجاب

چه یې ولیده محبوب به دلفریبه — ځغه و وا ته له عقله له شکیبه
ګښلې[3] مخ دې و زیور ته محتاج نه دی — زیور زیب و زینت خلې ستا له زیبه
روښان مخ را ته څرګند کړه ترنقابه — لکه وخیږي افتاب د شرق له جیبه
سپین غاښونه یې ترڅره پر قیمت دي — د خوبانو زني زیب کا ندي ترسیبه

---

(۱) هیبت ناک.
(۲) ګګې، ناولې.

ACKU

چه محبوب په جلوه ګاه کښي وکم بخته ! ⑬ که دیدن دې په نصیب وي حلقه وېبه
په شیوه په سینګار اغله پریشانه درستي لاندې کرم د حسن تو اسیبه
زما ستر ګې دې قابلې د ښېو نه کړې پرتلو دې مشرف کړه د وه رکیبه
چه سالک د لوړي لارې توسنه و اخلي د فراز انداز ښنه نه که له نشیبه

خه هر ځای د حسن کان نه دی یونسه !
٣٩٦ — ٣٦
د هیر شو له شوره هسک شه نه له کیبه

نوراني جمال ښکاره کړه له نقابه عاشقان دې په د هجر شو بې تابه
ستا د مخ افتاب په نه لیده ماښام[1] که چه فنا شي د هجران له کوه قافه
د فراق زما د صبر بند ویران که د صرفي[2] توقع نشته له سیلابه
د نخوز یه دربه کښېږدي[3] قدمونه که خبر شي د پوښتني له ثوابه
بې پروا به بېرته نه ګورې له کبره دلسوخته د رپسې ځم سینه کبابه
لکه خس په رقص سر شي له خوبنه چه محرم شي ستا د مینې له ګردابه
عاشقان د عشق په اور کښي امو ختي دي سمندر کله خبر دی له عذابه

چه د ستا په خواب الود و ستر ګو بند شه
٤٠٤ — ٣٧
د یونس ستر ګې دې وو یستې له خوابه

(۱) په قلمي نسخه کښي : نماز شام.
(۲) " " " " : دحرفي.
(۳) " " " " هر ځای : کېږدی.

ACKU

په اخلاص له غیره فکره شه تایب — عاشقي به درځ ګند که عجایب
له بولینه[1] پیدا شوی کبر څه که؟ — نظر نه کاندې پر صلب و ترایب[2]
دا صورت په مثال ښه زړه یې تخت دی — معرفت لکه بادشاه عقل نایب
څو په می د محبت سره مست نه شې — په نور څه به دې ورک نه شي نوایب
هغه څوک چې هره منده له ستاره وي — پوشیده له ري چشمان له عوایب
غیب دان له هره حاله راخبر دی (٣٤) ودانا ته اشکارا واړه غایب

٤١١ خپله ساده پښتو یونس له کافي ده ٣٨
څه حاجت په فارسي شعر د صایب[3]

که لې زور په بوسه څوانشي څه عجب؟ — که محروي پرې عاشقان شي څه عجب؟
چه نیک حسن (لې) متبوع شه له ازله — که تابع یې دلبران شي څه عجب؟
زما ستر ګې یې د خیال مهمانخانه ده — که لې خیال یکښې مهمان شي څه عجب؟
چه د ستا و زیبا حسن ته نظر که — فرزانه که مېز وبان شي څه عجب؟
چه د غم وریځې پر تجلي[4] په خاطر وي — که داو ښو یې باران شي څه عجب؟
په وصال پسې افت د هجر شته دی — که یاران مې رقیبان شي څه عجب؟
د هجران په شپه په ستر ګو خوب حرام شي — که خار ونه پرې مژګان شي څه عجب؟
چه کاروان د خوشحالۍ وځنې لاړ شي — د زړه سرای که مې ویران شي څه عجب؟

د دې مخ د متن مربوط پاڼلیکونه په ٣٥ مخ کې وګورئ!

ACKU

٤۲۰ بیا له تا چه د یونس په حال نظر که
که دښمن پرې چه قربان شي څه عجب؟ ۳۹

په مسند کښې تر ما کښېني بر رقیب — تر سر یې بهتر نه شي خر رقیب
د هر چا بد یې همراه د خپل صورت (۱) ده — و به خوري په خپلو بدو سر رقیب
په جهان کښې تر شیطانه بد تر خو که دي — تر اوو (۲) شیطانو بد دی هر رقیب
د دیدن سایل د یار په در و در وي — سپی شي نیسي و سایل تر در رقیب
مسلمان په دعا ځان له شهادت غواړي — خواه ناخواه په هغه پیري شر رقیب
عاشقان یې څو د آه په غشیو ولي — شوخ صورت لري د کاڼي سپر رقیب
په ژړا یې رحم مه کړه سر یې کوبه — که یا به کاندي په وینو تر رقیب
په قسمت زما و یار تر میان حجاب که — (۲۵) پټوي یې له ما په ګوته لمر رقیب

٤۲۹ زه یونس به د هغو منت بار شم
که په لوبو کښې سنګسار که جر رقیب ٤۰

د ۳٤ مخ مربوط پا یلیکونه :

(۱) بولین، د (بول) تثنیه او مطلب تري د مور او پلار د وجود هغه او به دي چه نطفه تشکیلوي.

(۲) په قرآن شریف کښې وایي : (فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ) یعنی: وګوري انسان چه له څه نه پیدا شوی دی؟ له هغه توپ وهونکي اوبه نه پیدا شوی دی چه د ملا او سینې له هډوکو نه راوځي.

(۳) صایب، په تبریز کښې زیږیدلی او په اصفهاني شهرت لري، په کابل کښې څه موده اوسېدلی او د شاجهان په دربار کښې یې عزت موندلی دی. په ۱۰۸۰ هـ کښې مړ دی؛ یعني د یونس د زیږیدو نه اتیا کاله د مخه وفات شوی او دده د ځوانۍ او شاعرۍ په وخت د هغه نوم او اثار زیات شهرت ته رسېدلي دي. صایب د فارسي ژبې زبردست او نوموړی شاعر دی چه په هندي سبک یې شعر وایه، په غزل کښې استاد او د دیوان خاوند دی. دیوان یې څو ځله چاپ شوی دی.

(٤) : په قلمي نسخه کښې : وریځ پروت.

د دې مخ پا یلیک : (۱) په قلمي نسخه کښې : سورت. (۲) په قلمي نسخه کښې د غلطۍ سم ونه شو لوستلای هلته (تر اوو د) لیکلي دي چه دو مره سم معنا نه ورکوي.

یوځلي مې وځکې دخت وینې درقیب
غوځې (مې) په تیغ کړای دواړه بنې د رقیب

خوینې میندې واړه دغماز و بند بوتلې
وتې کړې یې تیر ځو تنه خواښې ښینې د رقیب

کږ وږ مې واړه د غماز و تر تیغ تېر کړې
ولخستې هم د زړه په مینې د رقیب

دریغه سر میده کړای بیلچا و و یلامې ماته
سر دې میده شوې که یې منې د رقیب

خاورې یې په خوله غول خوبنا ست و په کور کښې
دریغه که پند نه اخستې نیاز منې د رقیب

غشې لا جبرې وې د پولاد وې توبرې وې
پرې وورې ولیستې ترسینې د رقیب

٤٣٦ چین یې که خیرات د یونس ستا په درقبلین یې
اینبې مې په مرګ وې تورې سینې د رقیب ٤١

له مقصوده خبر نه شه بې طلبه
لکه سیورې به لمر نه شه بې طلبه

دبل چا په رهبرې پسې لاړ نه شه
هم د نور و د رهبر نه شه بې طلبه

دخدمت ګردې په تن باندې پرې نه وت
چه شهسواره نفر نه شه بې طلبه

سعادت په مشقت سره موندې شي
وبلا و ته سپر نه شه بې طلبه

له صورته یې معنا حاصله نه شوه
دسر و لعل وجر نه شه بې طلبه

تامې عمر یې تېر په جدالیه کړ
له دلبره د ربر نه شه بې طلبه

دغفلت په شپه یې صبح راغله دمرک
خبردار په سحر نه شه بې طلبه

ناصح سل نصیحتو نه پرې تمام کړه
هم هغه دې دیگر نه شه بې طلبه

پیادنا مقام کښې پاتي[1] شه تر د بره
سخت تر سنګ و د نګر نه شه بې طلبه

(1) په قلمي نسخه کښې : پاتې .

ACKU

٤٤٦ (۲٦) بې بهرې اغزنه شنده[1] وي یونسه
صاف خوشبو یه اګر[2] نه شه بې طلبه ٤۲

ددنیا په زېرمه پوه یې بې حسابه — او د دین زېرمه دې پرېښوده کریابه
ترڅار پایو به دې کومه بهتري وي؟ — چه دې نه زده دویم کار بې خوب دوه خوابه
دوسواس په لورې بې یقین دې بایلو — کوم تشنه او به مونده لحه له سرابه
که په بام د زړه باران د اندوه نه دی — پرې به نه تله تر دې ستر ګو دوه میزابه[3]
هسې شان د غم په بحر کښې غریق یم — لکه څاڅکی چه ګډېږي شي له دریابه
زیبایښت د هر صورت[4] په سنو معنو دی — لکه وخېژي ګلاب له ګلګلابه[5]
چه له ماسره خاموش په ګفتګوی دی — بل مې هسې غمخوار نشته بې کتابه
زړه مې هسې د فکرت په تاو ایشېږي[6] — لکه او رچه بوی روان که له کبابه

٤٥٥ ز ه یونس د یار وصال په دعا غواړم
لا به کله دا دعا کړې مستجابه ٤۳

ترڅه ولاړې د غفلت په خوب ه لوبه — هېڅ خبر نه شوې دا صل له مطلبه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : اغزن څنده.
(۲) دعود ونه اولرګی.
(۳) میزاب = ناوه.
(٤) په قلمي نسخه کښې : سورت.
(۵) دلته که (ګلاب) د (عرق ګلاب) او (ګل ګلاب) د (ګلاب د بوټي) په معنا راوا خلو نو شعر ډېره ښکلې معنا ورکوي.
(٦) په قلمي نسخه کښې : ایشیږي.

کله دا کله هغه کړې خود به وشي ‌ ‌ ‌ چه پر دوو بېړو وپښې دې مذبذبه
پوښتېده به په اعمال د نېك و بد شي ‌ ‌ ‌ په قيامت پوښتنه نشته له نسبه
ابوجهل و بلال[1] هېڅ برابر نه وو ‌ ‌ ‌ په سبب خوی حبش بهتر شه له عربه
تل چه کړې د بدئ و کړه نېکي[2] غواړې ‌ ‌ ‌ د ګبنې خوان نه خوږ نه مومې له ډبه
چه دې مړك په مخ كښې شته ښادي په څه کړې ‌ ‌ ‌ د ماتم د اهل څه دي له طربه؟
خزانې يې د بخشش نيمګړې نه دي ‌ ‌ ‌ هېڅ بنده دې نا اميد نه او سي له ربه
نېك و بد څُبله[3] ښکاره دې کړه رونه يې ‌ ‌ ‌ په غفلت دې ورځ تاريکه کړه تر شبه

٤٦٤ (۲۷) د يونس مطلب وتا وته معلوم دی
٤٤ په خوله هېڅ وېلی نه شي له ادبه

که هر څو کړم په ديدن پسې شتاب ‌ ‌ ‌ تر نصيبه زياتي نشته په کتاب
جمعيت مې جدايي هسې خوړ که ‌ ‌ ‌ لکه يخ شي په تا و وېلي د افتاب
تللي عمر به مې راشي که ته راشې ‌ ‌ ‌ ګر چه نه راځي بيا عمر د شباب
جدايي د هغه يار چه په ظاهر ده ‌ ‌ ‌ ډېر يغه ډېر يغه که په خيال وي يا په خواب
ښه ديدن د زنګوزړو نو صفايي ده ‌ ‌ ‌ ښايسته دي په مخ نه لري نقاب
که يې خپل نګهت پټان پورې بد نه وای ‌ ‌ ‌ ايشېدو به په اتش ولې ګلاب؟

---

(۱) ابوجهل د قريشو يو سردار د اسلام د پېغمبر حضرت محمد (ص) تر ټولو ستر مخالف او بلال حبشي افريقايي صالح مسلمان و.
(۲) په قلمي نسخه کښې : نېك .
(۳) څبله = يو تر بله .

پـه هجران کښې چې مهجور پوهېږي له حاله — حلق خپه وخته تاب شته د[1] جواب؟

مدارا به هم کړې د حسن شهسواره — که به تل لځا پسنه وخنګ[2] تر پـه رکاب

۴۵

٤٧٣ که ته خير د ديدن پر مستحق کړې
تر يونسه به بل څوك وي د ثواب[3]؟

څه و پسا په دور فلك زر راوړه شراب — ستر ګې څو په ستر ګو کښېني دې ملك به که خراب

جام د مېو زر راوړه مجلس لره ساقي — سوي د خمار د لمبو واړه کړه سېراب

نور کله به[4] سيل د ګلو نو که بلبل بل — د ور واڅ ګو نه شه په ګلن[5] ګړ ځي غراب

پاك راځه د عشق په طهارت کړه اقتدا — خال ئې امامت که د ابرو دي د محراب

مه غولېږه هر ګز د ګمانو په او بو — غول بيابان به دې غلط[6] که په سراب

مه شه په جفاو پېدا ز ار سره سنګدل دل — خوښ کړه عاجزي شکستګي[7] له تراب

۴۶

٤٨٠ ډېر لامبوزن[8] واو ربه يونس چې او بو ووبکړه
کله او بو کاندې منځ کښته د مېراب[9]

---

(۱) پـه قلمي نسخه کښې : طاب شته د .
(۲) " " " " : خيڼك . لکه چې ګوره وپه نولکي فارسي ادب کښې (خنك) د اس پـه معنا راغلی دی او د لته دې معنا وکوی .
(۳) " " " " هر ځای : صواب .
(٤) " " " " : چه .
(٥) " " " " هر ځای : ګلدان .
(٦) " " " " : غلت .
(۷) " " " " : شستګی .
(۸) " " " " : لامبوزن .
(۹) پـه دې غزل کښې که د رديف کلمه (راب) او پـه اولو مصرعو کښې ور سوتي يو سلسلي کلمات وند لوستل شو :
(پاتې پـه ٤٠ مخ کې)

٢٨ په حساب د ادم نه دی بې ادب — ترڅو چې پایه خم کم نه دی بې ادب

همیشه چې وانکار ته ملا تړلې — تل له لا په نعم[1] نه دی بې ادب

څوک په سر چې ګرز سخت خوړلې نه دی — لا بېخوده دی ګرم نه دی بې ادب

سمبېده چې ماتېده غواړي سخت چوب دی[2] — لکه لښته نرم نه دی بې ادب

المدام[3] چې له خوراکه سره کار[4] دی — دم فارغ له شکم نه دی بې ادب

شین ېږ عمر ځني چې پسې نه ژاړي — د خپل ځان په ماتم نه دی بې ادب

په وجود د کښې چې نوش نشتر بې له نېشه — وا به څه زناله مرهم نه دی بې ادب ؟

کړه دې لاس وړاندې بر شي سر چې کوږ — سزاوار د کرم نه دی بې ادب

په روزګار لکه اوربشه لا پښه پوست[5] دی — صاف له پوسته غنم نه دی بې ادب

٤٩٠ کل خویونه دل ازار لري یونسه ! — د خوږ زړه وو ملهم نه دی بې ادب ٤٧

کړ د کښلیو[6] په دیدن لري مطلب[7] — مقید شه په طلب لې روز و شب

د ۳۹ مخ پاتې :

هم غزل په بل وزن کښې لوستل کېږي شي. څرنګه چې د اکلمات معنا نه لري، دلته د تجنیس او تکرار صنعت هم بې معنا کېږي او له شوالۍ نه لې نشتوالی غوره دی. تاسې دا یو بیت بې له (تکراره) ولولئ چې څومره ښه راځي :

جام د میو زر راوړه مجلس له ساقي — سوي د خمار د لمبو واړه کړه سیراب .

د دې مخ پاڼلیکونه :

(۱) لا = نه، یه - نعم = هو ! ، بلې ! .

(۲) لرګی (۳) تل تر تله (٤) په قلمي نسخه کښې : سر یکار . (۵) په قلمي نسخه کښې : شه .

(٦) د ښکلیو ، بلا لهجه .

(۷) دا غزل یاد شوی هیوز په کلید فغاني (۷/٣٦٦ م مخ) کښې چاپ کړی دی (لاهور - د ۱۸۷۲ م. چاپ)

ACKU

شهد شیر قند به دې واړه فراموش شي — که یو ځل شي له محبوبه لب په لب

د دلبر وصل منصب جاوداني دی — صد قدر تر دا منصب شه بل منصب

د وصال قدر یې ښه له مهجورانو — دا و بوله ار زوني دوچې کب[1]

د دلبر و په دیدن عاشقان پايي — نور یې هېڅ د ژوندانه نشته سبب[2]

ښه متاع[3] له هر دکانه چې وي ښه دی — د معشوق پو ښتنه مه کړه له[4] نسب

د عاشق دعا که و نه غوړي ښتنه — مبتلا کړي[5] رقیبان په خپل غضب

مرني لره ښېښت[6] شرم دی یونسه!
د نصیب له ښښې مار وه جلب

٤٩٨ — ٤٨

کال دې صد قسمه تر ګړي د جمعیت[7] — شال دې صد قسمه تر شړي د جمعیت

ورک شه هغه ګنج چه فراغت و سره نه وي — (٢٩) د یو طعام قربان شه تر لمړي د جمعیت

هر چه طلبګار وي د آرام د بې غمي — تخت به صد قدره تر پیړي[8] د جمعیت

هیڅ اندوه یې نه وي په طوفان د هلاکه — نوح چه یې ملاح[9] وي په بېړي د جمعیت

---

(١) په کلید افغاني کښې : خه یې واد او بو کړي دوچې کب.
(٢) دا بیت په قلمي نسخه کښې نشته او له کلید افغاني نه واخستل شو.
(٣) په قلمي نسخه کښې : مطاع.
(٤) په کلید افغاني کښې : د.
(٥) " " " : کړه.
(٦) " " " : مرنو له تېښته.
(٧) دلته د خاطر جمعۍ په معنا.
(٨) د ناستې کټکې.
(٩) جاله وان ، بېړۍ چلوونکی ، ماڼو.

څوک چه د خوږلي د بيمار د پرېشانۍ — روغ يې کړه څښتنه په جرعې[1] د جمعيت

نه پښېږي ورته پښېږي چه مونديې په تصديع[2] وي — ورکړه قلندر و پر ورځې د جمعيت

برګ د ګياه و نو ورته واړه تازه ګل شي — ته چه چېرته ګرځې په باړې[3] د جمعيت

آه له خپله زړه دي څه هيڅ په غم کښې اوسي — ته شه يو زمان غاړه غړې د جمعيت

څرنګه به خپږي د مقصود په بام يونسه!

507 — تر چه ورته نه لري پوړۍ د جمعيت

٤٩

که جنت غواړې بنادې د جنت — شفقت کړه په مظلوم شفقت

لکه باز د قام په غوښو مه څړېږه — د هماى په تراً[4] شه بلند همت

چه په وچ هډوکي پالي نې ازاره — څکه ظل[5] يې شه عالم لره دولت

مګر بيا دې د ژوندون انديښنه نه شي؟ — چه دې درست عمر تېر نېږي په غفلت

هغه تېر عمر به رانه شي په بېرته — د حضور زمان اولجه ګڼه فرصت

که غني له مال الخير يو دينار که — فقير ورکه يو فلوس[6] د مشقت

په ثواب کښې سره دواړه برابر دي — نه، لا دا تر هغه زيات دي په اجرت

---

(۱) زهرمهره، ترياق.
(۲) سر په درد ول، سر درد ی.
(۳) د ګلې په شا و خوا کښې د کرنې زمکې، پټی.
(۴) په قلمي نسخه کښې: نهتره. د شاعر په وينا کښې (په ترا) د (په، مثل، غوندې، ...) په معنى راغلې.
(۵) سيوری.
(٦) فلوس: پيسه، پول، د مسکوکاتو تر ټولو وړکوټی واحد.

هغه تېر عالم چه یاد کړم په افسوس شم — خه شه خه شه هغه مهر و محبت؟
لیوه چا اموخته کړي دي یونسه!

۵۱۶ ۵۰

چه ته غواړې له فلکه مُرُوَّت

ای په خپل حسن غره ترحده پور ته[1] — په لیو سینته قدم واخله و نځور ته
تواضع خه منافي د بزرگۍ نده — که صاحب ژبه خوږه که و مزدور ته
چه په اور د نیستۍ و سوزي ازاد شي — خس شه! پړ یوځه! د نیستۍ و تنور ته
گویا زېږي د جنت پر عاصي و شي — چه مژده د وصل راوړي و مهجور ته
راحت تل په زحمتو[2] پسې موندې کېږي — که ارام غواړې محکم شه و ضرور ته
هر کلام یې لکه در هسې قدر یې[3] دی — غوږ شنوا کړه د خوبانو و مذکور ته
عاشقي اسانه چیرې ده یونسه! — د صورت خوښې نبول دي و امبور[4] ته

###

خدای دې نه کاندې هیڅوک له یاره بېر ته — جدائي ده د ژوندون له شماره بېر ته
اشنائي له جدائي خالي غواړې — چیرته شته د چمن گل له خاره بېر ته
عاشق ځان د عشق په تاو کښې اموخته که — کله پالي سمندر له ناره بېر ته

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : ترحده پورت .
(۲) " " " : زحمتون .
(۳) د قدر وړ ، قدرمن .
(٤) په قلمي نسخه کښې : هرځای انبور .
په قلمي نسخه کښې دلته په سره رنگ لیکل شوي : غزل .

عاشقان د عشق په میو دیوانه شوو — محبت کړه د دنیا له کاره بېرته
عظیم بار یې د انسان په تنده کېښېنو — غروننه شوو د امانت له باره بېرته
نژدې کړت دې ورقیب ته مرګه زما دی — ته له خونه شه د خدای د پاره بېرته
سنه چه وخوړې د شاه پېچانو زلفو — ولې نه تلې په احتیاط له ماره بېرته

٥٣١ مبتلا به په هجران نه یې یونسه! ٥٢
که نظر کړې د دیدن له ښکاره بېرته

راغی ستا له عشقه په ما سنګه د ملامت — خرناکه به له دې مشکله ځان وړم سلامت
ولې به ګله کړم ستا له جوره وجفا باری — جور دې کرم دی او جفا دې کرامت
نن په دا دیار کښې زما حال د مسافر دی — بانګه د جرس او رم زما خړه د اقامت
کله به که غوږ د مؤذن و قد قامت[1] ته — څوکه چه په خیال دوی له هغه قد و قامت[2]
عشق که عاشقان په سل حجاب کښې ونغاړې — آه او سنې زسوالری د مینې علامت
نن چه په حیات اسره مه وفا نه کړې (۳۱) — خه کرم پس له مرګه د ستا اشک ندامت[3]

٥٣٨ ته چه په یونس هجر روا کړې رقیبه! ٥٣
خدای دې ګرفتار کړه په عذاب د قیامت

---

(۱) قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوۃ = لمونځ پیل شو ! ، د اذان یو شعار.
(۲) قد او قامت ، وند ، قد . دې بیت کښې د "تضاد" او "تجنیس" صنعتو نو ته پام په کار دی.
(۳) اشک ندامت = د پښېمانۍ اوښکې.

ACKU

که امید لرې د کار له برکته — مونده نه شي برکت بې حرکته
د ښتن زمکه وسیعه ده نا راسته — په مقصود پسې وګرځه پورته کښته[1]
په یو کال کښې حاجي له مکې راشي — له مخې جدي ویل که له مشکته
د انسان جامه احسان ده نه د اغزې — غوایه هم د شا د پاسه لرې کته
له لوګي بې او ښیو نو څه نه حصلیږي[2] — هم توبه شه د ظالم له نژدې بکته
هغه عیش چه صابر ګدا حاصل که — هیڅ امیر مونده نه دی له شوکته
د لېوه له شپنګریه[3] سود حرام دی — سر ساته د بې انصاف له شریکته
ګدایان به خدای مان کاندې یو نسه؟! — ولاړ یې بادشاهان له مملکته ۵۴۶

۵۴

په ایام د تازه ګلو پنځه وقته — خوشحالي وي د بلبلو پنځه وقته
خو دې مرګ په شونډو مهر ایښی نه دی — دا دی وار د خدای بللو پنځه وقته
هم بستر دمې نوشې فرصت نه وي — قابو دا دی د نوشلو پنځه وقته
پس له مرګه د بدن نشتر تر قیامته — لیده کاڼي د سترګو خپلو پنځه وقته
دا دنیا یو کښت زار د اخرت دی[4] — تقصیر مه کړې، په کرلو پنځه وقته

---

(۱) د (سکښته) بلد لهجه.
(۲) نه حصلیږي، که داص) په سکون ولوستی شي نو د شعر وزن نه خرابیږي او که یې شي چه شاعر به د شعر د وزن د ضرورت له مخه، د اعبارت د (نه حاصلیږي) پر ځای لیکلی وي.
(۳) شپنګیرې = شپون توب.
(۴) حدیث شریف: (الدُّنْیَا مَزْرَعَةُ الْآخِرَةِ) تلمیح شوی دی.

دنیا تنګه د عالم ده پرې مه غولېږه ... له تا تېر که په غولولو [کښې] پنځه وقته

بس داستان د خوشګونې پرېږده یونسه!

٥٥٣ ... ٥٥

خودې وار دی د ویلو پنځه وقته[1]

که خبر شې د اشنا له محبته ... سبق[2] به شې د بلې مینې له رغبته ㉜

هر زمان به دې له یاره مشغولا وي ... مستغني به شې د نورو له صحبته

په رندانو[3] عیب مه وایه زاهده ... څه خبر یې د ازل له کتابته

که خوږه وېل د یار د خولې موندو شې ... بې پروا به شې د قند و له شربته

د غمجن په حال غمجن سړی پوهېږي ... د طرب د اهل څه له مصیبته؟

د سړي د اشنایۍ امید دراز وي ... جدایي ور باندې راشي بې نوبته

په یونس د جدایۍ ورځ قیامت شوه ... پرې تور ورېښته سپین نې له هیبته

په عالم به دې رسوا کاندي یونسه

٥٦١ ... ٥٦

راز پنهان کړه له رقیبه مخبته[4]

چه څښتن یې توبه نه ساتي سباته[5] ... د چا کله وي توبه ترګرېږه زیاته

---

(١) د (پنځه وقته) نه مطلب د لمانځه پنځه وختونه : سهار، ماسپښین، ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماسخوتن دی. چه په یو شوارو ورځ شامل دي او مجازاً د یو شواروز، ځله پښت ساعته، تل تر تله، هر وخت) په معنا راځي.

(٢) موږ.

(٣) په قلمي نسخه کښې : رندانو.

(٤) کېدای شي چه (مخبت) د (مخبط) : اړ ولي شکل وي چه هغه د (خبط = خطا، سهوه، غلطي) څخه د (منظم) په وزن د مفعول د صیغې په ډول راځي.

(٥) په قلمي نسخه کښې : شبات.

زه په خپل تقصیر قایل چه گناهگار یم
کفارت دی د زړگونو توبو راته

که نن سل گناهه وي سبا دوه سوه
ورځ په ورځ مې نفس وباسي و بلاته

د نیکۍ فرښته مې سپین کاغذ وغاړي
د بدۍ دفتر مې تور که وبېگا ته

چه همېش د نفس په نغوته پسې درومم
عقل هر زمان پېغور کوي وما ته

لکه ولې په ایمان باندې لړزېږم
په امان یې وسا ته صاحب نجاته!

چه په خپلې چرې خپلې سپینې پرې کړه
له هغو نادانه څه والې وچا ته

هغه راز چه دې تر دوو شونډو بیرون که
په گرېږه له ښهره ووځي و صحرا ته

د یونس توبه په مثل د روژې شوه
٥٧ چه همېش دوه ځې وي په بېگا ما ته

د هجران له حاله څه وایم وچا ته؟
په زړه ریښ ده له دستنه سینه ما ته

(۳۳) سل رازونه مې په زړه کښې دي ساتلي
په خلوت کښې یې په وایم و اشنا ته

مالا زړه په اشنایئ صبر کړی نه و
جدائي په سر وهل راغله جلاته

د وصال ساعت مې تېر لکه برېښنا شي
د هجران ساعت مې لوی شي بې نهاته (۱)

وېچه بیا مې د یار وصل په نصیب شي
هسې په امید یم له فَایِضُ البَرَکَاته (۲)

که سل درده جهان سره یو ځای شي
جدائي ده په عذاب تر وارو زیاته

---

(۱) د قافیې لامله د (بې نهایته) وران شوی شکل.
(۲) د برکتونو بښونکی. دا مصرع په وزن کښې څه اوږده شوې ده.

درستر شپه چې شگوفه خونجگر خوري کشايش د کار پرې راشي و سبا ته

هومره بار د جدايي پر يونس مرن ده
۵۷۸ چې نه شي د صبر ملا ترې لاندې ما ته ۵۸

مرده دل لره له ذوقه خبر نشته په نهاد[1] کښې يې د ميني اثر نشته

د دلبر صفت د خوبو زړونو ملهم دى د بې درده و عشق په علم بصر نشته

زمانه که فرزندان راوړي بې شماره تر تا غوره بل د دهر پسر نشته

د سر موى دې په نګهت تر مشکو بهر دى هسې شان و ښپته د هېڅ په سر نشته

له جبينه يې افتاب په شغله کم دى هغه تاب لکه د ده دى د نمر نشته

د واره غوږ دې په حکمت د حکيم روغ دى شنوائي لره نور هسې د و در نشته

بنا گوش دې عجب سپين لکه مرمر دى نه! لا هسې صفائي د مرمر نشته

دابرو کږېچ دې کج خوش نمائي بنه چې چا څخه د دوى مسطر نشته

د بڼو غشي دې هسې رنګه تېز دى چه علاج وته يې کار د سپر نشته

په تخته د مخ دې دوه سترګي دي صاد دى نه! د صاد په خبر د دوى نظر نشته[2]

سپينه پوزه دې الف د سپينو زرو بل الف ترې په سموالي بهتر نشته

چه د ستا له سره ولبانو خبردار وي وهغو ته قدر هېڅ د شکر نشته

---

(۱) نهاد = طبيعت ، فطرت ، خته.
(۲) دا مصرع که داسې واى : (نه د دوى په خبر د صاد نظر نشته) ، نو ډېره ښه معنا به يې ښندلې واى.

ACKU

لکه غابښ دې په دهن کښې تجلی کا ۔ (۳۴)　　له صدفه هغه تاب د گوهر نشته
ښایسته زنه دې سیم ده سیم تریخ ځارشه!　　په ښایست تر تانه بل توانگر نشته
مخ دې هسې د جمال په جلوه زیب کا　　چه په حسن ورته کار د قمر نشته
سر تر پایه دستا حسن لا بیان[1] دی　　په سیالۍ ورته کار د بشر نشته
ستا جمال په عاشقانو سپین سبا که　　د غافل د شپې د هجر سحر نشته
چا چه هسې رنگه یار په غوز خیل کړ　　تر هغه په جهان څوک بختور نشته

۵۹۷　　ائینه د جام د دې بروشته یونسه!
۵۹　　په نجا نیاز عالم کښې جم سکندر نشته

خه عجب په غمزه راغی دلدار مست　　برندې ستر گې په خمارې، گفتار مست
مې نوشلی، غزلخوان، شیشه په لاس کښې　　خوش اوازه، دل نوازه، رفتار مست
په قدم یې د چمن هوا شوه مستـه　　سروه مسته، سمن مسته، دیوار مست
مست نا مست یې په اثر واره مستان شو　　په هر لوري ورته پراته وو هزار مست
گویا بحر د مستۍ په عالم وخوت　　خانقاه و خلوت مست شو، بازار مست
د ساقۍ (د) برندو ستر گو له سره میو　　تر حساب تر اندازه وو بسیار مست

۶۰۴　　نه په بنگو، نه په مې، نه په کوکنارو
۶۰　　زه یونس یم د دلبر و په دیدار مست

(۱) چه په بیان کښې نه راځي.

ستر ګې مې خیره شي چې نظر کړم و دلبر ته — هر څو تېز نظر وي غښت کتي نه شي ولمر ته
یو ځله چې خوښ کړه هغه مخ په خپلو ستر ګو — د واړه ستر ګې وخوره چه بیا ګوري و دیګر ته
د رسته شپه ژړا د یار له غمه په تنها کړم — څڅو ملګري مې شبنم وکاندي سحر ته
تل چې ستا په کوڅې کښې د دیدن سایل آواز که — وکاڼه پښه له غوږ و غوږ باسه سرود ته
د پېغور که وفا وي له شیرینه نازنینه (٣٥) — کله به فرهاد تېشه و هله و خپل سر ته
هر چې پاک نظر وي لاس تر غاړه د دلبر وي — لاس د بد نظر و به ونه رسي ستا هر ته
تر بې روژه دار د شام و بانګ ته څو حرص که — هسې ناقرار یم ستا د لوړو خوښ خبر ته
چاچه خوله خوږه کړه په نبات ستا د خبرو — کله به ارزو د هغه چا شي و شکر ته

٦١٣ — د رتې په الغاو د رقیب مه پرېږده یونسه
٦١ — کله فقیر غوږ باسي دې و شور و شر ته

په جهان د مین دا رنګه راج نشته — چې پسې د جدایی تاراج نشته
هسې شان جفا عادت شو د بتانو — د وفایې ګویا رسم رواج نشته
عاشق تاب ستا د چشمانو راوړی نه شي — له بازانو سره کار د دراج نشته
خپلې ژبې بېچاره منصور په دار که — په دنیا کښې بل غلیم د حلاج نشته [1]

---

(١) حسین بن منصور چې په منصور حلاج مشهور دی لوی مشهور وحدت الوجودي صوفي او عارف تېر شوی دی او ددې ویناله امله چې ده به ویله: "اَنَا الحَقّ وَلَیسَ فِی جُبَّتِی اِلّا الله ..." یعنې: "زه حق یم او زما په مخ پر ته له الله نه نور څه نشته ..." دی اول بندی شو او بیا د عباسي دورې د مقتدر وزیر حامد بن عباس په امر په ٣٠٩ هـ کال په دار وځړول شو.

بې له تنکړو اشنائي څه چې علاج[1] دی
ګنه بل د جدائي علاج نشته

د و باره د مات خاطر غنيده ګران دی
ګنجايش د مېنې پترې په زجاج نشته

تا چه خير د ديدن له ما دريغ کړ
د خيرات ګنه ثواب په محتاج نشته؟

د يونس د رنځ علاج د يار ديدن دی
و نور څه ته يې رغبت د مزاج نشته

٦٢٢ پـه پتن[2] له بوجه باج غوارې يونسه!
اوچه بوج له سره واچوې باج نشته ٦٢

که څو ځان بنا لرې مز بوته[3]
د قضا باز به دې واخلي عنکبوته

په خيرات د خزانو به نه ځار و وځې
چه دې روح په وا ته راشي له کالبوته

ايا تو به دې ګواهان په فنا تېر که
عزرائيل به دې ځان ناورې بې ثبوته[4]

اجل هسې په قابو کښې د ره ناست دی
لکه ناست صياد د صيد وقا بوته

عراقي[5] په اشارت سره پوهېږي (٣٦)
په کره وړه[6] سره تعليم شي و يابوته

که دانايي پند د بل له غمه واخله
د مرلکې فکر کړه د مړيو له تا بوته

د وثنئ[7] له نادانه په تا و شه
چه د مراد طلب کوې د سنګ له بوته[8]

---

(١) په قلمي نسخه کښې : اعلاج
(٢) پتن = ګودر ، هغه ځای چه په دريا ب کښې چالد ترې پورې ووځي . د پښتو په عزلي لمجه کښې پتنګ " ته هم " پتن " وايي .
(٣) د مضبوط مغفن .
(٤) په قلمي نسخه کښې : نورې .
(٥) " " " : اعرافي . مطلب ترې عراقي اس دی چه د اسانو ښه نوع ګڼلې شي .
(٦) " " " : کروړه .
(٧) وثن = بت . وثنی بت ته منسوب ، بت پرست .
(٨) بت .

ACKU

په شرې د قناعت[1] وکړه | د حرص فکر و مکر و تنبو ته
چه یې خوله په رنځ د طمعې بې مزې شي | زړه یې ځي دارزو ولې و نیمبو[2] ته

لاف د شعر دې هغه کاندي یونسه! ٦٣٢
٦٣ چه په وزن قافیه بیایې مربوته[3]

چه مې زړه شه د دلبر په مینه مست | عشق مې ولوته د صبر بند و بست
سرگشته یې په دیدن پسې سایل شوم | له ارامه مې خالي شو دواړه دست
هر عاشق چه یې د مینې په دام بند که | په زمان دی د محبوبې نیست و هست
چه مدد د خپل وصال معشوقه نه که | خه موقوف د بیچاره عاشق په قست[4]
ماه من[5] چه له نقابه اشکاره شي | په جلوه یې کل بتان شي په شکست
د مقصود غوټه به څه شکله پرانیځم | چه مې لاس د نامرادې په قفا بست
تراتش د ضرور و ځه سره زر شه | په دکان د صراف نه قبلیږي جست
تل په مراد د عاشقانو گردش نه که | کج رفتار فلک خود رایه خود پرست
د بلی! په قول د برله بلا اخلاص شوه | له خښتنه چه زمان وو د الست[6]

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : د شرې په قناعت.
(۲) لیمو ، لیمون چه په عامه محاوره کې ورته (نیمبو) وايي. په قلمي نسخه کښې : لمبو.
(۳) د (مربوط) مفغن شکل.
(٤) قست = قصد.
(۵) ماه من = زما سپوږمۍ.
(٦) د قرآن د ا ایت تلمیح شوی دی : أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؟ قَالُوا : بَلَىٰ ! یعنی : آیا زه ستاسو پالونکی (خدای) یم ؟ (هغوی) وویل : هو ! .

ACKU

٦٤٢ وال په وال به درته ورسي یونسه
٦٤ چه دستا په باب خه دي روز نخست[1]

له تقدیر سره مې کار د تدبیر نشته — په تقدیر کښې یې تبدیل و تغییر نشته
چه پیدا فناهم ورته عیان دي — د هغه بادشاه حاجت د وزیر نشته
کل ذرې د کاینات ورته ظاهر دي (۳۷) — خه هم شته چه یې پرې علم بصیر نشته؟
آزادان به یې هیڅوک بندیوان نه کړ — په هیڅاې ازادي د اسیر نشته
هغه زړونه چه د ده په یاد روښان دي — هغه هسې نور د ماه منیر نشته
چه یې خاورې د دوستانو د ربوي کړه — وا یې هسې بوی د مشک و عبیر نشته
گدایان یې د درگاه شاه عالم دی — خه حاجت دی که یې تاج و سریر نشته
بادشاهان یې په بل غم مبتلا کړه — تر تړو کړې یې پور ته غم د فقیر نشته

٦٥١ خپل صورت په خپله وژاړه یونسه!
٦٥ پس له مرگه دې نور هیڅوک د ویر نشته

گنج لرې د حسن خبر دار شه له زکاته — زیات به په زکات شي مسئله ده له مشکاته[2]
زړه د نجې آرام په خپل دیدن سره آرام کړه — عرش سا تلی شي دی که د نفلو سل رکاته[3]

(۱) لومړۍ ورځ. مطلب د ازل ورځ ده.
(۲) په قلمي نسخه کښې: زیات به په زکات شي مسله د له مشکاته. په دې صورت د شعر وزن او معنا دواړه خرابېږي. مشکات عبارت دی د "مشکوٰة المصابیح" له کتاب څخه چه د حدیثو له شپږو صحاحو نه احادیث پکښې راټول شوي دي او د الشیخ ولی الدین محمد بن عبدالله الخطیب تالیف دی.
(۳) د قافیې د پاره د "رکعت" ا مه ول شوی شکل.

وگوره قارون چه یې گنجونه وو یې شماره — خیر یې تر یې نکه و دغې تر درکاته [1]
د چې وصل را که بدله د جدایۍ — هسې په امید یم له فایض البرکاته
راز د خپلې مینې وهمدرد ته وایه شې — نه شې داد عشق ویل وهر یوه موړکاته
ستا خوږې خبرې واشراف عاشق ته وایه — نه سنایي دلبره د رقیب غوندې سوړکاته
تا د سر و زر واشنایي د بنو یاړانو — خدای په امان کړه د هجران له تیره کاته
چاچه د دلبر د کوڅې خاوره بیجا ونه کړه — کله به ارزو که د مخملو متکاته

ستاله بیدادیه وطن او رشه و یونس ته
سنایي که روان شي د پورب دکن دکاته

د عشق درد دی بې حسابه الغیاث — ترڅه گوره که بېتابه الغیاث
داشنا اشنایي سر د راحتونو — جدایي یې څو عذابه الغیاث
د حجاب سحاب دې ونیوه په مخ کښې — (٣٨) د دلبر مخه مهتابه الغیاث
یو زمان د بې غمه را با ندې نشته — هجر وو بستم له خوابه الغیاث
فراغت ور باندې نشته بې اندوهه — زمانه په غم خرابه الغیاث
د افساد واره اېښي که خپلې مینې — چه زړه ریش سینه کبابه الغیاث
ستاد عشق د تیر له زخمه مې ځیګر ې — او بنې گډې له خونابه [2] الغیاث

---

(۱) د دوزخ لاندې برخې.
(۲) په قلمي نسخه کښې: خون ناب.

ACKU

د فرقت په دریاب کښېوتې یونسه !
٦٧ وتې نه شې له ګردابه الغیاث ٦٦٨

هغه تېر ساعت چه یاد کړم الغیاث — واویلا آه و فریاد کړم الغیاث
د دلبر دیدن مې ګنج د هر مراد دی — جدائي نامراد کړم الغیاث
قراري د وصالت راڅخه ولاړه — جدائي نا بنیاد کړم الغیاث
له وصاله دې مشغول په جدائي کړم — سزاوار دې د اهداد[1] کړم الغیاث
د شیرین جلوه دې وکړه بیا پناه شوې — سر له سنګه دې فرهاد کړم الغیاث
په غربت کښې ستا د هجر دلګیري ده — یک تنها دې په هواد کړم الغیاث
شراشر مې د اهو نو تر خوله خبري — جدائي سنګ و پولاد کړم الغیاث
هیڅ زمان د قراري را باندې نه شي — خم الود يې مادر زاد کړم الغیاث

د هجران قصه یونس څخه لوسته شي
٦٨ جدائي پوخ استاد کړم الغیاث ٦٧٧

چه د نهنګ و بره په دل راوړي غواص* — دُر[2] به کله په منګول راوړي غواص
منفعت بې مشقته موندې نه شي — سپین دُر و نه په مشکل راوړي غواص
کله سل غوټې وهي دُر موندې نه شي — کله دُر په غوټه سل راوړي غواص

---

(1) په قلمي نسخه کښې : احداد . اهداد = سزا .
(2) دُر ، د دال په پېښ ، مرغلره .
* غواص : ٥٦ مخ دې وکتل شي .

ACKU

(۳۹)

یوه ورځ یې وحلق ته نوالہ کہ — نه چه دا دُر و نه تل راوړي غواص

چه روزگار یې په خطره ملاحظه وي — څه فایده که دېر حاصل راوړي غواص

دیوه دُر شهوار برابر نه دی — گرچه نور سي وچهل[1] راوړي غواص

د دریاب وېره یې هله له زړه ووځي — چه صورت [تن] تل په ساحل راوړي غواص

نازپرور به د شیرانو ښکار رونه کړه — مښه دولت په سر بازل راوړي غواص

٦٨٦ — چه یونس د زړه د بحره[2] دُر وکاږي — ٦٩

هسې دُر دې په ویل راوړي غواص

چه ښتن بالله نبي د دین سراج — هغه شپه اتلس کاله وه معراج

شب قدر یې پاروه له بزرگه — شب بدر[3] یې لمعه[4] وه دوهاج[5]

د بزرگه د روښنایه نظیر یې نه و — هغه شپه وه د جمله شپو تاج

جبرائیل د خدای له لوري ورحاضر شه — د نبي په سبه دیدن یې احتیاج

د عالمو بخت یې پاڅاوه له خوبه — کم بختي شوه له جهان نه اخراج

وې یې چه ښتن دې بولي محمده! — بیا د عرش د تازگي ورکړه رواج

په (۵۵) مخ مربوط:

* غوّاص په عربي کې هغه چا ته وایي چه د دریابونو په تلو نوکې غوټې وهي او مرغلري ترې وباسي.
په قلمي نسخه کښې دا شعر همدلته راغلی دی مگر په ردیف کښې د غواص پر ځای (غواث) لیکل شوی دی.

(۱) سي وچهل = دېرش او څلوېښت.
(۲) په قلمي نسخه کښې : بحر.
(۳) د څوارلسمي سپوږمۍ شپه.
(۴) وړانګه.
(۵) وهاج = ځلېدونکی، برېښېدونکی، ځلاند.

ACKU

دجنت براق ولاړ دی اسره وني که … په بار بار دې وسواري وته محتاج
نوراني بشر د نور په براق سور شه … ملك شه لاندې د نور ونو تر امواج
براق کم وېش دده له رايه نه ته … کم روي يې برابر ته په مزاج
چه د دين نواب روان شه و بادشاه ته … فرښتې ورپسې تلې افواج افواج
وې: اَلحَمدُ لله الذي اَسرىٰ بعبده(۱) … داثنا يې مهمنى(۲) کړه په اوّاج(۳)
براق تېز لکه برېښنا مسي روان و … جبرائيل يې جلب دار وانتهاج(٤)
له ښختن سره واصل په لامکان(۵) شه … شش جهت(٦) و په عدم سره تاراج
(٤٠) ور په لاس يې کړې قاعدې د امر نهي … پر نهج(۷) داسانه نه احراج(۸)
کل خواهش يې د ښتن په در قبول شه … د مقصود په تېر يې فتح کړ آماج(۹)
خپل امت يې که بادشاه د امتونو … په گردن يې واړه وو ما نه خراج
په احتياط دې يې ساتي له مسلك کفره … مومنان د نبي دين، لکه زجاج(۱۰)

٧٠٤ يې ليد و به دې روغ نه شي محمده!
٧٠ ستا د بدن دی د يونس د رنځ علاج

---

(۱) د قرآن شريف آيت دی: سُبحَانَ الَّذِي اَسرىٰ بِعَبدِهٖ لَيلًا مِّنَ المَسجِدِ الحَرَامِ اِلَى المَسجِدِ الاَقصىٰ....
يعنی: پاك دی هغه چه خپل بنده يې د شپې شپې د مسجد حرام (مکې) نه مسجد الاقصىٰ (بيت المقدس) ته بوته.
(۲) مهمنى = مهماني، ميلمستيا.
(۳) اواج، اوج اخستونکی، په برخ تلونکی. اوج = د هر شي برخه خوا، د ستوروتر ټولو لوړه درجه.
(٤) په طريقه، په مزه مزه، ...
(۵) لامکان = ځای نه لری، نه ځای ـ ما وراء امکان. (٦) شش جهات: پورته، ښکته، مخامخ، ترشا، ښی او کين طرف.
(۷) طريقه.
(۸) حرج: بې اکول، زحمت ورکول.
(۹) عنښه، هدف. (۱۰) ښيښه.

په سر ولې ږدې دلبره دستار کږ — مرګي تا غوندې سم کړي د هزار کږ
لکه مان دکوڼ په خوشه[1] سره سم کړي — اوس که هر څو پېچ و خم ځي په لاره کږ
که د چا په کږ ګفتار دې زړه بدېږي — ته و هیچا وته مه کوه ګفتار کږ
د الست حکم په وار و برابر و — په جواب کښې مومن سم لاړ کفار کږ
کوم زمان به سرنګون په ګرېوانه پرېوځي — ته چه کړې له سمې لارې رفتار کږ
لا تازه یې له یاره لاس په سر کړه — د وفا[2] طمع و مه کړه د یار کږ
د دښمن له پېښه هسې پر خطر شه — لکه خط چه په لار ووینې د مار کږ

په وعده له یاره راست اوسه یونسه!
خدای دې نه کاندې د هیچا اقرار کږ

۱۲ ے — ۷۱

وهر چا ته چه عشق ولیږي افواج — په اول یې عقل و هوش کاندې تاراج
عشق د صبر په تخت کښېني بادشاهي که — بیچاره صبر ګوښه شي لا علاج[3]
په پیکان د جدایۍ سوري سوري شي — خوله که چه زړه د عشق و تیر ته کا اماج
عاشقي ښتن من یې، مړي[4] ښتن که — د ایاز د پښو تلې د محمود تاج
د منصور مقصد د دار په سر حاصل شه — کم شدن د عاشقۍ دی معراج

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : په سبو شه.
(۲) " " " " : له وفا.
(۳) " " " " : اعلاج.
(۴) " " " " : میړی.

ACKU

نور عالم پر یوه ځي عاشق پر بله ⑪ ببل ممتاز دی د عاشق رسم و رواج

۷۱۹ چه د عشق متاع ورځنه وي یونسه! ۷۲
قراري صبر به ورکاندي په باج

چه په قصد د روميٰ له لوري لاړ کج | نه پوهیږم چه احمق[1] لي که اعرج[2]
د تقوی بانوډې[3] نشتر په درون کښې | دریا پر دې دي پروتي پر هودج[4]
د طاعت تخم له غیر و پاکیزه کړه | دریا گونهي تري و باسه په ج
پنځ بنا مسلماني پر بنده فرض ده | کلمه[5]، لمونځ و روژه، زکوة و حج
د قوت په اندازه بنده ماخوذ دی | خوا نا خواه پر باندې نشته دیحج
قراءت چه د جواز صلوة[6] زده شه | تا به نه پوښتي حلق په مخرج[7]
د نبي د شرع سپړ په مخ کښې بیایه | ستا نجات لره دی اقوی الحجج[8]

۷۲۷ ففروا الی الله[9] ولوله یونسه!
کړه دانایي د خښتن په لوري نج[10] ۷۳

---

(۱) روند.
(۲) شل.
(۳) مېرمن، خانم.
(٤) د وچه.
(۵) په قلمي نسخه کښې: کلمه.
(٦) صلوة = لمونځ.
(۷) مخرج = دوتوځای. دلته مطلب د حروفو مخرجونه دی.
(۸) اقوی الحجج = تر ټولو قوي سند.
(۹) په قلمي نسخه کښې: ففیروا الی الله. ففروا الی الله (د قرآن آیت). ترجمه: نو خدای ته وتښتئ! یعني مخه وکړئ!!
(۱۰) تکل وکړه!

ACKU

چه په زخم دې ملهم کښېږي جرّاح — په نشتر ایستلی[1] وینې وه مُباح[2]

درشتي ونرمي یوځبله[3] په کار دی[4] — گاه تیاره په کار ده روڼي گاه مِصباح[5]

له غریب سره آشنا وسیاح دوست شه — په جهان به دې ښکې والي سیّاح[6]

چه ادب په خوردیت[7] ورته زده نه شي — په بزرگه ورځنې مه غواړه فلاح

داد عشق بحر مَوّاج دی همه وکړه — په بله یو ربې غرق دې کشتي مَلّاح

چه قرار صبر په مهر کښې تر یو سې — د دنیا ناوې هاله شي په نکاح

د وفا خوشبوئي لوړ په لوړ خوره کړه — چه خوشبويي په سند بوی سره ارواح

له طالح[8] سره تل فکر د بدی وي — له صالح سره تل فکر د صلاح

په ژوند و یارانو نذر ده یونس!
۷۳۶ (٤٢) ۷٤
فاتحه د گذشته و په ارواح

په مشتاق د معشوقې له لوري ریح[9] — شه عجب خاصیّت لري یکه مسیح

د هجران مړه ژوندي په خوښ اثر که — حیات بیا پکښې حلول[10] وکه صریح

---

(۱) په قلمي نسخه کښې هرځای: یستلی. (۲) روا، جایز.
(۳) " " " : خپله.
(٤) سعدی والي: درشتي ونرمي بهم دربه است / چو فاصد که جراح ومرهم نه است
(۵) دیوه، څراغ (٦) سیلانی، گرځند، توریست. سعدي والي: غریب آشنا باش وسیاح دوست / که سیاح جلاب نام نکوست (بوستان)
(۷) خورد = ورکوټی. شاعر خوردیت د ورکوټوالي په معنی راوړی دی.
(۸) بدعمل (۹) باد، شمال
(۱۰) حلول = ننوتل. مطلب د هند هغه عقیده ده چه د هغې له مخه: کله چه یو سړی یا ساکښ مړ شي د هغه روح د بل سړي یا ساکښ قالب ته ننوځي.

دلبران دي دصورت په خبر سيرت کړه — ښايسته له دي نوي خود(١) قبيح(٢)

دمعشوق په اِستيناس(٣) عاشق خوښيږي — چه ويل ورته کوي نرم فصيح

شنه خالونه يې دانې د تسبيحت(٤) دي — د محبوب زلفې رشته دي د تسبيح

عاشقان په دا مشغول له بله کاره — زاهدان په لمونځ روژه په تراويح

٧٤٣ د يونس ويل به دُر لري د غوږو

٧٥ که څوك پېژني په خوند ويل مليح(٥)

که په عمر هسې مور شي لکه نوح — نه به تن په مرګ اقرار که نه به روح

ته ناطوق د پوچګويه د پاره نه يې — ښه بشره ورد زبان له صبوح(٦)

نن حاجت د حاجتمند په ځان روا کړه — ګوندې ستا د مراد عقد شي مفتوح(٧)

ته چه دمدح د استاذ په ځان لازم کړې — په خدمت به ته د نور وشي ممدوح

په اخلاص په اعتقاد له بدو واړه — ته په هر زمان توبه کړه د نصوح

د نېزو هم ملحم په دارو(٨) روغ شي — نه رغيږي په زبان سره مجروح

---

(١) زغره، زره، خول.
(٢) بد، ناوړه، بدرنګه.
(٣) د "انس" څخه د "اِستفعال" شکل، يعنې مينه غوښتل. مينه کول.
(٤) مطلب د تسپو (تسبيح) دانې دي. نه يوهېږم چه شاعر يا کاتب ولې د (تسبيح) په ځاى (تسبيحت) ليکلى دى.
(٥) مالګين، خوندور.
(٦) سبحان.
(٧) خلاص، پرانيستى
(٨) په قلمي نسخه کښې: په دارو غ شي.

ACKU

پہ نادانو باندې سهل وېل گران دي — دانایان پہ معما وکہ شروح

چہ د راز محرمان نہ وینم پہ سترگو

٧٦ — ٧٥١

زہ یونس احوال وچا تہ کړم وضوح

دانایان بہ هرہ چار کاندي پہ رُخ — لکہ ځای هومرہ گفتار کاندي پہ رخ

چہ بهبود د دین دنیا یکښې سهي[1] کہ (٤٣) — وهغہ لور تہ رفتار کاندي پہ رخ

نہ نقصان د خپل صورت نہ زیان د خلقو — دانا هسې کار و بار کاندي پہ رخ

د فکرت غشي را وکاږي لہ ښخولي — د مقصود پہ ښکار گذار کاندي پہ رخ

د مقصود د در کلید دا خپل زبان دی — کہ پہ ځای دعا اظهار کاندي پہ رخ

پہ اوبو د ندامت، یعني: پہ اوښیو — هر او دہ دې ځان بیدار کاندي پہ رخ

پہ وفا، پہ دلبرۍ، پہ ښکلي خویونو — نام طلب ځان نامدار کاندي پہ رخ

حمیدہ مرید د پیر پہ مرضي پوہ وي — د خپل حال ور تہ اظهار کاندي پہ رخ

د یونس لہ معترضہ کوم خلل دی؟

٧٧ — ٧٦٠

چہ پہ فهم خپل اشعار کاندي پہ رخ

هغہ غم چہ ازلي وي ستا پہ برخہ — ناست وتا تہ بغلي وي ستا پہ برخہ

کہ (دا) نور عالم پہ غم وي تہ بہ ښادي — پہ نصیب کې خوشحالي وي ستا پہ برخہ

(١) د "صحیح" مخفف.

ACKU

زړه پوښ که په جنګ وژني ستا د الاسه   د قضا ځای به خالي وي ستا په بڼ خم
چه ته خوښ په خپل قسمت با ندې قانع يې   د شرې تيکرې شالي وي ستا په بڼ خم
ځان په سل پردې سا غوڼ به د تا وکه   که نصيب د ګوشالي وي ستا په بڼ خم
که نوکل جهان اختر که ته به غم کړې   چه ساعت د ملالي وي ستا په بڼ خم

ے۶۷ دهجران هاتي که بيا موندې يونسه!
۷۸ په اخر به پايمالي وي ستا په بڼ خم

هر چه زړه کاندې د عشق په تير سوراخ   ته به ووينې د يار انګړ[1] فراخ
که د شاه د زلفو بوي يې ترمشام شي   نور به ياد د و باره نه که مښکو شاخ
نرم دل به په زړا د خوار ګروهېږي[2]   په اوبه کله نرمېږي سنګلاخ؛
خپل عزت په خپله زغوره که دانا يې ⑷⑷ له غالب سره د ېر مه اوسه ګستاخ
نادانان د خاورو کوربيا يې په پورته   دانايان بلندوي د عمل کاخ[3]
غم هوس د خدای و حکم ته معطل دی   په خپل سر يې نه تعجيل شته نه تراخ[4]

ے۷۴ د زړه غم هغه ته مه وايه يونسه!
۷۹ چه په خوله د ته "هې هې"! که، په زړه "اخ"!

---

(۱) انګړ: حويلي، غولی.
(۲) ګروهېدل = باورکول، منل، عقيده لرل، ګرويدن.
(۳) ماڼۍ.
(۴) تراخ = تراټ، تلوار، تعجيل. داهم کېدی شي چه شاعر د "تاخير" کلمه اړولې وي.

دهجران غشي دې راغلهٔ روغ دروغ خه[1] — د زړهٔ سره مې يې سوري کړ لکه موخه[2]
پهٔ او به زما داوښيو نرم نهٔ شهٔ — دانا ترس خاطر دي کانړي نهٔ کلوخه[3]
پهٔ عمل د ستاد سرو سترګو دلبره — د شهرت قصه د نورو شوه منسوخه
تربيت پهٔ نالايق باندې ضايع دی — د ګنې خوږه به (نه) درکاندي لوخه
پهٔ غيا د سپي سايل له خيره ناوړې — ويره مه کړه د رقيب له اخ و توخه
دعمل تخم له غيرو پاکيزه کړه — داخلاص پهٔ ججترې و باسه شموخه[4]

چه شيخي يې پهٔ اخلاص نهٔ وی يونسه!
ثه حاصل له اوراد د شيخ شيوخه

٨١ — ٨٠

عاشقان دي پهٔ مثال روښانه روح — څوك به څرنګ پېژني عيانه روح
جمعيت کمال دولت دی پهٔ معناکښې — خدای دې نهٔ کا د هيچا پريشانه روح
نو نهٔ د قيامت ده که باورکړه[5] — سخته لويه د هجران حيرانه روح
له قسمته چاره نشته چه پر ورشي — څوك پهٔ غوره قبلوي له زيانه روح
پهٔ راحت د نحسو ورځو توښه کښېږده — تل به نهٔ وي د دولت يکسانه روح
وشتاب ته د خپل عمر حيران نهٔ م — لکه برق پهٔ شتاب ځي لېمانه روح

(١) مخامخ ، مقابل .
(٢) موخه = نخښه ، هدف .
(٣) کلوخ = لوټه .
(٤) شموخه = يو قسم دانه ده چه له شولو سره شنه کېږي او دانې يې شولې ناپاکوي . شامه ، شمخه او شامامخ بللې شي .
(٥) پهٔ قلمي نسخه کښې ، پهٔ بل ليك د (نو نهٔ) نهٔ وروسته (د) او د (که) نهٔ وروسته (پر) زيات شوي دی .

ACKU

سخت ساعت لکه قیامت[1] نفسي نفسي وي — څوك مه دکه یو د بل په گراندوځ؟

دهجران په شپه صابر اوسه یونسه!

٧٨٩ (٤٥) ٨١

پسې شته ده د وصال اسانووځ

هرچه سرفراز وي په اسلام د محمد (ص) — ورد به یې ثنا وي صبح وشام د محمد

میم وحې له میم ودال ه داخلوځ فونه — دېرشو ومشرف په ذاتي نام د محمد

میم یې مرتبې ته اسمانونه[2] شو ودپاسه — عرش یې سربلند کا په اقدام د محمد

تاج د بادشاهی یې په سر شوه له درگاهه — کېښنو شه قدم د عرش په بام د محمد

واړه مطالب چه یې خواهش و له ځښتنه — سم راغله واړه په کام د محمد

حې چه د ابجد په حساب نو کښې اته شوه — شوه اته جنته تر انعام د محمد

دال دلیل لوی د لولاك ومعنو ته — کل عالم یې صید کا په دام د محمد

قد یې په بزرگی تر اسمانونو ودپاسه — ځکه سیوری نه درلو قیام د محمد

کل عالم که واړه په ثنا شي تر قیامته — یو صفت به نه کړ تم تمام د محمد

خلاص به شي په حشر د افتاب د گرمایه — ننو ځه د شرحې په خیام[3] د محمد

کل مرسل نبي و پاك رسول وته محتاج دي — واړه په دا گواه دي خاص وعام د محمد

---

(١) په قلمي نسخه کښې : د قیامت.
(٢) " " " : اسمانونو
(٣) مطلب خېمې دي.

ACKU

داغ د غلامۍ یې پر جبین لره یونسه!
۸۰۱ شاه دې صدقه شي تر غلام د محمد ۸۲

چه په زړه کړم د هجران د پره خوارۍ راپیدا
نا پېښا ده له جمله مینې یارۍ نا پېښا د

زور و زر و زاري مایه د عاشقانو
زور و زر را فخر نشته بې زارۍ آه فریاد

عاشقي له خانانه سرې بېل کا
بابا راشي په پله د بېزارۍ د اولاد

دام دانې فریب دادرې وار ه کارونه
مقید کا په دام د مکارۍ د صیاد

بې له تا مې هجر زړه په اور کباب کا
ناز پېروړ ده نه ده دومره د شوارۍ داهداد (۱)

شیرین خوبه په مسند د عیش نازکا (۴۹)
... (۲) له سنګه په هزار نا قرارۍ د فرهاد

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : احداد .
(۲) " " " دېوې کلمې په اندازه ځای سپین دی.

کړ د سر و بېړه دې شتر ترلک محبوب شه!

تور با نه یې په څرخ کړې کتارې د فولاد

(په) تقریر خو خپله ژبه تېزه نه کړې

لافې مه کړه په زبان طرارې دا ستا د

په پښتو ژبه چه شعر کا یونس

چا ویلی په دا هسې هښیارې مستزاد (۱)

۸۳ ۸۱۰

چه د زړه مینه یې نه وي په تا باندې
خدای یې وار هوه په تورې بلا باندې

سپور سرې هغه غوایه (۲) وي په معنا کښې
چه په خوله کوزې (۳) وي وړې په شا باندې

چه مهجور د یار د لوریه پیغام بیاد کا
برکت کړه خدای په یاد د صبا باندې

محبوب لاس د خوار عاشق په وینو سره کړ
بې خبره یې سره کړي په حنا (۴) باندې

چه د تن عیش موقوف تر صبا پرېږدي
عاشق کله وېسا کا په نسیا (۵) باندې

---

(۱) مستزاد په دري ادب کښې هغه شعر ته وايي چې شاعر د هرې مصرعې نه وروسته، بله وزن لړونکې کړې راوړي چې پر ته له هغه هم شعر معنا لري، لکه:

دوشینه پی گلاب می گردیدم در صحن چمن
پژمرده گلی میان گلها دیدم افسرده چو من
(ترپایه)

مګر دا اغلباً په پښتو نه تطبیقیږي. دیونس په دې غزل کښې، دس دوه دوه مصرعې یو وزن لري او دبند واولی مصرعې بل وزن دی او دوهمې مصرعې د سر سره برابرې دي. په دې ډول غزل د پښتو په اولسی ادب کښې نورې نمونې هم لري چه د توکل په غزلو کښې یې په کثرت کتلی شو او نورو شاعرانو په شعرونو کښې موندلکېږي.

(۲) غوټۍ.

(۳) ترنګۍ، پوړکی، پوړبند. د لوخو دمړ ونه جوړه د ښار وود خولې بند ولو سامان.

(۴) نکریزې.

(۵) پوړ.

خپل پردي راسره مخ نه کا له عاره … میني هسې فساد وکړ په ما باندې
نو عمر وس به وي ماتم د عشق وږلي … د جنت حورې یې در ومې په کوراباندې

دلبران که پر تندي د یونس ښېښې ږدي
۸۱۸ دي به سر ږدي د دلبرو په پا باندې ۸٤

محبت یو عجب شی دی چې چا بیا موند … پوشیده د مقصود لې دی چې چا بیا موند
یکباره به دې له ځانه بې خبر کا … په مستۍ کښې مست ترمې دی چې چا بیا موند
سل ارمه صدقه د عشق تر غم شه … عجب خوږ د میني سوی دی چې چا بیا موند
د محبوب زلفې رسیه د کوز پړ و دې … زنخدان یې سوړ کوهی دی چې چا بیا موند
دغه چاه یې د حیات په اوبو پوره دی … له دغو اوبو یې څې[1] دی چې چا بیا موند
دیوانه د میني ولې به خوار بولې؟ … په دولت کا، وس کی[2] دی چې چا بیا موند
روغ صورت یې تر رګیرو ویې صدقه شه! (٤٧) … سنه د میني درد وی[3] دی چې چا بیا موند

لوی مطلب له مطلوبو و یونس ته
۸۲٦ په رقیب باندې بر دی چې چا بیا موند ۸۵

ای د ملک په دلبرانو کښې څرګنده … سروه نه ده په قامت ترتا بلنده
همیشه چه دې د هجر په اور سوزم … په سوځن کښې دې ثاني کړم له سپنده[4]

(۱) ژوندی .
(۲) کی کاووس : د کیاني سلسلې له پادشاهانو څخه و چه د کیقباد زوی و .
(۳) د فارسي غایب ضمیر (وي = هغه ، دردوي = د هغه درد)
(٤) سپېلنی .

چه یې ستا د لعلو لبو قند شکلی — عجب نه دی که نور قند بو لې یې خوندہ
زه به ستا د اشنایۍ پټ پرې نه کړم — خو مې سر له تنې نه دی بې پیوندہ
د فلک له جوره ځای د گیلې نشته — په دانه صرفه له کومه کاندې ژرندہ
چه رقیب یار ته نژدې شي پرې وېرېږم — چه شیطان یې چېرې نه کاندې بدپندہ

٨٣٣ چه بندي د شاه په زلفو شي یونسه!
خدای دې خلاص ورځنې نه که، له دې بندہ ٨٦

چه د کاخ له برجه وخته بلنده — په ماښام ماه محبوب شکرخندہ
د افتاب په څېر شعلې ترې هویدا شي — شور و (شر) شر په عالم کښې ترې خراندہ[1]
ننداره چي ورته مدهوش که زنان شي — چه دوباره شوه ورځ له شپې سره پیوندہ
د مهتاب په وقت افتاب وخوت دوباره — عجب سحر که د حسن چشم بند ه
په شفق کښې یې هلال زیړې د عید کا — یعني سپین و ښی شیل ترسره مرپوندہ
چه سرخي یې د سرو لبو لعل پوش کړه — په خوږ والي کښې تېرې کاندې له قندہ

٨٤٠ د خال خیال به دې یونس وگوره ته یوسي
مېږې د وبه کا دانه چخیله کندہ ٨٧

چه یې نه گڼي له ځان سره همدرد — د هغه د وږاندې مه کړه آه سرد

---

(١) دلته مطلب (اندازه).

ACKU

په زاهد باندې چې کار د رندۍ نه شي ﴿٤٨﴾ نو له رند سره کينه کاندي نامرد
سل بېله د ترېوه دردمنده ځار شه سل داستانه صدقه د عشق تر فرد
په انصاف نظر له ر ښتيا و وايه! عبير(۱) ښه دی که د يار د کوڅې گرد؟
حنا کله د محبوب پا بوسی مومي خومېده په کالې نه شي لکه اړد(۲)

٨٤٦ چه د عشق سطرنج بازي کاندي يو نسه! ٨٨
سر دې گوز په ميدان کښېږدي لکه نرد

هغه کار چه (يې) له خدايه وي رسد د هېچا په سد(۳) بند نه شي مسدد(٤)
الف قد چه د خال ټکی په مخ کښېږدي په ښايست کښې يو په لس شي احد(٥)
په يوه خال يو په لس شي عجب نه دی که په دوه خاله شميره(٦) شي ده په صد(٧)
ابستن د هغې شي په دوه فرزنده غم هوس تر صبا زېږي مجدد
سر وې هغه گل خوب ه مبوه راندوړه ځکه مړ و فا نه کړ سروقد

(۱) خوشبويي.
(۲) اوړه.
(۳) بند.
(٤) بند شوی.
(٥) يو.
(٦) په قلمي نسخه کښې: ځمرکا.
(٧) په دې دوو بيتونو کښې دالف قد يې معشوقې داسې توصيف وشو چه کله يې خال په مخ کښې کښېږدو نو ښايست يې يو په لس او په دوو خالونو يو په سل کېږي.
لکه څرنگه چه الف هم دليك له مخه (۱) او هم دابجد د حساب له مخه يو (۱) دی که د هغه په مخ کښې يو ټکی (۰) کښېږدو لس (۱۰) او په دوو ټکو (۰۰) سل (۱۰۰) جوړېږي.

ACKU

په شا بار په تنګی لارې تله مشکل دي   په احتياط په لارې دره ومه مجرد

۸۵۳   زه یونس خو پیدا نه وم جدا نه وم
اوبه خرې کړې صورت په سرحد(۱)   ۸۹

که ته تېر شې په حرص(۲) ترسمرقند(۳)   چه به راوړم په منګولو شکرقند
که طالع دې سرنګونه وي دازده کړه   ستا په بخت به نشي ورمړ کېنې بند
د حریص په نااميدی باندې بخت نشت دی(۴)   صابرانو پېز مقصود وکه انند(۵)
په هر کار کښې مصلحت له بله غواړه   د شيطان پوډې وریاد شوې خود پسند
د ققنس(۶) بچې هم شغل د خپل پلار کا   د پلار کسب ميراث دی د فرزند
د هر خیز تخم چه وکرې په زمکه   په خپل اصل پسې ځي پست وبلند
چه د جنګ په ورځ دې فتح وي له خدایه (۴۹)   هغه ورځ به رستم راولې په بند
په نصیب چه دې کمی وي په تقدیر کښې   ارتینه دې ګردن بند که په کمند

۸۶۲   بې صغر چه مې سر ایښی په ګردن دی
د یونس په بل روا نه دی سوګند   ۹۰

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : بسرحد.
(۲) " " " " : حرص.
(۳) " " " " : ثمرقند
(۴) اَلحَارِصُ مَحرُومٌ ؛ یعنې حریص محروم دی ، تلمیح شوی دی.
(۵) عیش ، هوساینه ، - اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِینَ (آیت) ؛ یعنې خدای د صابرانو سره دی.
(۶) یوافسانوي مرغه چه په اور کښې ځان وند کوي.

خو دستني تر سوري وي داز ار باد — بیا ونه مومي وتا دلبر تر لار باد

دعشق اور مې ستا د زلفو په باد تېز شي — مقرر دی، زیاتوي شغلې د نار باد

تو ري زلفې که د باد ولوته واکړي — شرمنده به کا عنبر مشک تاتار باد

قابل ستا د زلفو باد له یو یو دی — څه په هرچا باندې نالوزي بلغار[1] باد

په وصال مې ستا د زلفو باد اولجه دی — په خزان به بوی راندوړي د گلزار[2] باد

غنچه[3] څان د ستا له خولې سره نسبت کا — په وهل وهل یې خوله کړ تار په تار باد

په بلوتل[4] د ستا د زلفو دېوانه شي — څکه د ر ومې وهلو رته ناقرار باد

۸۷۰ یونس هسې ستا د لوري په پېغام خوښ شي — ۹۱
لکه راشي په غریب[5] د خپل دیار باد

مخمس

که ته سر په فکر کوز کړې ادم زاده — خبردار شې د خپل (اصل) له بنیاده
د صورت بنا ده څه له ره اباده؟ — ته دا خپل صانع مه وباسه له یاده

---

(۱) کنایتاً د پسرلي د پېره خوږه وږمه، سنه وږمه چې د فولکلوري روایاتو له مخې مرځاېنپل تاثیرات لري.
(۲) په قلمي نسخه کښې: گلزار.
(۳) " " " : غنچه.
(۴) بلوتل. قاموسونو نه دی قید کړي او په شعر کښې خپله معنی ورکوي.
(۵) مسافر.

ACKU

اول داخبره پند کړه له استاده

په ژوندون (کښې) د ژوندون له سرایه بېرن ده
کـه عاشق یې د غـه خپله رضا پـېرن ده

د اجل توره دې اېښې په اوږ مېن ده
د خطر په ملك بـه د ړومې وړ تو ښېن ده

سرنگون تر گرېنك پرې ننوځې بلاده

ته چې غـم و راندې ځې وړ ستو دې مرك دی
سمې کړې یې گذار له ړه ستا تخرك دی

کـه دې سر په فکر خپل گرېوان (کښې) بغرك[1] دی
د آتش په و راندې څـه د گیاه برك دی؟

د غـه هومره چار له مرگـه سره ستاده

وعارف ته داعمـر یو نفس دی
بې حسابه تې خپل خم پېش و پس دی

گذشته عمر یې و رك د بـېلې خس دی
آینده یې نامعلوم د خدای په وس دی

چه تر کسبنته پور تـرکېن یې[2] د غـه ساده

ته چه بې له خورد و خوابه نور څـه نه کړې
د چار پایې په تراز[3] یست کوې د اخـه کړې؟

تر مرېـه پورې د ك شې ځان اوده کړې
کـه دانایې ځان بـه ماگـه په او بـه کړې

څو وصلت دې شوی نه دی له مراده

زه حیران یم د.....[4] ستی و اختیار ته
څرنگـه خپل صورت فدا کاندې و نار ته

ته عاشق یې ارزو یې کړه و دیدار ته
له جهانه دې مخ نه کـړ و خپل یار ته

---

(۱) د (غبرك) بلـه لهجه.
(۲) په قلمي نسخه کښې کېن دی.
(۳) په دول، په طور.
(٤) په قلمي نسخه کښې د ټکو (....) ځای تش او لـنـغه گرول شوی دی.

ACKU

ودنیا وته دې مخ ویاړنه شا ده
که خبر شې د یکرنګو له مجلسه — نه به هم په هسې شان شې یک جنسه
په ادب سر کوزې زده کړه له نرګسه — خوهستي په نیستي ورنه کړې یونسه!

۸۷۷ دا د عشق دعوې دې واړه بې وفا ده ۹۲

خو نظر کړم ستا د لورې په کاغذ — د فراق اوښکې مې د ورې په کاغذ
دا د سترګو کسې پاس په کاغذ کښېږدم — لکه دې د سیاهي توري په کاغذ
چه دې نقش د هلال ابرو وو وینم — زه کړم سپینې اوښې ستورې په کاغذ
د دلبر د لورې خطې حرز[1] جان دی — ما د غم له بلا ژغورې په کاغذ
که دې مهر کتابت دې په ما راشي — رقیبان به کړم مخ تورې په کاغذ
مشکین خطې سایه بان زما د سر کړه (۵۱) — چه لنره شم په سیورې په کاغذ
که کاغذ د یار د خط نه موندہ کیږي — عاشقان [د] په سر وپلورې په کاغذ
چه یونس د یار د شوق نوشته لولي
۸۸۵ لکه مست د میو سنورې په کاغذ ۹۳

لکه خوښ شي څوک د زرو په کاغذ[2] — زیات ترې زه شم د دلبر و په کاغذ
د دلبر د خط سیاهي مشک و عنبر ده — شم خوشحال د مشک عنبرو په کاغذ

---

(۱) تعویذ.
(۲) دا غزل پادري هیوز د (کلید افغانی) په (۵/۳۷٦ م مخ) کښې چاپ کړی دی.

ACKU

عاشقانو دی د زړه په وینو کښلی — روغ خندا کا داوتړ وي په کاغذ
چه دیار د در خبر و نامه لولي — نظر نه کا د گوهر و په کاغذ
د دلبر په لوري مې دوه سترگې څلور شوې — انتظار یم د رهبر و په کاغذ
که مې یار کتابت نه گوري هم بینا يي — اعلی خان دی(۱) داحقر وي په کاغذ
د سرو زرو په کاغذ شاهان خوښېږي
٨٩٢ حمزه یونس دلب احمر و(۲) په کاغذ ٩٤

چه تکیه لره د تاغوندي(۳) ملاذ — له غمونو مې نجات دی هم معاذ(٤)
د گلزار(٥) خوښي روزي عند لب شوه — په نصیب یې کینه ولی کاندي خاذ(٦)
ته زما دعاشقی په درد خبر یې — دانسته مې په علاج کوې اغماض(٧)
معشوق چه دعاشق په راز رضا وي — دربانان یې منع نه کاندي فلاذ(٨)
نکهت ستا د سیه زلفو راته بس دی — خم منت په مشکو ورم(۹) د بلاشاذ(١٠)
د هجران له ازاد یده مې معروض دی — تا ته پس له بندگیه دا ابراز(١١)

---

(۱) په کلید افغاني کښې: خان دی.
(۲) " " " : دلب شکرو.
(۳) دتکیې ځای.
(٤) دنجات ځای.
(٥) په قلمي نسخه کښې: گلزار
(٦) ودې شي چه (خاذ) دی د (قاز) او ولی شکل وي.
(٧) په قلمي نسخه کښې شاید دردلیف دساتنې دپاره: اغماز. – اغماض = په یوشي یا کار سترگې پټول.
(٨) ؟
(۹) په قلمي نسخه کښې: ورم.
(١٠) ؟
(١١) په قلمي نسخه کښې: ابراذ. ابراز = ښکاره کول.

۸۹۹ د وصال شپه بختور مومي یونسه[1] ۹۵
په جهان وي ذ شبقدر موندن شاذ

یار زما هرگز نه بدوي زړه داغیار (۵۲) گل سر اسر اور دی ولېکن نه سېځي خار
پر خه د سحر په گلو اوري تازه کېږي خاندي په قهقهه زما په اوښو هسې یار
گل د پیغمبر[2] په تورخالو نو عجب زیب کا هسې مې زیبا دي تورخالونه په رخسار
مخ یې تر چنده نه زیبا یې که خوچند آنه زلفې یې په سهم سهم تېز ے تر ښامار
تخم یې له دوارو ستر گو اوښې د عاشق دي دا چه چېر ته ویني په ملکو نو لالزار
ترڅه والې صبر کړه هر کار یه صبر ښه دي کېږي یې له آهه د نخور د زړه قرار؟
والې چه خزان به دبهار په گلو راشي خکه بلبلان که پر وصلت د گل چغار
مه کړه په جفاسره ازار د بېدلانو نشته بل گناه په لو یې لو یه تر ازار

۹۰۸ تل په اشنا ئي پسې نوبت د جدائۍ دی ۹۶
ببل به کا یونسه یاران واړه وار په وار

در ته نه وایم چه مه نیسه یاران د بر چه یې نه وي مېته لاشي په هجران د بر
چاچه ستر گې کړې خوني په گلر خانو له هغه به وو ري هغه ستر گې باران د بر
تو ري زلفې يې په مخ باندي تو رسنبل دي که يې زانگي پرچند نو ښاماران د بر

(۱) کمیاب
(۲) په قلمي نسخه کښي دي کلمې ته تکي غلط ایښو دل شوي دي .

ACKU

دخپل یار په څېر مې یو دلبر ونه لید | که راغلي په جهان دي دلبران ډېر
عاشقان د ستا په درکښې بې شمار دي | دسخي په درکښې اوسي فقیران ډېر
روی گردان به له تا خپله تر څه بایلي | وصاحب ته مهیا دي نفران[1] ډېر
ستا په څېر به یې بل یو نه وي راوړي | که زوولې زمانې دي پسران ډېر
که عاشق وتا دلبر وته اسان دی | ته دلبر یې په عشاقو باندې گران ډېر

٩١٧ په تقریر د شعر ختم کړه یونسه! ٩٧
په قابو کښې درته ناست دي شاعران ډېر

که مې سنه په دې خبرې وکې غور (٥٣) | دا غیار تر وفا سنه دی د یار جور
دنیک خواه پند و نه اوره وغیږوه[2] | ډېر به ډېر رنگه ویل کا طور طور
نور عالم په حسن مدح د طاءوس کا | خو دخجل په خپلو پښو دی هغه مور[3]
که هر څو به جنس ورنگ کښې سره یو دي | نه چه هرکاڼي مرمر شي یا بلور
چه تر خپله سره تېر شي هغه شېر دی | پر خور ونکې سپي حملې وهي سنور[4]
په نځایه ویل بدي شي ویونکي | هر کلام لره ویل بویه په طور

٩٢٤ څو یونس دې په دنیا سترگې سپړ دي ٩٨
دخپل یار په تړا یو نه وینې اور

---

(١) نفر، دلته د مزدور او نوکر په معنا دی چه شاعر د هغه جمع (نفران) راوړې دی.
(٢) د (وغوږ جوه) په معنا.
(٣) تاووس (٤) پیشو.

ACKU

تا هست نازنین مرا خفته در کنار — یعنی چو روح در بدنم هست برقرار
گردد هزار فکر به خاطر درآورم — یک نیست همچنان که بود عشق غمگسار
گل هر طرف دمیده بوادلکشست لیک — بی روی دلفریب تو ناید هیچ کار
گر عاقلی به گفته ناصح بدار گوش — زنهار دل مبند برین دهر بی مدار
کالبرق فی السماء عیان طرفة العیون[1] — هذا القیاس[2] عمر عزیز است اعتبار
تحریر شوق آن بت شیرین لبان من — ناید تمام عمر بر اقلام مشکبار
سیف النظر[3] که همچو تونی در جهان کجاست — نه هر فتا[4] علی است و نه بر تیغ ذوالفقار[5]
زیر فلک تو هر چه ببینی فنا خورد — جز عشق لایزال که مانند پایدار

یوسف به چاه رفت ز دست برادران
٩٣٣ — ٩٩
یونس وفا مجوی ز اخوان روزگار

کښېوتم عالم د هجران په لهر بحر[6] — حکه خوب ژوندون کا په ما باندې زهر
ګوره د خوشحالي بدې ویران کاندي پوهېږم — هر چه په چا وریږي د ستا د قهر نهر
ته چې مې پوښتې رقیب په خره لړتا جګړه کا؟ (٥٤) — ګوندې بې زما په ذمه وې د خواږه مهر[7]
د رسته ورځ اواز د جدالي پوشا پوش دی — نه دی خالي شوی له دې غږه ښهر

څرنګ به یونس په دا عالم کښې شهره نه شي
٩٣٨ — ١٠٠
کښې چې بې مذکور په هر طرف د شهر ښهر

ددې مخ په متن مربوط پایلیکونه په ٧٩ مخ کښې ولولئ.

ACKU

څه امید کړې په دا هسې فاني دهر؟ — یوه ورځ به دې حلق تریخ کا د مرګ زهر

خوشاهان یې له زمین سره زمین کړه — چه له قهره یې لس زان وتمام شهر

په آزار د مظلومانو مایل مه شه — په ظالم باندې وریږي د خدای قهر

د غفلت له خوبه پاڅه کړه دانایي — شپې بې غم دې کمېږي پهر پهر[1]

د خوښۍ بنا[2] یې تار په تار خوره کا — ده زړه په کور چه ساز شي د غم نهر

د اولیا ویل تېر روه په کار نه دي — چه هوړې نه شي په سوال وجواب لهر

د ۷۸ مخ مربوط پایلیکونه :-

(۱) لکه برېښنا چه په اسمان کښې دستر ګو د حُمبلو د وخت په اندازه ښکاري .
(۲) دار نګه (۳) د نظر توره ، دستر ګو توره . (۴) ځوان ، زلمی .
(۵) په یو عربي بیت کښې وایي : لَافَتیٰ اِلّاعَلِی ، لَاسَیْفَ اِلّا ذُوالْفِقَار ؛ یعنې پرته له علي ځوان او پرته له ذوالفقاره توره نشته .
- حضرت عَلِي کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهُ د ابوطالب (د حضرت محمد د تره) زوی او د حضرت پیغمبر زوم او د اسلام څلورم خلیفه وچه د اسلام ستر پهلوان ، قهرمان ، دریات علم او عمل او فضایلو خاوند دی . ذوالفقار دده د تورې نوم دی . دا اصلاً د عاص بن منبه توره وه چه هغه د بدر په جنګ کښې وژل شوی و ، او دغه توره حضرت محمد (ص) ته ، منتقل شوی او بیا حضرت علي ته ورسپارلې وه .
ذوالفقار ، د برخلاف د (ف) په زېر وایي ، حال دا چه باید د (ف) په زور و ویلې شي . فَقَار ، د (ف) په زور ، د ملا د تیر هډوکو ته وایي چه موږ ورته اوس (ستون فقرات) وایو . د دې تورې ستې د ملا د تیر په توګه جوړ شوي وې . کاچه ویلې شي چه (ذوالفقار) دوه ژبې تورې ته وایي سمه نه ده په دې باره کې کوم روایت شته او نه د لغت له مخه دا عبارت د غه معنا ورکوي .
(۶) لهر - په پښتو کلاسیک ادب کښې د ننه ، تېز ، څپاند ، مواج په معنا د سیند او سیلاب د صفت په توګه ، کله په خپله د څپې او موج په معنا راغلی دی . خوشحال خټک وایي : ځوان خوشحال یې ګلکه خرڅ هسې لاهو کړ چه د عشق سیلاب را غوت لهر لهر
عبدالقادر خټک وایي : ګوره څو عالم به ورک څو به خراب کا لوړ په لوړ د فتنو سیند و واهه لهر .
(۷) په قلمي نسخه کښې : څوک

د دې مخ د متن پایلیکونه :

(۱) پهر ، پاس . تر اوسه پورې زمونږ د سیمې بزګران هره ورځ او هره شپه په څلورو پهرونو یا پاسونو وېشي .
(۲) په قلمي نسخه کښې : بیبنا .

٩٤٥ اول بار د ملامت واخله یونسه! ١٠١
بیا هاله د مینې حال وایه په جهر

چه سر غوڅ کاندي د عشق په تېره توره — هغه خلاص شي د دنیا له کل ضروره
د نخور پوستین روغ له ثواب دی — دلبران دي خبر واخلي له مهجوره
قافلې د حج تلوار که و کعبې ته — عاشقان دیار ولاړ ته ناصبوره
خام صورت د عشق په تاو سره پخته کړه — لکه نان چه پخته وو ځي له تنوره
آه فریاد مې نژدې خلق ناپه ښاد که — لکه روغ چه زګېروي او دي له رنځوره
بې له یاره مې جهان په مخ عیان شي — د چشمانو نظر چېرې وي بې نوره

٩٥٢ که هوس د ښه دیدن لرې یونسه! ١٠٢
یو زمان بې لیرې مه شه له حضوره

///

(٥٥)

ماله د خپل وصل په اختر کښې تل لرې — خم به د غمانو په خاطر کښې تل لرې
تیر د بېلتانه به مې وزره ته ندر بوځې — پټ که مې د مهر په بختر کښې تل لرې
کله د امید مې د امان و ملک ته بوځه — خو به مې د هجر په خطر کښې تل لرې
ګر چه عاشقان بې شمار لرې په عاشقانو — نوم که د خپلې مینې په دفتر کښې تل لرې
مخ دې دریا په چې نخرنک ښایسته کا؟ — نور ته یکړې د کبر په استر کښې تل لرې

/// په قلمي نسخه کښې دلته لیکل شوی دی: غزل.

Acku

کاله به دي خوب دي غمی وریاندې کېږي — خار د جدايي چه په بستر کښې تل لري
سلګ رقيب به هلته تا غر خدکاندي پوهېږي — کور کړه د تور غره په کنستر(۱) کښې تل لري
هلته به تهمت لګه من غير دریاندي کښېني — ځای کړه پاس د غر و نو په نښتر کښې تل لري

٩٦١ ستر ګې د انصاف که ورته وښيي یونسه! ١٠٣
سم په خپل نظر په کم وستر کښې تل لري

دجهان هوس مې هېر(۲) شه ستا په هجر — رنګا رنګ اندوه مې در شه ستا په هجر
هغه غم چه لېما ليري په هېوا دو — اوس نږدي تر ما چاپېر شه ستا په هجر
لکه خولګي چه ترلوي پا لاندي رېږېږي — زړه مي هسي رنګه زېر شه ستا په هجر
په وصال دي لکه ګل تازه خندان وم — دمخ رنګ (مي) په بل پېر شه ستا په هجر
زما زړه لکه بلبل وصال لې ګل و — د اندوه په قفس ګير شه ستا په هجر
د خپل آه په تيغ مې سر د زړه غوڅېږي — خپل نفس په ما شمشېر شه ستا په هجر
په وصال کښي دي رقيب راته ګېډ و — اوس ګېډ را باندي شېر شه ستا په هجر
د اندوه سېلي مې کسي ګرد الود کړه — رڼا ورځ په ما اندېر شه ستا په هجر

٩٧٠ دیونس چه ستا د وصل مد د نشته ١٠٤
هر ناکس په ما دلېر شه ستا په هجر

---

(۱) کنستر، د کاف په پېښ = تندېګی، تل، بېخ. دغه په مايلر سطر کښې لمنۍ تر ژدي ځای.
(۲) په قلمي نسخه کښې : وهير.

ACKU

صاف کړه خپل نظر هلته د یار و مخ ته ګوره (۵۶) زنګ کې آئینه صفائي نه ویني وروره
وصف که رانده د چا د مخ کوي دروغ دي څه به درته وايي نابینا له سپین و توره
شور که هیر نه وای له شور کوته پاڅېدلی څه وو د رانجا د عاشقۍ له شر و شوره(1)
خو به د خلوت په تیاره ناست اوسې زاهده! ستر ګې خدای در کړې ښایسته پر بانډ ګوره
کار د عاشقانو حیرانۍ شکستګي ده شاه په عاشقۍ کښې لافې نه وهي له زوره
و د الف قد به دې سرو ته دال خم(2) چېرې که خبر وای د خزان له ګرماوره
آه د غریبانو لکه تیر هسې تېره دی
فهم کړه یونسه له پښې پسلو له سر توره

۹۷۷ ۱۰۵

څه عجب په شینه ځې د جنت حورې په دنیا کښې حوره ته، که حورې تې هورې
ښایسته بشرې لبدې شي بې حسابه ستا په خېر په حسن نښته مشهورې
قافلې د پسې ځي د عشق په بر(3) کښې په طواف ستا د دیدن تښنه ترهورې(4)
د ښایست افسون دې پو کړه پهر لورې خلقې دې کړې له عقله بې شعورې(5)
کل بلا په عاشقۍ کښې یو ځای شوې وار په وار په خوار عاشق به شي ظهورې

---

(۱) هیرا و رانجا ، د هند دیوې فولکلوري کیسې قهرمانان . دا کیسه په پښتو نظم هم اړول شوې ده.
(۲) په قلمي نسخه کښې : دد الف قد په دد سرو ته دال خم ده . په متن کښې د دوهمې مصرعې د مضمون له مخه سم کړای شو .
(۳) بر = وجه .
(٤) ترهور = تروړ ، مضطرب ، وارخطا .
(۵) په قلمي نسخه کښې : بې شهورې .

ACKU

لا به کله لب دیار په لبو کېښېږدم — چه به نوش کړم د حیات او به ټکورې

٩٨٤ اوس هسې ستر ګې نه لري یونسه!
لکه ستر ګې د محبوب په ښو ګورې[1] ١٠٦

که دې بیا مونده خوبه د یار خبره — فراموش به کړې نبات قند و شکره
دم په دم یې یاد وه حلق به دې خوږ وي — وار په وار یې د لذت شیرینې نغره!
د رقیب له جوره یې خوالره ورد وم — الغیاث د حسن شاهه زور زوره!
ستا چشمانو مې لښکر د صبر مات کا — خوك په د وه سواره بری وړي له لښکره؟
که رقیب زما په وصل په پیچ وتاب کا (٨٧) — والیم سر وهه له سنګه له کمره!
ستا د مینې سو ځه په ماهسې زیاتېږي — لکه اور چه دم په دم لګي په سره
که جهان له رنګارنګ بلاء ورکې دي — د هجران تر بلا نشته بلا ستره
په دانه باندې مرغه په لومه کښېوزې — عاشق بند که ستا پېزوان په مرغله

٩٩٣ فلك دار داه له غشیو کا یونسه!
په شپه ځکه ګرځوي دستور یو غزره[2] ١٠٧

زلف و خال ورو ځې بانه دې د نګار تور — له سپین مخ سره یې زیب که هر چار تور
په هر ځای حبیب رقیب سره نژدې دي — بې ګمانه وي د ګل له څنګه خار تور

---

(1) په معروف واو . ګورې ، اښو - په ځلو نسخو کښې ، ګوري .
(2) نرغره .

په نادان د ښکو وېل [پیا] تفحص شه ... برابر دي په راڼده لیل و نهار تور
هومره زیب کله په داغ د شقایق دی ... لکه خال د ګلرخان دی په رخسار تور
تا چه مخ لېده د شاه زلفو خوړ لیده ... له چندنه سره دي پښلي ښامار تور
سپینه لاس یې د تنه په میان کښې ګوره ... لکه سپین مؤمن په میان کښې د کفار (تور)
په زړه مې له رقیبانو فایده نشته ... په او بر به هېڅوک نه کا سپین انګار تور

زه یونس له خپل نیت و ده ته نه وایم
له رقیبه نه بهتر ګڼم حمار[1] تور

١٠٠١ ... ١٠٨

زیب په بهار کاندي (سره) ګلونه تازه تر ... کاندي زلمي جونه پرې سیلونه تازه تر
ګل د شقایق په یو مخال ښایسته نه شي ... ګل د پیغمبر په ډېر خالونه تازه تر
ګل د نوبهار په قسم قسم ښایسته دی ... مه وای په خزان پرې بې غلوت تازه تر
هرچه د ګلزار په سیل زړه د چا ښه کېږي ... دروی وهلو ته سر ملونه[2] تازه تر
کښېږدي ښایسته غنچه زلمي د دستار و نو ... روغ کاڅنې جونې امیلونه[3] تازه تر
(٥٨) هرچېرته چه جونه زلمي ناست په هغه ځای دي ... تل یې دي کتل په بڼ جلونه تازه تر
اېښي دي د جونو تورو اوربل په جبین باندې ... جونه زلمي دستار کا ولونه ولونه تازه تر
کاله به دلبر د وصل دادرا باندې وکړه؟ ... وګوره فال بینه تر فالونه تازه تر

---

(١) خر.
(٢) واګې، لګام. کېدی شي چه د متن عبارت (سرا و ملونه) یا (سره ملونه) وي.
(٣) په قلمي نسخه کښې: حمیلونه.

ACKU

د ور د ځوانۍ د نوبهار تر گلو ښه وي کاندي زلمي جونه پري خيالونه تازه تر

۱۰۱۱ د ور به د گلو پنځه ورځې وي يونسه!
۱۰۹ پر وت به د ابيان وي پر کلونه تازه تر

چه ظاهر په شرع نه وي استوار د باطن لاف يې دي نه وهي کوار[1]
ظاهر پول دی و باطن ته پري تېرېږ[4] تر منزله به دې ور ولي په وار
هر سړی چه خه کړي هغه به لوکا چه اوبشي کړي نه اخلي جوار[2]
که بار داره ښځه مار را وړي بهتر دی تر فرزنده چه ئې راوړي ناهموار[3]
د ګليران خوشحالوي، خوشحال د ګير کا تماشه که په عالم چرخ دوار
ګدايان په نعمتونو پروردہ کا عزيزان که د جهان تر خاورو خوار
يو پيدا په دا جهان شي بل فنا کا کار و بار دی د فلک په دا اطوار
په صيقل د خدای د ذکر يې صفا کړه کدورت[4] د زړه بدل کړه په انوار

۱۰۲۰ په جهان کښې هسې هيڅ [غم] نشته يونسه!
۱۱۰ لکه مې د محبت دی خوشګوار

---

(۱) ؟
(۲) مولانا جلال الدين بلخي وايي : از مكافات عمل غافل مشو گندم از گندم بروید جو ز جو (مثنوی)
(۳) سعدي وايي :- زنان باردار ای مرد هشیار اگر وقت ولادت مار زایند
از آن بهتر بنزدیک خردمند که فرزندان ناهموار زایند (گلستان)
(٤) په قلمي نسخه کښې : کدوره .

تور يې زلفې، شنه خالونه، سره رخسار | شنه طوطيان دي، سره ګلونه، تور ښامار
چه عاشق شي په دغه درېو واړه باندي | د وه ترې عقل صبر وړي دريم قرار
قوسي ورو وځې، تير مژګان، قتالې سترګې | په هر لوري (دي) د قتل مار ومار
شنګرفي[1] قلم يې ژبه خوله احمره | په ويل د سپين برات کښي د بيمار
(۵۹) سپين دندان، احمر لبان، په زنې سيب | د واړه لعل يې شرموي د شهوار
لوړه پوزه، نرۍ غاړه، بلند قده | مناره، مينا پرهېز کړه قد چنار

۱۰۲۷ زه يونس په خلقو ځکه ويسا نه کړم
پېژاند نه شي په دا وقت يار و اغيار ۱۱۱

مالره قسم دی په ابروی د هغه يار | روڼ تر افتاب مهتاب روی د هغه يار
دين دنيا که د واړه په بهار ورله وړي | نه ارزي دا واړه په نيم موی د هغه يار
زنګ د تور روز روڼوي په شمع لري کېږي | هر چېرته چه کېږي ګفتګوی د هغه يار
شته ميدان د عشق چوګان د زلفو د خوبانو | حيف دی چه نه کړې ته سر کوی د هغه يار
نې لېد وې سر په مينه وښند لحاظ يې دی | يا ته په لېد و پرنګو خوی د هغه يار

۱۰۳۳ ځم چه يونس واړاوه څخو يکي ځني پر پوت
هوش له مدهوش ورک کا اسم لوی د هغه يار[2] ۱۱۲

---

(۱) په قلمي نسخه کښي سنګر ليکي؛ شنګرف يوه سور رنګي معدني ماده ده چه عنوا به د ليکني د سره رنګ به توګه تري کار اخيستل کېده. د جمهوري ارشيف د کتابخانې، ديونس خطي ديوان د شعر ونو کسر وند او ځيني عنوانونه هم په شنګرف ليکل شوي دي.

(۲) دا بيت د (محمد) په نوم يوه معما ده چه پيدا دې رول حلېږي. (خم) چه واړولى شي (مخ) کېږي او چه څخوبکی يعني تکی ځني پر بوځي (مح) پاته کېږي. له (مدهوش) نه چه (هوش) ورک شي نو (مد) پاته شي او (مح + مد = محمد) کېږي.

کهٔ بخیل که زاهدي د بحر و بر
بهشتي نهٔ دی په حکم د خبر[1]

که خبر شې د سخي له مراتبو
نه به مال په کور کښې پرېږدې نه به زر

مسلمان سخي ولي دي که باور کړې
سخاوت، کرم پېښه دی د حیدر

سخاوت لویه بلا ده تا جار باسي
ګرچه دیو په تار اد رومي غر په سر

چه نه علم، نه سخا، نه يې ادب وي
مناسب دی کښې بولې ګاو و خر

شیطانان ځني راضي، فرښتې ناراضي
په شوم پورې دی د خدای د رحم در

چه بلا په سخاوت له تا جار باسي
همیشه په لاس لره د سخا سپر

زه یونس که په دنیا کښې شوم یاد پرم
راتې مه کړې په دوستۍ د پیغمبر

١٠٤١ ١١٣

(٦٠)

ګل عذاره				ملدګاره
خوش خبره	پری واره	غمګساره	عاشق یاره	وفاداره
سیم بدنه	نیک نظره	تېز اشره	بې ضرره	دُر عدنه
خوږ خیاله	سیب ذقنه	ماه منه	قند سخنه	شکرباره
قمر رویه	سیه خاله	دل خوشحاله	لب زلاله	پرقد لویه
سرو شانه	عنبر مویه	وفاجویه	عطر بویه	بې آزاره
خوش کلاهه	قدردانه	دُردندانه	مهربانه	غنچه فامه
شیر شکره	کبک خرامه	دل آرامه	ګل اندامه	شوخ عیاره
	پرهنره	ترګل غوره	پای تر سره	

(١) سعدي وايي: بخیل ار بود زاهد بحر و بر / بهشتی نباشد به حکم خبر (اکر)

نازنینه	ماه‌جبینه	عنبرینه	شکرینه	لب‌شیرینه
سرفرازه	دلنوازه	غم‌ګدازه	څره‌نازه	شهسواره
باده‌مسته	جام‌شکسته	خودپرسته	لړالسته	دګل‌دسته
آهوچشمه	صدکرشمه	څره‌خشمه	پرګل پښمه	ګل‌اناره
سربلنده	شکرخنده	زلف‌کمنده	پېرت پېنده(۱)	چشم‌بنده
سحرګره	نوروره	دلاوره	بهادره	ناقراره
بې پرواهه	خوش‌نګاهه	کارآګاهه	هم‌وماهه	والاجاهه
موی میانه	خوش‌بازانه	لب‌خندانه	غزلخوانه	له یونسه سره دلداره(۲)
۱۰۴۹				۱۱۴

راشه پرې کښېنه! زما نګاره* ‌‌ بېچاونه(۳) د سترګو د پر تیاره
عجب ده تنګه صفت یې څو کړم؟ ‌‌ ښایسته خوله ده شګوفه واره
یو ځل یې راکړه څه کم به نه شي ‌‌ همېش ارزو کړم ستا د دیداره

(۱) پېند پن یې، منو نکې.
(۲) دا غزل که په افقي ډول ولوستل شي هم معنا ورکوي؛ خو د غزل قافیه او شکل ئې تغییر مومي. سرېېره پر دې هره کرښه یا جمله په خطابیه شکل راغلې ده، که د خطابیه (ندائیه) توري (ه) ندې پر تر ولولو هم خبره سمه ده او ښکلی غزل دی، په دې صورت د موسیقي سره ډېر چست ویل کېدای شي. تاسې د غزل سر په دې توګه د ځوري اد ولولئ:

ګل‌عذار پرېوار غمګسار عاشق‌یار مددګار
خوش‌خبر نېک‌نظر تېزاش بې ضرر وفادار

په دې صورت کېدای شي چه د موسیقي سره د چار بېتې په اهنګ وویل شي چه دا هم د زړه‌ګرې چار بېتو نوعه ده.
(*) دا غزل د "قبیح او ملیح" په صنعت ویل شوی دی.
(۳) بساتره.

چه مې وويني زړې پرانيځه — په خندا سره شونډه شکر باره
چه ورته لګ شي هسې پر کښېښي — عاشقان نه کا وېره له داره
هېش دې لګ وي که پر خو سڼې — ستا دغم تير په زړه کښې ياره
څوک لې وکاږي ترهم عمر — په اشنا پلوتې[1] جامه هوشياره
را شه چه وکړو سره په باغ کښې — هار دګاونو له سنه ګلزاره

يونس پر خوزي عجب خوښي ده

۱۰۵۸ — 115

دعشق پياله ده مسته خماره

هرچه نه لري قوت د سيم و زر — په معنا هغه مرغه دي بې شهپر
کم طالع دانا که هرڅو مره هنر کا[6] — احتياج لې که محتاج د بې هنر
ناقابل په نعمتونو پروړين نې[2] — ازدحام[3] د مچو وينم په شکر
ددولت پيټک[4] هغو نادانو يو وړ — چه ارهند هېش خو ريدکو....[5]
ادمي په ادميت ښايسته کېږي — نه په جهل په بېشه دګاو وخر
بينائي شنوائي ته کره کوزي کښېږده — عرض[6] لې نشتر په باز ارد کور وکړ

(۱) له (پلوتل) ځخه، چه دلته د جامو داغوندلو معنا ورکوي.
(۲) دلته د فارسي (پروريدن) له مصدر ځخه د پښتو په دول فعل جوړ شوی دی.
(۳) په قلمي نسخه کښې: اژدحام.
(٤) پيټ وس، د مجنوغزي ليندې او غولکې کاسه.
(٥) په قلمي نسخه کښې د غه ځای چاګر ولې دی او ونه لوستل شو.
(٦) " " " " (غرض) راغلی دی چه اوس لې (عرضه) بولي. دلته (ارزښ) هم معنا ورکوي.

ACKU

پوچگويي د تکلم د بزم عار دی — لکه سنځه په محفل د مذکر
که طالب یې د راحت زحمت قبول کړه — ځناځې هم شته په دریاب کښې د گوهر
کار و بار په اشارت سره په کار دی — نه په جنگ په کوتکو نو د ډمبر

۱۰۶۸ دیونس د رنځ علاج[1] په نور څه نه شي ۱۱۲
مگر روغ په سینه دیدن شي د دلبر

چشم پر خمار د یار — گل دي روخسار د یار
خوښیم په دیدار د یار — سر و مال مې ځار د یار
مست شه زه ازار د یار

هر دم مې فریاد زما — تل دي یار په یاد زما
عمر مې برباد زما — کله به وي مراد زما
مست شه زه ازار د یار

مست یم په دیدن دده — دیریم ارزومن دده
دردی هر سخن دده — رڼې تر دهن دده
مست شه زه ازار د یار

(۱) په قلمي نسخه کښې: اعلاج.

ACKU

یاد دی یار په دل زما (۶۲) لیک دی په زړه تل زما
ذوق د یار لیدل زما وا وره دا ویل زما

مه شه زړه ازار د یار

دل دی وی خوشحال دده زه غواړم وصال دده
لب آب زلال ------- دده هجر کړم پایمال دده

مه شه زړه ازار د یار

مینه په دلبر زما نه اخلي خبر زما
آه! وسو جگر زما خواست دی په سحر زما

مه شه زړه ازار د یار

زه غواړم وصلت دده یمه په صفت دده
پایم په مدت(۱) دده شاباش په همت دده

مه شه زړه ازار د یار

زړه زخمي غریب بلرم تا غوندې طبیب بلرم
څه شو که رقیب بلرم ښه کړه غم نصیب بلرم

مه شه زړه ازار د یار

---

(۱) مدت = مدد، مرسته .

ښه سنه ماجبین لري　　　　د واړه لب شيرين لري
مخ تر ګل هسين لري　　　　غاښ تر درو سپين لري
مه شه زړه ازار د يار
ولې ناوړې آه له ما　　　　آه په هره سا زما
خو دي يار اګاه له ما　　　　نه لري پروا زما
مه شه زړه ازار د يار (۶۳)
څوك د يونس غم کوي؟　　　　غم يې د الم کوي
جوړ که کرم کوي　　　　ګرچه تول ستم کوي
مه شه زړه ازار د يار

۱۰۷۶ ― ۱۱۷

دا صورت به همېشه نه وي ښه پرې ويارې　　　　عاريت دى لکه څه د چا وغوارې
هر زمان چې يې رضا شي بيايې واخلي　　　　ستا په ډېره ژړا خوشي که ته ژاړې
هيڅ دارو د مرګ په رنځ کښې اثر نه که　　　　د صحت په ورځ دارو شي خيلې لاړې
دا دنيا څه د استوګې(۱) مقام نه دى　　　　ته به خو د پله په سر باندې ولاړې

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : استوږ :

ACKU

جدائي به يې ترلحې غاړه بو ځي — داچه نن له یاره ګرځي لاس تر غاړې
د دانا په نظر وا ړه ویجاړه ده — مسافر به څه مقام کا په ویجاړې
دا دنیا لکه دریاب اجل نهنګ دی — صورتونه پروړ ځي لکه نواړې(۱)
یوه ورځ به دې صورت که توریخاورې — داچه نن د خیال جامه له ګرده نغاړې
یو زمان يې په قرار نه دی یونسه
۱۰۸۸ په دنیا باندې هیش د مرګ دهاړې(۲) ۱۱۸

چه مې ولیده په دالاړې دلبر ولاړ — په معنا کښې مې ارواح دد بشر ولاړ
لحې له یاره زندګي په کوم حساب ده — مهجوران دې يې غم نه کا که ترې سر ولاړ
که مهجور په ستر ګو نه وینې معذور دی — معنوي بصر يې يار دی ترې بصر ولاړ
د دیدن په مقناطیس وکښلی بویه — ټبر ټبر د جدائي مې په جګر ولاړ
څکه ستا په جدائي کښې خیر نه ګرځم — د هوس جامې مې کښېوې اختر ولاړ
یار پیوستنه دارام را څخه وکړه — وې مې ستا د عاشقي په سفر ولاړ
څکه حلق مې په هجران زهر ګند پرشه (٦٦) چه خوار به ترې د وصال شهد و شکر ولاړ
چه مې خیال د هغه یار ورځي له ستر ګو — والیم تش صدف په څنګ کړم ترې ګوهر ولاړ

---

(۱) نواړه، د ان، و، په زور: غم، خپګان. نواړی، د (ن) په سکون د (و، ړ) په زور او نج پر لومړي سلیبل: لاړې، ناړې، نوړی، نواړی، په پورته دول او نج پر دوهم سلیبل، دخوګیانو په لهجه دا مری، بل شکل دا دوړی، طعام، په معنا او ولتند دغه د، په معنا هم لګېږي مګر دلته کار وانېږي، دوهم معنا کښې، دلته هم، وغ پاته کېږي او شعر هم نه معنا وکوي.
(۲) ذهړه = دګرځ کاڼي، سنګه فسان، هاړ هوږ = شور زوږ. داړې، د داړ ونګو ځنا ور ومحامه تېره غا بنونه.

زه یونس که سر سر تور کړم نه را دروي
١٠٩٧ تېر ساعت را څخه هسې مر و ر ولاړ ١١٩

ما په داسترګو لیدلي یاران ولاړ — په شنه خوی سره پیسندلي یارا(ن) ولاړ

په هر ځای د مرګ له لاسه تار(۱) تار شوي — بې حسابه سواره پلي یاران ولاړ

پاته شوي نور لا هم پسې چلیږي — هسې نه چه هغه تللي یاران ولاړ

مرګ له هېچا سره مخ پرېښی نه دی — د هر کوز و د هر کلي یاران ولاړ

په دنیا کښې مېنې هېچا تر سر نه کړې — دارمان په تاخت تللي یاران ولاړ

د ښایست د لطافت تعریف یې څو کړم — لکه دُر په تار پېیلي یاران ولاړ

د هوس شملې یې پرېښې پر غوږ وو — چه و وشاخ پې تر مښلي یاران ولاړ

د مقصود د کمال هېچا تر سره نه کړ — له دنیا په زړه کوټلي یاران ولاړ

زه یونس به پسې ځړنګ نه نو لېږم
١١٠٦ چه په ډېر کوښښ موندلي یاران ولاړ ١٢٠

هغه یار چه مې په کوڅې د زړه ګذر کړ — همراهي له ره مې صبر د زړه ور کړ

قراري مې خواه ناخواه ورپسې ولاړه (شه) — دلارام مې د لارام له ره رهبر کړ

د هوس به بدله یې خم را پر ښنو — تمام صبر یې زما له زړه بدر کړ

تا یې کار د برند و ستر کو یغمالې ده — څه عجب که سکندر یې قلندر کړ

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : تاتار.

امتحان د ضرور سبه دی په یار کښې — دروغژنو له دلبرو لاس په سر کړ
په لیلا پسې چې شماره مجنونان وو — لاس د مینې یې په سل رنګه هم کړ
جام د زهرو چې یې ورکړ و عشاقو (٦٥) — نور و لاس که ترې په سر مجنون کوثر کړ
دوباره تر قیامته په هوښ نه شي — میفروش چه پر یوې پیالې اوتر کړ

١١١٥ ترغه سوده بلمه غواړه یونسه
١٢١ که محبوب د سر په اجر دیدن ورکړ

ما سینه ستا د څونو وقایه[1] کړه — غیره مینه مې له دله زوایه[2] کړه
هغه څوک به مختصر[3] والي په ژبه — چه شروع یې ستا د مینې هدایه[4] کړه
منصور هله د مقصود و بام ته وخوت — چه سولۍ یې د صورت اندر پایه کړه
هله یس به یې د مهر په سایه شي — که هستي یې د دلبر و سر سایه[5] کړه
که دې سل هزره وي بې عاشقي — زندګي دې پر عبث[6] سره زایه[7] کړه

---

(١) وقایه : الف : ساتنه، ژغورنه. ب : مجازاً د کتاب پښتی.
ج : په فقهه کښې یو کتاب دی چه اصلي نوم یې (وقایة الروایة في مسائل الهدایة) دی او د برهان الشریعه محمود بن صدر الشریعة الاول عبید الله محبوبي تالیف دی. د دغه کتاب شرح د مولف د لور زوی صدر الشریعة الثاني عبید الله بن مسعود (٧٤٧ هـ ق کښې مړ) لیکلی او په (شرح الوقایه) شهرت لري.
(٢) په قلمي نسخه کښې : ذووایه، زوایه، د الغت شاعر یا د (زدودن) له فارسي مصدره جوړ کړی دی او یا د (زاویه) له کلمې څخه.
(٣) مختصر: الف : لنډ ب : په فقهه کښې د یو کتاب نوم دی چه (مختصر الوقایه) نومیږي او په مختصر د ول (مختصر) بلل کیږي.
(٤) هدایه : الف : لارښوونه ب : په فقهه کښې د یو کتاب نوم دی چه (الهدایه) نومیږي.
(٥) سرسایه د صدقهٔ فطر، هغه مذهبي صدقه چه د روژې د میاشتې په پای کښې سړی سرخوره کم یو چارک غنم یا اوړه یا کم پاوکم نیم من اوربشې یا خرما یا د هغو بیه موږ سبانو، مسکینانو .... ته ورکول یې.
(٦) په قلمي نسخه کښې : عبس (٧) د ضایع اړولی شکل.

مقتضا د وقت په خه رنګه وي ګوره || په هغه دستور له خلقو اوايه[1] کړه[2]!
عاشقي ترو دوستي د مه پوره کار دی || پرې تمامه د خپل عمر سرمايه کړه!
نازولې زړه مې ورکه لکه طفل || پروردې لې ستا د مهر په دايه لړه!
په يوه نګاه لې صبر له ما يو وړ || لې صبر يې لې په عوض را[3] دلايه کړه
ګاه ګهی به لې جلوه د ديدن مو مې || راشه خان د دلبرانو همسايه کړه!

داس دو په تازيانه[3] سره تيز بڼي

١١٢٦   ١٢٢

رسوالې د يونس مينه سوايه کړه

چه دې سر وي په اسره و چا تو ر || بيايې لا فې د سيالۍ کړه واړه کوړ[4]
شور و شر د دښمنانو په کور ګډ شه || خدای ونه که د دوستانو لره لوړ
د ژوندون ورځې د هسې تمامېږي || لکه ځينې چه له سپند څخه[5] اخلي دوړ[6]
اه، فرياد، اوښې مې ګوره چه ته د . . . و مې || خواښه سفر که په باران په کار و کوړ[7]
دا دې زلفې په عذار باندې پرتې دي؟ (۶۶) که سنبل په ګل پراته دي پوړ په پوړ[8]

---

(۱) اوايه = حيا . چه په ځينو عاميانه محاوره وکښې 'وايه' هم ويلې شي
(۲) کيدی شي چه 'ادلايه' د 'ادولا' عاميانه دريې کلمې نه وی د غبرګې په معنا .
(۳) تازيانه = قمچينه ، متروکه .
(۴) د کوړ د پاره چه کومې معناګانې په قاموسونو کښې راغلي دي هغه يو هم دلته سمه نه خوري .
کوړمه = ټبر ، خاندان ، د کور افراد ، بل شکل يې 'کوړمانه' . رحمان بابا وايي :
يوسړی که په کوړمه کښې د چا بد شي وارو بد شي که نيکه دی يا خلور .
(۵) په قلمي نسخه کښې : خه .
(۶) لړه دوړ لو
(۷) کاړ ، د کانونو دان سکلاخ . کوړ دلته د کاړ په محل راغلی دی .
(۸) پوړ په پوړ = پوړ پر پوړ

ACKU

- لکه واچوي ماهي په تاوده ريګ کښې ... هسې زه د يار په هجر کښې سوړ بوړ[1]

1133 دا بناچه د جهان وينې يونسه!

123 عاقبت به يې فنا کاندي درد و ړ[2]

دا زما له اشنائي نام و ننګ کړي ... چه له نورو سره صلح له ما جنګ کړي

هرچه ستا له مخه لاف د تقوئ کا ... د هغو به د ناموس شيښه په سنګ کړي

پابسته شي د خپل حکم له پروازه ... چه په غاړه يې د مينې پالهنګ[3] کړي

په استين به دې محبوب ګرد افشاني کا ... که د کوي په ګرد يې زغري ځان ملنګ کړي

په حلقه زلفو يې بند کړې خلاصي غواړي ... د و تو طمع له کامه د نهنګ کړي

که د بخت هماى دې سيوري په سر و کا ... له محبوب سره به راز په سره پالنګ کړي

په زاري په منت د رنګ راګخه نه کړي ... ته زما عمر يې کله به ته د رنګ کړي

ته چه چين په جبين وو هې و ماته ... په هغه زمان جهان را باندې تنګ کړي

1142 تېر ساعت په بېرته را نه شي يونسه!

124 که دا تور بانه د زړه په وينو رنګ کړي

اى باد شاه د حسن خير په مفلس کړه! ... د سخا نامه مشهوره په اولوس کړه!

په قهقهه راته په سپينه خوله و خانده! ... سرافراز مې د عشاقو په مجلس کړه!

---

(1) پريشانه، لوليه، سوی سخی.

(2) درې ورېږ.

(3) هغه لرګی چه د حسي يا کښې غاړې ته اچول کيږي چه د تښتيد و نه يې منع کړي.

ACKU

ستا نظر مې زخمي زړه له مرهم دی — لړ په مهر راته وا چشم نرگس کړه!
د سخي و مهرداد وته نظر کړه — ته هم خوی د وفالي په دا جنس[1] کړه!
د جفا سطره د زړه له لوحه حک کړه! — وفا زده کړه د احسان له مدرس کړه!
لړ پر تو (دې) جهان وخ ته وشه — خلقه دې و دیدن ته په حرس[2] کړه!

١١٤٩ (٦٧) ١٢٥

چه د خدای د پاره نه وي نور یې څه کړي
ښه چه ما ته د ریا توبه یو نس کړه

که بخوا په نور و کښېنلیو مینې چا کړي — ستا په عشق یې د هغو مینو تنشا کړي
غنچه څه نسبت لري له[3] خولو د کښلیو — خولې یې ماتې پر وهل باد صبا کړي
سر مې ستا د ښه دیدن شکرانه کړي — ځگي ځگي که سر واخلي دیدن را کړي
له رقیبه د احسان امید و مه کړه! — یې هوده له د ښه طمع د وفا کړي
د نصیب په برخه صبر کړه قانع شه! — په حرص مدعا غواړې، څه بلا کړي؟
که رښتیا د عاشقی ادب زغوري — په ښه بوبه و معشوق وته دعا کړي
په طریق د روند رفیق باید دي — وي چه خپل اخلاص و یار و ته پیشوا کړي
چه په مرګ سره له خلقه جدا کېږي — مرد هغه یې که په ژوندیې جان جدا کړي

---

(۱) جنس د (ن) په سکون دی، دلته د قافیې په رعایت مجبور یو چه (ن) په حرکت یې ولولو.
دلته یې معنا: په دا دول، په دا رنګ.
(۲) د (حرص) اړولی شکل.
(۳) په قلمي نسخه کښې: کاد.

ACKU

۱۲۶ — کهٔ صورت لرې آرام غواړې یونسه! — ۱۱۵۸

دَ قسمت په لړ وده پر به ځان رضا کړې

وعاشق ته دَ هجران خبرې مه کړه — وبلبل ته دَ خزان خبرې مه کړه!

چه مې یار یکښې یادېږي هغه وایه — یو زمان لې دَ بل شان خبرې مه کړه!

شرمنده به شي زما دَ یار تر شونډو — په مجلس کښې لې دَ پان خبرې مه کړه!

ته چه نوم دَ رقیب اخلې زهیر پر مر — نور وما ته دَ شیطان خبرې مه کړه!

رنګارنګ ګل مې دَ یار په مخ کښې شته دی — تش دَ ګلو دَ بوستان خبرې مه کړه!

دَ بېدرد له عاشقۍ بهره نشته — ومو زي ته دَ پېزوان خبرې مه کړه!

کهٔ په وژله مې رضا لرې قاصده! — نور وما ته دَ جانان خبرې مه کړه!

عاشقان لې دَ دیدن په میو مست دي — وبېخود ته دَ جهان خبرې مه کړه!

۱۲۷ — ستا په غم به خوشحالي کاندي یونسه! (٦٨) — ۱۱٦۷

ورقیب ته دا رمان خبرې مه کړه!

برندو ستر ګو دې چې زخم دَ جنګ راوړ — ما په زړه ستا دَ مژګانو خدنګ[1] راوړ

ستا وجنګ ته مې تا بیه[2] دَ پناه نشته — له جوشن[3] مې په یو ځله ننګ راوړ

ما دَ عشق په سوز ګدا زکښې انباز[4] نه لید — دَ پېغور دوېر خبر پتنګ را وړ

---

(۱) غشی.
(۲) دا (تعبیه) مغفر. شکل.
(۳) زغره.
(٤) ساری، مثل، همرنګ.

په اول يې تن طعمه د نهنګ شماركه | غواص ځکه د رله بحره په چنګ راوړ
د ګمان موتی(۱) يې كښېناستې په زړه كښې | غافل زړه له صفايه په زنګ راوړ
موانع دې پيك نه ځي د يار را انو | د دلبر ځواب يې ولې د رنګ راوړ

۱۲۸ زه يونس به د هسيار حلقه بګوش يم ۱۱۷۴
كه يې بخښه ستا د پوزې لونګ راوړ

زړه به هله د غفلت له زنګه روڼ كړې | كه د غير شنوالي وته ځان كوڼ كړې
په عمل كښې اخلاص هسې معلومېږي | لكه خلط له بسه طعام سره لوڼ(۲) كړې
په ريا به دې طاعت تقليد لېده شي | لكه ګڼه چه له زعفرانو سره توڼ(۳) كړې
د دنيا نازك قرار و ربانديې نه كا | ستا د ارخ(٤) پوزې نشتر خوب به بوڼ كړې
بې قضا به د غليم و بنسته غوښ نه كړې | كه يې دك په تېرو غشيو لكه شكوڼ كړې
په بندګه كښې د وسواس ګډه ونه كړه! | چېرې نه وې د طاعت غلې پر كوڼ كړې

۱۲۹ قناعت به دې هله ګورم يونسه! ۱۱۸۱
كه ته پوزه د منت په جامه سوڼ كړې

ځان ګوشه د دې عالم له شور و شر كړه! | په خپل زړه كښې ننداره د بحر و بر كړه!
هېڅ اثر د پيوستون تر(۵) لېده نه شي | په تحقيق و خپل پردي وته نظر كړه!

---

(۱) زنګ، خيره.
(۲) ؟
(۳) ؟
(٤) په قلمي نسخه كښې: اړخ
(۵) " " " : تش

ACKU

د رندو[1] وگړو په منځ چه ورگړ شي — ته هم ځان د دوی په سیمه کوږ وکړه!

اوس سیالي په اصل نسل له چانه شي (٦٩) — د سیالۍ لاف له سیال سره په زر کړه!

هوښیاري تر حده پوره قباحت ده — که آرام د صورت غواړې دږگز کړه!

ژوندي سرله به سار دستار یافت شي — راشه غم د دستار پرېږده غم د سر کړه!

اوس عالم په عکس کار کاندي یونسه!

١١٨٨ — ١٣٠

د نیکۍ په ځای بدي خلقو هنر کړه

چه په یار باندې مین شوم له اغازه — رقیب شه زما په عشق باندې ناراضه[2]

که له اصله یې قصه درته بیان کړم — د بیان قصه یې ده دور و دراز ه

محتسب تو ده دُرّه په ولي ورکړه — د مسجد یې ادب رانه غی له بې نمازه

چه عاشق د معشوقې په ثنا کېښووت — معشوقه شوه په جهان بلند اوازه

که په تیر سو شپیته تار تن رباب دی[3] — نه غږېږي بې دمیني له شهبازه

ستا صورت څو نسو خلو خلو پښت تختې دي[4] — ته خبر نه یې له دې خپله جهازه[5]

د ادنیا لکه دریاب اجل نهنگ دی — یوه ورځ به سا زجهاز کاندي ناسازه

بې له عشقه چه جاوید کان دولت دی — نور زړه ستون کړه د هر لوري له پروازه

---

(١) په قلمي نسخه کښې: دېرندو.
(٢) د ناراضه اړولې بڼه.
(٣) تیر سو شپیته؛ یعنی: درې سوه شپیته، ٣٦٠ - د پخوانو طبیبانو به ویل چه د انسان په وجود کښې درې سوه شپیته رگونه (ورید وینه او شرائین) موجود دي.
(٤) څو نسو خلو خلو پښت، یعني څلور سوه څلوېښت، ٤٤٤ - د پخوانو طبیبانو د وینا له مخه بنیادم ٤٤٤ هډوکي لري.
(٥) په قلمي نسخه کښې د جهاز.

ACKU

د ریاد حمل مغز د معنی نشته — بې له پوسته نور څه مه غواړه له پیازه
د عاشق له لورې نیاز د معشوق ناز دی — عاشقي معشوقي ده ناز و نیازه

۱۱۹۹ — ۱۳۱

چه عیسی موسی په لاس د یونس شته دی
سر و نیزه څنې وساته غماز ه[1]

مه کوه نرگسه په دا خپلو سترګو ناز — ناز له ده د تور و سترګو چې بانه دراز
مخ زما د یار په شپه ز یاد انجمن دی — شمعه له د غم رشکه صحا کاندې ګداز
یار له ده بنا یږي که په ناز له ما ګرزکا — زه به سر ده په پښت پای بدم له نیاز
ساز که زمانه له عاشقانو سره نه که — باری عاشقان د زمانې سره که ساز
ستا د لور صبا زما له او ښیو سره مل شو — د وار و مې رسوا کا پر عالم د مینې راز
خاق چه پیدا شه ګډ د مینې په غوغا شه — دا زمان لې نه دی ګډ [د] په ملک د عشق آواز

۱۲۰۶ — ۱۳۲

څه به یونس د وب وې ستا د هجر په دریاب کښې
والي خانه دلبره د خپل مهر په جهاز[2]

چه له نازه سره اخلي د خوار نیاز — خدای دې کاندې د هغه عمر دراز
څه لوی چې په تواضع له چا نه ندي — سلیمان له خوار مېږي سره کړ راز
که په ورځ د بادشاهي په بند و بست و — د ستر شپه وې په زاري په سوز ګداز

---

(۱) د مذهبي آثار و د روایاتو له مخه حضرت موسی علیه السلام په وړوکتوب کښې د فرعون په کور کښې لوی شوی دی والي کله چه فرعون، ماشوم موسی په غېږ کښې نیوه نو موسی د فرعون د ږیرې سره لوبې کولې او په پای کښې موسی د فرعون د سر خطر شو . د غه بیت ما ته معما ښکاري . د ګرانو لوستونکو توجه غواړم.

(۲) په قلمي نسخه کښې : مجاز .

دا دنيا لکه دریاب اجل نهنګ دی — خوبه جوړ څني ساتي د تن جهاز[1]
يوه ورځ به که دا جهان[2] د ریې وړی — بيا به نه شي تر قيامته پورې ساز
د دنيا په مخ هيڅوک نه پاته کیږي — پاته کیږي ترې د نېک و بدا واز
سر لوړي په ښو خوي نو مونده کیږي — په بدي سر هیڅوک نه دی سرافراز
د ریا د اشنايي مغز نشته — سراسري واړه پوست دی لکه پیاز

لکه کرمه پر امید او سه یونسه! ۱۲۱۵
۱۳۳ بندګانو له نشته[3] بنده نواز

عاشقي یې ورک رسوا کړم خوار هنوز — لا نظر را باندې نه کړ یار هنوز
په انزوي یې لکه تار هسې نری شوم — لا یې نه موم د زلفو تار هنوز
په سل واره یې د هجر رنز مېز کړم — لا یې نه راځي د وصل وار هنوز
په رخسار کښي مې د اوښو لارې ګوره — لا یې نه موم د وصل لار هنوز
يو یې غم د جدایۍ ناقرار کړم — بل په سر د تهمتونو بار هنوز
په امید مې ځان په لب راغی (٧١) — سر مې نه کړ ستا د لبو ښکار هنوز

زه یونس درته فدا په دل و ځان یم ۱۲۲۲
۱۳۴ یار مې نه ګڼي د سر په شمار هنوز

(١) په قلمي نسخه کښې : مجاز .
(٢) " " " " : "
(٣) " " " " : نشته .

ACKU

په هجران هسې جگر مومي گداز — لکه موم په اور د نر مومي گداز
هغه اوښې لې د روڼه د مقصود شي — چه په آه يې د زړه سر مومي گداز
عاشقان يې د رسته شپه نفي بيايي — په اثبات يې زړه سحر مومي گداز
او به ځي په نرمايي نه په کاڼي — په کوښښ به بختور مومي گداز
د مقصود کالي هله وړ ځني روغ شي — چه په جوش د خم کښې کور(۱) مومي گداز
سلامت شکست يې دواړه پر لذت دي — له اوبو نه که شکر مومي گداز
د قابل گوهر عزت په خوارۍ نه ځي — سره تر شي چه صاف زر مومي گداز

ديونس صبر د يار له مخه ورک شي
په افتاب د موم سپر مومي گداز

که څوک وکاندي له زړه سره تميز — نه د نيا د آبروشي(۲) ده نه يې څيز
په زمان د جهان دوړه به بل پېر شي — عزيزان د جهان خوار شي، خوار عزيز
شنه طوطيان کريږي وهې ليدي په ارمانه — چه زاغان په ونو گرځي خوري ميويز
که غنيانو څخه قرب د سخاوت واي — سپو د ربانو به يې نه ساته دهليز
چه نه خوري نه يې بخښي د خداي په لوري — هيز به وژاړي په مرگ د هغه هيز(۳)
کمينه مرغه دانه له ميږي اخلي — غل نامرد له خواره را پېري پيشيز(٤)

---

(۱) کور = انگور.
(۲) په قلمي نسخه کښي : د برووسی.
(۳) هيجړا، هيزک، مخنث.
(٤) توره پيسه.

ACKU

ترنصیب زیاتې د ستنې ترسیم[1] نشتر — ناصبور په زور سینه وهي لخریز[2]
غیر خس وخاشاک وار ترلاهوکا — په هر زره باندې چه راشي د عشق نېز[3]

۱۲۳۹ (۷۲) د هر مخ په ښکارېږي مه پرېږده یونسه!
۱۳۶ چون[4] ساتلی باز د عشق خانه کریز[5]

که نه غوږ باسې زما په التماس — په مدد د پرېوتلي وکړه[6] لاس
په حدیث کښې د نبي د خولې خبر که — د مظلوم یارې ثواب دی بې قیاس
دیقین په پیروی شر که د انابې — وسوسه متابعت ده د خناس[7]
چه فایده یې اخرت لره جارې ده — نه بنیاد کړه د هغې چارې[8] اساس
د مقصود مونده نه یې ضرورت نه د — سره اغزي ترګله اوسې چپ[9] وراس
بهترین د سړو کوم دی په دنیا کښې؟ — والي: خَیرُ النَّاسِ مَن یَنفَعُ النَّاسَ[10]

۱۲۴۶ شاعرې اسانه چېرې ده یونسه!
۱۳۷ ښې خبرې د ر پیدل دي بې الماس

هر چه کښېوت ستا د مینې په قفس — د بل لورې له هوسه وکه بس

(۱) په قلمي نسخه کښې : سوم. (۲) خریز : د مار غه د مېښو کې څوکه ، د ازغي د تېرې څوکې لوونکې ځېز ، د پېښې ، ګنې ، جوار او نور و د بېلوند ور وستنه پاته بچونه او بچونه چه تېره څوکې لري او (ختې او بچنګې (د بېغ د کې)) هم ورته وایي.
(۳) نېز = سېلاب. (۴) چون = یو کلن باز . په قلمي نسخه کښې : جوز.
(۵) کریز = د مرغانو بنکي عوړځول. (۶) په قلمي نسخه کښې : په کړې . (۷) د قرآن شریف وروستي سورت "الناس" کښې د "خناس" په باره کښې ویل شوي : الذی یوسوس فی صدور الناس من الجنة والناس ؛ یعنې هغه پیریان او بنیادمان چه د خلکو په زړونو کښې وسوسه پیداکوي . (۸) په قلمي نسخه کښې : جارې (۹) چپ او راست = کین او ښې .
(۱۰) حدیث شریف دی : خیر الناس من ینفع الناس . د خلکو غوره هغه دی چه خلکو ته ګټه رسوي .

ACKU

که په خوده شاه جهان د زمانې وي ‌‌ ځان دې ګڼي د یار د کوڅې خس

لا دې اوس و عاشقۍ ته هینه نه که ‌‌ که له یاره به جار و ځې پیش و پس

چه یې عشق زده کړی نه دی وصل غواړي ‌‌ د کعبې احرام تړل دي بې اودس

مفلس وړاندې شي د قارون د ګنج په طمع ‌‌ مهتاب کله دی کښل[1] کړي بوالهوس

لوړ په لوړ یې قافلې ترتا تېرې ږي ‌‌ په غوږ کوڼ شوې له فریاده د جرس

د ګمان تکي په قد د الف مه ږده ‌‌ چه یو ځان په خود بیني کښې شماري لس

که مهجور په مرګ راضي دی ګرم یې مه کړه ‌‌ بې له یاره پر الماس دی هر نفس

مردکی په ګنبذ درناک نه کا یونسه!

۱۲۵۵ ‌‌ ۱۳۸

د هېچا په پند به نه شي ناکس، کس

د بل غم به یو په یو وي له هوسه ‌‌ (۷۳) ‌‌ زما غم تر هوس زیات دی یو په لسه

نهایت به د بل غم لره معلوم وي ‌‌ زما غم له عمره سم دره وځي ترپسه

غم اندوه راسره هسې الفت ونیو ‌‌ چه یو دم مې لېرې نه ځي له جوسه

اند پېښېږي د سر خط و ته څخه نشته ‌‌ عاشقان به څه وږېږي له عسسه

هر عاشق چه یې دلبر و کوي ته بولي ‌‌ په رفتن پیاده تېرې کا له فرسه[2]

دارمان لاسونه ځکه په سر مږي[3] ‌‌ چه مقصود د څخه پاته[4] شه مګسه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : کوښل.
(۲) فرس = اس.
(۳) په قلمي نسخه کښې : مېږي.
(٤) 〃 〃 〃 〃 : پاتو.

ACKU

دغفلت له خوبه وينښ شه غوږ ښنوا کړه ... دکوچ مال فرياد به اوري له جرسه
دا رواح جامه دي پاکه ده راوړي ... دگناه په چرک[1] يې مه کړه ملوسه[2]
را شه ځان په محبت سره اېري کړه ... دا تعليم په عشق کښې واخله له ققنسه
رقيبان به له خجلته سيه روي شي ۱۲۶۵
۱۳۹ يار که ونانځي يونس غونډې بې کسه

سم به نه شي د رقيب د عاشق بليس[3] ... له آدم سره کاروان[4] ود ابليس
له نااهله د احسان بدله غواړي ... بقا نه لري د يخ په تخته نويس[5]
غيب دان دي له دروغو نه خبردار وي ... وصراف وته ښکاره دي زرسيس[6]
د هغه مصرف په حال با ندې وژاړه ... چه حاصل يې وي نولس (او) خرچ يې بيس[7]
د ضرور له پېښې[8] مه ځښته که مرد يې ... چه قبا بدله نه کړې په کميس
او به تل په پابوسه د ديوال پرېږي باسي ... وېسا مه کړه د اعداء و په تلبيس
که جدا له يار گرځې نو دې غم دی ... يو د ستوي کونټ وا هم شي د پچيس
صابر صبر وظيفه کړه مرادې يوسف ... په حرص مدعا با يا لوده حريس[9]

---

(۱) چرک = خيرن، ناولتوب (۲) ملوس ، د ، ملوث اړولی شکل = ناولی.
(۳) بلبسول ، بلبسېدل = لږ شانته وږدي کول ، کېدل . ديوخيز بل خيز سره لږ شانته لگول لگېدل . لږ تماس.
(٤) په قلمي نسخه کښې : کاروان. (٥) دلته د کلمې په معنا راغلی دی.
(٦) سيس = قلعي. (۷) د (بيست) لنډيز. (۸) په قلمي نسخه کښې ، وېښې
(۹) د حريص تغير شوی شکل .
حديث شريف دی :
اَلحَارِصُ محرُوم ؛ يعني حريص محروم دی.

ACKU

۱۲۷۴ (۷۴) د قضا په کار کښې فرق یونس نشته
برابره لکه سیس هسې ، نیس ۱۴۰

چه له یاره سره ناست یم په عشرت کښې | هغه دم گڼم له عیشه په جنت کښې
چه په ما یې ښه پېښ نه وي دي وېرېښ شه | خدای دي هر سړی نگاه که په خپل نیت کښې
د وداع په وقت یې سېر په دیدن نه شوم | اوښیو کسی زما پټ کړه په رخصت کښې
د هر چا چه گنج د وصل په لاس کښېوت | تر قارونه به افزود شي په دولت کښې
فراغت یې بې له وصله[1] نه حصلېږي | خوار و زار شوم د هجران په مشقت کښې
ژوندی ځان به اورکښې وسېزي اېږي شي | خه بلا کوي ستي[2] د یار په پټ کښې
چه رقیب دې ورنژدې که عاشق لېرې | تر سرپېږ دې سپي زیات که په عزت کښې
په هجران یې لکه زهر هسې ترېخ کا | د هر چا چه حلق خوږ که په وصلت کښې

۱۲۸۳ د یونس د ژړنې تېغ چه غوڅول کا
ابدال شوي دي د کښلیو په صفت کښې ۱۴۱

سستي مه کوه په کار د عاشقۍ کښې | ها زون[3] مه شه په رفتار د عاشقۍ کښې
بیا هاله به دې رښتیا سمندر بولم | که قرار وکه په نار د عاشقۍ کښې
دیدن یې د سر له نقده مونده نه شي | هسې دود دی په بازار د عاشقۍ کښې

(۱) په قلمي نسخه کښې : وصال .
(۲) د هند د (ستي) یخوالي رسم ته اشاره ده چه د مېړه د مرګ په وخت ښځه هم ورسره ژوندۍ سېزل کېدله .
(۳) ؟

ACKU

چه کردار د عاشقانو په د ود نه که — څه فایده په تش ګفتار د عاشقۍ کښې
له اغز و د جدایۍ به خالي نه وي — چه ګډ یږي په ګلزار د عاشقۍ کښې
لومړی ورځ چه په رښتیا قول قایل وم — هغه شان یم په اقرار د عاشقۍ کښې
لکه مې د محبت په جام کښې وښځي — هومره غم دی په خمار د عاشقۍ کښې
حیراني، بېچارګي تنهـــاګري ده — نور څه نشته په دربار د عاشقۍ کښې

۱۲۹۲ (۷۵) ترمحلک د مشکلات ووځه یونسه ! ۱۴۲
چه سَرَّه شي په قتار د عاشقۍ کښې

چه مې جام د هغه یار له لاسه ښښن[1] — کُلی غم به مې له دله نه پرلېښن[2]
په حسرت چه به رقیب راته نظر کا — لاس په لاس به مې لکه مچ په تندي مښن[3]
که په خوب له هغه یاره خوا په خوا یم — خدای دې نه کا له هغه خوبه ما وېښن
ستا د زلفو تار[4] ترلی هغه ورځ وم — چه دایه مې په قماط[5] کښې بشر[6] بېښن[7]
په خاطر مې ستا ترقد مقدم نشته — په تخته باندې اول شي الف کو ښښن[8]
بنه چه ستا زلفې زنځیر شو را په غاړه — دیوانه به له قسمته چېرته تښښن[9]

(۱) ښښن، د، ښښه پرځای.
(۲) لېښل، لېږدل، لېښن د ماضي شکل.
(۳) مښن، د مښل نخه د ماضي شکل.
(۴) په قلمي نسخه کښې: تا.
(۵) قماط، اوړنی، غنداک.
(۶) په قلمي نسخه کښې: لشر
(۷) له "بېښودل" نخه: بلېږدل، تا وول، نغښتل، ماشوم په اوړني کښې بلېږ!
(۸) کوښښل = کښل، لیکل. کوښښن یې د ماضي شکل.
(۹) له "تښښتل" نخه د ماضي شکل. تښښل = تښتېدل.

گاه تازه په برګ ګل دی ګهې مراوی — دعاشق د صورت پاڼې لکه سرېن

١٣٠٠ دیونس په بر خو غم دخپل اشنا شم ١٤٣
په ازل چه یې د بخرو[1] هسک[2] وکښېن[3]

چه یې کښلي دي پر لوح د جبین کښې — وبنده تر به رسېږي په هر حین کښې

چه د ما یې عاشقي په بخره راکړه — اوس مې څه دي په ارام ویه تسکین کښې

د یار یاد مې هسې کښېناست په ضمیر کښې — لکه نقش چه کښېنلی په نګین کښې

نه د عشق په پرورش زاهد به زهد — محکمې هر څوک کوي په خپل یقین کښې

حیرانېږم یې د حسن و اعجاز ته — ګاه په تور کښې جلوه کاندي ګاه په سپین کښې

په بهار چه شایسته ګلونه زېږي — والي تخم یې هر ویان دي په زمین کښې

وصالت به د شیرینې حاصل نه که — چه کوهکن نه شي د مینې په آیین کښې

په تسخیر د غزال چه مې دلبر دی — ورد مې دی اوه مبین په یاسین کښې[4]

١٣٠٩ ما یونس به پاتو لبدلی نه دی دورایه ١٤٤
لا اول راشنالی په دوه بین کښې

---

(١) بخره = برخه.
(٢) هسک = اسمان
(٣) وکښېن = وکښل، ولیکه.
(٤) په قرآن شریف کښې د (یٰس = یاسین) سورت اوه مبینه لري، یعنی اوه ځایه د (ایاتونو) په پای کښې د مبین کلمه راځي.
د ځینو حاجاتو او مشکلاتو د حلېدو، د مسافر د بېرته په خیر را تلو او نورو د پاره د ورداو وظیفې په توګه داسې ویل شي چه کله قاري اول مبین ته ورسي بیا نو د یاسین سورت له سره پیلوی او دوهم مبین ته ځان رسوي. بیا له سره پسې دریم مبین بیا څلورم، پنځم، شپږم او اووم مبین او د سورې تر آخره پورې بیا دعا کوي. خو ورځې اعیا او ورځې دا ورد تکرار وي. دې ته "د یاسین د سورې مبین ګردان" وائي.

ACKU

چه یې وساته په خپل حفظ امان کښې (۷۶) غضنفر[۱] پر اثر نه که په دامان[۲] کښې

تر هغې ژوندګانۍ مرګ بهتر دی چه یې درست عمر تېرېږي په ارمان کښې

چه په عمر مې یو خوا په خاطر نه وي هغه کار راته څرګند که په زمان کښې

مومنان له کفره وساته خښتنه! کافر راولې له کفره په ایمان کښې

د کرم کومک مې مل په وقت د کوچ کړه! چه تېر نه مړ له شیطانه په سهمان[۳] کښې

د یقین آزادي وبخښه وساته بند مې مه کړه په چاه د بدګمان کښې

د حرص لاس به (مې) کاله ورسپړې د نصیب برات مې پاس دی په اسمان کښې

د زړه کور په عقل علم مُزَیَّن کړه! لکه دوه کسي روښان په دوه چشمان کښې

لکه ذوق د عشق په درد کښې دی یونسه! هغه هومره خوښي نشته په درمان کښې

۱۳۱۸ ۱۴۵

هر دلبر چه دلاور شي په ستم کښې عاشق واچوي د هجر په ماتم کښې

مجبوري له یاره سر ده د غمونو خدای دې نه کا د هیچا عمر په غم کښې

د پاکانو له سګانو سره قصد دی رقیب مه پرېږده دلبره په حرم کښې

بې دید نه ژوندون مرګ د عاشقانو د ماهي پایښت هومره، خو په یم[۴] کښې

---

(۱) غضنفر = زمری.
(۲) دامان = د غره لمنه، دښته.
(۳) سهمان له سهم څخه.
(۴) یم = سیند، دریاب، سمندر.

ACKU

مهجوران چه کتاب وکښلي و یار ته — د سیاهي په ځای خوناب که په قلم کښې
دم قدم که عاشقانو فراموش کا — یادي ته یې په هر دم په هر قدم کښې
صفا زړه به یې احوال د رته معلوم کا — لکه یې څرګند بده په جام د جم کښې
د یار یاد د عاشق زړه هسې روښان که — لکه بل چراغ چه کښېږدي په تورتم کښې

۱۳۲۷ دالې زلفې د یونس د یاره تا وکړې
ازاد زړه پر بند وې په پېچ و خم کښې ۱۴۶

دا زبان د سړي څر دی په کام کښې (۷۷) ذوالفقار د شیر علي[1] دی په نیام[2] کښې
ذوالفقار به یې چې وکښې و کافر ته — بیا به ومري یا به زړ شي په اسلام کښې
ګویا یې د ژبې هم په دوه معنا ده — صاحب لفظ که مشهوره په انام کښې
یا رحمت په سړي والي لوړ د لوره — یا لعنت خو دغه دوه دي په کلام کښې
چه عروس لره ووځي شور شور شي — راز درون سره دی د زړونو په خیام[3] کښې
چه د زړه په رای د خپلې خولې خبر شي — په دا خپله خوله رسوا (به) شي په عام کښې

۱۳۳۴ نزاکت وېل په خوند کاندې یونسه
لکه مالګه چه لذت که په طعام کښې ۱۴۷

---

(۱) د حضرت علي (رض) د توري نوم ذوالفقار دی.
(۲) نیام = تېکه، غلاف، پوښ.
(۳) خیام = د خیمه جمع

په انده وه د جدايي مې زړه نهيل شه ... سرخرويي د وصال لاړه وخت مې بيل شه
په حجاب د دوه يارانو ځادر غړ شي ... مسافت[1] د رنجو ميل راته پوخ ميل شه
يار اغيار پروره وي زما اهداد[2] کا ... مسيحا په نور د وما ته عزرائيل[3] شه
ساقي ستا په مستو ميو مدهوش يم ... زړه مې مرد پوچ گويحه په قال قيل[4] شه
هره ورځ بې د وصال وعده صبا وي ... هر بيان د دلبر مې څرنگه مهيل[5] شه؟
کمينې د دوار و کونواز دي ده ... چاچه خط د بندگۍ ورکړ اصيل شه
دد يدن قحط دې راغی په عشاق ... بې توښې دې ارجمند خلق ذليل شه

د صورت ارام هغه مومې يو نسه!
چه راضي په خپل قسمت کښې قليل[6] شه
د کوچال جرس خبر کوي يو نسه ۱۲٤۲
مسافر دې بار تړي وقت د رحيل شه ۱٤۸

چه پېدا له اشنايي سره هجران شه ... ځکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: مصافت.
(۲) " " " " : احداد ، اهداد = سزا
(۳) څلورمه مقربه ملکه چه د خلکو نه سا اخلي.
(٤) "قَالَ" او "قِيْلَ" دلام په زور د "قول" له مصدره څخه د ماضي مفرد مذکر معلوم او مجهول صيغه ،، قَالَ = هغه ووېل ، قِيْلَ = ووېل شو. - "قال وقيل" او "قيل وقال" اصطلاحاً د بحث، مناقشې، جګړې او غالمغال په معنا راځي.
(۵) په قلمي نسخه کښې د "مهيل" لاندې په نرۍ ليک ليکل شوي دي: مهلت کننده ، او په حاشيه کښې ليکل شوي دي: محيل - حوالت کننده. په داسې حال کښې چه "محيل" د حيله گر او حيلت کننده په معنا دی. او په بيت کښې مهيل او محيل دواړه معنا لري.
(٦) ډېر او لږ.

انجمن د ښو یارانو نوبهار دی — جدا یې وریاندې پېښ وکړ خزان شه
چه په قدر کښې دُرونه د دریاب وو (۷۸) — اوس صدف د هغو دُرو گوهر ستان شه
چه په شرق د اشنایي لکه لمر وخوت — په مغرب د جدایي کښې نهان شه
دا چه باد د جدایي په جهان [کښې] گرځي — له هیبته[1] مې صورت بید لرزان شه
د سکوت قاف به یې څرنګ لیرې کړي؟ — چه په مرګ یې درون بند کلید زبان شه
له رحمانه فیضیاب عبدالرحمان شه[2] — چه له دې سرایه پټ کوې سرای مهمان شه
مرګ سخي د ښو خبرو هسې شوم کا — چه یې یو کلام زړه ښه کړي پر گران شه
چه په ملک یې نام د نېکو شه مرته دی — څه شو دا که په حساب د مردگان شه
په پښتو شعر یې هسې نامه یو وړه — چه خبر یې په اشعار ایران توران شه

په لذت شعر به څوک کاندي یونسه؟!
۱۳۵٤ — ۱٤۹
چه په مرګ ځني خاموش عبدالرحمان شه

مینه دار په دښمنۍ د آدم مه شه! — چه ښېوه په بد خوی کړ له مه شه!
هم وغم لره څواچه نوم یې مرګ دی — په ژوندون له هغه غمه یې غم مه شه!
تر مقصوده پورې لاره پر خطر ده — څو دې یو قدم تر میان دی خوږم مه شه!
په ظالم باندې د خدای لعنت وربېږي[3] — روا دار د جفا جور و ستم مه شه!

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: په هیبت.
(۲) عبدالرحمان مومند، د پښتو ستر شاعر چه په رحمان بابا شهرت لري او یونس یې اخلاص مند شاګرد دی.
(۳) د قرآن شریف آیت تلمیح شوې چه: لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكَاذِبِيْنَ؛ یعنې: د خدای لعنت دې وي پر دروغجنو.

ACKU

د عمل چراغ له کوره د ځان سره وړه[1]! / په لومړي[2] ماښام د ګور په تورتم مه شه!

ستاړي له هنر و نو لوی هنر دی / عیب جویه د عرب و عجم مه شه!

کجروي به دې له لارې وجار باسي / لکه غشی هسې سم درومه خم مه شه!

د قارون[3] له حاله زده کړه کړه دانایي / دلبسته د سیم و زر و درم مه شه!

خم لرګی بې اوره کله سمېدی شي؟ / که له اوره دې صورت ساتې خم مه شه!

قسم مات په مخ تورنو کښې حساب دی / په دروغ دې له چا قول و قسم مه شه!

د نیک خواه وېل د زړه په غوږ واوره! (٧٩) / د مشفق له نصیحته اصم[4] مه شه!

په ژوندون له بدخویه وجار ووځه! / بد عمل دې له ژوندونو سره سم مه شه!

١٣٦٧ یک زبان په وعده راست او سره یونسه!

١٥٠ دوه زبان لکه مختوری قلم مه شه!

سر مې سل ځله تر تا دلبره ځار شه! / ولې هومره درته والم چه مې یار شه!

په دست هم کښې کنار راځه ګرځې / باري یو ځله په هم راکنار شه!

په جهان به دې آواز د نېکو خور شي / د بېدلو د للاري وکړه دلاله شه!

---

(١) په قلمي نسخه کښې: ورسره وه.
(٢) « « « « : امري.
(٣) قارون د حضرت موسی پیغمبر نژدې خپلوان (د روایاتو په اختلاف: د تره، یا خاله، یا کاکا، یا ماما زوی یا...) چه د روایاتو له مخه د حضرت موسی نه یې کیمیا زده کړه او ډېر سره زر یې پیدا کړه. د ډېر مال د غرور له مخه د حضرت موسی نه واوښت. د خپل مال زکات او صدقات به یې نه ورکول او خورا سخت او بخیل شخص و. د حضرت موسی په ښیرا زمکه وچاوده او قارون د خپلو شتو سره پکښې ننوت.
(٤) صم او اصم = کوڼ، کر.

ACKU

په هغه چه ستا خاطر ازرده کېږي — بدله دې ستا زما خاطر ازار شه
چه تر میان د دوو یارانو جدائي کا — واره ببار د غماز دی غماز خوار شه
د ترساو له زنّار[۱] زنهار[۲] غواړه! — په گردن دې د محبوب زلفې زنار شه
زنار عهد دی په نزد د عاشقانو — د غه عهد مې تر عمره استوار شه
سرلوړي له کمینی موندہ کېږي — په خدمت سره يې خاوري د دربار شه!

۱۳۷۶ د وصال شپه يې شب قدر[۳] ده یو نسه! ۱۵۱
په د غه شپه کښې اوده نه شې بیدار شه!

هر بنده چه بندگي کا په اخلاص — د خښتن له عذابونو به شي خلاص
چه شبنم په تواضع تر زمکې راشي — پیاله نر سره په پورته ځي رقاص
که دانالي له نیستي خاک راه شه! — چه قدم د ر باندې پاس ن دي عام وخاص[۴]
د و یاړه له خپله ذاته سره یو شي — هر څوک چه په یم کښي شي الغاص
په اخلاص يې تر طواف پورې ور شه! — هغه غولې چه مکان دی د مناص

---

(۱) ترسا، نصراني، عیسوی، مسیحي هغه چاته ویلې شي چه د حضرت عیسی پیغمبر امت وي دوی یو زري ځنځیر په غاړه
گرځوی چه (زنار) يې بولي.
(۲) زنهار، زینهار = امان، امان غوښتل.
(۳) شب قدر، شوقدر، د قدر شپه، لیلة القدر = د روژې د میاشتې یوه شپه، اغلباً اوه ویشتمه شپه، یا په ټول کال
کښې یوه نامعلومه مبارکه شپه چه په یوه شپېبر کښې يې خدائي انوار له اسمانونو نه په زمکه پر یوځي او وطن ر ناروا وي،
والي چه په دغه شپېبر کښې که څوک هر دعا وکړي، دعائي قبلیږي د "لیلة القدر" په نامه د قرآن شریف یو سورت هم په دې باره
کښې دی چه گویا خدای قرآن د قدر په شپه نازل کړی دی. داسورت داسې پیلیږي: إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ. په پښتو سنان کښې
دا شمیان المعظم قمري میاشت (شوقدر) بللی شي. او هلته په چارسده کښې یو لوی کلی (شوقدر) بولي چه اغلباً دې عقیدې سره اړه لري
(۴) په قلمي نسخه کښې: خواص.

چه قهّار په قهر رابشي یارانو! په لرزه یې لړ دهشته شي خواص
په یوه لوریه واصل په بل مهجور وي

۱۳۸۳ (۸۰) د یونس به لږ چا ورکړ اختصاص ۱۵۲

چه اول یې په هوس کاندې رقّاص بیا به غم تر هغه پس کاندې رقّاص
چه خندا یې په ښادي په غم یې ویر وي په دادواره حال کښې ....[1] کاندې رقّاص
سبکسار د بلندۍ په پایه ګرځي په او بود پاسه خس کاندې رقّاص
تېزاثر دیار د مستو ستر ګو ګوره! چه فارس یې* په فرس کاندې رقّاص
محبت له خپله ځانه او رې بل کا په مستۍ کښې چه قفس کاندې رقّاص
ساربان شتر په دواړه مستانه ځي په کوچ حال کښې چه جرس کاندې رقّاص
هغه زړه چه د اشنا په مینه مست وي په ګوګل کښې هر نفس کاندې رقّاص
محتسب که د رندانو سرود واوري تر مغني[2] به یو په لس کاندې رقّاص

۱۳۹۲ د دانا په نظر ویر کوي یونسه!
که بلبله د قفس کوي رقّاص[3] ۱۵۳

چه دلبره مې په چا نشته غرض که د نور وشته زما نشته غرض

---

(۱) دلته په قلمي نسخه کښې یوه کلمه پاته ده. دا کلمه باید یوه هجا، دوه توري، ولري او دوهم توری یې (س) وي. نه پوهېږم چه (بس) معنا ورکوي که نه؟
(۲) مُغَنّي، د (مغذي، مقوي) په وزن، غناکوونکی، سرودګر، مطرب،....
(۳) رَقّاص خوګه پد ونکی، نڅاګر ته وایي، مګر په دې غزل کښې کله کله د (رقص) په معنا هم راغلی دی.
(*) په قلمي نسخه کښې: فارسی.- فارس = سپور. فرس = اس.

هغه چا چه ستا د لبو خوا ږه نوش کړه — په خوږ و[1] لې د حلوا نشته غرض
ستا د عشق په درد دردمن یم دلبره! — په زړه مې په د دوا نشته غرض
عاشقان دې په خلوت کښې انجمن کا — په سیلات[2] لې د صحرا نشته غرض
ستا د عشق مستان به نور په مستي څه کا؟ — په مدام لې د مینا نشته غرض
په نن[3] لره عیش لې دېر د صبا پرېښو — د ږندانو په نسیا نشته غرض

گیله طمعه لې له خپله اشنا کېږي
۱۳۹۹ دیونس په نا اشنا نشته غرض ۱۵۴

د عاشق په هسې کار نه وي غرض (۸۱) چه په هر څه کښې لې یار نه وي غرض
څه د خدای ملکونه تنګ و ربانه ندي — د پتنګ که سوې د نار نه وي غرض
د جفا هنر دې لېرې که له ځا نه — د دلبر و که ازار نه وي غرض
د طبیب په ورتله کوم پوره نیمګړې — چه دار و ترې د بیمار نه وي غرض
نقد ځان دې د هغه په کف کښې نه وي — چې[4] خرید ستا په بازار نه وي غرض
د بلبل په حیرانۍ دې زاغ رونه شي — چه هر ګز لې په ګلزار نه وي غرض

مګر مست لې زلفې و نیسې یونسه!
۱۴۰۶ د هوښیار به په تورمار نه وي غرض ۱۵۵

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : خواږ و.
(۲) مشاعر د (سیل) جمع په (سیلات) کړې دی.
(۳) په قلمي نسخه کښې : په نن.
(۴) چې ، د (چه لې) مخفف.

ACKU

شپه ورځ دي د نفس[1] په ځان مقراض[2] — غم اندوه دي د هوس په ځان مقراض

نيک بختانو د خواهش په غوږ[3] نيولي — وعظ پند دی د ناکس په ځان مقراض

له غالبه سره کار د مغلوب نشته — شور غوغا دی د جرس په ځان مقراض

لکه غم چه له خاطره هوس سکښي — هسې نه کړه د اتلس په ځان مقراض

د وسوسې په بياتي ولې يقين سکښې؟ — ته يقين کړه د وسوس په ځان مقراض

پاک خاطر په نيش د شک سره ريش مه کړه! — جراحت دی د اودس په ځان مقراض

بې دستې يې توبه ګار که له ازاره — معز ولي د ده د عسس[4] په ځان مقراض

خود له خپله ځانه اوږو باندې بل شي — محبت شه د ققنس په ځان مقراض

ستا و زور ته د يونس قوت معلوم دی

۱۴۱۵ ۱۵۶

ضربه ازميې د خس[1] په ځان مقراض

که په عقل کښې ثاني شي د بقراط[5] — په تالو به[6] حاصل نه کړې ارتباط

په پرده (کښې) د تن بيې د دوا مور ازدی — که تحمل د چا تفريط وي که افراط[7]

له نيکانو وي نيکي . بدي له بدو (۹۳) — پر اثره دی د دوا مر و اختلاط[8]

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : نفش . (۲) مقراض = بياتي، قيچي .

(۳) » » » : غوږ . (۴) عسس = د ښار پيره دار، قوماندان .

(۵) بقراط د لرغونو زمانو يوناني طبيب او حکيم وچه د يوناني طب پلار ګڼلی شي . لومړنۍ څوک وچه په طب کښې يې کتابونه وليکل او اثار يې په شرق او غرب کښې شهرت وموند .

(۶) په قلمي نسخه کښې : په طالو . (۷) افراط په هر شي کښې له عادي حده اوښتل او تفريط په هر شي کښې تر عادي حده پاته کېدل دي چه د واړه بدا و مضر او اعتدال غوره ګڼل شوی دی . (۸) اختلاط = ګډون ، اميزش . په څېنو عادي محاور و کښې دوستانه خبر و اتر و ته هم وايي .

عارف نه که شکایت د چال د جوره — په کلوخ تیر گی نشته د فراط[1]

بې معنو که د صورت په لوېي لوی دی — و دانا وته شیر خوړ دی د قماط[2]

چه په قصد له لوېي لاري نه جار ووځي — روند نه دی گمراه په سم صراط[3]

1422 د نااهلو په مجلس کښې کدورت دی — 157

دیونس ورځنۍ بویه احتیاط

دا چه وعظ په منبر کاندې واعظ! — د عشاقو درد سر کاندي واعظ

دخپل عشق کانه د هیچا ویل ناوړي — خه نلحقه[4] شور و شر کاندي واعظ

په آواز سره اوده له خوبه ویښ شي — نه چه مړه د عشق خبر کاندي واعظ

دی ویل ته نصیحت کیځان حاجي هیروي — په ویل کله اثر کاندي واعظ

دی په خود له راه ورسمه خبر نه دی — په خدځان د بل رهبر کاندي واعظ

نصیحت چه له غرضه خالي والي — پند به هله نهره ور کاندي واعظ

تهك په بنو ویلو بل غولوي یونسه!

1429 چیرې نه چه بازي در کاندي واعظ — 158

د بېدلو نې دلداره نه شي حظ[5] — د بلبلو نې گلزاره نه شي حظ

---

(1) فرات په عراق کښې دیو سیند نوم دی. دلته شاعر د قافیې په رعایت (فراط) لیکلی دی.
(2) قماط = اوړنی.
(3) صراط = لار.
(4) په قلمي نسخه کښې: تحفه
(5) حظ = خوند، لذت.

ACKU

ستر ګي کله چي ديد نه خوښي مومي — د ښکاريانو چي له ښکاره نه شي حظ
د ښه مخ ديدن د عشق په نقد پېړه! — د تش لاسي له بازاره نه شي حظ
د رانده د يار له مخه بهره نه وي — د کانه چي له ګفتاره نه شي حظ
سروه ستا (الدينه)[1] خرامه صد قدرشه — ستا په شان چي له رفتاره نه شي حظ
زړه مي چي د ستا له زلفو قرار نه کړه — د غريب چي د خپل د ياره نه شي حظ
که د حافظ په حورو په قصورو وي
۱۴۳۶ (۸۳) د يونس چي له ديداره نه شي حظ ۱۵۹

کعبه وي د فلک جمله اوضاع — له کعبه وه نور څخه نشته چي نزاع
د فلک ګردش و خلقو ته معلوم دی — چي ضرره، چي دعوی، (چي) انتفاع[2]
د بنده په تدبير و نو پورې خاندي — د تقدير هسي کار وندي ابداع[3]
هغه واوره! وي وتاوته له غيبه — چه هر ګز دي چېرې نه وي په سماع[4]
په صراف ته او خپل نقد سره کړه — په سره ثمن[5] به بيا مومې متاع[6]
د خښتن و دا ته پور ته کړه لاس نه — پناه خواه شه له امراضه له اوجاع[7]

(۱) په قلمي نسخه کښي د غه ځای سپين او ګرول شوی دی.
(۲) انتفاع = ګټه اخستل.
(۳) ابداع = نوی پيدا کول.
(۴) سماع = اورېدل.
(۵) ثمن = قيمت، هغه پيسه چه د يو شي په مقابل کښي ورکول کېږي.
(۶) په قلمي نسخه کښي = مطاع.
(۷) اوجاع د (وجع) جمع، وجع = درد.

ACKU

چه له غمه پيښې روندنه شې يونسه!

١٤٤٣ اوښې څه دي د يارانو په وداع[١] ١٦٠

چه يې کښېښو په سينه دمينې داغ. — په هغو باندې حرام دی نور فراغ

د مجنون تعليم مې واخست له استاذه — ببل له خلقه ديوانه گرځې په راغ

د قارگه[٢] د گل له بويه سره څه دي؟ — په جهان چېرته مرداره هلته زاغ

ښايسته لره له نازه سره زينت دی. — زشت رويانو لره نه ښايي دماغ

ښتا دمخ تر روښنائی حسن دغيرو[٣] — په ر وښانه ورځ معلوم دی بل چراغ

څو دخور قدح[٤] په کف دفلک ښتر دی — هومره وه دې ساقي! [د] ښتا په لاس اياغ[٥]

حاسدان په خپل حسد کښې رنځوران شوو

١٤٥٠ زه يونس د يار له ذوقه چست وچاغ ١٦١

دامستي لره دحسن له اياغه — ځکه نه گورې وچاته له دماغه

ښتا بهار لره افت دخزان مه وه! — د دوه گلو داد کوه د ښتا له باغه

په وصال کښې چه دې باد[٦] دهجر[٧] راشي — (٨٤) په راحت کښې مې خاطر شي نه فراغه

---

(١) وداع = خدای په اماني.
(٢) قارگه = قارغه، کارغه، کارگه، زاغ.
(٣) په قلمي نسخه کښې : غنيرو.
(٤) خور = لمر، خورشيد. قدح = پياله.
(٥) اياغ = پياله.
(٦) په قلمي نسخه کښې : باد.
(٧) " " " : وصل.

ACKU

دلبران په جهان شته که عاشقان دي؟ طبيبان چېرته ملهم کښېږدي بې داغه
داستاد له پېروېه به استاد شي لکه څوک چه چراغ بل که له چراغه
طوطي بند شه په قفس کښې مېوه خوري کجروي د فلک راسته شوه له زاغه

پټ به څوک ګرځي د ميني غله يونسه!
١٤٥٧ ١٦٢
جدايي به دې پرې نه ږدي بې سراغه[1]!

راشه ځان په هسې کار کړه مشرف چه د نېکو نام دې ځي په هر طرف
له روزګار دې همګې په صلح کار شي بشارت، وَلَا تَحزَنْ، وَلَا تَخَفْ[2]
د مرګ لښتي بې ناګاه په سر ولي هر بنده دى د قضا د تير هدف
چېرې نه چه دين بدل په دا دنيا کړ نابينا به دُر بدل کا په خَزَفْ[3]
ځيني در په غَوَّاصۍ له بحره راوړي ځيني راوړي له دريابه کف په کف[4]
دُر دى غاښ د خولې صحبت په وښکه درکه د نېک خواه له کوره ووځه ناخلف[5]
د مګس په دود به لاس په تندي مږي که ژوندون دې نلراده که تلف
جاهلان بې خورد وخواب نور څه نه که واويلې[6] دي د څارپايو په علف

---

(١) په قلمي نسخه کښې: صراغ.
(٢) د قرآن شريف آيت تلميح شوى دى، ولا تحزن ولا تخف، يعني مه خپه او سه او مه دارېږه !!
(٣) خَزَفْ = کودرۍ، سفال.
(٤) لومړى، کف = زګ، دوهم، کف = دلاس ورغوى، لاس.
(٥) نا خلف = وران زوى چه د پلار د زوى ولحه لياقت نه لري.
(٦) په قلمي نسخه کښې: واه ولې.

۱٤٦٦ چه یونس دې په دیدن پسې سایل که
سپی غماز به پرې کوي شور و شغف ۱٦۳

لا رمې کړه ژوره ستاد غولي په طواف — غږ وکړه دلبره! حج قبول! ګنا معاف![1]
ملک د عاشقانو ستا د هجر له سختۍ — ژوندي په معنا کښې ستا په مهر په الطاف
کله به دلبره ستا د هجر روژه ووځي — څو به ګوښه ناست یم ستاد غم په اعتکاف[2]
مخ د رقیبانو چه څرګند شي قیامت دی — خدای دې تل پناه لري یاجوج تر کوه قاف[3]
حکه عاشقان په شپه وتلي کړه ستاو کوڅې ته (۸۵) — وروځ ده پرده د ره شپه د دښت جهان لحاف[4]
بد دې د بدانو له صورت سره همراه وي! — تا دې خدای موصوف لري د نیکو په اوصاف
مخ لکه مهتاب و بیدلانو ته څرګند کړه! — ستا تهمت پرې والي رقیبان د هر اطراف

۱٤۷٤ د برګوره یونسه! د دلبر و سنګلې مخ ته
نشتر په دیدن د دلبرانو کښې اسراف ۱٦٤

په ځواني د عمل وکاره تعریف — د بهار ګلونه نه شي به خریف[5]

---

(۱) خلک والي چه کله حاجیان په عرفات ودرېږي نو هلته د خدای له خوا د حج قبول! اواز شي.
(۲) اِعتِکاف هغه دیني ذهني او جسمي عبادت ته والي چه د روژې د میاشتې په لسو ورستیو ورځو کښې په پرله پسې توګه سړی په جوماتـ کښې ځای په ځای ناست وي. پر ته د اودس ماتې د وخت نه له جوماته نه راووځي او په جوماتـ کښې هم د دنیایي خبرې نه کوي. د روژې په پای کښې اعتکاف خلاصیږي.
(۳) په قرآن شریف کښې د (یاجوج وماجوج) کیسه راغلي ده چه په نړۍ کښې مفسد خلق دي او ذوالقرنین د دوی مخې ته لویه د یوال وهلی دی... خلک والي یاجوج او ماجوج د قاف د غره (کوه قاف) نه آخوا ته دي.
(٤) لحاف = برستن.
(۵) خریف = د منې موسم، خزان.

لا د مرګ پخوا په زړه مړ د تو بنې شه ! — د کوچال په ګرېږه نه کېږي تصحیف[1]
د خپل اصل وبېخ ته دې نظر کړه ! — نالایقه چار دې نه کاندې شریف
په تهمت به وعالم ته نشا نه شي — هر سړی چه مُصَنِّف شي د تصنیف[2]
د مظلوم له ژړا ترس د ظالم نه شي — سناکې به خوله کې پړاو به نه کاندې لطیف
په مشکل به یې څوک مددګار نه شي — چه د چا (وي) د مشکلو زړه کې تخفیف
له تالوسه د عقل سمی نه شه — د احمقو نفري[3] کاندي ظریف

۱۴۸۲ دیونس خاطر له غمه پیمانه شه
د احوال ویلو نه وینې حریف ۱۶۵

کشکې ستر ګې په هنر سپړلې خلق — او عیبونه د عالم نغرلې خلق
نرنحق[4] په پردې وېر محزونه شنیکا — لو زمان نه شي خپل ځان ژړلې خلق
بې له مرګه به خلاص نه شي راپه هسې — په نخیر د بدګمان ترلې خلق
شیرین عمر په عبث وخندل وهي — په تندي د ارمان لاس موږلې خلق
نژد یکت لې نفع نه لري لې زیانه[5] — پر شدت شه په بلا[6] ترلې خلق

---

(۱) (کوچال) په دې دیوان کښې خوځایه د (کوچ وبار، لېږد) په معنا راغلی دی او (تصحیف) بله معنی هم لري ؛ مګر دلته د مُصْحَفْ (قرآن) لوستلو یا لیکلو معنا ورکوي.
(۲) په عربي کښې وائي : مَنْ صَنَّفَ فَقَدْ اِسْتَهْدَفْ = چا چه تصنیف وکړ ګویا چه (د تومتونو او تنقیدونو) نخښه وګرځېده.
(۳) نفري = نوکري ، غلامي . اوس هم په دري ژبه کښې ، د نفر ، نوکر او نفر اصطلاحات په همدغه معنا شته.
(۴) نرنحق ، په پښتو کلاسیکو ادبیاتو کښې د ېړاخې د (برنا حق) په معنا .
(۵) په قلمي نسخه کښې : زیانه.
(۶) " " " " : پلا

ACKU

درحرص زهر لیجي په درست صورت کښې — په خاطر د طمعې مار خوړلي خلق

د خپل ځان غمونه نه کاندې یونسه!

۱۶۶ ۱۴۸۹ (۸۶)

بې هوده د نورو غم خوړلي خلق

چاچه کښېښو خپل قدم په لار د عشق — پر تندي د تهمت واخلي بار د عشق

جاویدان لره بې نام د میني پر ښېښو د — چه تن وسوځي پروانه په نار د عشق

منصور یو ځله په دار شو ځان یې خلاص کړ — وعاشق وته ولاړ دی دار د عشق

ترقیا متره کړي کړ تمام به نه شي — هر سړی چه نن بنیاد که کار د عشق

د آهو پر نیوه خپل زړه ځني ولاړ شي — څو لکه چه دوه سترګې لري په ښکار د عشق

په خرقه پر کند کښې جم یا سکندر وي — په عزیزه سترګه ګوري خوار د عشق

هغه دم چه مې په ګل مینه پیدا شوه — هغه روح مې په زړه مات شه خار د عشق

له دلبره ګردن تاب مه شه یونسه!

۱۶۷ ۱۴۹۷

چیرې نه وي چه وشلیږي تار د عشق

هر چه مل کاندې له چاسره توفیق — په اسان مشکل کار ونه شي دقیق

په اخلاص و بندګی تر غاړه کښېږده! — چه خښتن دې له عذابه که عتیق [1]

هر چه وایي د مشفق قول صحیح دی — په یقین یې په خاطر لره تصدیق

---

(۱) عتیق = ازاد ، زوړ . دلته د ازاد په معنا .

دیقین پر بلندۍ باندې ونه خوت — مشرب د وب که د گمان بحر عمیق(۱)
که قدم له لوېې لارې غلط نه بدې — رونده نه دی گمراه په سم طریق(۲)
یو زمان دخدای په یاد تر شاهۍ به دی — په باور سره کړه دا نکته تحقیق
سبه د بنو متابعت که بد د بدو — پیروي د خپل مذهب کا هر فریق
د دانا خاطر د فکر په تال زانگي — هسې نه لکه نادان په مَنجَنِیق(۳)

۱۶۸ — ٨٧ — ۱۵۰۶

دهجران په شپه تنها له نوره خلقه
د یار غم دی له یونس سره رفیق

په دنیا مینه شهره شوه په آفاق — چه په عشق و بدنامۍ کړ نور عشاق
د معاش په غم دې عیش مُنَغَص(۴) که — په قسمت قانع شه! قُل هُوَ الرَّزّاق(۵)
د مخلص بنده دا هسې اوضاع نه وي — چه له دره د خښتن غواړي اباق(۶)
زید و عَمر(۷) په یوه کور کښې نه جوړېږي — د خاطر په ملک کښې مه پرېږده نفاق
ستا د شوق قصه به وارو وسکوی نه شي — که کاغذ شي د اَشجار(۸) واړه اَوراق(۹)

(۱) بحر عمیق = ژور سیند.
(۲) طریق = لار.
(۳) شکنجه.
(٤) په قلمي نسخه کښې : منفس . چه معنا نه ورکوي . مُنَغَّص = بې خونده ، خراب....
(۵) قُل هُوَ الرَّزّاق ؛ یعنې : ووایه (چه) هغه (خدای) ستر روزي ورکوونکی دی.
(٦) اباق = تېښته.
(۷) زید او عمر عربي نومونه دي چه د عربي ژبې د کلاسیک گرامر په مثالونو کښې زیات استعمالېږي.
(۸) اشجار ، د ، شجر جمع . شجر = ونه.
(۹) اوراق ، د ، ورق جمع . ورق = پاڼه.

ACKU

رسمي او به وهغوته سهل تر شي
چه خبر وي څوك د هجر په احراق (۱)

که جفا دې وپان يې پېښه نه وي
په تېشه به فرهاد نه واهه طاراق (۲)

د جنت براق به کله سواري درکا
چه شهسوار نه يې د مينې په براق (۳)

د هوس سنبېسنې به څه شکل ماتې نه کړه
چه مې غم په کانيو ولې د زړه طاق

که اول دې اشنائي نه کړای يونسه!
په اخر به له تا څه غوښتل فراق؟

۱۶۹ ۱۵۱۶

په خاطر مې نوبهار دی ستا له عشقه
که راحت دی که آزار دی ستا له عشقه

نه يو زه دستا په مينه کښې رسوا يم
شور و شر په هر دیار دی ستا له عشقه

روغ عالم بې غمه خوب که تر صباحه
د دردمنو آه کوکار دی ستا له عشقه

تر يو ځل د خپل وېښتلي خبر واخله!
چه فریاد که دل فګار دی ستا له عشقه

څه مسجد، څه میخانه، څه خلوتونه
په هر بزم کښې ګفتار دی ستا له عشقه

شين لوګي به يې آهونه تر خوله خېژي
په دروڼ کښې چه څرنار (۴) دي ستا له عشقه

پتنګان د پتې خولې په اتش وسوو
د بلبل دایم چغار دی ستا له عشقه

غافلان دې د غفلت په خوب اوده کړه
دلداده عاشق بیدار دی ستا له عشقه

---

(۱) اِحراق = سېزل.
(۲) تالاق = د سر ګکرې.
(۳) براق: د اسلام د پیغمبر حضرت محمد (ص) د هغه آس نوم دی چه معراج ته پرې تللی و.
(۴) دلته (څرنار) يعني (څراور) سره معنا ورکوي او که يې (څنار = چنار) کړو هم معنا ښندي.

ACKU

۱۵۲۵ زه یونس له هره غمه په قرار یم (۸۸) ۱۷۰
وار غم راته د چار دی ستا له عشقه

له مامه نغاړه د ښکلي مخ ورق — هر ښېرن ده خال و خط یې لولم په سبق
هغه خوله چې په دغه سبق مشغول شو — په بل کار یې مینه نه کېږي بیخي مطلق
وعاشق و ته تسلیم د فدامه کړه! — چراغ به خود په صبح خرخ کړه خپل رمق[1]
د ایام په شهسوارۍ فراغت مه شه — او ږمېږ و نه ماتوي توسن ابلق[2]
د انجام له حقیقته خبر نه یم — د رجا خوف[3] تر میان یم معلق[4]
د فنا په توره لمر نما بسم شهید که — فلک حکه سره لمن دی په شفق
د عالم په نظر پر خه څرګند ږي — ګل له شرمه ستا د مخ پر ښن دی عرق

۱۵۳۳ د منصور وحال ته وګوره یونسه! ۱۷۱
ته په دل[5] د اَنَا الْحَق کړه هُوَ الْحَق[6]

که دې درست عمر ثنا کاندي مخلوق — په هیڅ رنګ به دې ادا نه کړه حقوق

(۱) وروستی سلګی.
(۲) ابلق = برګ، مطلب تور ورځ او شپه دی.
(۳) وایي چه ایمان دوبرې او هیلي ترمنځ دی. اَلْاِیْمَانُ بَیْنَ الْخَوْفِ وَالرَّجَاءِ.
(٤) ځوړند.
(٥) په زړه.
(٦) انا الحق = زه حق یم. هو الحق = هغه حق دی. دا بیت ذو معنیین دی، یعنی د دوو معناوو خاوند دی، په دې توګه چه د منصور حال ته وګوره هغه اَنَا الْحَق ویلی دی، ته هُوَ الْحَق ووایه (یعنی خدای حق دی) "چه د منصور په حال اخته نه شې. یا دا چه، "د منصور حال ته وګوره، هغه اَنَا الْحَق ویلي، ته هُوَ الْحَق (هغه منصور په حق دی) ووایه چه ته هم د "حق" ملګری شې.

ACKU

سر و سير سره ترلي دي غم مه کړه — رزاق رزق د هنده شته دي مرزوق

چه دې وتاره احرام[1] د عشق و حج ته — نو رمه رفث[2] و جدال کړه مه فسوق[3]

چه پکښې د محبت دُر ونده نه وي — څه اړ نزي هغه سينه خالي صندوق

و رقيب وته په غټو سترګو ګورې — و مشتاق وته نظر نه کړې په موق[4]

څو شهرت يې د ليلا په مينه نه وه — مجنون چا ستايه په کلي په هر سوق[5]

عاشقانو ورته تن[6] نشانه کړې — کړي ولي يار د سترګو په بندوق[7]

که صادق يې او ش په تتر[8] شر په عشق کښې — د اختيار مهار دې ورکړه و معشوق

هغه زړه به ګاندېږي څرنګ شي يونسه!

۱۵۴۲ — ۱۷۲

چه تر حد و حساب زيات لري شقوق

نه به راپېږي له ما نه خپل نصيب څوک — (۸۹) — نه به را کاږي نصيب يو زبيب[9] څوک

لا هغه نه څه مرګ وي په تقدير کښې — په جهان به يې پيدا نه کړ طبيب څوک

---

(۱) احرام = د حج په نيت ځان تيار ول (د مراسمو له عمده احرام تړل کېږي).

(۲) رَفث = سپکنځلي، جدال = جګړه.

(۳) فسوق = ناوړه کارونه. چه ټول د حج په ورځو کښې منع دي او که چا وکړه احرام يې ماتېږي او ګناه پرې راځي.

(٤) د سترګو کنج.

(۵) سُوق = بازار.

(٦) په خطي نسخه کښې: طن.

(۷) بند وق = تفنګ.

(۸) تتره، تتر، د اوښ سينه.

(۹) مويز

ذاتي[1] تورلمد[2] پر وله کله سپینیږي — ناقابل لره په خبر بو لچي دیب څوک

د دا ن ولاړې په خه که طبیب نه دی — چه اګاه نه وي په وزن په ترکیب څوک

۱۵۴۷ که خیرات د دیدن کړې په غریبانو — ۱۷۳
تر یونس په جهان نشته دی غریب څوک

تېر له خپله سره له جهانه خبر واکه؟ — مرد عشق په تیغ له خپله ځانه خبر واکه؟

وچه جامه ژغوري د باران له اونده لچي — لوند په خپلو اوښکو له بارانه خبر واکه؟

بردې د وصال په نعمت لاس د رقیب نه شي — یو ملحد بل ورځې له رمضانه خبر واکه؟

بر لېږد خوشحالي مې هجر توي که فارغ شوم — هر درخت چه وچ شي له خزانه خبر واکه؟

یار چه د دیدن د ګلو اذن[3] وچاوکه — باغ د هغه خپل شي له باغبانه خبر واکه؟

غور د دلبر ګویا کشتی د حضرت نوح[4] ده — ناست په دا کشتی کښې له طوفانه خبر واکه؟

۱۵۵٤ غم د دجلې په اشنا یانو وي یونسه! — ۱۷٤
هر چه نااشنا وي له هجرانه خبر واکه؟

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : ژاني.

(۲) تیمڅی ، لیمڅی.

(۳) اذن = اجازه.

(٤) نوح پیغمبر . د مذهبي روایاتو له مخه ، کله چه په نړۍ لوی توفان راته نو خدای پاک ده ته امر وکړ ده یوه بېړۍ جوړه کړه او د ټولو ځناورو او مرغانو نه یې یوه یوه جوړه ، خپله کورنۍ او امتیان چه ټول اتیا تنه جوړ بېړۍ کښې سواره کړل . توفان راغی او نړۍ یکښې ډوبه شوه . داوبو د کښیناستو نه وروسته د حضرت نوح کشتۍ د "جودي" په غره ښکته شوه . وايي چه "جودي" د موصل سره ده . د دنیا د لویو غرونو په سر و نو د اسي ځایونه شته چه خلک وايي د حضرت نوح کشتۍ هلته ښکته شوې ده ، لکه د "ارارات" غر د ترکیې او ارمنستان ترمنځ یاد افغانستان د کونړ کوزنګ دره نور په برخه کښې یاد اسي نور.

ځوك چه زړه په عاشقۍ مبتلا كه — شپه و ورځ به له غمونو مشغولا كه
د دلبر و ناز ته نياز د عاشق گوره! — په عوض د بد دعا ورته دعا كه
چه په ژړ ونديي ځان ونه ژاړه ځپله — پرې يې كس وژلي كله ځوك ژړا كه
خپله شا په خپلو نوكو بنه گرېږي[1] — هسې ځوك وي چه يې ما به غم زما كه
عاشقي به د چاپټه پاته نه شي — مينك كه هر څو پټوي (بوي يې) رسوا كه
لاس په لاس له دلبرانو ويسا غواړه — پوهه هغو زده چه پر سا باندي ويسا كه
(۹۰) دلبران په جفا به تر نوره خلقه — تر و به ځوك ورسره سم شي كه وفا كه
په وصال كښې كه له ياره مخامخ وي — جدائي به يې زړه مشكي شا په شا كه
وكړه[2] ته چه "بلا!" والې نادانه! — په ستنه به كم هم درته "بلا!" كه

شهالك بخښه وه يونسه!

۱۷۵ ۱۵٦٤

مرور به دي په سپينه خوله نڅلا كه

ځوك چه په جفا مظلوم د زړه په سر سوري كه — د يو د كوه قاف دي وهغه ته غر سوري كه
تبر د مرني تر سخته ډاله وتی نه شي — آه د مظلومانو د فلك سپر سوري كه
هيڅ دانا به رانه وړي ناساز كلام په ژبه — زيان كوي لې ځايه چه ځوك كج گوهر سوري كه
نه شي د فولاد په برمه نه په سخت اهن شي[3] — سنگلاخه دل به د كامل نظر سوري كه

---

(۱) په قلمي نسخه كښې: كرېږي. په دري ژبه والي: كس نخارد پشت من جز ناخن انگشت من
(۲) په قلمي نسخه كښې: وكړه ته
(۳) " " " : وشي د فولاد په برمه ده په سخت اهن شي.

ذره په عشق سوري کړه چې پر ړو دي رڼا وشي — خلق په کوټه کښې په واسطه د نمر سوري که
نه وینې زاهد فایده د چا په اختلاط کښې — ځکه د خلوت دپاره سخت کمر سوري که
تاب(۱) د محبت د میو کار د نور نو نه دی — بې چې د الماس پر تیره خپل جگر سوري که
هر چا چې ذره په کور کښې نقد هوس د کښېښو — غل د د لگیږي به د هغه کندر سوري که
۱۵۷۳ غوڅ که چې په الماس د ژبې دُر(۲) پېیي د شعر
۱۷۶ کم (به) یې په فکر تر یونس بهتر سوري که

خوصورت وصل غوندې تر کلک نه که — محبوبادتن پر ورو دي کومک نه که
د ښینتینې ریبار قول د معشوق دی — عاشقان یې په ویلو کښې شک نه که
هر چې یار ورته ویلی هغه وایي — کم وبیش یکښې په خبر د مَلَک نه که
د خود بین په هر و یاو قدر نشته — خوصورت ورته په قدر د کاک(۳) نه که
د دانې په سر صرف د اسیا نه وي — هیڅ تقصیر په چا گردش د فلک نه که
د سرې مثال طعام، نیکخوي یې مالګه (۹۱) — هیڅ طعام چندان مزه بې نمک نه که
د زړه رخت یې چې بې نه وي چې غل یو سي — چې چو پېښ(۴) ختنې د عقل زړک نه که
عاشقان د یار په هر تازه کښې — خدای دې یو زمان بې تره سمک نه که
۱۵۸۲ حقیقت یې و یونس و ته ښکاره دي
۱۷۷ د بر غر ورد یې په خپل شعر ښناک نه که

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: طاب (۲) په قلمي نسخه کښې: دربې. (۳) کک: حسنې (۴) چو پېښ = چاپېښ.

ACKU

هر عاشق چه د خاطر مینه پر تا کړه — د جهان و مال هوس وتر دې شا کړه
(کړه) راحت د زحمتونو مکافات وي — زه چه بار د هجر ووړم وصل به را کړه
یوه ورځ به یې یار هم په رضا راشي — هر عاشق چه همېشه د یار رضا کړه
هغه زړه تر کاڼي سخت نه دی تو خبره؟ — چه په هجر او به نه شي له پخسا کړه
دا همه نقصان په عشق کښې د عاشق دی — معشوقه چه له عاشقه استغنا کړه
کم دلیل معشوقه چېرته لېږي غواړي — په زړه دې تر خپله ځان پورې[1] پنا کړه
که هر څو په شګفتن کښې محبوب وي — د تصویر غنچه به کله صبا وا کړه
ما په خیال ستا د ژګانو زړه ګی صاف کړه — په هر ځای چه جار و ګرځي ځای صفا کړه

د رقیب په مکرمه غولېږه یونسه!

١٧٨ — ١٥٩١

نادان و ورکی[2] به دې او ر وته وه وا کړه

باغ چه برهنه شي په ضرر و مرغنه خاکه — قحط چه د ګل شي بلبل خوږ آب ودانه کړه
ګل زما د صلح د رقیب دسترګو خار شي — قال[3] د کرامت دی دښمنان یې افسانه کړه
قدر د زړه د ستو څوک په کم نظر ګوري — د افلاک په سل ځای سبو[4]، ګل و پیمانه کړه
ګورم ستا و خال ته په رقیب د آه ګذار کړم — سر د قراول[5] توپچي په میان د نشانه کړه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : فنا .
(۲) " " " " : اوړکی .
(۳) وېنا .
(۴) په قلمي نسخه کښې : صبو .
(۵) امنیتي دفاعي عسکري قطعه.

ACKU

بوی د خوشرا ئې پر کره کره کښې بندي — ډېر به دیوانه شي لا چه زلفې پریشانې کړه

تاب[۱] دې د مژګانو یو عاشق بل زخمي خوږ دی — بویه د لاور چه ځان د غشیو نښانې کړه (۹۲)

۱۵۹۸ زه یې د پرون په وعده راوستم ترننه ۱۷۹
بیا به دې یونسه! صبا کومه بهانه کړه؟

چه کینه زما د وصل په منصب کړه — غني خدای دې اختر په خپل غضب کړه

چه بېلتون په جهان شته یاران به بېل شي — عاشقان په وصل خو عیش و طرب که

لطیفه د دلبرې بویه له یاره — په معشوق پوښتنه کله د نسب[۲] که

په رقیب باندې پند نه ابتر[۳] دی — خوږ وخوره وته سو دنه[۴] د ادب که

د عاشق اختیار په خپله رضا نه دی — عاشقي یې د محبوب په لاس جلب که

یو زمان لره ورته خبر نه اخلي[۵] — مهجوران دې فریاد و نه روز و شب که

په سوخته باندې هغه زمان اختر شي — چه په غم چېرې لب دیار په لب که

۱۶۰۶ د یونس که دیار وصل روزي شي ۱۸۰
تمامې عمر به شمار لهو و لعب که

که هزا غونه رالیشي په زړه کښې[۶] — ستا ترغمه لکه ما الګه پیداوره کښې

---

۱) په قلمي نسخه کښې : طاب.
۲) » » » » : نصب کېدی شي چه د اکلمه (منصب) وي.
۳) » » » » : هېرته . داد (حبط) مفعن شکل دی چه اوس (ابتر) ویلی او لیکلی شي
۴) » » » » : و نه نه.
۵) » » » » : نه واخلی.
۶) » » » » : کې .

ACKU

پرده دې به شرمنده په حشرګاه شي — که همېش يې سر يکار په راز سپړه کښې
نور ويل د عشق خبرې پر لذت کا — لکه مالګه په لذت ده په خواړه کښې
ساړه آه مې زړه مې اوښې په غو تموکړې — لکه باد چه اوبه يخ که په ساړه کښې
عارضي ښايست آخر له مخه ولاړ شي — معشوقه دې ښايسته وي يې په کړه وړه کښې
لوی، هلک رقيبان واړه ګرځمان دي — ازار رسم دې يې هم غټ و واړه کښې

١٦١٣ — وداني مې له وصاله سره ولاړه — ١٨١
يونس ناست دی د هجران په وچاړه کښې

هر چه زړه که د غفلت له زنګه پاک (٩٣) — بينائي به يې هله وکه ادراک
جهان واړه د نبي په مخ پيدا شه — په معنو پوښتنه وکړه د لولاک [١]
محمد نبي هاله پيغمبر شوی — چه ادم و پوښيده په آب وخاک [٢]
چه په ژوند د خدای له شناخته خبر نه شي — هرګز مه وه د هغه ژوند يو ژواک
راشه او سه له هغه غمه ګريبان چاک کړه — چه دوری، سر تور پښې پسل ګريبان چاک
چه د خپل وجود له حاله خبر نه يې — بې هوده په قيل وقال تې د افلاک
چه يې روح د عليين [٣] مقام حاصل که — که يې جسم د لته خاوري شي څه باک؟

---

(١) حديث قدسي تلميح شوی چه وايي: لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْاَفْلَاكَ؛ يعنې: که ته نه وای نو ما آسمانونه پيدا کړي نه وای.
(٢) حديث شريف تلميح شوی وايي: كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ؛ يعنې: زه نبي وم او آدم لا په اوبو و خاورو کښې و.
(٣) آيت شريف تلميح شوی چه وايي: اِنَّ كِتَابَ الْاَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّيْنَ ٥؛ يعنې: د ښو کسانو د عمل ليکني به پر (مقام) کښې دي.

ACKU

له شیطانه څه شکوه کوې یونسه! ۱۶۲۱
۱۸۲ چه خپل نفس درته باعث دی د هلاک

طالع منده په دندانو سندان مات که — چه کم بخت شي پالوده یې دندان مات که (۱)
چه یې فتح اسماني په مدد و نه شي — په پنځه سواره لښکر به میدان مات که
په تقدیر بندي تور دام شلولی نه شي — د خلاصی په ورځ زنځیر و زندان مات که
چه د رزق دانه یې واره پرېنځه شي — د قضا کاڼي (به) دیلک و دیګدان مات که
د دانا په سل احتیاط زړه ساتلی — یې صرفې په (یو) نلخواله نادان مات که
په وعده ساتل کېږي سر ما تول سنا یې — د اخونه دی چه به قول مردان مات که
خوف رجا کېږي) چه یې څوک د ایمان نه یې — د زړه کور به یې په ګور کښې دزدان مات که
هغه غاښ چه د حیا په خندا سپین شي — په قضا هغه دندان خندان مات که

چه دره د هدایت را شي یونسه! ۱۶۳۰
۱۸۳ په دهشت یې جام د میو رندان مات که

چه اغاز یې د فاني مینې بنیاد که — بوالهوس ګوره چه څه تکیه په باد که
یو سبق به یې ترېله مشکلات وي (۹۴) — چه وچا وته تعلیم د عشق استاد که
په خاطر یې د وصال وطن وړ بې — هرچه شپه د جدائی په هوا د که

---

(۱) فارسی شاعر وايي:
بخت اگر بیدار شد سندان به دندان بشکند
بخت خواب آلوده را فالوده دندان بشکند

ACKU

ورپتنا ک وته تعلیم د سولو مه کړه ... هېر به کله څوک خوبونه ماد نزاکه
دا ړې تر سلو زخمو شا نه وو ځي ... هله ږځان د محبوبا په زلفو ښادکه
څو را نجه په زور د کانځ مېده نه شي ... د محبوب له ستر ګو کله اتحاد که
د ضرور په سنک مېده لکه حنا شه! ... کړ دې شاه دلاسو ښو د پاره یاد که
څوک ګاونه بو یوي علاج یې نه شي ... او د چا په تش کاته سره اهداد[1] که

١٦٣٩ د او به په کرېښه زره غولوي یونسه! ١٨٤
چه په قول څوک[2] د دې کښلیو اعتماد که

څو غرور په دې دنیا باندې شداد[3] که ... په دنیا کښې یې ارم جنت اباد که
سره و سپین یې خروار ونه پر تمام که ... بیا یې پرله د وښېزه ولدمراد[4] که
مروارید، لعل، یاقوت یې پکښې خرڅ کړه ... نقد یې واړه پر تمام د خپل بلاد که
خښتن څو زنګه دولت ورته رجوع کړه ... وکافر ګوره کفران د خدای په کړ اد که
چه جنت یې مهیا که معمار انو ... نور په ده باندې خبر هغه استاد که

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : احداد.
(۲) دا کسر د نورو غزلو د کس و نو په شان په سره رنګ لیکل شوی دی او دلته د (څوک) کلمه په تور رنګ، په بل لیک لیکل شوې ده. داسې ښکاري چه دا (څوک) به محمدی صاحبزاده لیکلی وي. د هغه لیک د کتاب د معماګانو په برخه کښې شته چه موږ هلته ور باندې لږ خبرې کړې و. د نوموړي د دې او د هغو لیکونو ثابتېږي چه د غه موجوده قلمي نسخه د هغه له نظره تېره شوې ده.
(۳) شداد، هغه څوک و و چه د ځمکې په سر یې ارم جنت جوړ کړی دی او دننو ته په ارمان یې پاته شوی دی.
(۴) دلته "مراد" د "امرد" د جمع په ډول راوړل شوی دی.
امرد = د سپینې خولې هلک.

ACKU

یوه ورځ یې اراده دګړ بد وشوه — عزرائیل د خدای په حکم ترې نامراد که
د جنت په بدل یې دوزخ ورکه — مشقت یې جمله ګي واړه برباد که
د دغه مرتد دغه سزا باید وه — چه په دانا قصر جهان یې اعتماد که

۱٦٤۸ چه غرور یې په دنیا کاوه یونسه!
۱۸۵ لا غازه یې حساب کړه! کوم یې بنیاد که؟

چه مرده یې لا اوازه سره هاکه — نن دلبر دی چه شبوه د مسیحا که
په بوسه حیات یې ورکاندي دوباره (۹٥) — که ایام د عشق عمر انتها که
دیوانه وچه بنامان د زلفو وخوړ — هوښیار کاله نږدیکي لا اژدها که
ګاه ګهي یې لا احواله خبر واخله — جدا یې دي پر مهجور ستم چنا که
په کو ښینې به خله وصل موندو نه شي — عاشقان دي کار و فضل ته رها که
عاشقان دي و دیدن ته هسې محتاج دي — لکه ترې واوبو ته الحا[1] که
عاشق سل خله راضي په هغه مرګ وي — که محبوب یې لب عوض د خون بها که

۱٦٥٦ د یونس که یې د بد نه زندګي وي
۱۸٦ لا ژوندو نه به توبه د نصوحا که

غوږ باسې لا نیچه په څه رنګه حکایت که؟ — وار په جدائی وه چه دا نی ترې شکایت که[2]

(۱) الحاح، عله، زاري.
(۲) ستر افغانی عارف شاعر مولانا جلال الدین بلخي (٦۷۲ هق کښې مړ) خپل ازلي شهکار (مثنوي معنوي) په دې بیت پیل کړی دی.
بشنو از نی چون حکایت میکند
وز جدائیها شکایت میکند

ACKU

خال دې خلق بولي دا بړوې و محراب ته — ناست پر بلندۍ د ګمراهو هدایت کړه

شور و شر د مینې د عشاقو سر لوټي ده — ستر دی هغه عشق چې یې رسوا په ولایت کړه

زړه ازاد و نه وېښتانو ته صواب دی — کله به بتان عمل په حکم روایت کړه

زه له خپله بخته له دلبره جدا ګرځم — او که نه وي یار مهرباني بې نهایت کړه

خیر دې د دولت له جاوید دې بقای وي! — والي و غني ته چې له خواره رعایت کړه

صبر د عاشق وي په جفا له خپله یاره — ګوندې یوه ورځ یې په سایه د حمایت[1] کړه

د وه سوو د سترګو یې عالم سره پایمال کړه — ښوک یې چې په جنګ وو هم شي واره رعایت[2] کړه

شاه د بخښښو نو کمی نه لري یونسه!

١٦٦٥ ښایي له دلبره کړ د وصل عنایت کړه ١٨٧

هغه یار چې په یارانو وفا کړه — زنګه سیني به د مجنو صفا نه کړه

ښایسته و له هسې وفا بولی[3] — چې هیڅوک یې له شکایت جفا نه کړه

نه چې تل د رقیبانو په رای د روي مي (٩٦) — یو زمان د عاشقانو رضا نه کړه

بې وفا معشوق بلا د خوار عاشق وي — خدای دې هیڅوک مبتلا په بلا نه کړه

په لبانو کښې یې نوش د شفا شته دی — طبیب ولې د رنځور و دوا نه کړه

---

(١) په قلمي نسخه کښې : حمایت.
(٢) رعیت.
(٣) بولی = ښایي.

په دوران د حسن هسې نازکې مغروري ی   مړ و یا د حال پوښتنه له چا نه کړه

د سنګدل خاطر، په آه کله نرمېږي؟   هېڅ صبا به د نصوړ غنچه وا نه کړه

لاس په لاس د دلبرانو دیدن بویه!   چه خبر په جدايي وي نسیانه کړه

په دید(۱) و باندې د حسن زنا مه کړه!   بل چراغ په رانده باندې(۲) رڼا نه کړه

د دښمن په خندا هېڅ وېسا و مه کړه!   سره لمبه به داور هېڅوک اشنا نه کړه

۱۸۸   زه یونس د یار دیدن په دعا غواړم   ۱٦۷٦

کوم سړی چه د خپل عمر دعا نه کړه

د میدان په ورځ تخښتنه کاله جنګه   پاتر هېڅ نه شي باقي له نام و ننګه

له میدانه تخښتنه کار دی د زنانو   مرد به نه تښتي له تیره له تفنګه

چه د تورو په برېښنا یې وار خطا شي   مالي(۳) مه وای په هغه غولانتي(٤) لنګه

د ضرر په ورځ تخښتت لکه ګیدړ کړي   چه همېش کاندي خوښي له نای و چنګه

د قضا په ورځ که کوټ تر ځان چاپېر کړي   عزرائیل به دې راه وباسي هر رنګه

خود سیر برات دې وي تر هغه پورې   مرګ دي نشتر له ښنه شېره له پلنګه

تر نصیب زیاتي هیچا موندلي (نه) دي   ناصبور په زور سینه وهي له سنګه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: په بیدله و.
(۲) » » » : یا نله.
(۳) مالي = موړ.
(٤) غولانتي = وېرېدونکی، دارن، غولن.

ACKU

دپلګ وتیغ، علم وهنر د اخلو وار ه — په هر ځای د مرد عزت وي هم لې پنګه
بې قضا کړ دا په سل زحمته نه مړي — په قضا بادشاهان ړی بوځي له اورنګه
د عزت صدقه سر، د سر د نیا د ه — مړنې په شرم سر وکړ بې درنګه
طفل نفس د قناعت په شودو موړ کړه! (۹۷) — چه همیش درته ژړیږي، ونګه ونګه(۱)
د قضا د ګولولا ترلې نه شي — تهیږ به خو ګر ځي د شنو ګولوله شنګه(۲)

د مرشد وسیله(۳) مه پرېږده یونسه!
۱۶۸۹ هلاک خو بښ په اسره ځي د لوی له ځنګه ۱۸۹

په ما خپلې اشنایۍ فساد وکه — دا چه تن مې جدایۍ اهداد(۴) وکه
د شیرینې زړه بې رګ بس خپل ځان ته — ګرم آه چه له جګره فرهاد(۵) وکه
جدایۍ به بې د غم په موج خراب که — چا چه تن د اشنایۍ بنیاد وکه
ستا په مینه کښې ذره(۶) کار ګره نه شوه — که واعظ را ته هر څو ارشاد وکه
بې نصیبه لې قدم پکښې کښېښو — که الم جنت په مینه ښاد وکه
خپل هنر د وا ره پاره پاره غوڅ کړه — خه فساد په ځان چندن وشمشاد وکه

(۱) ونګه ونګه = د ماشوم د ژړا اواز.
(۲) شنګ = شغ، د ګولۍ او مردکي اواز.
(۳) په قلمي نسخه کښې: وصیله.
(۴) 〃 〃 〃 : اجداد.
(۵) فرهاد د فولکلوري افسانو مشهور قهرمان (عاشق) چه په شیرینې مین و. د فرهاد او شیرینې داستان په دري او پښتو کښې د ډېرو شاعرانو له خوا نظم شوی دی او د سینما په عصر کښې یې فلمونه هم جوړ شوي دي.
(۶) په قلمي نسخه کښې: زره.

ACKU

بې له وصله مې بل خواست پسې و نه که | په هر وقت چه مې خپل ورد و اوراد وکه
دویم حرف یې بې له عشقه را ونه ښود | څو تعلیم را ته د مینې استاد وکه

چه مذکور د عاشقۍ یې پکښې درج کا

۱۶۹۸ ۱۹۰

دیو نس ویلو هله سواد وکه

د دنیا په چاپلوسۍ تکیه نادان که | او به سرای په پابوسۍ سره ویران که
سپین دندان وکړي په ګور کښې ګوره | چه خندان په مغز و رانو د جهان که
چه له نېکه سره نېک که، منت څه دی؟ | مرد هغه دی چه له بد سره احسان که
پټه مینه مې په آه سره رسوا که | خپل زګیروی څرګند په خلقو نحوران که
دیو رقیب مګر هله زیر فرمان کړي | که دلبر دې سرافراز لکه سلیمان[1] که
سپي په دا و فقیرانو وته غاړې | چه منت د هر دونا[2] په پارچه نان که
د دولت تر ګنجه به وي ګنج د صبر ۹۸ | په صابر ګدای به څه تسبري سلطان که
بې له یاره ژوند حساب په ژوندون نه دی | نیم بسمل مرغه هم رقص یو زمان که
عاشق ستا له جدایۍ پناه غواړي | مسلمان دې خدای له او ره په امان که
د ضرور ساعت مثال د قیامت دی | خپل پردی نفسي نفسي فکر د ځان که

---

(۱) سلیمان پیغمبر د دا، و د پیغمبر زوی چه هم پیغمبر وا و هم واکمن، هم په انسانانو یې امر چلېده او هم یې دېوان، پېریان او حیوانات تر ګین لاندې وو.
(۲) دونا = دون = پست، ټیټ، رذیل.

ACKU

191 جدايي دې له يونس هم خانه کړه 1709
او وخس به سره څرنګه ګذران که

سترګې خپلې توروي په سولې نور که
د محبوبې حسن هسې رنګ زور که

چه رڼايې په ترل د عاشق وشي
وعالمو ته يې خپله مينه چور(۱) که

چه عروس د مينې وبخښي وچاته
جدايي بيا پيالې پسې سر دور که

که غافل په خپل ګمان کښې شب پرڼه(۲) وي
محبوبا جلوه د حسن کوراکور که

په عاشق چه دې جلاتې سترګې سرې شي
د تاراج لښکر په يو حمله پرسو ور که

په وصال کښې چه ويار تو ته نږدې وي
جدايي به يې تر توري بلا هور(۳) که

د هغه په تن دې پورې د غم اور شي
چه خندا به د دردمنو په بيور(٤) که

192 د يونس په برخه غم د خپل اشنا شه 1717
هغه څوک دی چه وهلی قلم نور که؟

هسې لاندې د حرص تر جال شو هر څوک(٥)
چه به خلاص ور ځنې نه که پاوسر څوک

بادشاهان په اقليمونو ماره نه شو
را په هسې څه معنا لري ديګر څوک؟

---

(۱) چور = غل، دزد.
(۲) شپا پېرک، خفاش.
(۳) هور = هورې.
(٤) بيور، د (ب) په سکون = ذکر، بيان، مشغولا، مجلس، ګفتګو
(٥) دا مصرع په وزن کښې اوږده ده.

ACKU

در ګوهر چې پرتو د لعلو نې شمار کړ
شاهزادګان به ځنګه زړه هول[1] حرص ندکړ؟
سرګشته سپاهي به څه بهادري کړ؟
امراء له نوکرانو نه قرض غواړي
رعیت د ظالمانو ظلم وژړکا
اربابان او حاکمان سره لاس یو کړ
او د شپون له خپلو پسو نو خبر نه وي
د غه هسي سرداري دې خدای واخلي
چې خپل قام وځنه وړک په بل وطن شي
حاکمان، ارباب، مَلِك واړه لړ دي
پیادګان، کوتوال، رهدار لیوني سپي دي
چه مَلِك، پیاده، کوتوال دي واړه یو شي
په رشوت سره به ورور ورور د بل تر پر کړ
د رشوت په خاطر چې کوړ سپین میدان کړ

په حساب یې راوړي سیم و زر څوك
چه قصر ورته بیان کا د پدر څوك
که حریف یې په دعوه شي برابر څوك
ناپوهان به په دانا کاندي باور څوك ۹۹
په انصاف غوړ یې نه اخلي خبر څوك
نو د خوار وغریب او رشي شور و شر څوك؟
که کنده ورك[2] ځنه لا یو سي سراسر څوك
هر چه نه پېژني خپل نفع و ضرر څوك
په پرد یې قام به سردار نه شي بهتر څوك
هر وي به خوار او لس هو مره لوړ څوك؟
پرده کړه دي خدای څوك نه کړ برابر څوك
خلاص به نه شي له دې د یو په ورور[3] څوك
وادي نه وړي په قاضي، مسلم کافر څوك
وقاضي و ته کړن دي د دعوې غر څوك

(۱) په قلمي نسخه کښې: حول. هول زمونږ په محلي لهجه کښې د بېړې او تلوار په معنا.
(۲) کنده ورك، د، کنده تصغیر. کنده، د د یوال هغه سوري چه غله یې د غلا د پاره کوي.
(۳) ور ور، د ورکړه ورکړه! مخفف. په دکه او نورو ګرکونو کښې تر پیادګان، کوتوال، او نور موظفین د مالونو خاوندان رشوت د ورکولو ته تشویقوي او ورته وايي: ورکه ورکه!

ACKU

هیڅ مفتي به یې په مفتي قبول نه که — که صحیح روایت وروړي معتبر څوک
محتسب په بد و تېر شي ترې نمانځه — والي وغواړي زما دره ډېر څوک
عالمان د نفس له سوده وعظ پرېږدي — والي وانه خلي له ما سیري د دفتر (1) څوک
اوس اکثر علم کوي عمل پرې نه که — عملدار له شلو یو دی بختور څوک
د شیخانو په شیخي پورې حیران یم — ولې نه موسي له دوی فیض و اثر څوک
فقیران له دنیادار و لږه نه وړي — که یې دربسته ورځ نیولي د زر څوک
خپل پردي په بې رحمه برابر شو و — پېژاند نه شي بېګانه و برادر څوک
د استاد له شاګردانو نفع و لا هم ده — که پر سل حُله کوښښ که ملګر څوک
د دې دوره له عالمه ګوشه ناست یم — د احوال و یلو نه وینم دلبر څوک
ربدی ګل په یوه داغ سره مشهور شه — (١٠٠) زمانه ګوري سل داغه په ځګر څوک

١٩٣ د یونس ویل پند و نه حسب حال دي ١٧٤٤
که په غوږ په سترګو نه وي کوږ و کږ څوک

چه حجاب ځني معشوق که توري سترګي — له فراقه يې عاشق که کوري سترګي
لې ګوهره صدف څه دی په قیمت کښي؟ — هرګز مه لره له اوښیو سپورې سترګي
هغه څوک چه د محبوب سترګو ځوړ که — په هیڅ مه نازېږه لېچه ورغ نه که نوري (2) سترګي

---

(1) سیری = وقفی زمکه . د دفتر د بچوانو په اصطلاح ، زمکه ، پټی
(2) په قلمي نسخه کښې : توري .

ACKU

که پښېږ و دې سل بلا په صورت نه دي — لا اول به له دېدنه ژغورې سترګې
ستا و مخ و ته په حُسن کتلی نه شم — د افتاب و مخ ته وي کمزورې سترګې
که دې بیرته[1] د دلبر په سېنه دیدن وي — بیاد بل په دیدن ولې پلورې سترګې

۱۷۵۱ ځوك د حسن په غله وامه ره یو نسه!

۱۹۴

په بیدله ترې زره یو سې چورې سترګې

اې چه بل ته نصیحت کړې په ځان تګه — یوه ورځ به دې خوره شي د سر پګه[1]
که بنده دې په تګی خبردار نه شي — خدای خبر دی د بنده له هره رګه
غم په سر جامه کښېږ زهد بندګی نه شي — چه جامه (دې) د تزویر[3] و اغوستې رګه
د اخلاص خواږه دې نشته ریا کاره! — د ګنی[4] لذت به څوک غواړې له اګه[5]
د اسلام وسله[6] د رځه، نه شرمېږې — خبېثت کوې له یوه غله له یوه سګه
چه په داعم حیات باندې نازېږې — د بقا امید لې وشي له باد ځګه[7]
چه طالع د بې نېکۍ شال لې په سر کا — ترهغه سره دی قانع شرېره شلګه[8]

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : د سپړی.
(۲) د سر ګړی.
(۳) په قلمي نسخه کښې : تذویر.
(٤) " " " : ګینی.
(۵) یو بوټی.
(٦) په قلمي نسخه کښې : وصله.
(۷) ؟
(۸) شلګه : د درې وار و تور و په زور = د غنمو او اربشو لښکه، د لښه د شړلې په معنا.

ACKU

١٧٥٩ چه ستم په مظلومانو کړه يونسه ! ١٩٥
اسمانی کا نحی يې پاس په تندي لګه !

چه يې زړه په مينه درکاير عمل (١٠١) | د يار غم يې مشغولا لره شه مل
په فتوی د عاشقی کار و بار کړه | د واعظ په قول نه لري عمل
هر عمل چه د اخلاص له مخه نه وي | خړ به پرې په کو ته سيم و دغل
د ود د آه به مې تر خوله له درده نه | که د شوق اتش تې ني وادرون بل
که په سل رنګه يې عقل کفايت کا | عاشقي به يې ترللو کاندي لل (١)
که طالب يې د راحت، رحمت قبول کړه | اول نېش د غلوزو (٢) خوره پسې عسل
سعد و نحس دسري نېکي بدي ده | نجومي بد نامو يي زهره زحل (٣)
خپله خبره مه په هغه سپا لې سېنه ده | چه دا ناوي ستا په کار اخر اول

١٧٦٨ د دلبر جدايي هسې ده يونسه ! ١٩٦
لکه روح شي په ضرور له تنه بېل

چېرته چه مې زړه شي په ديدن سره خوشحاله | هلته به رقيب راته پيدا شي له دبواله
هيڅکله دا زړه زما له مينې نه صبر نه کړي | درست عمر که تېر کړم په ديدن له زلفو خاله

---

(١) لَل، دلته، د (لال) مخفف. لال = ګونګی.
(٢) غلوزه = دښتا تو پحه.
(٣) سعد = نېکمرغه ، نحس = بدمرغه . د نجوالي نجوم له مخه هر سړي او هر کار يو ستوري پورې اړه لري
چه هغه يا سعد وي يا نحس . زهره سعد او زحل نحس دی.

دېر عمر د وصل په ګرمي سره حساب دی — سخت دی د هجران يوه ګړی تر درست کاله

ته طبيب د حسن د وصال مرهم په لاس کښې — چېرې خو خبر شه د رنځور عاشق له حاله

صبر مې له دله ستا په ياد و وتړېږي — تورې شي يک لحظه او به وا وره له غرباله

پرېوت ستا له دستره مه دلاسو نه ور کړه! — کاله به له حيا يه عاشق پاتې شي لې مجاله

يو ځله که مست نه، خوله په مهر و تا ډر کا — درست عمر که نور د سره بدکه پېتېږې پياله

ځان سره[1] موسېږي په خپل حسن هوسېږي — بيا که نه وه نه شي پېشاني اره شي له خياله

زړوره[2] په لاس کښې خوله د ر کاندي يو نسر! — نه شي د دې دور عاشقي لې زه و ماله

١٧٧٨ (١٠٦) مايونس ويار[3] تر سر و مال د واړه پېشکش کړه — تېر دي عاشقان د سپينې خولې، تر سر و ماله ١٩٧

نن د يار په ما سلام را ورېږه شماله! — چې زنې فکره پيال خنبيم نه شم ملاله

که د رې د ګاو روخ وي پړو د روم — انديښنه مې هرګز نه شي له قتاله

هر عاشق چه ګله لاندې تر تلي کسه — اخر بيا مومي محبوبه ګاله لاله[4]

که د يار وصال به غوارې د الحې نږدې دی — اشنائي اول تازه کړه له دلاله

چه تو سنه لې له غوني د ه جوړه کړي — ولو هېښه خلاص به نه شي له د جاله

---

(١) په قلمي نسخه کښې : لره.

(٢) کبدی شي چه دا عبارت (زړوره) وي او کېدی شي چه (ور ه) د (ور که ، ور کړه) مصحف وي.

(٣) په قلمي نسخه کښې : ماويونس تر.

(٤) لال ، د ، لعل مفغن.

ACKU

د زلفینو په جال بند شوم خلاص (مې) مه کړې! — دعا د اکرم پرې بندې وا سر صد ساله[1]
که په زړه باندې دې نور غم سوری[2] نه دی — خوار یونس له لن جواب ورکړه له سوا

۱۷۸۶ لر نه دانو سره شمار دی که پوهېږې ۱۹۸
ویونس وته پېشکش کړه خوله ملاله

چه مې ولید[3] له اغیارو سره یار خپل — وګرېبان وته مې سر کړ نګونسار خپل
بې له تا که بر ګلونو باندې کښېنم — پرې بې شکه نشېمن ګڼم په خار خپل
خو مې سر په تنه پورې دی ای یاره — نور به نه کړم مه له تا سره اقرار خپل
ته لا سنه بې په صحرا کښېنې غم غلط کړې — زه په کور کښې نیم سوخته د عشق په نار خپل
درسته شپه دستا له غمه په ژړا یم — په ورځ کړم له شرم و ننګه کاروبار خپل
چه زړه دې ضعیفي زور راباندې وکه — زه صورت کړم و عالم وته بیمار خپل

۱۷۹۳ زه یونس چه ستا د عشق خبرې کښېنم ۱۹۹
لاړ مې نوم د عاشقۍ په درست دیار خپل

د زړه حال به د هغه دو رانه نږې وایم — چه په زړه کښې راسره په تن جدا یم
بې له یاره مې خپل که بېګانه دی — نه غرض په چا لرم نه بې اشنا یم

---

(۱) درې سوه کاله ـ محض د قافیې د پاره دا عبارت راغلی چه اصل مطلب بې ډېر کلونه دی.
(۲) سیوری.
(۳) په قلمي نسخه کښې : ولیده.

بند غنچې په راتله شگفته کېږي (۱۰۳) هره شپه په ارزو ځکه د صبا یم

د شبنم په ترانه یم ستا په عشق کښې چه په لن گرمي له گله پسې شا یم

جدالي دې لکه شپه په ماتیاره کړه لازلیده و نه دې په هر انجلا[1] یم

محبت به د بلچا په ځان حرام کړم که مین د ستا په مخ باندې ښتیا یم

اوراوبه په یوه لوښي کښې ځای نه کړه په خبر شان به له رقیبه سره پا یم؟

له لبوه سره الفت د سړي نه شي د فلک له مروته نا وېسا یم

کړمې ښه ساتې یا به، په دواړه حاله

1802 زه یونس حاقر بگوش بنده دستا یم 200

چېرته عاشقي؟ چېرته طلب د زر و سیم؟ چېرته دیوانه؟ چېرته پند و نصح د حکیم؟

گنج د صبر به وې تر دولت د سر کوز بې چېرته استغنا؟ چېرته شاهنشاه په تعظیم؟

جنس د سړه و یو دی بخت و عقل گوښي گوښي چېرته غوبانه؟ چېرته له شاه سره ندیم؟

کار د دوست په خوله کړه! د دښمن په ویل مه ځه! چېرته پند د خضر[2]؟ چېرته مکر د رجیم[3]؟

لن تفاوت (نه) دی د نامراده له کامرانه چېرته دوشاله چېرته شړې پاره گلیم؟

---

(۱) روښنان لمر.

(۲) خضر پیغمبر، د ذوالقرنین سکندر معاصر چه هغه سره اوږد وخت داوبو) په لټون ولاړ هغه اوبه یې وموندلې او ویې څښلې او تر قیامته پورې به ژوندی وي. وايي چه د لوی کراماتو او خوارقو خاوند دی او دریابو سرې په تصرف کښې دی. خضر د شین او همسو په معنا دی چه دا اسم له سما سره معنوي مطابقت لري.

(۳) رجیم = ویشتلی، شړلی، مطلب شیطان دی.

ACKU

چېرته جدائي؟ چېرته وصلت د دلبرانو؟ ... چېرته تود سموم؟ چېرته هوا د یخ نسیم؟[1]
څه مناسبت[2] دی د تشویش (له) فراغته ... چېرته مسافر؟ چېرته په ځپل ځای کښې مقیم؟
اهل د ضرور له اهل ذوقه ډېر بعید[3] دي ... چېرته نښک جنت؟ چېرته عذاب د بد جحیم[4]؟

۱۸۱۱ کوم دي نژدېکت دی له دلبره یو نسیم!
چېرته خوار ګدا، چېرته باد شاه د هفت اقلیم[5]؟ ۲۰۱

خدای دې راوله زما د زړه ارامه! ... بې له تا مې ژوندګي ده له ناکامه
حلق مې ستا په سر د ید په خوږ و خوږ کړ ... چه د غم تلخي مې ولاړه شي له کامه
په وصال دې توره شپه په ما رڼا شوه ... (۱۰٤) په هجران دې ورځ تیاره شوه تر ماښامه
بې له تا د صافو میو پیالې نشته ... د رست مجلس په واویلا شه د ډاشامه
پس له مرګه یادېږه د نېک و بد شي ... خدای دې چا نامه په بد مه کړه بدنامه
د سکندر د آئینې[6] خبرې کېږي ... یا قصه د هغه جم کېږي یې له جامه[7]

---

(۱) نسیم = شمال، په قلمي نسخه کښې: نیم.
(۲) په قلمي نسخه کښې: مناسب.
(۳) لعید = لیرې.
(٤) جحیم = د یو دوزخ نوم.
(۵) پخوانو جغرافیه پوهانو ځمکه په اوو اقلیمونو وېشلې وه، په دې توګه: هند، عرب، مصر او شام، ایران، روم، ترک او چین.
(٦) په قلمي نسخه کښې: اهني. د سکندر ائینه په دري او پښتو ادبیاتو کې ډېر لحلد راغلې ده. د روم د سیند په غاړه د اسکندر په دستار د منار په سر اسکندر یوه آئینه لګولې وه چه د هغه له مخې (د او سنیو زماني دراداریا تلویزیون په دول) د ډېرو ګیانو او د سیند د ډېرو حالات معلومول.
(۷) د جم جام، یا جام جهان نما، په عین شکل یو جام وچه جمشید ار یالی پاچا د ډېرو حالات پکښې لیدل. والي چه جام جهان نما، یا، جام جم په ځلې کښې و.

ACKU

محمود خېل اختیار په لاس د ایاز وکه — عاشقي خپستن عاجز کړ تر غلامه
پښتګان د عشق خاموش دي له فریاده — په کتوي کښي ښکاکا د انه لاخامه

سل هوسه صدقه د عشق تر غم شه!

١٨٢٠ ٢٠٢

دیونس دخولې وینا په دا تمامه

له فلکه ناامید د دې فرحت (١) یم — چه یو زمان تر بله فراغت یم
هغه دم مې پیګان (٢) ارکښي انجمن و ځای — چه شریک د دلبرانو په صحبت یم
د دلبر د مهر هیڅ نهایت نشته — واره زه له خپله لوري کم همت یم
د دنیا دولت به تل وي یا به نه وي — زه د یار په غم همیش صاحب دولت یم
د همت نظر مې عین په دیدار دی — نه چه زه طالب د حور و جنت یم
لکه څوک چه له اسیبه سره زر دي — هسې زه له رقیبانو په د هشت یم
د هجران تلخي مې درېده نوش کړې — سزاواره د وصال شیرین شربت یم

له طبیبه نخو طمع د شفا که

١٨٢٨ ٢٠٣

زه یونس له طبیبانو په زحمت یم

که خبر وای په هجران مین به نه وم — خوښ به ناست وم لکه روغ د درد من به نه وم

---

(١) فرحت = خوشي.
(٢) په قلمي نسخه کښې: ګلنار

د تهمت په گرد دې مېنې ملوث[1] کړم | گڼه سپین لباس به وم رلمن[2] به نه وم
هم له مادې چې په مادې[3] چاته وایم | که مې نه کړای عاشقي غنچن به نه وم
په ازل که مې قسمت له درده نه وای ١٠٥ | مېن شوی په غنچه دهن به نه وم
ستا له مېنې د عالم دوست و دښمن شوم | او که نه وای چادوست د دښمن به نه وم
په هجران کښې د وصال په امید پایم | که مې نه وای دا امید لرغن[4] به نه وم

تا شیرین په جلوه یونس فرهاد که
که جلوه نه کړای شیرین کوهکن به نه وم

١٨٣٥ ٢٠٤

دعاگوی (د) خپلو سترگو چې یار وینم | په پوښل یې راضي شم چې اغیار وینم
لکه شپه ورځ ترجوړه سره مله دي | له راحت سره هم هسې آزار وینم
ستا په عشق کښې مې چل آه د ځان غلیم شه | عشق په ده سره رسوا په دیار وینم
ستا[5] په دور د گلو نو سیلات نه کړم | تر تاکله تازه گل د بهار وینم
چې پرې واد خریدار تې مونده نه شي | هسې گرم ستا د حسن بازار وینم
د دې چرې په کمال تې مغرور مه شه! | خزان هم متعاقب د گلزار[6] وینم

---

(١) ملوث = ککړ، ناولی.
(٢) رلمن = خیرن، ناولی.
(٣) له مادي چه په مادي (اېښتو متل؟).
(٤) لرغن - دلام او غین په زور = ناکراره، د بې خونې لامله نا آرامه، گنگس، خوبولی.
(٥) په قلمي نسخه کښې : ستره
(٦) " " " " : گلزار.

دلې درد په زړه خوب وي تر صباحه
عاشقان د عشق له درده بیدار وینم
په وصال مې د غم غم خاطر پریشان که
چه پسې د جدایي نا تان وینم

۱۸۴۴
که سره لب د یونس وکړي عجب نه دی
۲۰۵
شکر خوارې د طوطیانو منقار[1] وینم

که تنها د جدایي په هوا دیم
چه دې غم راسره مل دی زه پرې ښاد یم
که ښتیا دیوه زړه و بل ته لار وي[2]
یاره ته زما په یاد یې، ستا په یاد یم
نصیحت راته په عشق کښې درد سر شي
اوس له خپلو ناصحانو په فریاد یم
د مقصود د در فتحې ستا په لاس ده
په الطاف سره یې واکړه نامراد یم
که د یار کرم بخښي مې عزیز نه که
سر هوا لکه بنده هسې پرې باد یم
په هنر د عاشقۍ د پرمین یم
که فرهاد نه یم په ملک د فرهاد یم

۱۸۵۱
که مې پلورې په نخاس عذر مې نشته
۲۰۶
زه یونس د دلبرانو خانه زاد یم

د فلک له دسته ځکه په فریاد یم
چه په داد باندې یې هیڅ په جور یې یاد یم
د وصال رفیق یې چیرته له ما ورک کا
یک تنها د جدایي په هوا دیم
کړ داغم په کاڼي کښېښ دي تر قیامته چوي
یاره زه تر کاڼي لا سخت آدم زاد یم

(۱) منسوب که.
(۲) متل دی: یو زړه بل ته لار لري. زړه زړه ته لار لري. دل به دل راه دارد.

مدعامې د شیرین په د ودجاب شوه — په فراق یې سر زده لکه فرهاد یم
چه بېلتون په جهان وما اشنائي کړه — سزاوار د جدايي د اهدا د یم
ستاد عشق په کار کښې هسې رنګ مشهور شوم — لکه میا شت انګشت نما په هر بلاد یم
یو زمان مې په مراد ګردش ونه کړه — د فلک له بې رحمۍ نامراد یم
خدای ما د عشق له غم بې غم مه کړې — زه خراب د عشق په غم سره اباد یم

۱۸٦۰ میخانې ته که روان له خانقاه شم
ما یونس به منع څوك کاندي ازاد یم ۲۰۷

ونظر ته چه تحفه د دلبر نیسم — لایقت یې نو څه نه وینم سر نیسم
د قتال غشي ته هیڅ نه ودرېږي — و بنو ته یې څو نګه سپر نیسم
د نظر په نغوته لاړ زما له دستر — د دې ورك خاطر به چیر ته خبر نیسم
په مستۍ کښې به دلبر کباب وغواړي — په اتش د مینې ځکه جګر نیسم
مشرف که یې د وصل په منصب شم — مدعي رقیب به هلته نفر نیسم
ګاه ګهې چه مې په تلخو ویلو یاد کړي — ستا تر خه ویل په شهد و شکر نیسم
چه بې تا یې دي کتلي زه هم ځکه — و ثریا ته ستر ګې شام و سحر نیسم

۱۸٦۸ د یونس تر وندون دیدن د هغه یار دی
یو زمان به ځنې څرنګ نظر نیسم ۲۰۸ (۱۰۷)

د مه یې ده ځنې جواب د دلبر نیسم — هره ورځ ځکه لمن د رهبر نیسم

ACKU

هو مره صبر (مې) د زړه نه را معلومېږي — چه ساعت د یار له لوري نظر نیسم

خوش خبر قاصد مې واستاوه و یار ته — هر زمان به یې د راغلو خبر نیسم

له دلبر په جفا کله مخ جار وځي — د جفا کړه یې کل په هنر نیسم

د بنو په تیر یې عین په زړه ولي — کړایل زړه ورته په ځای د سپر نیسم

چه په حُیر د یار و مخ و ته نظر کړم — ګویا مخ د خورلسمې قمر نیسم

د مقصود مخ به را واړوي امید دی — و درګاه ته یې چه لاس په سحر نیسم

دیوانه او تر مې وګڼه په عشق کښې — چه په خپل اختیار مې شته په خطر نیسم

١٨٧٧ کړه یار د کوځې خاورې و ما راکه — زړه یونس به یې په مشک و عنبر نیسم

٢٠٩

څرنګه به رقیب په خنګ د یار و نه وینم؟ — چېرته هسې ګل شته چې یې خار و نه وینم؟

کوم دی زمګاره زما د عشق خبر پوهېږي؟ — هلته چې مې یار وي زه یې اغیار و نه وینم

یون کاندي په لارې پسې ټول د خریدارو — هیڅ سنبوه یې زه د خوش رفتار و نه وینم

زه چه د وصال خوښي په زړه کړم د دلبرو(١) — نور د جدائې چندان(٢) ازار و نه وینم

سل لارې بنې کړم د دلبر په عاشقۍ کښې — خلاص یې له تهمته یوه لار و نه وینم

مخ که د دلبر زاهدان و وینې په سترګو — بیا به یې تر حمزه نور هښیار و نه وینم

---

(١) په قلمي نسخه کښې: د دلبرانو.
(٢) " " " : چند.

۱۸۸٤ مخ زما د یار چمن د گلو دی یو نسیم !
مر وای هغه ورځ چه د اگلزار (۱) ونه وینم ۲۱۰

درست جهان سره فتنه شر شور لاهم (۱۰۸) بېگانه په مرڅې (۲) راز شو ورور لاهم
صفائي (۳) له خلقو ولاړه شوه یک لخته زړونې یو ځبله خړ شو تور لاهم
د اخلاص روزگار د مېچ پا ته نه شو گل روزگار واړه اسره (٤) شه زور لاهم
فرزندان (٥) د مور و پلار په نخو تنه ځي هسې پلار په کم مهری شه مور لاهم
سود و زیان د خپل خپل گوره گوښې گوښې د بخشش مروت ورک شه پور لاهم
(٦) رش خوارزه پیوستون و ځنه ولاړه خلق هسې بې مزې شه سپور لاهم
له هغه چه دې امید شي د نیکی په صحرا دې عیب والي کور لاهم
کړته جیو (۷) و قربان و وائي و چا ته بد له لې د ته پیټ (۸) که مهور (۹) لاهم
چه دوستي لې په لباس و په ریا وي تر هغه نه تپک بهتر دی چور لاهم

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : گلذار.
(۲) مرڅې = دښمني.
(۳) په قلمي نسخه کښې : صفا.
(٤) " " " " : اثره.
(٥) " " " " : فرزاندان.
(٦) د غلطه په قلمي نسخه کښې کوم عبارت پاتېدی.
(۷) جیو، هندي کلمه ده، د جان ! قربان ! ترونکی او سې ! په معنا.
(۸) پیټ = ملامتي.
(۹) مهور = ملامتي: ددې دواړو لغتو نو نه، په پښتو کښې ، پېټمو جوړې چه دچا د ملامتو لو معنا ورکوي.

چه درست ډک وي له کینې له بد نیتی | پر هغه کوږ غله ولګه اوږ لاهم

۱۸۹۵ — ۲۱۱

چه پر زړه درسره سپین نوي یونسه

له هغه سړي کوږ لیږي ګوږ لاهم

وعالم وته په خپله مینه چوږ شوم | مبتلا د جدایۍ په شراشوږ شوم

په قامت لکه الف هسي سم روغ وم | په ډېر غم کښي لکه دال هسي نسکوږ شوم

هغه وږح چه مي بنیاد د اشنایۍ کا | له هغې ورځې قرضدار د غم په پوږ شوم

د پتناک په څېر د عشق په اتش سوم | د هستۍ رونق تې ولاړ شه سوي سکوږ شوم

هیڅ رښتیني عاشق وږه دمړک نه کړ | مرګ ته خراسوږ يې زړه د رسوږ(1) شوم

لکه ژرند هغه چه دانه کړي زمن زړه | هسي زه د جدایۍ په ډېر زوږ شوم

بي تقصیره، د عالم، په خپله مینه | نشانه د تهمتونو لوږ په لوږ شوم

د بل غم وږه مي ورکه شوه له ځانه

۱۹۰۲ (۱۰۹) — ۲۱۲

چه یونس د عشق له غم سره خمسوږ(2) شوم

کړ د خلقو وګمان ته صادق نه یم | خدای خبر دی چه دوږ لک منافق نه یم

[له] اعتقاد مي له اقرار سره یکسان دی | خدای ظاهر باطن پوهېږي سارق(3) نه یم

---

(۱) دا کلمه اوس (سوږ، سېوږ) ویلې او لیکلې شي او داسې معلومېږي چې په دوو واوو لیکل ددې کلمې د پلې لهجې غمازي کوي چه هلته اول واو د (۷) آواز باید ولري.

(۲) خمسوږ = بې قیده، بې تکلفه، بې جلبه، بې بند و باره.

(۳) سارق = غل.

زه د عشق په درد همېش راضي په قضا یم — له دې درده و درمان ته شایق نه یم
نخستین (۱) مې ژړه دې ولې له ما درېغ که؟ — چه په یاد د بد دستور یې سابق نه یم
که په سل دارو پوهېږم فایده کوم؟ — چه په رنځ د جدایي حاذق (۲) نه یم
امتحان په سر غوښته را بانده وکړه! — که مې سر له تا نه درېغ که عاشق نه یم
عاشقي مې پیوستون له خلقه پرې کړه — اوس له چا سره په دا موافق نه یم
که گهې مې د خپل په دیدن سبا کړه — که همېش دې د لېدلو لایق نه یم
که په یوه دانه غنم آدم عاصي شه (۳)
زه یونس یې همېش خوږم رېږې فاسق نه یم

۱۹۱۲

۲۱۳

لکه بید مجنون سر په کښته ناست یم — په زارۍ سره د خپل مطلب په خواست یم
د وصلت کمال مې تېر شه لکه بدر (۴) — ورځ په ورځ لکه میاشت په کم و کاست یم
تا د عشق په تیر ویشتلی لکه صید — ناقرار دې په نشست و په برخاست یم
ستا د عشق رڼا مې دم په دم زیاتېږي — په طلب دې لکه صبح ثاني (۵) راست یم

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: نخستین.
(۲) " " " " : حادق. حاذق = پوه او رسېدلی طبیب.
(۳) آدم پېغمبر، د انسانانو پلار په جنت کښې و، هلته د غنمو د بوټي د ژرډې کېدو نه منع شوی و، مگر منع نه شو او د غنم دانه یې وخوړله. په دې گناه د جنت نه وایستلی شو ......
(۴) د څوارلسمې سپوږمۍ.
(۵) سهار په افق کښې اول یوه سپینه رڼا خښرېږي بیا ورکېږي، د غه ته د فقهې په اصطلاح، صبح اول یا صبح کاذب، وائي بیا بوره رڼا خښرېږي او بېرته نه ورکېږي، دې ته، صبح ثاني یا صبح صادق وائي.

سیه مشک عنبر مې نه کېږي وخواته | چه په خاورو که د یار د کوڅې ملاست یم

په هر لوري چه د رضا هوري مې بیایه! | په گردن تړلی ستا د حکم و یاست[١] یم

د بل مخ په طلب مثل د زره په پسنو یم | ستا وکوي ته لکه رقهسې په زغاست[٢] یم

١٩٢٠ چه له دره دې تلی نه شم و بل لوري ته | ٢١٤
د یونس راستي هم داده چه ناراست[٣] یم

(١١٠)

مطلبي د چا په سود و په زیان نه یم | نه! په سود یې لالیم په نقصان نه یم

وانسان و ته عَبِیدُ الاِحسَان[٤] وایې | مگر زه که احسان نه کړم انسان نه یم

خپل عیبونه یې خجلت له ره کافي دي | نور فضول د چا د ذم[٥] و بهتان[٦] نه یم

ستا په مینه کښې مې هله سرکش بوله! | که مطیع دې لکه اوبه په پېزوان نه یم

له تقدیر سره مې کار د عقل نشته | د تدبیر په کار پوهېږم نادان نه یم

چه په چا کښې نَفسُ الاَمر صفت نه وي | په دروغ یې مدح گوی ثناخوان نه یم

١٩٢٧ په گردن به مې د خیل تقصیر جواب وي | ٢١٥
زه یونس ماخوذ[٧] د بل په تاوان نه یم

---

(١) (سحا، بري، سابیاسته) لې هم بولي
(٢) په قلمي نسخه کښې: ږغاست.
(٣) دلته د - لټ، تنبل - په معنا
(٤) حدیث شریف دی: اَلاِنسَانُ عَبِیدُ الاِحسَان؛ یعني: انسان د احسان بنده دی
(٥) په قلمي نسخه کښې: ځم، ذم = د چا بد ویل.
(٦) په چا د بد و نور تړل.
(٧) ماخوذ = نیولی، نیول شوی.

چه مېن شو د مهرویو په مخونه | هغه نه کړه ملاحظه(۱) د ځان له خونه
چه یې یاره بل دلبر پر بانده گوري | خپل بانه یې شه په سترگو کښې مېخونه
د ژړگانو خیال دې خوب په ما حرام کا | تورا غږي شي راته خبرې په اړخونه
څو به ځان د حوادث له گردوه ژغورې | د فلک اسیا دې که په سر څرخونه
په وصال کښې دې دیدن د یار حاصل کړه | جدائي به دې بیا گران کاندې ژخونه
ښاخ د گلو په بهار تر و تازه وي | د خزان سموم(۲) یې وچ کاندې ښاخونه
د مهجور د صبر بند بېلتانه وران که | ځکه اوښې یې په مخ د رومي ورخونه
ستا بنو پېیلي زړونه ناقرار شو | خوب به څرناک کا پېیلي پر سیخونه

چه مېن په گلرخانو شوې یونسه!
۱۹۳۶ جدائي به دې تاراج کا د زړه خونه ۲۱۶

که ما خوکا په خوناب سره گلگون | په فراق به هغه نه کاندې بېلتون
چه مې رنگ لکه زعفران هسې ژېړ یې | دا مې رنځ د عاشقۍ دی نه طاعون
(۱۱۱) د مجاز د مینې بوی دا [و] بقا نشته | نیمه خوا د بلا مینې کا مجنون
د غمزې په تیر یې ولې صرفه مه کړه! | عاشقانو د زړه بخښلې دي خپل خون
عاشقي د خدای له لوري غیب دادي | حصلېدی نه شي په سحر و په افسون

---

(۱) که د پښتو د ځینو کلمو په شان (م) ساکن تلفظ شي بیا د شعر وزن ته تاوان نه رسېږي.
(۲) سموم، اصلاً داوړي تود باد ته وایي.

ACKU

يو زمان د عشق له ذوقه خبر نه شوې — سر دې کښېنې نه ښو د فکر په زنگون
شين لوگي به مې آهو نه تر خوله نه وو — که مې اور د مينې نه وای اندرون

١٩٤٤ د يونس په خبر به هر چيرې رسوا شې ٢١٧
که دې عشق له ننگه و نام که بيرون

زِوُ(١) نکريزې سره يو په دا مضمون — په ظاهر سبز و تازه درون پر خون
دا مې هم د عاشقۍ ملامت دی — چه له آه سره مې اوښې کوورېژون(٢)
کمينه د عاشقۍ شرط د غه دی — چه له مړو سره حساب شي به ژوندون
له دلبر سره مې کار د کلام نشتر — چه او به ويې هلته نه کېږي تيبون(٣)
په ظاهر د دوو صورتو توم پر السنبي — په معنا کښې سره يو ليلا مجنون
د خپل زړه په جام کښې مُلک د جم لبده شي — که ته سر کښېږدې د فکر په زنگون
د عاشق د رنځ علاج د يار ديدن دی — نه د مونږ د دم گرېږي نه معجون(٤)
د غمزه و ژلي بيا په عشوه روغ کا — دلبران که مسيحا خوندې افسون
لکه دال دا د ابند په دوه الف که — په خودي به دله انا نه شي بيرون

١٩٥٤ په غنچه دهن چه مينه کړې يونسه! ٢١٨
ځکه يې لکه غنچه په جگر خون

---

(١) دا کلمه بايد د (ن) په زېر او د (و) په سکون تلفظ شي، د وزن د سا تلو د پاره، د محاورې سره سم (زِو) د (زه او) مخفف دی.
(٢) ورېژون، دلته، د ورېدون = ورېدنه پر ځای راغلی دی. (٣) د "تيمم" معنی.
(٣) معجون د "خميره شوی" په معنا دی. د يونانی طب په اصطلاح معجون ترکيبي دواګانو ته ويل کېږي چه د شاتو په ګډون د خمير شکل پيدا کوي او په ډول ډول دي.

چه مین شو د خوبانو په مخو نه — هغو وسوه په اتش د صبر خونه
مین زړونه یې د عشق په اور کباب کړه — سیه چشمان یې قصابان بانه سیخونه
عاشقان به دې ترسره هسې ځارېږي — لکه دود چه تر چراغ وهي څرخونه
(۱۱۲) که دوزخ څه عذاب کم ګڼي په کور(۱) کښې — نور دې پوره کا د مینو له بېلتونه
لړګر مخه به د هجران هغه خبر وي — چه په تن یې لګېدلي وي اورونه
اورا وبه په یوه ځای کښې قرار نه که — بېرته اوسه د د ښمن(۲) له پیوستونه
د غریب له آه هسې پرګنز شه! — لکه غشي له لیندۍ ځي په ملکونه
مظلوم سوړې(۳) کړ آسمان د آه په غشو — دي یې بیا په ستوریو وپوښي تونه
د اخر توري خاورې نن دي چپر ګرځي — جوړ چارې نه دي په ګل رخانو قدمونه

تېر ساعت لکه په ستنه راتلی یونسه!

۱۹٦٤ بادشاهانو به پړ وښندل لښکونه ۲۱۹

چه په سر د چارې نه کاندي فکرونه — تېره چار کاله راځي په ارمانونه
د خاطر په آئینه کښې نظر وکړه! — سر فرو د کړه د فکرت په زنګنونه
د تېر شوي عمر هسې رنګ مثال دی — لکه تېرې چه اوبه شي تر ورخونه

---

(۱) دا کلمه په قلمي نسخه کښې "کور" لیکل شوی، خو نګه چه په قلمي نسخه کښې د (ک) پر ځای هم (ګ) لیکل شوی نو "ګور" هم لوستل کېدای شي، مګر تردواړو "اور" سنه معنا ورکوي.
(۲) دښمن.
(۳) سوړه = سوری، تنګاف.

ACKU

نه به ښېرې او به راشي په ښېرته — نه به تللی عمر راشي په کلونه
په یوه کیاکوړي[1] صبر لکه نرګس کړه — چه له قدره شي بلند په اسمانونه
د دنیا د بنسه بلند لکه عیسی شوې[2] — او دوستان یې همنشین شو لکه قارونه[3]
که دې درسته شپه په خوب وې هو مه وکړه! — د سحر په وقت مشغول شه په ذکرونه
نصیحت د ناصحانو په غوږ اوره! — د غفلت پنبه بېرون کړه له غوږونه
د لباس اشنائي هسې معلومېږي — لکه څوک چې بې او د سر کړه نو څونه
هغه زړه د امانتو قابل نه دی — چه خبر کا په خپل راز ژبه غاښونه
که د زړه راز یې تر ژبې ظاهر نه وای — څوک یې خبر و د منصور له اندرونه
(۱۱۳) ښه مېن به دې په قبر کښې مل نه شي — که دې نه وي خپل ایمان د عمل ملونه
یوه ورځ به ژوندي ستا له مرګه اوري — لکه ته اورې د نورو له مرګونه
پر مېوه ښاخ[4] سر و زمکې ته نیوسي — عاقلان به تواضع کا نه تکبرونه[5]
نی شکر ګوره چه خپله نامري[6] ګړه — قند نبات ور څخه وخاته په منونه
ښاخ چه سر له بلندۍ په پورته یوړه — په د غلولي یې وخوړه تبرونه

---

(۱) کیکوړي، ګکوړي = قرص.
(۲) د اسلامي روایت له مخه عیسی علیه السلام ژوندی او څلورم اسمان ته ختلی دی.
(۳) قارون، د حضرت موسی علیه السلام خپلوان، کافر سرمایه دار او شوم بخیل سړی و چه د دیني روایاتو له مخه د حضرت موسی (ع) په ښېرا د خپلو شتو سره په زمکه ننوت.
(۴) په قلمي نسخه کښې: خاښ.
(۵) سعدي په کریما کښې وائي: تواضع کند هوشمند گزین — نهد شاخ پر میوه سر بر زمین.
(۶) د لنډکراڼې، دان، په زړو لوستی شي نو شعر خپله معنی ښندي.

دا او به چه لرګي نه د ووي ولي ؟ · د و بول د پر ورده[1] ګهي عيبونه
لرم خپلي مېنې خوږي، ماران خپل روي · د دې وقت خلق لرم ددې يا مارو نه[2]
او س ښتيا ګويا منسوخ شوه و عالمته · په دروغ پسې تې وينوه محخونه
بدې چارې به پخوا د خلقو عار وې · د اوس خلق بد الې کړه بد کارونه
درستو روغ به يو له بله عيب والي · په خپل عيب هېڅوک نه کا نظرونه
هر سړی چې يو له بله عيب والي · ګويا وخې په دې مزې تحساب ونه[3]
د دنيا په سود د دين و سود تر ښا کړه · تو لعنت شه ! په هغه ناقص عقلونه
چه له لويو غرونو په بوځي ګوندي روغ شي · روغ به نه شي هرچه په يو اتر له زنهونه
د ضرور په يوه ورځ نا په سناد شي[4] · په خوښي کښې يو ه ورځ شي د بر کلونه
هغه څوک چه بهره مند له رحمه نه شي · مرګ يې په د ي تش هغه کم بخت ژوندونه
جدائي په عاشقانو ارام زوربکا · خوب به څوک په اخر وابښي (دي) ارخونه
د حضور د يدن عجب مفته سودا ده · جدائي به يې قيمت کاندې نرخونه
د زړه سر چه يې د هجر په تيغ غوڅ شي · له خونابه يې چشمان شي د وه ورخونه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : پرده .
(۲) د دې وقت خلق د (مار) جمع (ماران) والي . پخوانو د شاعر زماني تر څېر مر شاعرانو لکه : خوشحال خان خټک او احمد شاه بابا هم د شاعر په شان د (مار) جمع (مار ونه) راوړي دي . احمد شاه بابا وطن ته په خطاب کښې والي : تا ته را شمه زړه ګي زما فارغ شي · بې له تا مي اندېښني د زړه ماروته .
(۳) دا مرع په قلمي نسخه کښې جدا سي وه چه زه پرې و نه پوهېدم .
(٤) " " " " : نا پېښا و .

ACKU

شگفتن یې وخزان ته نزدېکت دی غنچه ځکه خپل جگر لړي په خونه
ویونس ته یار اغیار په خپل مقدار وي

۱۹۹۵ (۱۱۴) ۲۲۰

دانا ښه کاندي د نېک و بد فرقونه (۱)

هسې کړه نوري میني — که د احال د هجران ویني
سترگې کړه گل گیني (۲) — پسې ژاړه اوښې ویني

اوښې وینې ژاړه! — پسې سره کړه کسې دواړه
واخله کند په غاړه — که مین په نازنین یې (۳)

نازکه له عاشقه — په حجاب ده له فاسقه
سرښنده صادقه! — که سرنه ښندې دوبین یې (۴)

ورکه دوبیني کړه! — د گلو نو باغباني کړه!
راشه کمیني کړه! — که امید کړې د خولې سپیني

سپینه خوله که ورکه — په لذت به دې اختر که
هېر به دې شکر که — که رخسار د کړه شیریني

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: فرقونه.
(۲) گل گین = گلگون، گلرنگ، گلاگین، گلنما.
(۳) په قلمي نسخه کښې: نازنیني.
(۴) " " " " : دوبیني.

د وه رخسار یې ګل دي — عاشقان پسې بلبل دي
زلفې یې سنبل دي — زمالې لړي وریښمینې [1]

نرم پر قلیل وي — عاشقان د غاړې حبل وي
خوښ په هسې کېبل وي — په پالنګ د نازنینې

نازنینه مسته — بې پس وا خود پرسته
مرمر [2] د ستا لاس دسته — نګر وهم یې دل سنګینې!

دل سنګینه [3] مه شه! — د رنځور د زړه دمه شه!
تل په جفا مه شه! — له یونس سره خودبینې! [4]

٢٠٠٤ — ٣٢١

که له سپینو شي تمام روی زمین سپین — هېڅ به نه وي د مجنون تر جبین سپین
لکه خره جامه سپینه په صابون شي — هسې زړه کړه له ګمانه په یقین سپین

---

(١) په قلمي نسخه کښې : ریښمینې.
(٢) " " " " : مردم.
(٣) " " " " : تل.
(٤) د یونس دا غزل د موسیقۍ سره د چاربیتې په ډول هم ویل کېدای شي. د فورم له مخه دا یوه ځنځیره دري کړه ایزه چاربیته ده چه په خلوص مه کړه کښې یې ترنا وبرې. ځنځیري چاربیته هغه چاربیتې ته وایي چه د مردوڼ سپینه کړې، یوه کلمه یا جمله د بند په اوله کړه کښې او د اول بند د وروستۍ کړۍ دا د دوهم بند په اوله کړه کښې تکرارېږي. د غه تکرار یو تسلسل جوړوي او د چاربیتې بندونه لکه ځنځیر په شان یو په بل پورې تړي ځکه ورته ځنځیره چاربیته وایي. د لته د ترلو د غو ځایونو لاندې موږ منحني کرښې (~~~) ایستلي دي.

بقیه د شپې اشر ورسره نه وي — ځکه دم په دم شي صبح اخرین(۱) سپین

دو ژبان به سیه روی لکه قلم وي — تر هغه به نه په مخ کښې ویکین(۲) سپین

یکبانه تري د کفر تیاره(۳) یو کسي — په اخلاص چه کافر شو ځي په دین سپین

تور یې زلفې لې سنبل د نوبهار شو — صفا مخ د محبوبا تر یاسمین سپین

تور رانجه زینت د سترګو دی یو نسیر!

۲۰۱۱ — ۲۲۲

په تورا صل به ونه کړي ترین(۴) سپین

(۱۱۵)

چاچه تر خه د عشق راوړه له جانانه — په جانان هغه مین تر خپله ځانه

فراغت به د دلبر و مخ ته ګوره(۵) — که حجاب د خودی وباسي له میانه

همیشه یې باده تر د غم په اوبو — په عاشق (باندې) باران دی لې باران

هر چه یې له عشقه ومنی ویرته یې مه کړه! — د شرابو سبنبه(۶) ما ته شوه ارزانه

سرپټک یې د هغو زلفو چوګان کړه! — بیا هله و ځه د مینې تر میدانه

ته یو ځل د خپل وښتلي خبر و اخله! — دې وندون فرصت لې لن وې هر زمانه

---

(۱) صبح ثاني، صبح صادق.
(۲) که د اکلمه (ویکین) وي هم لې معنا نه راځي او که (وی کین) وي بیا نو هم د (کین) په معنا بوه نه شوم.
(۳) په قلمي نسخه کښې: طیاره.
(۴) ترین، د ښنتو یوه لویه قبیله ده چه درې مشهورې څانګې لري: سپین ترین، تور ترین، بور ترین. والي چه زیړ ترین هم شته. د "ترین" په خپل نامه کښې هم لفظاً د تور سره مشابهت پیدا کېږي.
(۵) په قلمي نسخه کښې: ګوره.
(۶) " " " : شبنه شرابو.

لا غنچې په چمن ستر ګې سپړلې[۱] نه وي — بیا یې فکر و تاراج ته کړ خزان
هیڅ طرف یې له زیاده خالي نه وي — په هر لوري نارې سورې دي له هجرانه

۲۰۲۰ دایم سر په کښته ناست او سر یونس! — ۲۲۳
طریقه د ادب زده کړه له همانه

داغ به مې په زړه شي د دلبر خوله لفظونه — کله چې را پیښ شي د هجران سپېره[۲] پوځونه
هر چېرې چې ګل وي، مبتلا هو یې بلبل وي — رخ چې زاغان که نه یې اوري آوازونه
خوښ یم په دا حال کښې، که نحوږ یم په وصال کښې — روغ صورت به څه کړم چې هر ګز نه وي نیازونه
ستر ګې دې تاتار دي ورته غټ کتلی نه شم — پور ته چې بانه کړې هلته ګوزګوري بازونه
هر چې آشنائي کړه، دا خوږې بېلتون ته ور شي — شوک به نور وي د ازل تو یې په[۳] ویرونه
عشق یې مثال سیند، هیڅ پایاب یې موندنه شي — ګډ پر عاشقان شوق، د باو په شانونه

۲۰۲۷ خپله مینه او شوه د یونس په زړه بلین یې — ۲۲۴
دا یې شین لوګي دي چې یې کښې په[٤] بیاضونه

تر تمام جهان را تېر ته یې سنځنه[٥] — د لته نشتر د لباس څه تښته پینه[٦]

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: سپېړ.
(۲) " " " " : پلوږون = پوځونه، فوجونه.
(۳) " " " " : تا.
(٤) " " " " : کوښې په بهارون.
(٥) به پښتو قاموسونو کښې د (سنځن) لغت نشته. په هندي ژبه (مېن) ته (سنجن) او مینې ته (سنجني) وایي.
(٦) پینه = راغونډه جمع ستوی چه (پنه) یا (پنلهه) هم وایي.

د جفا جامه زره شوه لیرې بویه ! — د وفا جامه په قد باندې وسکنه
عاشقي قیمار بازي ده په معنا کښې — جدایي پکښې بایلا و وصل گټنه (۱)
(۱۴۷) تیره نر په مقنع (۲) کله منع (۳) کېږي — مخ وما وته څرگند دی تر داونه (۴)
د هغه پر تندي سیوري د همای شه — چه له باغ سره یې خپله شوه مالنه (۵)
د خودۍ بوخچه (۶) واچوه له ځانه — د جغات (۷) ملاحظه (۸) مه کړه له پټنه (۹)
په دیدن پسې وتلی یم په سیل — په اول قدم راپېښ شه شنو مکنه (۱۰)

لږ حاصل تر دېر نسیا سته دی یونسه !

۲۰۳۵ — ۲۲۵

د هوا تر بازه سنه د لاس چې چنه

چه یې خال په زنخدان کښېښود مشکو — زنخ یې ځکه هسې گران کښېښود مشکو
خیال یې کسی شو په میان زما د سترگو — چه یې خال د مخ په میان کښېښود مشکو
په ساده مخ یې ثاني د حسن نه و — بیا یې خال په دلستان کښېښود مشکو

---

(۱) ؟
(۲) مقنع = مخ پټونی، پرده، نقاب. په قلمي نسخه کښې : مقنه.
(۳) په قلمي نسخه کښې : مني.
(۴) داونه = پړونی، د ښځو څادر.
(۵) مالنه = مالیاره، باغوانه.
(۶) بوخچه، بوغچه، بېلو وکی، گنډه.
(۷) جغات = محصول، حق العبور.
(۸) ملاحظه، د وزن په ملاحظه باید د (م) په سکون ولوستل شي.
(۹) پټن = گودر، د جالې د تېرېدو ځای.
(۱۰) مکنه = برقع، شنو مکنه (؟).

په ښو سره یې ستر ګي پوشیده کړي — که نقاب یې په چشمان کښېښو د منګو

د محبوب تر زلفو لاره هغه د بلې شه! — چه عطار(۱) یې په دکان کښېښو د منګو

سیاه خط مې د(۲) کاغذ په صفحه ګوره — چه قلم مې په میزان کښېښود منګو

حاصلونه(۳) د نافو خون جګر وو — چا په کور کښې تنکه اسان کښېښود منګو

د محبوب دیوه خال برابر نه و — ناز بیا و که چندان کښېښو د منګو

د یونس دیوان به څه نه خوشبوي شي

۲۰۴۴ — چه یې کښې یې درست بیان کښېښود(۴) منګو — ۲۲۶

د عشرت په چنګ و نای بو — د رحمت په کړد وای وای بو

چه عاشق معشوق په راز کا — په هغه خجسته ځای بو

د خزان په برګ ریزي — د بهار په تازه نمای بو

چه تر هر څه یې عشق خوښ کا — په هغه پسند لي رای بو

چه د کوچ په وقت زیاد کا (۱۱۷) — په هغه بانګ درای بو

د هجران په سل ضروره — په وصال د غم زدای بو

چه دې د پېر سرافراز کړم — ستا د عشق په سر و پای بو

---

(۱) عطر خرڅوونکی.
(۲) په قلمي نسخه کښې: دمی.
(۳) په قلمي نسخه کښې: حصلون.
(۴) د قلمي نسخې په ټولو بیتونو کښې: کښېښو.

چه سایل د یار د در وي | په هغه نیك بخت ګدای بو
د عاشق په زړه نیاز ه | په دماغ د دلربای بو

ترخپل ځان په تامین یم
٢٠٥٤ ‏ ٢٢٧
زه یونس په یو خدای بو

سهل چار ده که په عشق کښې دي ځان بایلو | شیخ صنعان[1] په عشق کښې دین وایمان بایلو
قراریې صبر مې د واړه ستا په عشق کښې | ترڅملو مې دستر ګو اسان بایلو
تن پرست د عشق له ذوقه بې خبر نه شه | تمام عمر یې په کسب د نان بایلو
که لاغر په شبر د موی شوم عجب نه دی | چه مې زړه په هغه موی میان بایلو
د عالم تر فهمه سپك لکه ګیاه شوم | عاشقي را څخه سر و سامان بایلو
هسې نه چه عقل علم زما نه وو | و وخود واړه مې د یار په چشمان بایلو
چه جلوه یې د ګل و لیده عیانه | بلبل زړه په تازه ګل د بستان بایلو
جاویدان خوښي به ورکه طور طور | هر عاشق چه دل و جان په جانان بایلو

---

(١) شیخ صنعان یو افسانوي قهرمان دی چه یو عابد زاهد مسلمان و. په یوې مسیحي ښځې مین شو او د هغې د پاره یې دین او ایمان بایلود. شراب یې وڅښل، قرآن یې وسیځه، زنار یې وتاړه او ... خو د دوستانو یې د دعا په سبب شو او لار یې ته راغی او د جینۍ ته یې لاس واخست. مګر جینۍ ورپسې راغله او مسلمانه شوه. د یونس په دیوان کښې د اووم څو ځله راغلی دی په پښتو او دري ادب کښې د یو مثال او معمول په توګه ویل کېږي. د شیخ صنعان پوره داستان په مختلفو شکلونو په پښتو او فارسي ادبیاتو کښې موجود دی. یو لرغونې لمونه یې هغه ده چه شیخ فریدالدین عطار (٦٢٧ هق کښې مړ) په منطق الطیر کښې راوړې ده

۲۰۶۳ دلته زموږ په دې [به] کله څوک ورده وي ۲۲۸
یونس زړه دې هغه یار په احسان بایلو

ماګرګند که د عشق درد په طبیبانو — و یې نه که هیڅ علاج د ښه ګو رانو
مدعالې د غمازو راپوره که ړه — فلک چرخ و اهه په کام د رقیبانو
په ازل یې سر وکښلی دی یې یاره — څوک به څه وفائي غواړي له خوبانو
لا به کله دا فلک زما په رای شي ۱۱۸ — چه خالي شي دردیان مې له دربانو
د لیلی په عشق یې عقل منعدم شو — مجنون ځکه شه په شمار د مینوبانو
په درد و غم مې ویار نه شکایت کا — خدای تو ر که مخ د واړو کاذبانو
په غمزه سره همیش کوي خونونه — چا ور وښود اهنر د قصابانو؟
سرګردان رسوا به نه وم په عالم کښې — که مې اوریدی پند د ادیبانو
زما غم څه په حساب د خلقو نه دی — چه به ښکوی شي په قلم د کاتبانو

صبحدم په دعا لاس نیسه یونسه!
۲۰۷۳ ګوندې بیا مومې وصال د محبانو ۲۲۹

(تل) ګورې ورته، منتظر د دلبرانو — نه ګورې خپل سر ته، منتظر د دلبرانو
خود به یې مجنون که چه لیلی معشوقه شي — ځي به وکوه بر ته، منتظر د دلبرانو
خواست په صبحدم د خسته دلو نه قبلیږي — ګورې و سحر ته، منتظر د دلبرانو
ږ ږ به ده نام ونګ تهمت د خلقو په سر واخله — نه جار وځي بهر ته، منتظر د دلبرانو

ACKU

بې د یار له دره ننداره د جهان پر بړده! — نه د زړه مې بل چېر ته، منتظر د دلبرانو
مخ یې د خپل یار په شغل خوش شه تر آفتابه — نه ګوري ولږ ته، منتظر د دلبرانو
د وه ستر ګې څلور که، په اننو د یار و لو ته — ګوري وره بر ته، منتظر د دلبرانو
خپل ځګر یې سپر کړ، د قضا و ناوکو ته — سم دی و قدر ته، منتظر د دلبرانو

تل یې انتظار د لعلو لبو دی یونسه!
۲۰۸۲ نه و شیر شکر ته، منتظر د دلبرانو ۲۲۳۰

دا جهان به بر قرار وي، موږ به نه یو — په هوس به یار و یار وي، موږ به نه یو
خلقات[1] به د ګلو نو ننداره کا — لوږ په لوږ به سبزه ګلزار وي، موږ به نه یو
د چمن نوي غنچې به غوړېدې شي (۱۹) — د بلبلو به چغار وي، موږ به نه یو
عاشقان به صفت کا د معشوقانو — ځای په ځای به سبز ګفتار وي، موږ به نه یو
د سپین مخ شغلې به وي د هر یو یانو — پرې به زلفې[2] تار په تار وي، موږ به نه یو
سبز مجلس تازه یاران به وي خوشحاله — دا هم خدر عجیبه چار وي، موږ به نه یو
زاهدان به زهد کا په خانقاکښې — تر صباحه به بیدار وي، موږ به نه یو
خرابات به له رندانو سره پور وي — مست به سرې سترګې خمار وي، موږ به نه یو
شاهدان به هر کړه په عاشقانو — داو به سبز بوس و کنار وي، موږ به نه یو

---

[1] خلقات، د خلق د جمعې هغه شکل دی چه ما د لومړي ځل د پاره د لته ولوست.
[2] په قلمي نسخه کښې: زلفو.

رقیبان به ژوندي ګرځي دربغېر کړېغېر! لږ ژوند وسره به شمار وي، مونږ به نه یو

یقین خاص لره یونسه! خدای کریم دی

۲۰۹۳ په دوزخ کښې به کفار وي، مونږ به نه یو ۲۳۱

دا بیان د زړه په غوږ واورئ یارانو! د رسته له مدحه د علماو د شیخانو

عالمان یې د ظاهر علم چراغ دي درویشان یې باطني چراغ دي انسانو

پېغمبر ځای کښې چه د رسول وېل کېږي هغه ځای به زهر يې چوي د شیطانانو

درویشان چه حلقې جوړي کړه د ذکر لوړ وړنې يې د خښتن په ذاکرانو

نداريې يې په ثواب کښې مشترک دي ګرچه حرف د ذکر نه کړه تر لبانو

عالمان که د رستر شپه په خوب اوده وي خوب تې به وي تر بندګۍ د جاهلانو

ذاکران چه یو ځل ووايي: الله! د بهتر دی تر خیرات د دُرمرجانو

که طالب د یو حرف ومري شهید دی(1) دي داهسې رنګ ویلي عالمانو

درویشان چه یو زمان مراقبه شي ورڅرګند شي پټ احوال د دوجهانو

لکه څو الس علم دي په ظاهر کښې هسې څوالس سلسلې دي د ولیانو

عالمان ورانده خلق رهبري کا ⑫ مقید په رهنمایه د ګمرهانو

په دوه کونه به ازاد وي غم یې نشته هر چه پټ شي په لمن د کاملانو

---

(1) حدیث شریف دی: مَنْ مَاتَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَقَدْ مَاتَ شَهِيدًا.
یعنی: څوک چه د علم په طلب کښې ومري، ګویا چه شهید ومړ.

که عالمان په جهان نه وای ملك به ورانه وو
مسلمان به ګډ وو د هر ولیه کافرانو

جدايي به د روا ناروا چا کړه
مُلك به ډك شو له ډير نګو احمقانو

که نظر د کاملانو په مُلك نه دی
مُلك به لاندې کا بلا، ديو، پريانو

هغه څوك چه د ظاهر باطن طلب کا
صد رحمت پر هغو وارو طالبانو

نقش بندي[1] لکه پتنګ په خوله سوزی
حجره اي په کړين وسيا دي د طوطيانو

په جهان کښې عالمان[2] ياد د ويښتان دي
دوی ساتلی دیده باغ دی له زاغانو

٢١١٢ ما یونس په دوار ولاس دی لګولی
که مې خلاص کا په قیامت له سختو ګرانو ٢٣٢

عاشقان په عشق کښې نه وي بې اندوهه
څوك به څه نه کړه فرياد له زبر کوهه

چه په خپلې زړه بايلو چاته وايي
خپل ناوان له نور[3] و مه غواړه ناپوهه!

د فراق باران مې ځکه په ځ ووري
چه د غم وريځې مې ده په زړه انبوهه

د ويلو زور مې نشته چه و وايم
جدايي مې مړی وچه کړه له ستوهه[4]

لکه زهر چه له شهدو سره ګډ شي
د رقيب مکر خالي نه دی له دروهه[5]

---

(۱) نقشبندي. د تصوف یوه سلسله ده. او که د (نقش بندی) پر ځای (نفس بند) ولولو هم بیت خپله معنا په ښه توګه ښندي.
(۲) په قلمي نسخه کښې: یا علمان.
(۳) " " " " : مرورو.
(۴) ستوماني، ستړيا، ستونځه.
(۵) مکر، فریب، تزویر، ټګي، دروغ.

د عاشق معشوق په میان کښې پرده نه وه — دصورت بې مسافت(۱) وکه خو کړوهه(۲)

۲۱۱۹ — ۲۳۳

چه ښځو تې په بوس سره رغیږي
دیونس مدام فریاد له دهغه ګروهه

په دنیا کښې چه څه ده بیچارګي ده — خاکساري وحیراني اوارګي ده
دعالم په اختلاط کښې فایده نشته — سرمایه دخوشحالۍ کناره ګي ده
که انسان لې په احسان سره معروف شه! (۲۱) — بې احسانه د انسان هیچکاره ګي ده
لکه تاک زهر په شهد کښې پنهان که! — هسې شان داوس عالم غمخوارګي ده
ن. دې حال لکه غنچه په پرده پټ دی — په صبا (دې) لکه ګل اشکاره ګي ده
دابېلتون دهغه یار دې چلېده شي — که لره تنه دارواح بېزاره ګي ده

۲۱۲۶ — ۲۳٤

که رضا لې په قضا کښېږ. دې یونسه!
له غمونو دې خلاصي یکباره ګي ده

د رته وایم په خونګه استنجا ده؟ — که طالب یې، زده کوې زما رضا ده
خلور فرض، یوه واجب، یوه سنت ده — مستحب، احتیاط هم وشمېره(۳) روا ده
اوهم بدعت ده،. پرې خبر شه! — حساب شوې په کتاب کښې(٤) ناسزا ده

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: مصافت.
(۲) دمسافې مقیاس چه اوس خپل ځای متریک مقیاس ته پرېښې دی
(۳) په قلمي نسخه کښې: شمېره.
(٤) " " " : که.

ACKU

فرض د حیض و د نفاس او هم د غسل — ځلو رم چه پلیتی تر درم بالا ده
او چه وي لکه درم[1] هغه واجب ده — تر[2] درم کښته سنت بې اشتباه ده
د سنت تر حده کوزه مستحب ده — زده کوه بې لازمه په هر چا ده
چه بې باد په لامده[3] تر باندې سرایت وکه — دو باره کړه استنجا احتیاط داده

۲۳٤
چه په قې وبیو ستنجه[4] کا بدعت دی
په دا رنګه بې د یونس شماره ریښتیا ده[5]

۲۳۵
هغه ورځ چه مې د مینې ابتدا شوه — بې له عشقه مې له کل کاره بلا شوه
از مبیسبت د هغو سترګې په ژړا کړې — چه په عشق کښې بې په ما پورې خندا شوه
ما و عشق و ته د صبر پوله لغشیه[6] — په سیلاب دا وښکو پوله پو فنا شوه
لکه نښتي صید چه خلاص شي له صیاده — نیمه خوا مې د دیدن شو بې سودا شوه
زما سترګې کښېلو بې چه تا وو یني — ستا په حسن مې ګواهي و ته ریښتیا شوه
د راننه د یار له مخه نهره نشتره (۱۲۲) — د دیدن بهره په بر خه د بینا شوه
اشنائي مې د وصال په نیت کوله — ګرفتار په جدائي شوم مشکل دا شوه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : او چه لك تر درم .
(۲) » » » » : تر .
(۳) » » » » : پلاونده تن
(٤) د (س) په سکون د شاعر له خواد (استنجا) د کلمې مخفف .
(۵) په دې نظم کښې شاعر د فقهي احکامو له مخه د (استنجا) اقسام بیان کړي دي . استنجا ، د پاکې غوښتلو او د ځان پاکولو ته وايي ، د فقهي په اصطلاح دا و د اسې نه د مخه حقیقي او ظاهري پلیتي څخه د بدن د مخصوص غړو وینځل او پاکول دي چه تفصیل بې د فقهي او دینیاتو په کتابو نو کښې لوستی شی .
(٦) لغشیل = لغړېدل ، رغړېدل .

ACKU

په بهار پسې آفت د خزان شته دی — چه د گل غنچه د غم د پاره واشوه

غنچې څه د ستا له خولې سیالي کوله — خوله یې ماته په څپېړ و د صبا شوه

د یوه په شومیّت گوره بل خوار بې — ننداره د سترگو زړه لره بلا شوه

۲۳۶ — ۲۱٤۵

د دوران په غم کښې صبر کړه یونسه!

دازل بخره دې داوه گوندې داشوه؟

چه مې ولیده د یار د واره خسار سره — صد قدر لاله گل شه صد هزار سره

هغه ستا د مخ په مینه پتنگ نه دی — چه سپند نه شي د ستا د عشق په نار سره

رنځور څکه ستا غزال غواړي د لبره! — د بیمار خوله په مزه کاندي انار سره

چه په زړه زخم لري خوناب یې څاڅي — ظاهر نږي سیل د وینو تر بهار سره

که په سر د یار دیدن وي هم اولجه دی — څه ځای گنج د سپینو زرو لکه خروار سره [1]

بلبلان و گل ته رسد کله مومي؟ — څو اول زخم قبول نه کړ د خار سره

۲۳۷ — ۲۱۵۲

د یونس ازار اسان نه دی رقیبه!

د مظلوم داه بخري او [2] شرار سره

گنجایش مې په خاطر کښې د بل نشته — چه له یار سره مې وکاندي منشته

---

(۱) خروار په پښتو، دري او اردو کښې د وزن مقیاس دی چه اوس خپل ځای د گرام او تن متریک سیستم ته پرېږدي. زموږ په هیواد کښې یو خروار اتیا منه کېږي چه هر (من) یا (سیر) یې ۶۶,۷ کیلو گرامه کېږي.

(۲) په قلمي نسخه کښې: وه.

پہ یوہ سر (۱) چہ د وہ بادشاهان کښېني — شوې نہ دي د ازل پہ سرشته
پیدا شوې مې هالہ شاه (۲) خوبان و (۳) — چہ لا خا و رہ دادم نہ وہ خوشته (۴)
جن و [د] انس دده ښایست وتہ حیران وو — پہ خدمت پہ یکبارہ و و فرشته
هواخواه بہ دې پہ سر د رقیب پسته دي — چہ دا اغوندي دلبر لري پښته (۵)
پہ زیارت یې د نامراد و مراد پوره شي (۲۳) — چہ پہ تیغ [دستا] دستاد مینې وي کشته (۶)
هر سړی چہ عاشقي کا ندي اغازه — د تن خاک بہ کا پہ خون کښې اغشته (۷)

رند زاهد جګړه پہ خر لګاندي یونسه!
۲۱۶۰ سر پہ مُهر ده د دوارو نوشته (۸) ۲۳۸

کہ کوخہ کړي د دلبر غلط ته — نو بہ ګرځي دربدر پہ پرې تر ته (۹)
پہ هر دم یې پہ نعمت شکر ګزار شه! — دولت مهر و هم پہ سر پہ لتہ ته
پہ هجران لہ ما پناه (۱۰) د دلبر کوې (۱۱) دی — راښکاره شه یار دیگر جنته ته

---

(۱) تخت.
(۲) پہ قلمي نسخہ کښې: شاهي.
(۳) مطلب ترې حضرت محمد (ص) دی او پہ دې بیت کښې هغہ قدسي حدیث تہ تلمیح ده چہ وایي: كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ، یعنې زہ پیغمبر وم او آدم لا پہ اوبو او خاورو کښې و.
(٤) خوشته = خیشته، لوند.
(۵) پښتې، ملاتړ.
(٦) وژلی.
(۷) اخښلی، اغښلی.
(۸) لیکلی، مطلب د ازل لیکنہ.
(۹) پہ ښارونو.
(۱۰) پہ قلمي نسخہ کښې: فنا.
(۱۱) کوڅہ.

د عالم[1] د همتو نو بار به اخلي — که په مینه شي اشتر په نتر تر
چراغ زي د یار د یاد و ترخ بنجي — په کنار شه تر د اخواب غفلت تر

۲۱۶۶ چه نځو یونس دي وروست تر طبیبه ۲۳۹
که اخر ګند شوي ستن هبن نبک نیتر تر

نور څه مه وایه بې مینې راته ته — که وېلد نا نیدنې راتر ته
لیوې ګو تې د یار مې ثاني نه ده — دا چه ستا لې ځېنې ځېنې راتر ته
کل ارام[2] مې غم رنګ د لارام یووه — څو به ستا لې بشرې سپینې راتر تر
التفات مې د اسمان و ماه ته کم دی — بس کافي لې ماه زمینې راتر تر
د هجران تیرې[3] مې کسي بې بصر کړه — آشکاره شه ماه جبینې راتر تر
ګر په خم د سیه مشکو اشکاره کړه — توري زلفي عنبر بېنې راتر تر

۲۱۷۳ بې وعدې به بوسه د ننه کړم یونسه! ۲۴۰
او بنې څه ؟ که ژاړې وینې راتر تر

په خاطر مې نور څه نشتر نې له یاره — ستا په سرن و چه مې سینه پاره پاره
که د یار بشره مې لیک په خاطر نه وه (۱۲۴) په مینو کښې مې شماره د و باره

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : له
(۲) کل آرام = تول هوسائي ، کېدی شي چه د (کل ارام) په ځای دې (دل ارام) وي یعنې (د زړه آرام) په دې صورت د تجنیس صنعت منځ ته راځي او د اکار یونس په بل ځای کښې هم کړی دی .
(۳) په قلمي نسخه کښې : بترې .

د هجران طاقت دې نه لرم په تا به و — دعاجز مېن ېې څه کا؟ دا وېښ له باره
سربښندل په همت ناک بانډې اسان دي — سهله چار په کم همت باندې دشواره
که راحت د دین دنیا سره یو ځای کړې — څه غوا ره ثاني نه دې له دیداره
بزمګاه د یار خالي له عیشه مه وه! — څو دنیا په خاک و باد و ې برقراره

۲۱۸۰ ۲۴۱

که یونس په وصل ښاد کړې عجب نه دی
کله شاه هم ګدای وه نا ځي یار؟!

یو غوارم له یاره ښه د بدن تازه تازه[1] — بل د رقیبانو ځانکندن تازه تازه
بل فکر مې نه کیږي د یان[2] له ګفتګو یه — شیر و شکر[3] وایه تر دهن. تازه تازه[4]
څکه بلبلان چغار کوي په تازه ګلو — نه به مدام ګل وي نه ګلشن[5]. تازه تازه[6]
یو زمان له مدحې د دلبر و موږ — تل د یار له وصفه کړه ګفتن[7]. تازه تازه[8]
مه کړه په جفا سره ازار د دلبرانو[9] — څه خو یه وفا کړه انجمن. تازه تازه[10]

---

(۱) دا غزل یا دری هیون په کلید افغاني (لاهور - ۱۸۷۲م.) کښې چاپ کړی دی (۳۹۳ مخ) او نه دلته لري
(۲) په کلید افغانی کښې : بې ستا.
(۳) " " " " : شکري.
(٤) " " " " : دا د غزل شپږم بیت دی.
(۵) " " " " : ګلشن.
(٦) " " " " دا د غزل دوهم بیت دی.
(۷) " " " " : سخن.
(۸) " " " " دا د غزل دریم بیت دی.
(۹) " " " " : د بلبلانو.
(۱۰) " " " " دا د غزل اووم بیت دی.

ACKU

زړه چه د رقیب زما په بد سره ښه کېږي — مدکړه په ازار زما دښمن تازه تازه[1]

٢١٨٧ — زړه د یونس چوي ستا د هجر له سختی — ٢٤٢

خو په خپل مرکړه غمجن تازه تازه[2]

معما به اسم

بېک[3]

چه محرم[4] لبې د کعبې والې په راه — مې باید نهفته ذکر کا د ماه[5]

---

(۱) په کلید افغاني کښې دا د غزل څلورم بیت دی.

(۲) " " " دغه غزل په نوځ کښې دا بیتونه هم راغلي دي: آه کوی له کوله په فریاد له زړه ګلمه واوره لیلیله ښنګفتن تازه تازه (پنځم بیت)
ستړی ګی وحیره شوې چه ولاړی له زړه دی ګورم وکړه په دالوری آمدن تازه تازه (اتم بیت)
یورتني دوه بیتونه په قلمي نسخه کښې نشته.

(۳) له دغه ځایه (۱۶) بیتونه د یو شعر حیثیت لري چه په هر بیت کښې یې یو نوم د معما په ډول راغلی دی او یوازې یو نوم په دوو بیتونو کښې راغلی دی. د قلمي نسخې په حاشیه کښې د هرې معما حل، په بل لیک په درې ټوټه لیکل شوی او د هر یوې لاندې د (محمدي) لاس لیک یا د دغه نوم مخفف (مح) لیکل شوی دی. داسې څرګندېږي، چه د دغه قلمي نسخه تر لیکلو وروسته د محمدي لاس ته ورغلې ده او هغه د معماګانو حل په خپل لیک پکښې لیکلی دی. د پښتو ادب د تاریخ په دغه مرحله کښې موږ محمدي صاحبزاده (۱۱۰۹ هق - ۱۲۲۰ هق) د څمکنو د میا محمد عمر صاحب (۱۰۸۲ هق - ۱۱۹۰ هق) زوی پېژنو چه عالم، فاضل، لیکوال او شاعر تېر شوی دی او سې ټبره پر دې د پښتو ژبې ادبي متنونه او دیوانونه د ده په همت پاکنویس شوي دي او موږ تر زماني پورې را رسېدلي دي.

ده د دغه کار د پاره یوه مکتبه جوړه کړې وه چه زیات خطاطان یې پکښې په کار اچولي وو چه په دغو خطاطانو کښې د جمهوریت ارګ د رحمان بابا د قلمي نسخې خطاط (ګل محمد پښاوري) هم شامل دی. او د یونس د دیوان خطاط زین الدین هم اغلباً د دې مکتبې پورې اړه لري. د محمدي صاحبزاده او د څمکنو د میا محمد عمر صاحب په باره کښې د زیاتو معلوماتو د پاره وګورئ:

الف: - پښتانه شعرا، - څلورم ټوک، (ب) د پادري هیوز په کلید افغاني باندې تعلیقات، د ۱۳۵۶ هش چاپ - (ج) د څمکنو د میا عمر صاحب په کور کښې د پښتو خدمت - کابل مجله - د ۱۳۵۵ هش کال شپږم ګڼه.

(٤) محرم: چاچه حج ته احرام تړلی وي.

(٥) د قلمي نسخې په حاشیه کښې معما په دې الفاظو حل شوې ده:

محرم لبیک می ګوید. ماه عبارت از سی روز است ولام سی عدد دارد. چون از لبیک نهفته شد (بیک) ماند. مح.

ACKU

محمّد

سر د مُلک یې کړه پر سر باندې کلاه   پر ویل اخر د مدح مقدم کړه!(۱)

محمّد

له مدهوش نه هوش لاړ په هغه سا   (۱۲۵)   له نسکوره څُمر یو څڅو یکې پرېوت(۲)

صمد

ریا یا اسم حُسنې خبرې خواه ناخواه   چه یکې په میان د صد کښې نهاده شي(۳)

لطیف

طي په زلف سرانداز وکښې شه آه   ستا د مخ طومار مې درست لوستلی نه و(٤)

ACKU

---

(۱) د قلمي نسخې په حاشیه کښې معما داسې حل شوې ده:
آخر مدح حا ست، چون مقدم آمد حمد شد. سر ملک میم است، چون کلاه سر حمد شد محمد بظهور آمد. علیه واله الصلوة والسلام. محمدی

(۲) نسکور خم، مخ می شود، چون یک قطره یعنی نقطه دور شد (مح) ماند. و چون از مدهوش هوش رفت "مد" ماند. مح با مد محمد شد. علیه واله الصلوة والسلام. مح.

(۳) د قلمي نسخې په حاشیه کښې ددې معما حل داسې لیکل شوې ده:
یکی در حساب چهل ست به این طریق ی ۱۰ أ ۱۰ ک ۲۰ ی ۱۰ واین هم عدد میم ست چون میم در صد در آمد صمد شد. مح

(٤) ددې معما حل د قلمي نسخې په حاشیه کښې داسې راغلې ده:
زلف سرانداز یعنی بی سر لف شد؛ چون طی در لف در آمد لطیف شد. مح.

رفیق

یوه نقطه کړه له اوله د نرم لسین یې[1]   لره غرنه به پیدا شي ستا همراه[2]

جعف

د ستا عفو مې په جرم کښې ده یاره   منتها د دواړو نشتر کار اګاه[3]

نجم

نی ناقص له جام اجوف سره واېه   اشنا و باسه له دې مشکله چاه[4]

قطبی

قد د یار او طوبی مه وایه چې دوه وای   یو له دوو وایه تر دوه تېر شه نیک خواه[5]

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : نرم ولریې.

(۲) د قلمي نسخې په حاشیه کښې د معما حل داسې لیکل شوی ده :
نرم یعنی رفیق ، چون یک نقطه از قاف دور کرده شود رفیق گردد . محمدی .

(۳) د قلمي نسخې په حاشیه کښې دا معما په دې ډول حل شوې ده :
عفو بی منتها ، بی منتها یعنی بی حرف آخر ، عف می شود ، و جرم بی منتها جر می شود . چون عف درمیان جر درآمد ، جعف شد . محمدی .

(۴) د قلمي نسخې په حاشیه کښې د معما حل داسې راغلی ده :
نی ناقص ن می شود و جام اجوف جم است . چون یکجا شد نجم شد . م ح .

(۵) دا معما د قلمي نسخې په حاشیه کښې داسې حل شوې ده :
یعنی قد یار و طوبی را دو مگو ، یعنی هر دو را یک کن . قد طوبی شد . واز دو بگذر و آن دال قد و واو طوبی است . قطبی شد . م ح .

ACKU

شبلی

دفلک طاس دې نګون شي چه خونخوار دی — همیشه په وینو ډک دنې ګناه (۱)

عماد

مګر بیا مې و بسمل ته تیار بڼ يي — چه ملن عمدا په میان کړه هغه شاه (۲)

قاسم

غنچې خار لکه خنجر په لاس کښې واخست — ای قابل نجې د بسمل وغوښت همراه (۳)

په بلبل باندې اختر شه لره دې شوقه — لره د غره میانه و والوت نجې پرواه (۴)

(۱۲۶) بهار

چه يې سر په ځای د پښو پښې يې سر شوای — دا سزای د راهب غوند يې ګمراه (۵)

---

(۱) دا معما د قلمي نسخې په حاشیه کښې چا نه ده حل کړې او زمونږ له خوا هم ګرانو لوستونکو ته پاته شوه.

(۲) مګر دا معما بیا د قلمي نسخې په حاشیه کښې داسې حل شوې ده
دامن عمدا الف است، چون به میان آمد عماد شد. مح.

(۳) په قلمي نسخه کښې: جراه.

(٤) اودې معما ته په حاشیه کښې داسې لیکل شوي دي:
"این هر دو بیت یک معما ست. همراه قا که بسم رفیق شد. قابسم شد. چون بال ازمیان پرید قاسم ماند. مح"
مګر نه! معما داسې حلیږي:
"قابل" او "بسمل" نه چه "بل" او "بل" لرې چه دواړو نه "بلبل" جوړ یږي والوزي نو "قاسم" پاته کیږي.

(۵) د قلمي نسخې په حاشیه کښې د معما حل داسې راغلی دی:
راهب شیخ یهودیان.
راهب چون معکوس شد بهار ظاهر شد. مح.

ACKU

وحید

قدح ونیسه په لاس کښې فارغ کښېنه
پای سرو له ورکړه د قدجاه[1]

یونس

چه د قول لام د یمه حصه کم شي
باقي قول د یونس په نام گواه[2]

۲۲۰۳ ~~~~~~~~ ۲۴۳

په هجران مې زړه ازار شه، ښه چه شه
بې ارامه ناقرار شه، ښه چه شه

سوړ نسیم یې د وصال گانړه کم قدره
که پر بل د هجر نار شه، ښه چه شه

چه یې پند د عقل نه مانه مین شه
که تر تورو خاورو خوار شه، ښه چه شه

آه ځو یاد د عاشقانو لوی هنر دی
مخفي حال که مې اظهار شه، ښه چه شه

---

(۱) د قلمي نسخې په حاشیه کښې دا معما داسې نگه حل شوې ده:
این عبارت از یداست؛ چون قدح بر سر او آمد قدحیل شد. چون پای سرو که واو است مرتبهٔ قد یافت یعنی در جای قد آمد وحید شد. محمدی.

(۲) په پای کښې محمدي صاحب د شعر د کسر نه د یونس نوم داسې را ایستلی دی:
عدد قول یکصد و سی و شش است. لام سی عدد است. سوم حصه از آن کم کرده شد. بیست عدد ماند. پس جمله یکصد و بیست و شش عدد شد، که موافق عدد یونس ۱۲۶ است. محمدی.

باري شاکر چه مي بل ځاي پس کړه نشته — که پر نقش غم د يار شم، بنه چه شم
محبت مې په خراب خاطر ترونده ونده دی — که په عشق مې سر يکار شم، بنه چه شم
د مجنون محبت تمام په جهان پرېښود — که خسته په خنده وخار شم، بنه چه شم
رسوايي د عاشقانو سرلوړي ده — که مې بس خره آه کوکار شم، بنه چه شم

۲۲۱۲ و يونس ته ننګ وننام دواړه پېغور دی ۲٤٤
که رسوا په هر ديار شم، بنه چه شم

په اودس کښې که څوک ځي وميخانې ته — بې وسواسه په اختيار و دوکانې ته (۱)
ناظران به تې منسوب (۲) په داګمان کا — چه دی درومي د شرابو پيمانې ته
هر مجلس له جذبه (۳) د خپل طرف وه — خدای څوک مدلبره وبدې ځانې ته
کار د دام ګرفتارۍ ده نظر وکړه (۱۲۷) — مرغه وريشې په طمع ودانې ته
په ظاهر يې يو ظاهره ننداره ده — فکر تېر کړه د متونو (٤) معانې ته
راست روي د مطلب په لاره بويه — لکه سم غشی سم ځي ونښانې ته

۲۲۱۹ د يونس ويل مثال موي درهم (٥) دی ۲٤٥
احتياج لري د فکر وشانې ته

---

(۱) کېدی شي چه شاعر د غه شکل له (دوکان) مرجوح ګڼلی وي.
(۲) په قلمي نسخه کښې : ناصران به تې منصوب.
(۳) " " " : خبر به.
(٤) " " " : مطون. کېدی شي چه دا کلمه دې "مطول" وي چه د "معاني" په علم کښې يو مشهور کتاب نوم دی.
(٥) ګڼه وړه - انځړ بنجر.

چه څرګنده شوه محبوبه ګل خندانه — په شغله تر لمر تېرې وه دوچندانه
لږ د ورېږې پلو په مخ حجاب کړه — لږ رندانو سره رنده وه رندانه
چه په توره شپه جهان سره رڼا کا — هغه برق یې سیمې نه کړه لږ دندانه
خوبانه ورته جاروب د لارې نه کړې — هومره وصل د یار چېرې دي نادانه
ستا د زلفو بند مې فال د ازادۍ دی — خلاص مې مه کړه چې دي زلفو له زندانه
چه د مینې په الماس سره غوڅ نه شي — هغه زړه په سختۍ سخت دی تر سندانه
د عشق چار په سر بازۍ ده نه په لافو — سر بازان د عشق پتنګ(۱) وه دي له میدانه
د هستۍ د کور یې بیخ و بنیاد وکیښ — عاشقانو د عشق مېنه کړه ودانه

۲۲۲۸ چه د بدن د هغه یار نه وي یو نسه!
د جنت خوشي به خر کړي جا ودانه ۲۴۶

تا وې: مخ وته مې ګوره! ماوې: سترګې په لېمه!
تا وې: ما ورته له بېغوره! ماوې: سترګې په لېمه!
تاوې: تېښتګ شه! که عاشق یې، ماوې: څه یې په کاعشق کښې؟
تا وې: غم دې لوړ د لوره، ماوې: سترګې په لېمه!
تاوې: سر د عاشق څه دی؟ ماوې: ګوی(۲) د خم د زلفو
تاوې: سر له مامه ژغوره! ماوې: سترګې په لېمه!

(۱) پتنګ وس ـ توپ (۲) پنډ وسکه. توپ.

ACKU

تاوېږ: د واړه زلفې څه دي؟ ماوېږ: هرچېرته خور وا يې!
تاوېږ: شپه د ه تکه توره، ماوېږ: سترګې په لېمه!
تاوېږ: ولې دې فرياد کا؟ ماوېږ: درد د بېلتانه دی
تاوېږ: مه کړه آه په زوره! ماوېږ: سترګې په لېمه!
تاوېږ: وا اوره که عاشق يې! ماوېږ: وايه! زه ملغوبه يې (۱۲۸)
تاوېږ: اوښې وينې اوره! ماوېږ: سترګې په لېمه
تاوېږ: خوشحال دې پو نه شه؟! ماوېږ: تالم ستا د ر کېښې
۲٤۷ تاوېږ: مه خوله دې کو (۱)! ماوېږ: سترګې په لېمه ۲۲۳۵

تاوېږ: مخ به درته ګند کړم، ماوېږ: غوره تر دا څه؟
تاوېږ: زلفې به کمند کړم، ماوېږ: غوره تر دا څه؟

تاوېږ: د وه زلفې مې څه دي؟ ماوېږ: دام دې پېمخ بلا دې،
تاوېږ: تا به پکښې بند کړم، ماوېږ: غوره تر دا څه؟

تاوېږ: د واړه لب مې څه دي؟ ماوېږ: قند دي په معنی کښې
تاوېږ: سر به دې په قند کړم، ماوېږ: غوره تر دا څه؟

---

(۱) کو = کوی = کوڅه.

تا وې: سوړ پېزوان مې څه دی؟ ما وې: او ردی چې نظر کړم
تا وې: تا به پر سپند کړم، ما وې: غوره تر دا څه؟

تا وې: وصل زما خوب دی، ما وې: بې خبره زړه؟
تا وې: پوه به دې په خوب نه کړم، ما وې: غوره تر دا څه؟

تا وې: خوله به صبا در کړم، ما وې: بوې د وفا نشته
تا وې: زه قول سوګند کړم، ما وې: غوره تر دا څه؟

تا وې: غټ(۱) کاته مې څه وې؟ ما وې: صبر وړې لېدله
تا وې: لا (به) نظر ور نه کړم، ما وې: غوره تر دا څه؟

تا وې: مینه زما غم دی، ما وې: غم زما قبول دی
تا وې: ډېر به دې دردمند کړم، ما وې: غوره تر دا څه؟

تا وې: څه وایې یونسه! ما وې: زړه د عاشق ګوره!
تا وې: ستا ویل به پېند کړم، ما وې: غوره تر دا څه؟

۲٤۸

۲۲٤٤

(۱) په قلمي نسخه کښې: غټه.

ACKU

معما به اسم [۱]

توری

چه موقوف دستا په اسم زما کام شه | نیم ابرو هلال دي تام لره تمام شه [۲]

محمَّد

والخله دوه میمه فقط لره یوه میمه | امر بي نُقَطه لوله دوست نام شه [۳]

یوسف

له یعقوبه پونده لیري شوه سنه نه وه | په هغه عوض ځمي ورته انعام شه
بیا هغه ځمي چه پسته ورله نه وه | د یوسف اسم تري هله سرانجام شه [۴]

(۱۲۹) قوام

د زهادن ره له دیري ریاړ لکه دی | جمع قوم یې لې سره کره قوام شه [۵]

---

(۱) دلته هم په یو غزل کښې چه اته بیته لري او وه یو نمونه د معما به د دول راوړل شوي دي.
(۲) (۳) (۴) گران لوستونکی به د غه دري معما گانې پخپله حل کړي.
(۵) د (قوم) جمع (اقوام) دی، چه لې سره شي ؛ یعنی د هغه د سر توری چه (الف) دی ایسته شي نو (قوام) پاته کیږي.

ACKU

کلیم

کړه یار صاف کرم کړ درد ستم دی
پر میان دا ابن و آن ثابت اقدام شه(۱)

خدا بِردی

څه بنه شپه وه چه می یار پیالۍ ساغر کړه
منور لې پر جمال د میو جام شه(۲)

یونس(۳)

۲۲۵۳ خوږ(٤) نیم لب لې نمک اخستی نه دی
۲٤۹ د یونس نمکي اسم پر جام شه(۵)

چه خبر شي د هغه خلقو له درده
نور ه مه کړه اشنایي له هغه ګروهه
چه یو ځل له هغه یاره دروه ولاړ شي
له قربت لې پر څېسبت د دومره خو ګروهه

(۱) (۲) دد غو دوو معما ، و حل هم لوستونکو ته سپارو .
(۳) د غه معما ، محمد هوتک په پټه خزانه کښې را اخستی ده او عنوان یې ورله ور کړی چه: (وَمِنْ مُعَمِّیاتِهِ) یعنی (د هغه له معماګانو څخه)
(٤) په پټه خزانه کښې : چه .
(۵) د پټې خزانې فاضل محشي ، د دغې معما حل د لوستونکو قریحې ته سپارلی دی . د هغو سپارښت به موږ پر ځای کړو او د معما حل به وړاندې کړو :
لب دا بجد په حساب (۳۲) کېږي ، چه نیم یې کړو (۱٦) شي
نمک (۱۱۰) راځي چه (۱٦) ورسره یو ځای شي نو (۱۲٦) ترې جوړېږي .
د یونس نوم هم په دغه حساب (۱۲٦) کېږي .

چه دې راز د زړه نهان ساتلی نه شي — د زړه حال هغه ترمه وایه ناپوهه
سر و مال تر اخلاصې اشنا فدا شه! — په هجران مې سر وهه له سنګه وکوهه
هسې شان محرمان نه وينم په ستر ګو[1] — چه پرې د کړه سینه تشه کړم لټوهه
چه له ستر ګو مې باران داو سېلاو رې — د هجران وېځ مې ده په زړه انبوهه
چه یونس د عاشقۍ کتاب وکوت
٢٢٥٩ هیڅ ورق یې خالي نه و له اندوهه ٢٥٠

اوښې مې چه راشي په مژګان دانه دانه
پر یوځي[2] له مژګانه په ګریبان دانه دانه
داواړه زهوب[3] د زخمې زړه دی که پوهېږې
رژي تر دوه ستر ګو په هجران دانه دانه
د ستر شپه چه ژاړي د عاشق په همراهۍ
پرخه ورسره ژاړي اسمان دانه دانه
هار زما د راز د رقیبانو په لاس مه ږده
(١٣٠) واړه به پرېشان که په جهان دانه دانه

---

(١) په قلمي نسخه کښې : په ستر ګې.
(٢) " " " : پر یوزي.
(٣) زهوب = زوه، ریم.

ACKU

صبر د عاشق له زړه محو ویو تار په تار که
تخم په زمین باندې د دهقان دانه دانه

زړه به د ناترس د چا په اوسټو ونه خوړي (١)
کاڼي نه زمینیږي په باران دانه دانه

ستا د مخ خالونه په علاج د رنځورانو
دادي مګر قند تخم ریحان دانه دانه (٢)

چا چه په جهان کښې کړي کر د نیکو بدو (٣)
واړه به یې تول شي په میزان دانه دانه

گنج د سنو خبرو هر ګز مه پرېږده یونسه!
٢٢٦٨ واړه وار په وار کړه په زبان دانه دانه ٢٥١

ستا ارزو چه مي پس زړه کښې ده جانانه! — نه سر کېږي نه مې ځي له دل وجانه
هغه څوک چه عاشقي کاندي بنیاده — بیا یې څه دي د خاطر لا تمنا نه (٤)
عاشقي مې د وصال په نیت کوله — په نصیب مې جدائي شوه سخته ګرانه
راحت تل دي له اندوه سره تړلی — وصل چېرې چا موندلی بې هجرانه

---

(١) یعني خوړي = خیوږ نه شي. کېدی شي چه دا کلمه (ونه سنوړي) او یا (ونه خوږي) وي.
(٢) په دري کښې وایي: خال چیچک نیست بر رخسارهٔ جانانه ام
شربت قندست در وی تخم ریحان ریخته
(٣) حدیث شریف کښې وایي: الدنیا مزرعة الاخرة! یعني دنیا د اخرت کر وندده. / په قلمي نسخه کښې: نیکو بدو وي.
(٤) په قلمي نسخه کښې: ... یتمنا

سل هوس ته هغو اوښېو قربان شه — چه په وصل کښې حاصل شي له خندانه
که هجران د اشنائي په خندګ کښې نه وای — د وصال قدر به چېرې وه نادانه!
يو زمان په بېرته نه ګوري له نازه — دلسوخته ور پسې ځم سينه بريانه
سر بازي په عاشقۍ کښې سهل چار ده — شېخ صنعان په عشق کښې تېر شه تر ايمانه
اشنائي په د برضرور په لاس کښېوځي — لکه لعل په ضرور خېژي له کانه
ما د صبر پوله نغښتې ده محکمه — د عشق موج مې کړه د صبر پوله ورانه
که مې يار په ژړا خاندي رسم دود دى: — ګل هميش تازګي مومي له بارانه

٢٢٨٠ دخپل عشق په سختئ صبر دي ونسر دى
٢٥٢ خود کرده به خر تاوان غواړي لکه چانه

(١٣١)

ده چا ته خپل مطلب پوره پاري ده — تر مطلبه پوره ته ښه بېګاري ده
د اخلاص د اشنائي د يګډان سودا شه — دلباس اشنائي ګرمه بازاري ده
د راحت په ورځ تقصير د خپلوى نه دى — د ضرور په ورځ له ياره بېزاري ده
په دا وقت د بلا هنر پوښتنه مه کړه! — او س هنر له هنر و نور نه داري ده
خداى دې يو بنده و بل ته محتاج نه کړه — محتاجي د سړي لويه مرداري ده
د دنيا دولت ګاه راشي ګاه درومي — کار و بار د دنيا واړه جواري ده
ته د عرش لړلزولو پرهېز دار شه! — بې ګناه د مومن دل ازاري ده

ACKU

۲۲۸۸ د تقدیر و کار ته وګوره یونسه!
چه خندا لې په تدبیر په هوښیارئ ده ۲۵۳

اول کار په بې فهمۍ په نادانۍ څه؟ — بیا اخر لې بې حاصله پښېمانۍ څه؟

چه حاصل لې له خوراکه باوړي(1) وي — په نخوړ د پر خوراک د مهربانۍ څه؟

هغه کار چه بې(2) افت وي په تاخیر کښې(3) — دیوه زمان تر بله اسانۍ څه؟

چه اقرار تصدیق بې دواړه حاصل نه وي — بې فایده د تش رسوم مسلمانۍ څه؟

چه لې کښېنوي په تخت بیا(4) وا لې پاچا! — تازه د عاریت په سلطانۍ څه؟

دې چه خپله همسا نه مومې په خپله — په رانده با نه بې د مال نګهبانۍ څه؟

چه پرې بې پېښې سامان(5) پروت د لوږې مرې — د هغه تر ملا د زر و همیانۍ څه؟

کم همت چه جمعیت د خاطر بیا موند — نو بې غم د دولت عزیز په پرېشانۍ څه؟

۲۲۹۷ مستمع چه سخندان نه وي یونسه!
وهغه ته د شعر ګویانۍ څه؟ ۲۵۴

په اودس کښې چه خوله کږې ومېځانې ته(6) — بې وسواسه په اختیار د ودکانۍ نه

(1) باوړي، باباوړی = د نارو غېه د وباره راتلل. په قلمي نسخه کښې: یاوړي.
(2) د (بدلې) مخفف.
(3) عربي مقوله ده: وَفِي التَّأْخِيرِ آفَاتٌ؛ یعنې په تأخیر کښې افتونه دي.
(4) په قلمي نسخه کښې: بان.
(5) " " " " : بیابان.
(6) دغه شعر مکرر مګر نسبتاً دلته په صحیح توګه راغلی دی. دې دپاره چه د قلمي نسخې اصالت وساتل شي دلته هم را نقل شو کېدی شي چه د مکرر چاپ په وخت کښې تکرار نه شي. - تر دې د مخه دا شعر په (۱۸۹) مخ کښې لوستلی شی!! چه د قلمي نسخې ۱۲۷ ب او ۱۲۸ الف پاڼو لوړې اړه لري.

ناظران به یې منسوب په دا گمان کړه (۳۲) چه دی د رومي د شرابو پیمانې ته
هر مجلس له جذبه[۱] د خپل طرف ده — خدای خولګ مه لره د بدو بهانې[۲] ته
کار د دام گرفتارۍ ده نظر وکړه — مرغه و پیشې په طمع و دانې ته
چه ظاهر یې یو ظاهر ننداره ده — فکر وکړه د متون و معانې ته
راست روی دې د مطلب په لاره بویه — لکه سم غشی سم ځي و نشانې ته

۲۳۰٤ دیوانه ویل مثال موی درهم دی
احتیاج لري د فکر و شانې ته ۲۵۵

مخمس

زړه[۳] له فکره د دنیا و د دم پا خه! — د دیدن په تماشا د صنم پا خه!
لکه خم گیاه له زوره د نم پا خه! — په هوس بېسې له ځایه د غم پا خه!
جهان غمونه پرېږده بې غم پا خه!
د بې غمونه به دې ولې د زړه پرې کړه — د غم او ربه دې صورت سکاره اېرې کړه
عاشقان کله په سې پورې اسرې[٤] کړه — په ژوندون یې ځان د مړو په هدیرې[۵] کړه

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: جزبه.
(۲) " " " ": بلهانې.
(۳) " " " ": زحمه.
(٤) " " " ": اثری.
(۵) " " " ": حدیرې

ACKU

دخودۍ په دعوی څه ناست یې ګرم پاڅه؟!

محبت مې د جانان دی نو څه نه دی — سر مې ګوری ستا د میدان دی نو څه نه دی
په هجران کښې مې ارمان دی نو څه نه دی — ګذشته ساعت اسمان دی نو څه نه دی
ومقصد ته د فرصت په کرمه پاڅه!

چه ښوې د دلبرانو یې په زړه وي — هغه تل و دلبرانو ته نږدې ۲ وي
وهر چا و ته چه سپي د خدای کړه وي — په ژړوند ونجې عاشقان په حساب مره وي
که عاشق یې د خیل ځان په ماتم پاڅه!

ته چه هسې د یارۍ په باب کښې مست یې (۳۳) نَصَرُ[1] دې له ملا نه نده لوستې
چه د عاد مظلومانو یې اخستې — هغو تل دې د مراد جامې اغوستې
په اخلاص په وفا سم کښېنه هم پاڅه!

معشوقې چه له عاشق سره وفا که — په وفا سره یې زنګ سینه صفا که
ذَرّهٔ[2] هم یې زحمت له سره شفا که — که وفا د سره نه کاندې جفا که
په هر حال یې خودم کښېنه خُوَرّم پاڅه!

د بریښنا په څیر دې عمر شتابي که — څو فلک دې د ژوندیو قصابي که
په زیاتې آموختې کله حسابي که — مړک به په پښېنه تا یونس ته خرابي که

---

(۱) نَصَرَ (د درې واړو توړو په زور) د عربي صرف (په تېره بیا د "صرف میر" په رساله کښې) لومړی باب دی. د (نَصَر = مرستې کول) له مصدر نه د ماضي صیغه ده. دلته هم مطلب مرسته او معاونت دی.

(۲) په قلمي نسخه کښې: زره.

خه فرصت لري د دم وقدم پاخه!

٢٣١١

٢٥٦

داغمونه چه زما دي که د بل شي — هلک(1) حیران یم پر به څه شکل زغمل(2) شي

دیوه غم لره زیاده قرار نه یم — تر هغه غمه د بل سخت و مشکل شي

داغمونه په مثال اینه چینجي(3) وه — حواله مې اندرون په زړه کوګل شي

درون زړه لکه غلبیل سوري سوري کا — دا په مخ دغه خوناب دي چه کرل شي

هغه راز چه د ترو و شوندو بیرون وکړ — په هغه زمان به خور په هر محفل شي

تر هغه به نادان تر په جهان نه وي — چه غرور تجي په صورت د آب وګل شي

چه دم راکه خزان پریشي یو بسنده!

٢٣١٨

٢٥٧

تار په تار پر بنایسته د صورت ګل شي

ستا په غم مې ترتن هسي ضرور خېژي — چه غزي مې د هجران په انبور خېژي

دهجران جزالي خوله راکړه اسمانه! — د حاکم په حکم مزد د مزدور خېژي

د وصال امید مې نخښنه د شوندو دي — او که نه په هجر دم د مهجور خېژي

دغم راکړي په مرګ دي زندګي ده ١٣٤ — د عاشق چه دم د یار په حضور خېژي

---

(1) په قلمي نسخه کښې : حق.

(2) " " " " : زغمل.

(3) " " " " : اوینه چمچي.

د هجران کمند مې پرېوت و حلقوم ته | دا تر خوله مې اواز ځکه تر وړ[1] خېژي
آه لوګي مې دلالت د عشق په اور کړ | اور په خوی چې لوګي تر تنور خېژي

۲۳۲۵ خو دست[2] وینې دې ونه ښیم رقیبه!
۲۵۸ د یونس له زړتانه کله قصور خېژي

که باور دې د قرآن په سیپاره دی | لې نرمي زړه د کاڼي په شماره دی
هغه زړه په زړه حساب نه دی ګویې | هرچه نه لري نرمي سنګ خاره دی
مرد به خیل جوهر ګند کېږي چه مرد دی | تل د پلار په هنر لاف د هېچکاره دی
د سړي د روکو ته خوله یو ور دی | دا ژبان د ور کلید اشکاره دی
په هیبت لې د مخ رنګ نه په ځای کېږي | چه بدله د جدالې په نغاره دی
د به د په غمونه و وینې په ستر ګو | هر چه یو دی په جهان یوه ناره دی[3]
د حرص سړی په غاره کېږي راکښو شي | چه هیش بندي د نفس اماره دی

۲۳۲۳ پېښکشي مې د عمل په مخ کېږي نشته
۲۵۹ یونس ستا په فضل یاد کړه بېچاره دی

(۱) په قلمي نسخه کښې : تر هوړ.
(۲) " " " : ښت
(۳) پښتو متل دی : د ډېر و د ډېر ي دلن ولن.
اصطلاح ده : یوا و یوه ناره.
دري اصطلاح : یکی و یکبار.

ACKU

خو به ناست يې د غفلت په ساړه سيوري[1]؟ — د قضا البندي ره په خوکښې[2] درته گوري
دهر چا په جبين کښلي ويرسين يې — څوك به څرناچې نوروي د نصيب توري
شش جهت[3] درته د مرګ سوروبنولي — د خلاصي ره دې نشته په هيڅ لوري
دهر چا حلق په خپلې لاړې لوند دی — څوك په خپلو شودو رنګه[4] ووځ موري
ناشناس صرافان د ځمره يو که — يار اغيار د واړه يکسان کړي ويد گوري
سنګدلان د چا په آه دلسوزي نه که — دلن باد په اثر مې لښتې سوري

۲۳۴۰ (۳۵) د يونس کښي په ډيره ژړا سپين شوو
دلبران ورته لړکړه کله گوري؟ ۲۶۰

کله سياه روزان د هجر نور نې تا نه گوري
ورځ چه تور غبار شي نه بايده دی نه چه ستوري
ته په ناز خوښې[5] کښې هيڅ خبر ور ځنې نه يې
د وه ستر ګې څلور شوې د عاشقو ستا په لورې
هر څوك ژړا کړه دلبران کله نه مين يې؟
کاني کله پوست کا؟ که مدام باران پرې ووري

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : سوري.
(۲) په کمين کښې، په قالب کښې، په خار کښې.
(۳) شپږ طرفه: شرق، غرب، شمال، جنوب، لاندې، باندې. (۴) په قلمي نسخه کښې: رنګه - د دې مصرعې په معنا کښې غور په کار دی.
(۵) په قلمي نسخه کښې : ته پناز خوشي.

روړ رقیبانو خپلو سترګو ته مه پرېږده!
خوږ به کړي په خس سره باریک دستګوتوري
حسن چه ذاتي وي د ښایښت څه حاجت دی
هرچه په غارمه[1] وي احتیاج لري د سیوري
زه و رقیبانو ته په خویم دوی وما ته
دوه د ښمنه پوهېږي چي خپل قابو خپله ترغوري
بادخولي بهنه[2] وي چه پرې الوزي یو نسره!
٢٦١ پالمې د ګلونو د خزان لړ ویې بنوري ٢٣٤٧

دا خبر پرځه نده چه په شپه له پاسه اوري
ژاړي په احوال د عاشقانو همه ستوري
یار تر لاسه راغلی رقیبانو صرفه نه کړې
خیر فقیر و اخلي سګان غاپي ورته ګوري
یو دیدن د یار چه په تمام جهان بها که
دا تر هغه ږوند دی چه ګوهر په مرې پلوري

---

(١) غرمه، تودوخه.
(٢) بهانه، بانه.

څوک چه په سایه د سرو قد د دلبر شي
څه حاجت کړ نه وي په هغه د همای سیوري[1]

کله به مطلب لکه یوسف په اسان مومي
سپین لکه یعقوب کړه په ژړا د ستر گو توري

سرفدا کول په عاشقۍ کښې سهل چار ده
کله به عاشق وي چه به سر له یاره ژغوري

۲۳۵٤ دې واشانۍ وته هوس مه کړه یونسه!
۲٦۲ نا وړې څه نار د جدائی په (هاه) لوري

زړه د رقیب چوي چه دلبر وما ته گوري
ښایي که ړانده کړ په کینه د ستر گو توري

د ښست جهان په لوري[2] چې دلبره واړه هیڅ دي
گل دي غلیمان شه یو دلبر دې ښه په لوري[3]

تاب د محبت سایه پروړ و ځه نشته (۱۳٦)
یخ، ږلی او واوره په هیڅ نه پایي چې سیوري

یو بڅرې او به تمام ښهر سره لمبه کا
دې زور زور سوي یوه آه دی د کمزوري

(۱) هما، همای، هوما دیو افسانوي مرغه نوم دی چه وایي چه په چایي سیوری وشي نو بولوی سړی ترې جوړیږي.
(۲)(۳) په قلمي نسخه کښې، پلوري. په اول مصرعه کښې (پلوري) د (پلورل) له مصدره څخه جوړ معنا ورکوي. او (پلوري) د (پلوځ) په معنا هم.

ACKU

خپل اختیار له لاسه عاشقانو اچولی
سي خدا که یار تـه، کړي پېرې، کړي پلورې
پند د واعظانو پـه بدا صل ابتر[1] وي
کله به خوشبوئي شي که ګلاب پـه وورې وورې
فهم کړه یونسه! عاشقي به دې رسوا کا ۲۳٦۱
عشق پـه مثال مشک دی پټ به ترکومه څو غوري ۲٦۳

چه مې چاته له خولې لفظ پـه وړ وراشي / له هغه لوري جواب د ښېر وراشي
که پـه ځای د او بو کاڼي و وریږي خو دی / چه پـه سر باندې مي توول داور وراشي
کړلي پر انیځـه ښکي د بیابان دي / که پـه بر ځـه زما تنکي وتر و[2] راشي
خوچه و ښیلی تېوس یا شهندی[3] شي / پـه هنـا[4] که زما باز دړ وراشي
که یو کاڼي مې ارزو شي له بیابانه / اتکل نه دی چه تر سر له ابر وراشي
د ده جام پـه دیګ مشک و عبیر غواړم / له فلکه بخشش ګرد د سکر وراشي
د مشکل پـه دهره[5] کښېوتلم شوکېږم / غښ[6] به کله د مقصد د سور وراشي؟
د نصیب تکره مې هله پـه لاس کښېوزي / چه صورت مي له حملې[7] دمن و[8] راشي

(۱) پـه قلمي نسخه کښې: هبتر.
(۲) پـه دري کښې: "تنګ وترش" د پر تنګ ځای یا کالیو ته وایي.
(۳) شهند، شهندئ، شاهین.
(٤) هنا = د مرغه د الوتو اوان.
(٥) دهره = د غرځ کاڼي، سنګ فسان - دهرګه = مشکل، ستونځه.
(٦) پـه قلمي نسخه کښې: غبر (۷) پـه قلمي نسخه کښې: حملي (۸) "دزمرو" بلد لهجه.

٢٣٧٠ د يونس په ځمصبن د يونس دى ٢٦٤

ورنها نه كړله ډېر و تيرو راشي[1]

څو عاشق يې له رساره اشنا نه شي — خود په خود يې بېستون له جانانه[2] شي

د خواهش په (يو) نظر دې اشنا ګوره! — ځه زنګ تاته زيبا و رعنانه شي

مشقت په ناقابل پورې ضايع دى — په كوښش له هره كاڼي مينانه شي

د ښتي ونرمي د واره ځبله بندي دي — لې او بو له خره خاورې بنانه شي

نرم لفظ سخت ګردن له نه نرخوبند دى (١٢) — دا كمند د بلې سختې وينانه شي

يو ودان ورانوي بل وران ودان كه — روزګار ځكه د نادان ودانانه شي

كله خيال د مغ بچه بېچې وريېښن شي — څو دې دوه سترګې ګنګا وجمنانه شي[3]

يار چه وخاندې زما په زړاپورې — په نظر دې د يار الف بې بېښنانه شي

٢٣٧٩ د فلك له جوره رېږ مرېږ شوې يونسه![4] ٢٦٥

له ناتوان سره دې قصد[5] د توانانه شي

---

(١) په دې بيت كښې د اول (يونس) نه د شاعر مراد (حضرت يونس[ع] پيغمبر) دى. چه د هغه په باره كښې په ديني روايا توكښې ويل شوي دي چه ماهي ژوندى تېر كړى وا و ډېره موده يې د ماهي په نس كښې ژوند تېر كړى دى. د يونس د شعر «له ډېرو تيرو...» نه مراد د هغه ماهي نس دى.

(٢) جانان.

(٣) مغ، داور، لمانځونكو داور، تون روحاني مشر. مغ بچه ځوان مغ چه په دري ادب كښې د (ښايسته وښكلي) ديو سمول په دود راځي. ګنګا او جمنا په هند كښې دوه سيند ونه دى چه عنبراڅه روان دى او د هغه تر غاړه هنرو داور لمانځونكو او رتو يونه هم وواوشته. په دې بيت كښې د تشبيها تو تطبيق ستاسو په غاړه!!

(٤) كه دا مصرع داسې وويلې شي نو وزن بې برابرېږي: د فلك له جوره رېږ مرېږ يونس شو.

(٥) قصد په عربي كښې نيت او اراده ته وايي. په دري كښې او اوس په پښتو كښې د (كست) په شكل اصطلاحاً: ضد، مخالف. لغت.

ACKU

هر سړی به له احسانه احسان مومي
چه بدل ستا د سلام وي علیک مومي

په بد ویل دې کوته مې په حساب دي
چه د چاړې ورکوي بېرته ور دروي

که په چا باندې اواز د قهر نه کړې
څوک به نه وايي چه ووېشت شي به کومي

که او به د چا دلوبنې په زور وڅښې
په قابو به دې د تن و وینې وشومي

زه وانو لره دا اندېښنه نشته
چه پر لاره به نشیب وي یا پېچومي

عاشقان د عشق په سل درده صابر دي
تن پوره آه و فریاد کاندي لړه دومي[1]

۲۳۸۶ دیونس د رقیب لاس ورکول شتر دي ۲٦٦
کوم زمان به جامې رنګ په وینو درومي

د هغه چه ستا په وصل دسترس دی
له دوراندې سوا څه ملتمس[2] دی

که مې سل ځله اشنا شې په بل ځله
چه (مې) و وینې، و وایه: دا څه کس دی؟

له غمونو په دې څه شکله خلاصېږم
چه همېش مې لکه سیوری پیش و پس دی

هغه دم چه ستا په یاد و مشتغل یم
له جهانه مې حاصل هغه نفس دی

چه د ستا د عشق په غم کښې پېچ و تاب کا
د غه غم د عاشقانو لوی هوس دی

که څوک زړه مه د توښې د تیاري[3] که
ده مره اواز تروندې له جرس دی

---

(۱) دومی یا دومه = ساره وهل، توده سره، ړېزش، زکام، والګی، انفلوئنزا.
(۲) ارزو.
(۳) په قلمي نسخه کښې: طیاری.

محبت لکه اتش صورت خزله[1] (۱۳۸) له اتشه سره څه طاقت د خس دی؟

بل تقصیر د عندلیب په ژبه نه و ... په هنر د خپلې ژبې په قفس دی

[چه] د رقیب خبرې اورې ما به هېر کا ۲۳۹۵

۲۶۷ د یونس په خاطر تل د غم وسوس دی

په پرېشان خاطر مې څکه شر اشوب دی ... چه بېلتون د یار [اند] په ق نړیږ خوب دی

د هجران شتیو څڅه د زړه په سر کړم ... سره خوناب مې د غم پرهار زهوب[2] دی

په وعده د ګلرخانو چه امید کړي ... داو بو نقش محکم نه دی زوب[3] دی

په بنو به دې جاروکه د خاورې ... بېچاره عاشق د ستا د درجا روب[4] دی

چه رضا هغه کوي عیب یې نشته ... څه عجب د لیونیو لیونتوب دی

مست د میو په خپل زیان[5] بانډ خوښېږي ... د شبینې په ماتېده د مست پایکوب[6] دی

رقیب هیڅ د سنا احسان سزاوار نه دی ... د لور مار د سر علاج په سنګ و چوب دی

دابد مستي به بیا مومې یونسه! ۲۴۰۳

۲۶۸ چه له میو د قالوا بلی[7] خړوب دی[8]

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: خزله.
(۲) زهوب = زوه، ریم.
(۳) زوب = اوبلن، اوبجن، نرم. دا لغت طبعاً (زړیه - اوبه) تخفیف دی.
(٤) جاروب = جارو. جا، روب = ځای پاکوونکی.
(٥) په قلمي نسخه کښې زبان.
(٦) خوښي، رقص.
(٧) په قلمي نسخه کښې: بلا.
(٨) تلمیح دی د قرآن شریف و ایت ته: اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ؟ قَالُوا بَلٰی، یعنې: (خدای ج د انسانانو ارواحو ته ووېل:) آیا زه ستاسو پالونکی یم؟ هغوی ووېل: هو!

هر چه عشق یې تر کماله رسیده شي — معشوقه به یې عاشق ولیده شي
که په سترگو مې قدم نه ږدې خشم وکړه — چېرې یې نه چېړې بانه یې خلیده شي
ستا د عشق په تېر وېشتلې هله ومرې — چه پیکان یې له ځگره کښیده شي
هر عاشق چه د هستۍ حساب هېر که — د گمان پرده یې هله بریده شي
په بیابان د عاشقۍ کښې عجب نه دی — که شیران له آهو چشمو رمیده شي
په بازار د عاشقۍ کښې اولچه ده — که دیدن په سر پسند لو خریده شي
چه دلبر په مهر گوري وعاشق ته — سراغزي د غمازو په دیده شي
چه صاحب د عنایت یې په پله راشي (۳۹) — د نفرو ذم[1] خولو نه حمیده[2] شي
د اثر د زړه د زخم معلومېږي — چه خوناب د چاله سترگو چکیده شي

۲۴۱۳ زه یونس د جدالې په تاو کښې سوزم
ستا د لور شمال به کله وزیده شي ۲۶۹

د اخر عمر نه دی چه بې یاره گذران شي
هر زمان په ما تاخت د جور و نکد هجران شي
تخم د امید مې په مزرع د زړه کرلی
ځکه مې ارزو د ستا د مهر په باران شي

---

(۱) بدي.
(۲) سبز ، د ستاینې وړ.

د رقیب شر غمازه چه دي خر تر لاسو راشي
دا دي مدعا ده که ترځله خپله یاران شي

سوځي سوختگان دي د دیدن په مینه مست دي
خرڅي په جهان که[1] په یوه زمان ویران شي

صبر د هجران په مشکلو نو باندي نه وي
گوره و گردش ته [تر] اگونډي یله زمکه دوران شي

تش چه په لن غم دریاندي صبر سکون ورك شي
ته به صبا څکه ری که ترداڼ باندي گران شي؟

٢٤٢٠ حسن له کاره د دلبري بویه یونسه!
٢٧٠ بي له دلبریه به څوك کله دلبران شي؟

هغه ورځ چه دي د حسن بازار سوړ شي[2]
د ښایست کبر به ستا په تندي ووړ شي

---

(۱) په قلمي نسخه کښي: کښن.

(۲) دا شعر د ملا ښایسته خان په قلمي جونك کښي هم شته چه ښاغلي حبیب الله رفیع په (ادبي ستوري) د ۱۳۵۳ هش چاپ کښي را خستي دی. په ادبي ستوري کښي دا شعر (٦) بیته دی چه په دیوان کښي زموږ د قلمي نسخي سره ډیر فرق لري، نو ځکه موږ هغه بیتونه دلته را اخلو:

(هغه ورځ) چه دي د حسن بازار سوړ شي — د ښایست کبر به ستا په تندي ووړ شي
د سپین مخ دیدن دي ولي قیمتي کړ؟ — خر لتو ته د ښایست نه ده چه به خوړ شي
چه د میني باران ولاړ شي گورستان ته — دا ارمان لاس به دي هلته وبله مرور شي
د مخ حسن دي چه بیل هسي روښان کړ — چه اخر خوبه بي قدره لکه پرور شي
ستر گي دي نرگس په دود ښاشولي دلبره! — د مخ گل به د هجران په ناروړ نور شي
بادشاهان به تل ارمان و کړ یونسه! — تېر ساعت به کله موندو په لاك وكړ و ړ شي

ښاغلی رفیع لیکي چه د ملا ښایسته خان په جونك کښي د یونس یو بل غزل هم شته چه په ګډ لو کښي له منځه تللی.

تور ويښته به دې د زړي[1] په مخ راشي — هغه جوړ به ياران بيا سره ناجوړ شي

دعاشق زړګي[2] به ستا په زړه کښې ګرځي — او بېلي[3] به دې په زړه چغزې اګوړ[4] شي

ښايسته له زړه ډاله وسره[5] جوړ وي — څه حکمت دې چې اصيل سره کم جوړ شي

ښايسته ولړه هسې خوږ بايده دي — چې راضي ئې له مجلسه ځوان وزوړ شي

د ښايست نوبه د ګل له مخه ولاړ شي — لکه لوند زړه وکړه د پڅلند نجوړ[6] شي

صفا مخ چه دې خوشبوی لکه چمبل دی — ولګېږي زړه[7] به ئې قدره لکه خوږ شي

د سپين مخ ديدن نوې ولې قيمتي کا — څه کالچه د پنير شر دی چې به خوږ شي

ښه ياران به په خندک تر تا تير زي (۱۴۰) — دا ارمان لا سر به ژي يو بر بله مړوړ شي

اوس دې مخ په صفايي لکه چمبل دی — ناهوار به ځوانکو[8] په وار تر وړ شي

څوک چې ستا د ديدن وړ نه دي دلبره! — راشه! هومره ديدن وکړه چې موړ شي

۲۴۳۲ باد شاهان به يې ارمان کانږي يونسه! ۲۷۱

تير ساعت کله مونده په لاک وکړوړ شي

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : د ښيري .

(۲) " " " : زړه کير .

(۳) بېلتون ، بېلوالى .

(۴) اګوړ = اغوز ، غوز ، چارمغز .

(۵) په قلمي نسخه کښې : زړه الود

(۶) ز بيښلی .

(۷) په قلمي نسخه کښې : بېګيږه .

(۸) جوانۍ دانه.

د تل غم تر زندګیه ګور بهتر دی | هغه کور چه تل پکې غم وي خور بهتر دی
د دوزخ په دوه عذاب تر خوښېږي | چه له کوره موجود نه وي پور بهتر دی
په اهار[۱] تر سپینو ګلو سپینې واورې | په خوله تر سرو ګاونو اور بهتر دی
مظلومانو له عار له غاو نشته | په دربار تې داد ده وشور بهتر دی[۲]
بې وفا که په رنګ سپین وي سپینه مه کړه! | وفادار تر هغې سپینې تور بهتر دی
بې انصاف له قوت د لاسو مه وه | په پنجه کښې د خدای تر سوړ ور بهتر دی
کړ دې ورور په رضا نو بېګانه دی | بېګانه د ستا په رای تر ورور بهتر دی
غوړ طعام چه بې نمکه وي خوا تر نه شي | با نمک تر هغه غوړه سپور بهتر دی
نالایق زویه قابل د مجلس نه وي | بېرون تله بې د پلار عار دی کوږ بهتر دی

۲۴۴۲ د بدخواه په لباس مه غولېږه یو نسه! ۲۷۲
د دښمن تر خار د خپلو پهور[۳] بهتر دی

د ګل پانه د خزان له غمه ژبړ دي | بې خبره د باد نوم پر باندې کښېښي دي
دا د زمکې مخ مخونه دي د ښکلیو | زونده دې په ادب پر زمکه سینې ږدي
خوله د یار و منه دیدن ته انتظار دی | خوله له یاره سره وصل غېږ پېښې دي
په یوه خاطر (کښې) دوه مینه ځای نه شي | چه د غم کله پر راشي هوس لږ دي

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : اهر .
(۲) ددې بیت په پوره معنا پوه ونه رسېدم .
(۳) ملامتي .

واصلان که آهن کوټ ته ځان چاپېر کا (١٤١) جدائي به يې بې خبره کله پرې ږدي
د عاشق سره غوندې همزاده دي | چغه وړځ چه تږې د خم په قماط[1] بلبلې[2] دي

٢٤٤٩ د يونس د رنځ علاج هر گوره گران دی
خو لړ چه ملهم په زړه بندي نه بندي ٢٧٣

د اکلام د هلکانو مې باور دی | چه په کور کښې يو مېړه محکم نو مور دی
په مصاف د بهادرانو کښې گېډر شي | که مزرې چې په کور سايه پرور دی
گرځنده گېډر د کور ته مزرې بدی | داد کور ناستي د ښځو برابر دی
يو هنر له هنر ونو زده کړه ياره ! | هر سړی چه بې هنر وی وايه خر دی
که تالاش د ديدن لرې علم وادب کړه | چه د غه علم وادب گنج بهتر دی
د هغه په لاس چه علم ادب کښېوځي | نور دې غم په زړه کښې نه کړي کيمياگر[3] دی
ميراث د مور و پلار نيمه پيسې دي | وايه علم چه ميراث د پيغمبر[4] دی
که طالب يې د دنيا سوداگري کړه! | په کثرت د مال حديث: فَلْيَتَّجِرْ[5] دی
که عزت د دنيا غواړې نوکري کړه! | د سپاهيانو د عزت صدقه سر دی

٢٤٥٩ نن يونس ته خيله سر تېر شه دلبره!
په رقيب باندې ور درومې خپلې دردي؟ ٢٧٤

---

(١) قماط = اورتې، غنډك، غنداق. (٢) بلبې دل = نغښتل، تاوول (٣) د پخوانو په عقيده کيمياگر د فلزاتو نه سره زر جوړول. (٤) حديث شريف تلميح شوی دی چه وايي: اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاءِ، يعنې عالمان د پيغمبرانو وارثان دی. (٥) فَلْيَتَّجِرْ = نو تجارت دې وکړي. د دې بيت مضمون د يو حديث شريف نه اخستل شوی دی.

څه غم یار چه مې پخپله رهنمای دی
راغوښتې یې د هر سړي پای دی

زمانه په هسې یار باندې مېن شه
چه یې شاه په استانه باندې ګدای دی

که څوک بار د کوچ تړي تلوار یې بوله
د هر مره اواز ژوندي له درای دی

سعد و نحس خپل خپل بخت لا نور څه ندی
د غافلینو په نظر کونګی[1] همای دی

که دې ورور په رضا ونه یې بېګانه دی
بېګانه تر ورور ورور په بد څېړي پېرای دی (۱۶۲)

کمینه مرغه دانه له مېرې اخلي
ناقابل په خرېیانو زور ازمای دی

یو زمان د فراغت ور باندې نشته
دا صورت د بلا کور د اندوه سرای دی

د بنده په اختیار رزق د بنده ندی
ساتند وی د هر بنده مهربان خدای دی

۲٤٦۸ د بې حد تر صفت څوک رسي یو نسیم! ۲۷۵
څو صفت د خدای کوي هومره (په) ځای دی

تعجب مې د دې د ور په مجلس دی
چه هر څوک په خود رایې بالتفاوس[2] دی

د اې بې خبر هیڅوک برابر نه ځي
د تبشي په خبر ځان تر په جرس[3] دی

په دې اس به په عیبو نو زور پېټو که
خپل پېټو یې په هسې مجنس[4] دی

د دولتمند به زړونو هسې نګېمخوار شو
چه هر یو په آه و فریاد لکه مفلس دی

---

(۱) بوم.
(۲) ؟.
(۳) د قافلې د زنګ آواز. دلته مطلب خپله د تبشي اواز دی.
(٤) د (مقدس) په وزن د "جنس" له کلمې نه څخه چه د شاعر مطلب تري (د بنجنس لرونکی اس) کېږي. رحمان بابا وایي:

کله چا تله د انصاف په لاس کښې نه کړه
خپل پېټو او ذیل اس به برابر کړي

د بدکې خبیثو رویدل شه په دادوي — لکه میاشت انګښت نمای په هر او لس دی
د نیکې مصلي[1] و نغښتي تیګانو — د بدي[2] و کار و بار ته یک جنس[3] دی
په لباس په تګی خلق مُلَمَّع[4] شوو — و عالم ته زر بنکاري بې میان مس دی
د دارنګ[5] فلک له بیچه پناه غواړه — چه د و وځي شين طوطي په شپه طاوس دی
شنبه[6] غوبه په ابلهی کښې دولت من شوو — په تو کره پوري ځي درمانده مدرس دی

۲۴۷۸ ودوستانو ترې سل عیبونه پټ شي ۲۷۶
ود ښمنو ته هنر عیب دیونس دی

هر چه شوي په ازل وې نوربه نه شي — چه لې بې خبر دې باد ه ده سور به نه شي
که په سل زرګه تدبیر و احتیاط و کا — هغه شپه چه لې د ګور وي کور به نه شي[5]
په لباس د بیګانه و غلط مه شه! — چه له موره پلاره نه وي ورور به نه شي
ذالې تور نه روږي په وعظ نه سپینیږي — هغه زړه چه نه خدای سپین کړه تور به نه شي

بد سړي [بد کله] به بد درد کله کړي پوښتنه!
۲۴۸۳ (۱۴۲) مړي ایرې که هڅو پوکړي اور به نه شي ۲۷۷

هغه ځای چه کښې ازار نه وي جنت دی — چه ډېر چا و ربانديې کار نه وي جنت دی

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: مصلا.
(۲) " " " " : دیله.
(۳) د (جنس) کلمه اصلاً د (ن) په سکون ده، مګر دلته د وزن د پاره باید د (ن) په حرکت ولوستلی شي.
(۴) زراندود، چه ظاهراً زر او په کښې نور څه وي. (۵) په قلمي نسخه کښې: داورنګ (۶) شبه - د لغت د (اوښه) په ځای راغلی دی او هماغه معنا ورکوي. (۷) د ګور شپه به کور نه کیږي. (پښتو متل)

ACKU

د هجران له تشویشونو فراغت یې — مفصل د ځنځیر بار نه وي جنت دی
چه په زړه یې گرځي درته موجود وي — د هیڅ خیر دې انتظار نه وي جنت دی
د آرام په ملک کښې نلستي یې د لفراغه — جمع زړه دې نا قرار نه وي جنت دی
همیشه دې په گلونو په چمن وي — او خزان دې په گلزار[1] نه وي جنت دی
ستا په مخ د استاځي دروازه وا ده — په خاطر دې هیڅ دشوار نه دی جنت دی

چه مجلس د بنو یاران وي یونسه!
بیا په زړه د غم غبار نه وي جنت دی

۲۷۸

په کنار د لبو خال د دلبر ناست دی — که بلال[2] په کناره د کوثر ناست دی
عجب ښک ساقي په ښکه چشمو نیم — له نوشلو مې په زړه کښې باور ناست دی
مقناطیس د دیدن وي چه یې بیرون که — له اړنو مې په زړه کښې خنجر ناست دی
د یار غم ترگلونو غونو دی د پاسه — لکه تاج د پادشاهانو په سر ناست دی
عاشق ځان له دېرېنو له نږی تار کا — په امید د شاه دستنې لاغر ناست دی
څه باقي ارزو به هم لري په زړه کښې — چه دلبر یې په خلوت کښې دبر ناست دی
سترگې ناستي دې په مخ، کسي په سترگو — د یار خیال په دوارو باندې برتر ناست دی

(۱) په قلمي نسخه کښې: گلزار.
(۲) حبشي بلال، د اسلام د حضرت پیغمبر صحابي او موذن.

چه عیسیٰ تر تعلق د دنیا تیر شه — په اسمان لکه خورشید د خاور ناست دی (۱)
د دشمن په مراد هوس خو دی نادانه!؟ — هسې نه چه دار الاذر شه سکندر ناست دی

۲۵۰۰ (۱۴۶) چه یونس د دلبرانو ثنا ګوی شه
د زبان په تیغ مې ځکه جوهر ناست دی ۲۷۹

چه تې سر په زانو ایښی شکستر دی — په حمات (۲) د تفکر کښې پابستر دی
مراد تر ولړه (۳) ور کړه مراد بخشه! — چه ئې تالې تکیه نشتر د لخستر دی
دا دنیا لکه دریاب صورت جهاز دی (۴) — دا جهان په خو اجزاء وارا ستر دی
ارواح په دا جهاز (۵) کښې ناخدا دی — د ساه باد د دې جهاز بادشُر طر دی
هر صورت خو نسو خلو خلو بنت هه وکي (۶) — بیا په تیر (۷) سو شپیتر ګر وابستر دی
کوم زمان به دا جهاز (۸) سره ګډ و دکا — هغه ځای مراکب در ته په خو کښې نشستر دی

---

(۱) حضرت عیسیٰ اولوالعزم پیغمبر چه انجیل پرې نازل شوی دی. خپل قوم (اسرائیل) ته ئې بلنه ورکړه مګر هغوی ونه منله او معجزه ئې تړې و غوښتله، هغه د هغوی په غوښتنه مړي ژوندي کړل... د هغه په دم او لاس ګڼ شولو لاعلاجه رنځوران جوړ شول.. یهودانو غوښتل چه هغه مړ کړي، مګر خدای دی وژغوره او (ایشوع) وو وژل شو. دی د خدای په قدرت خلورم اسمان ته ولاړ. یهودانو ایشوع په سولۍ غرغره کړه، هغه چه هر څو مره وویل چه زه عیسیٰ نه یم، ایشوع یم، مګر چا منل؟ - او س د مسلمانانو عقیده داده چه عیسیٰ پیغمبر په خلورم اسمان کښې دی او عیسویان وائي چه یهودانو هغه په دار ځړولی دی. په عیسوي مذهب کښې د (صلیب) تقدس د دغې عقیدې پورې اړه لري. - د ځینو نجومیانو په نظر المریخ په خلورم اسمان کښې دی.
(۲) حمات = د (ح) په زور، ختم. د (ح) په پېښ د (عمال) په وزن د (حامي) جمع.
(۳) د خیبر د لهجې لهجه، ولړه = ورلړه.
(۴-۵) په قلمي نسخه کښې: جهان.
(۶-۷) د ځینو طبیبانو په نظر انسان خلور سوه خلور خلویښت هډوکي او دري سوه شپیتر رګونه لري.
(۸) په قلمي نسخه کښې: جهان

چه طلب یې د فرصت تر وقته تېر کا — لکه مخ[1] په سر وهلو وډ ستر دی

د حیات بقا، ښکاره ده و دانا ته — د امید لاس یې له ژونده نه شستر[2] دی

۲۵۰۹ هره ورځ یې یو یو تار شلوي یونسه! ۲۸۰

کاکل د تیر سو شپیته ورځې [د] تنسته دی

د ښایست صفت د هسې په مخ تم دی — لکه نوم چه (د) سخاوت په حاتم[3] دی

د خلوت چراغ مې مخ د هغه یار دی — چې له یار سره خلوت څه کوم؟ تور تم دی

د وصال ماوت[4] مې مټ په خلاصي نه کړه — راچاپېر د جدایۍ د فیل خرتم دی

د ښایست باغ دې نصیب د رقیب مه شه! — په ښکر د باندې حرام جنت اتم دی

د دلبر د جدایۍ توان مې نشته — د اوښ بار په مېږي باندې، څو ستم دی؟

ته سلیمان د زمانې یې په ښایست کښې — چه په لاس دې د کمال حسن خاتم دی

۲۵۱۶ سبز خط د یار په مخ نه دی یونسه! ۲۸۱

سیه پوش د خپل حسن په ماتم دی

د هغه چه یار په رای شه، څه یې غم دی؟ — چه د یار، د در گدای شه، څه یې غم دی؟

بادشاهي یې کوي تر سایې لاندې (۱۴۵) — چه په سیوري د همای شه، څه یې غم دی؟

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: مچ.
(۲) شستر، پرې مینځلی.
(۳) حاتم ابن عدی طائي، د حضرت پیغمبر په زمانه کښې ژوندی، سخي او ځوانمرده سړی وچه په سخاوت د پر شهرت لري.
(۴) ماموت، یا، ماوت یو رقم بیل دی چه ډېر عمر کوي او تر نن کالدیوري یې ژوند امکان لري.

د منت له بابه خلاص شه د نوړ خلق — په ستا دولت ورته نمای شه، خیر یې غم دی؟
محبت یې نوبهار په مخ کښې راغی — تازه ګل ورته هر ځای شه، خیر یې غم دی؟
د منصور د عاشقۍ معراج دار دی — که په دار انګشت نمای شه، خیر یې غم دی؟
عمارت د خوشحالۍ چې یې بنیاد کا — ویران و جاړې(۱) د غم سرای شه، خیر یې غم دی؟
له هجرانه په ارمان ذوق هوس کا — پړ بوتلی بیا په پای شه، خیر یې غم دی؟

د سړي پښتو هسې سړی خوښېږي
د یونس (ع) مدګر خدای شه، خیر یې غم دی؟

٢٥٢٤ ٢٨٢

چه دانا لکه نادان په ګناه غرق دی — د دانش و نادانۍ ترمیان څه فرق دی؟
د دانا د جاهل لېرې تفاوت دی — مسافت د دوی د وار و غرب و شرق دی
د دولت خرمن ظالم په یوه ځای کا — مظلوم سوی په شعله د آه برق دی
که نامراد په سرو ګلو نو نشیمن کا — سره ګلونه سره سکاره (دي) پکښې حرق(۲) دی
نه چه هر ملا قابل د شرافت شي — داد ګر(۳) قرآن خواني نکند د زرق(٤) دی
په کم ذات چه کمال ورشي بل ازار کا — او اصیل لکه انار په ځان د وترق(۵) دی

---

(۱) د (ویجاړ) بل شکل یا بله لهجه.
(۲) سون بدل.
(۳) وایي چه (دِ ګر) د یو مرغه نوم دی چه په سبنه غږ (قرآن لولي) او نور مرغان او حشرات په ځان راټولوي او بیا هغوی ښکار کوي. حافظ وایي: دام تزویر منه چون دګران قرآن را.
(٤) چل، فریب.
(۵) په قلمي نسخه کښې: طرق. ترق د (برق) په وزن = چاود.

۲۵۳۱ د محنت خولې قیمت لري یونسه! ۲۸۳
لکه عطر بېش بها د ګلو[1] عرق دی

چه بندي د شاه د زلفو په قفس وي — هغه کله د خلاصي په هوس وي
عاشقان خپل بنیاد ښخېده وکښېنې — مرېي ایري په محبت لکه ققنس وي
په وصال کښې یې خاموشه کړم په خوړ وي — له هجرانه په فریاد لکه جرس وي
شپه ورځ یې په دیدن پسې نولېږي — له ضروره نابنیاد په خپل نفس وي
د خپل زړه ښهر ساتي له رهزنانو (۴۶) — پر څوکۍ یې خبردار لکه عسس وي
بشارت د اشارت په اهل باندې — په یو وار ویل یې تلو له ره بس وي
د نصیب په لږ و ډېر باندې قانع شوي — پشمینه شړې غوره تر اطلس وي
د هغه چه دست رسي په مقصد نشته — په تندي یې د ارمان لاس منګس وي

۲۵۴۰ چه په خپل ځان ونه ژاړي یونسه! ۲۸۴
د هغه ماتم به څوک کا چه بېکس وي

بې له خدایه مېنې واره خامې دي — پر بنده باندې جمله حرامې دي
د ښښتن و کار تر کار د بنده نشته — د ده چارې هم په ده تمامې دي
چه تقدیر یې په تدبیر د بنده ښاندې — اندېښنه زما و ستا کډامې دي

---

(۱) عَرَق د (ر) په زور دی، مګر دلته یې د وزن او قافیې د پاره باید د (ر) په سکون ولولو.

په انجام د چارې هیڅوک خبر نه دی — د فردا چارې تر پټنا مې [1] دي
اوس به څه نېک له تهمته خلاصی مومي — چه تې برخې د ازل بدنامې دي
په صیقل د نصیحت به سپینې نه شي — د هغو چه سینې زنګ ظلامې [2] دي
د دنیا دوستان مې ولیدل په سترګو — په لن سود خپله سوک په ژامې دي

له دیداره یې امید له یونسه!
۲۸۵ — ۲۵٤۸
بیا له حورو څه رعنا [3] ګلفامې دي

دنیا سینه، صورت یې بېړې، مرګ یې ګودر — چه څخه د حیات وږي [4] جغابي سر دی
که نظر په حصول د نېکۍ وکړې — تر هغه جهانه دا جهان بهتر دی
دانایان دې پند ویل له غمه واخلي — ده مړه او ژوندي له خبر دی
چه دې پلار و نیکه مړي والي زاړه وو — د غم ستا جحت د مرګ ستا د پسر دی [5]
هغه څوک چه مظلومان ترې آزار مومي — د هغه تر زندګیه مرګ خوشتر دی [6]
هر سړي به د غه خپل کرلي واخلي (۱٤۷) — دا دنیا څه نو څه نه دی ځای د کر دی [7]

---

(۱) دا به د (پټنان) او (پټنانې) اړولی شکل وي.
(۲) ظلام = تیاره.
(۳) په قلمي نسخه کښې: له حورو.
(٤) د جالي آویا بیړه محصول، ټیکس، حق العبور یا کرایه.
(۵) په قلمي نسخه کښې: د غم ستا و جحت مرګ ستا و پسر دی.
(٦) سعدي وایي:
ظالمی را خفته دیدم نیم روز — گفتم این فتنه است خوابش برده به
انکه خوابش بهتر از بیداریست — از چنین بد زندگانی مرده به (گلستان)
(۷) په حدیث شریف کښې وایي: اَلدُّنْیَا مَزْرَعَةُ الْآخِرَةِ ؛ یعنې دنیا د آخرت کښت ونده ده.

ACKU

ژړ تر ژړه به د مرګ ماښام پرې راشي   داڅ ونډون د سړي وقت د مازیګر دی
فَنَفَخْتُ فِیهِ مِنْ رُّوحِيْ[1] ولوله!   تر د خدای خدای د ستا کړدي باور دی
دا چه: فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ[2] وایي   د خدای یاد په یاد ستاسي مقرر دی
واسمان ته[3] تله د پښو په سیل نه شي   دا پرواز د محبت په بال وپر دی

۲۵۵۹ هیڅ طرف ورځخه خلاص نه دی یونسه!
۲۸۶ په هر لوري د جدایي شور و شر دی

ګرفتار دي په نیم موي د زلفو زړه دي   دیوانه دي د جمال په نیم نظر دي
انتظار نې د قاصد واشارت ته   عاشقان[4] په دل و جان ورته حاضر دي
شیطانان نې تباهي نور ځه نه که   رقیبان تر شیطانانو لا موذي[5] دي
دا دنیا لکه عروس عشوه نمای   دروغ مکر یې زینت شال و میزر[6] دي
محبت مثال مرغه راښکاره کړي   شور شغب یې دوه ځه شهپر وزر دي
که وصال د یار تر مرګه پورې موقوف دي   عاشقان یې سینه سوي منتظر دي

۲۵۶۶ بې وفا یاران په کار دي یونسه نه دي
۲۸۷ وفادار ورته نایاب ګل د انځر دي

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: مِنَ الرُّوحِيْ. د قرآن شریف آیت دی؛ یعنی: پو مي کړه په هغه (د آدم د خمو په کالبوت) کښې د خپل روح نه.
(۲) د قرآن شریف آیت دی: فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ؛ یعنی: ما یاد کړئ نو زه به تاسې یاد کړم.
(۳) په قلمي نسخه کښې: نه.
(٤) " " " : عاشقانو.
(٥) د (مضر) مخفف.
(٦) میزر = پړونی، څادر.

ACKU

چه قبول یې د دلبر په مینه، دار دی — هم هغه په عاشقۍ کښې نامدار دی
څو کشش یې د دلبر له لوري نه وي — په کوښښ د عاشقانو څه مدار دی[1]
ښایسته چې بېوفا وي تش نمود دی — بې میوې ښایسته قد لکه سپیدار[2] دی
غافلانو شب قدر په خوب بایلو — هم هغه پر خبردار دی چه بېدار دی
د رقیب خاطر په بد سره ښه کېږي — سپی مردار په پلیتۍ یې مینه دار دی
د جاهل د زندګۍ فایده کومه؟ ⑭⑧ — چه په ګفت[3] لکه حمار[4] په حب جدار[5] دی
په نفي[6] سره مې غیر و غمازو سکښت — په اثبات[7] مې زبان ښه تیغ ابدار دی
د بادشاه بر هو مره نام په جهان نه وي — لکه خوار مجنون په عشق سره نامدار دی

۲۸۸ — زاهدان دې د جنت د حور و خواست کا — ۲۵۷۵
د یونس نظر یې عین په دیدار دی

چه سړي کاندې له غمه یې غم زر دي — چه پید کار شي په سبا دې په ماتم زر دي
که خوراک د ی، که پوشاك (دی)، که زېور دی — په نور سل رنګه زینت د عالم زر دي
که یې نور و لره ورېښي نور ورکا — اوږ د وشپول ره چراغ د تور تم زر دي

---

(۱) د دري یو شاعر وایي: اگر از جانب معشوقه نباشد کششي — کوشش عاشق بیچاره به جایي نرسد.
(۲) په قلمي نسخه کښې: سفیدار.
(۳) وینا.
(٤) خر.
(۵) دېوال.
(٦) (۷) نفي = نشتوالی، مطلب (لا اله، یعنې: نشته د عبادت وړ).
اثبات = شته والی، مطلب (الا الله) یعنې: پرته له الله څخه). د اثبات کلمه په قلمي نسخه کښې (اسباب) لیکل شوی.

ACKU

په اسره(۱) یې سرکښان له غره راکوز شي — نې دعوی غالب په غر و په سم زر دي
که نوره هېڅ دارو یې نشي پېښ د وی(۲) دوغ ښې — مجرب دریښو زړونو ملهم زر دي
خپل له خپلو وېزار یي چه دوی(۳) نه وي — چه تړي کاندي عرب و عجم زر دي
چه کافر له یې نوم د نېکۍ هر کړه — کل سبب د نیکنامۍ د حاتم زر دي
پخوانو راوه* جنت هم په دوی(۴) وو — که شداد و سره روغ کا اتم زر دي
د ډېر ضعیف بازو په دوی سره قوي شي — په سختۍ کښې تر فولاده محکم زر دي
شرافت یې له خښتنه روزي شوې — پرده پوش د عالم و آدم زر دي

دا یو دم د زندګۍ دی یو سه!
۲۵۸۶ ۲۸۹
که وکار و تړې ګورې بل دم زر دي

شیرین یار زما د دوار و سترګو تور دی(۵) — چه یې تور د سترګو نه وي هغه کور دی(۶)
په دنیا کښې چه بنیاد د اشنایۍ کا — په هغه د جدایۍ پورې پور دی
یو زمان د قرارۍ ور باندې نشته — هر زمان په عاشقانو شراشور دی(۷)
واویلا د عاشقۍ له ډېره سحره (۱۴۹) — لېونی عاشق وېزار(۸) له دېلار و مور دی

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : اتره.
(۲) (۳) (۴) څرنګه چه (زر) د جنس نوم دی نو شاعر اشاري ضمیر هم ورته د جمعې په صیغه (دوی) راوړی دی چه د اوسني محاورې سره سمه ده.
* په قلمي نسخه کښې : اوده.
(۵) دا شعر په "پټه خزانه" کښې هم راغلی دی
(۶) ....
(۷) دا بیت په "پټه خزانه" کښې نشته.
(۸) بېزار.

کړلې دردې ثنا نه کړ زبان دې کوم دی؟ ستا د حسن خبر تللی لوړ پر لوړ دی
د محنت وریځې دې ورو ورباندې کښېنو خوار عاشق تر دا نه بار لاندې نسکور دی
باد لې هم د خندا وګړ د تر نه رسېږي هغه خوله چې ستا د عشق په براق[1] سور دی
چې د عشق چراغ لې ئې پر کوګل کښېږي هغه زړه لکه مړده کوګل یې ګور دی

٢٥٩٥ زه یونس چې ستا په مینه کښې رسوا شوم ٢٩٠
اوس په بیارته[2] جار وا ته راته پېغور دی

پر نظر مې لې د لبرو په سر اور دی کړ بل شوی په جهان کښې هر لوری اور دی
خطرګاه په عاشقانو طربګاه دی وېښتک و سمندر ته کور اور دی
چې د عشق لمبې ئې بلې پر کوګل وي رېښې او وهغه چا ورته سپور اور دی
د هجران له درد و دوکړلې ئې خلاص کړه په جهان کښې دستي غم خور اور دی
همېشه د محبت په تا و کښې پالي خره عجب له عاشقانو خسو اور دی
خام به ئې د عشق له جوشه پاخه نه شي د پختن د اسبابو انځو اور دی
د خپل عشق په تیغ کهایل[3] شوي ولې ژاړې چا په سر دستا بل کړې په زور اور دی
د مظلوم د هن ناوه آه ئې لوګی دی او زبان لې په ماشه باندې سور اور دی

٢٦٠٤ د یونس له زړه لې صبر قرار وسو ٢٩١
نه پوهېږم چې دا عشق دی که نور اور دی

---

(١) براق، د هغه الوتونکي اس نوم دی چې حضرت محمد (صلعم) د معراج په شپه، په هغه سپور او معراج ته تللی دی.
(٢) بېرته (٣) زخمي.

ACKU

چه په ښهر اته ګورې ستر ګې برندې | په پاسته ملال کاته به لا دو چندې
په سختۍ باندې زور د زمې زیات دی | په دا کار کښې آیینه[1] کړه پل د شه نه ندې
چه په نه موا او بو څرنګه سپک روښي | نه هم زور په زمه زبر کړه خود پسندې
دلو لې دولت نصیب شه د پستۍ | (۱۵۰) د کوهسار او به حصار چې شي په کندې
د هجران د بره تلخۍ مې حلق تریخ کا | په خوږه خندا لې خوږ کړه شکر خندې
مومیالي[2] ستا د دیدن څه هسې نه ده | چه به نه کړه شکسته سینې پیوندې

۲۶۱۱ ځو حلقې لې د زلفینو دي یو نیسه! ۲۹۲
خلقي د شاه په هره حلقه بندي

هر سري لره د مینې هنر بویه! | غافل زړه لره ذوق خبر بویه!
غیر فکر له زړه و باسه چې عشقه! | ناقابل زړه لره کوره بدل بویه!
په سینه کښې زړه د عشق په خنجر ساده کړه | وطوطي ته په سخن کښې شکر بویه!
په زمان کښې دې دولت خاک سپر کا | د مظلوم لره ساړه آه حذر[3] بویه!
عاشقان دي د سر و ستر ګو کشتګان دي | په زیارت د شهیدانو ګذر بویه!
بنایسته دې هرګز سرخ و سفید نه وي | خوله مخ ته چې شعله د اش بویه!

۲۶۱۸ که وصال د هغه یار غواړې یو نیسه! ۲۹۳
آه فریاد وسیله د سحر بویه

(۱): په قلمي نسخه کښې: اهنر / (۲) مومیالي یو قسم دارو چه د مات هډوکي د رغولو د پاره خوړل کېږي. مخلاني حم ورته وايي. مومیالي یو ماده ده چه د سلیبنو په شان په غرونو کښې وتېل شي، تو مکر د ب ترې د ننه نفوذ کولی نه شي. د حمدي لامله د ځینو مشهورو اشخاصو مړي مومیالي کېږي. (۳) په قلمي نسخه کښې: حضر. حذر = ځان ساتنه.

لہ جهانه یو دلبر خپل کړې بویه !   کړه پیمال توی کړه پرېږ خپل کړي بويه!
په هر شان چې هغه یار په لاس کېښوځي   د عاشق هغه هنر خپل کړي بويه!
دا دنیا لکه صدف مقصود گوهر دی   لہ صدفہ نه گوهر خپل کړي بويه!
یک تنها له دلارې تله مشکل دي   رهبري له ره باور خپل کړي بويه!
هغه در چې پې دامان لکه کعبه[1] وي   په جهان کښې هغه در خپل کړي بويه!
بد خبر رقیب په ستر گو ولید مه شه!   ښه استاځی خوش خبر خپل کړي بويه!

۲۹۴   چه گو ته صورت دې ز رکاندي یو نسیه!
(۱۵۱)   هغه پیر صاحب نظر خپل کړي بويه!   ۲۶۲۵

زړه چه په د ښمن ملایمي وکړه صفا شي
کاڼي چه په اور ز مي خر کنده کړه میناشي
کار د عاقلانو په گفتر واشارت وي[2]
هرچه د نادان په گفتر کار کاندي داناشي[3]
لویه مرتبه له نابودۍ مینده کړې
خاشکی په دریاب کښې صورت وکاندي[4] دریاشي

(۱) کعبه : بیت الله شریف چه په مکه کښې د حضرت ابراهیم پیغمبر په لاس ودان شوی او د مسلمانانو قبله ده او د حج مراسم پکښې اجرا کېږي.
(۲) یوه عربي مقوله ده : اَلْعَاقِلُ یَکْفِیْهِ الْاِشَارَةُ ؛ یعني هوښیار له یوه اشاره بس ده.
(۳) سعدي وايي : (لقمان را گفتند : ادب از که آموختی ؟ گفت : از بی ادبان ......) (گلستان) (٤) په قلمي نسخه کښې : وکاندي.

تېغ چه برهنه شي بوی د وينو څني خېژي
ببر ته څني ګرځه معشوقه چه بې حيا شي
ګوره چه ظالم په مرګ له ظلمه نه جار وځي
پر د مړه عقاب په تير ژوندي لره بلا شي
څه شي په توبه د نصوحا[1] چه نه ټينګ يي؟
بله توبه ټينګه کړه توبه د نصوحا شي
نه دی د فلک هوس بې غمه چا ته بخښلی
غوښ اوره مېږي ته پرې کړه، هغه ګلچه په خندا شي
هېڅ وېسا ومه کړه په خندا د د بېمانو
سره لمبه دا اور به ورو ورو وهه کوتره وه[2] واشي
تن په عشق نری کړه چه شهره په درست جهان شي
مياشت له لاغريه په اسمان انګشت نما شي
۲۹۵ تېغ د کهکشان[3] چه د فلک په لاس[4] ښکېنې شته دی ۲۶۳۵
وي چه کوم زمان بر د يونس کله جدا شي؟

(۱) په قلمي نسخه کښې : د نصوحا.
(۲) " " " " : وا به وورکی.
(۳) " " " " : کاه کشان.
(۴) " " " " : فلاس.

ACKU

په چشمانو کښې چه خيال د نګار راشي ‖ ګويا تللي عمر ما ته د وبار راشي
څو خوښي وي په ګوشه د مستو[1] د ميو ‖ د وچنده پسې رحمت د خمار راشي
په خزان د بلبلانو سينې وسوې ‖ لا به کله تازه ګل د بهار راشي
په بيابان د آهوانو په رګ و ګرځم ‖ ګوندې يار په بهانه د شکار راشي
تر درخپل عمر بهار په دعا غواړم! ‖ د باغ ګل که هزار تېر شي، هزار راشي
په هجران کښې اميدوار له وصله اوسه! ‖ په اخر به د هر ليل [و] نهار[2] راشي
د دعا غشي روان کړه وهر لوري ته ‖ تر داميان ګوندې يو غشی په کار راشي
د رقيب له تنګ خويه مې اميد نه دی ‖ چه ليوه به له بدۍ په لار راشي

٢٦٤٤ (١٥٣) ٢٩٦

داکمال د سعادت ګڼم په عشق کښې
که يونس دې د مينو په شمار راشي

که دې يو حلم دلبر هم اغوش شي ‖ ستا به قاصرات الطرف[3] فراموش شي
بې بها وصل به بيامومې له ياره ‖ که اول دې د اخلاص[4] حلقه بګوش شي
د هجران له مشکلو نو به دې خلاص که ‖ که بشر دې په وصال غيب سروش[5] شي

---

(١) په قلمي نسخه کښې : د مستو ميو .
(٢) ليل = شپه . نهار = ورځ .
(٣) قاصرات الطرف : هغه ښځې چه نې له خپل مېړه نه بل چا ته نه ګوري . د جنت د حورو په باره کښې د قرآن شريف ايت دی : فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَاجَان ؛ يعنې په جنتونو کښې داسې حورې دي چه بل چا ته نه ګورې او تر دې د مخه بنيادم او پيرې ور سره تماس نه دی موندلی .
(٤) په قلمي نسخه کښې : د اخلاص .
(٥) سروش ، د زړه دشتي کيت له مخه دلوې پرښتې نوم دی چه د ښو خبرو زېری ورکوي . په ادبياتو کښې غيبي اواز ورکوونکي په معنا سمبول شوی دی .

محبت به دې هله په زړه کښې پوخ شي — که سینه دې لکه بلې هسې په جوش شي
د اشنا وېل به هله لذت درکا — که درست تن دې هوش په خوا کښې ورته گوش شي
بې زحمته راحت کله چا موندلی — د خمار تشویش قبول کا چه مې نوش شي
که یو ځل یې مستا آ شراب تر خوله شي — محتسب به جار وکښ د میفروش شي
که په دوش یې سجاده د عبادت وي — له مستیه به یې مست سبو[1] په دوش شي

۲۶۵۳ د دنیا غمونو زړه د یونس تورکا
ساقي جام د میو ورکړه چه مدهوش شي ۲۹۷

تر بندې د عشق په بند شي چه ازاد شي — د عشق غم په زړه کښې کښېنه ده چه ښاد شي
د صورت ابادي واړه خرابي ده — تر په عشق سره خراب شي چه اباد شي
عاشقي به دې قایم په هسې حال کا — چه راضي به په ونکو د خپل بنیاد شي
که د عشق په اور فنا لکه پتنګ شي — په دغه هنر به تل تر تلو یاد شي
طبیبان دروغ خلقو دارو ونه کا — د شیرینې وصل ستا دی که فرهاد شي
عاشقي کیمیاګري ده که خدای ورکړه — پر به ته له نامراده با مراد شي
د مقصود چمن جنت دی مغرور مه شه! — چیرې ته نه وي تر نامید[2] لکه شداد شي
محبت به بې غمې درباندې روڼ[3] دکا — په کوښښ کښې به په سلک د زهاد شي

(۱) په قلمي نسخه کښې : صبو. سبو = د شرابو کوزه.
(۲) نامید ، د نا امید مخفف.
(۳) په قلمي نسخه کښې : روڼ.

٢٦٦٢ کړي پوه د حال په ژړېږي يو نسه!
لۀ جرس سره به هله په فرياد شي (٤٣) ٢٩٨

که دې عمر تر هزار ساله افزون شي
عاقبت به دې له تنه روح بېرون شي

يو کفن به دې حاصل وي له دنيا نه
که گنجونه دې په طور د قارون شي

قبيله به دې په مرګ آه و فرياد کا
عزيزان به دې له غمه سرنگون شي

په ايمان به دې نجات وي له عذابه
نېک عمل به دې دلارې رهنمون شي

په تخته به ژبون(۱) ترلي حيران پروت يې
چه د ستا د کفن، غسل په پېوستون شي

پس له غسله به دې واخلي وکفن ته
په ژړا به دې يک بارهٔ زړونه خون شي

چه دې واغوندي کفن تابه په کټ کا
نېکخواهان به دې له غم سره محزون شي

اختيار به ستا په تن کښې پاته نه وي
چه په نقش(۲) دې د نورو به سنوبون(۳) شي

ارتينې به د سره تر دروازې وي
په څپېړو به يې مخ سبز گلگون شي

مرده شوي به دې خوشحاله جامو وي
په اسقاط به دې ملا راضي ممنون شي

چه دې وکه جنازه نور به دې واخلي
په لحد کښې به دې ننه دي(۴) نور به بېلتون شي

---

(۱) ژبون = ژبه ، دې کلمې سره اکثراً د (وهلي، ترلي) فعلونه راځي ، د ژبون کلمه په معاصر شعر کښې وګورئ!
چه سلګۍ د يار د نوم نه پس ونه کړې،
حمزه! ستا د پاره بند ژبون په کار دی. (امير حمزه شينواری)

(۲) دلته: نقش او نعش (کالبد) هر يو خپله خپله معنا ورکوي.

(۳) سنوبون، د (سنوبول) يا (سنوول) حاصل مصدر

(۴) په قلمي نسخه کښې: ننه دی.

ACKU

ورو ستي مخ به دې و خلقو ته ګرګند کا — تر قیامته به دې تن په ګور دړون شي

خامې خښتې به د ستا و ګور ته کښېږدي — پر دې پاسه به د خاورو پرزوون[1] شي

بیا لحد به دې په کاڼیو[2] استر کا — ژوندي خلق به په بېن ته ګور ته ستون[3] شي

که دې قد لکه الف وي په سموالي — له اندوهه به په قبر کښې خم نون شي

دوه فرښتې به دې پوښتنې له راشي — له هیبته به دې زړه په دګرګون شي

که دې جواب باصواب و دوی ورکه — تر قیامت به دې په کار په سینه مضمون شي

که جواب دې برابر و دوی ورنه کا — درد و خاره به سختي په جګر خون شي

په ګرزونو به دې هسې ریز مریز کا (۱۵۶) — لکه چیرې دانه لاندې د تاحون[4] شي

۲۶۸۲ چه د غم خواري په یاد شي و یونس ته
عجب نه دی که بېهوش لکه مجنون شي ۲۹۹

چه په زړه باندې استوار د عشق قدم شي — سر رشته د صبر و رانه هغه دم شي

عقل هم د خپلې ناستې ځای غلط کا — په ارام باندې همه جهان تورتم شي

بېغمي و بل وطن[5] ته تو بنه واخلي — قراري هغه ځای چیرې وي چه غم شي

غوږ کاڼه شي د عالم له تمتونو — سترګې د رسته شي په ژړا کوي به نم شي

---

(۱) په قلمي نسخه کښې : پرزوان

(۲) په قلمي نسخه کښې : کاڼیو .

(۳) " " " " : شتون .

(٤) تاحون ، د شاعر له خوا ، د (طاحونه) اړولی شکل . طاحونه = ژرنده .

(٥) په قلمي نسخه کښې : وتن .

شرم هسې په گوښه کښې غلی کښېني — لکه ښه سړی په خپلو بد و گرم شي
گردن هم له بلندیه توبه گار شي — که الف وي خو د دال په تراخم شي
نور په ځای له غیرې مینې پاته نه شي — چه په زړه باندې د یار مینه رقم شي
د خوبان په خط لیې سر ښېښي چلیږي — که چه سر یې د قلم په څېر قلم شي
د دنیا غمونه پاته شي نیمگړي — د اشنا غم یې له عمره سره سم شي
د ماهي پایاو پټن تالاو[1] کښې ښه شي — خدای مه کړه چه یې غم له ماند کم شي

٢٦٩٣ — د یونس خاطر څه هومره غمجن نه دی — ٣٠٠

چه یې وصله په نور (څه) خوښ و خرم شي

خوښ په داخبره کړمې جسم استخوان شي
گوندې مې سپین هډ د یار و غشیو ته نښان شي
پر د محبت لومړۍ[2] پیدا کړه که پر و از کړې
غشی وهوا وته په پرسره پران شي
دا گمان مې نشي چه زه یم رقیب مې نه وي
ورك به په ژوندون (کښې) له چا څرنگ شیطان شي
هسې دې بېدل کړم په سیه زلفو ښیمان و
پرې چه زه[3] وینم په هیبت را ته ماران شي[4]

(۱) په قلمي نسخه کښې: پکښ تلاو. پټن = گودر، د جالې د پورې وتو ځای. (۲) په قلمي نسخه کښې: امړی.
(۳) " " " " : د (٤) مار خوړلی د پړی نه دارېږي (پښتو متل).

ACKU

زده کړه طریقه د می خوارۍ له محتسبه
مست په میو کړځي، پرده کله د اګمان شي؟

زه د یار په وصل غمازو ینم هلا کیږي (۱۰۵)
داخو مقرر دی پسر یه عید بانده قربان شي

مهِر د بوسې کړه په یونس وشي له یاره ۲۷۰۰
زوړ به د حیات په اوبو سره د سره ځوان شي ۳۰۱

چه ایام دې د حیات په سنه شسست شي
حلاوت به دې د عمر په شکست شي

ورځ په ورځ به دې قوت پرې کمیږي
په زوال به دې د جسم بند و بست شي

لوی دښمن د هر سړي خپله پیري ده
زبردست (به) په پیري کښې زبردست شي

د هوا د سیل توان ورځه ولاړ شي
په ناکام به دې په خپل کور کښې نشست شي

په خاطر هوس لري د لیري سیل
د ناتوان په چاري کله د سترست[1] شي؟

چه دې مخ په اب تازه لکه سره زر وي
په پیري به دې به دې نور لکه جست شي

و عالم ته به دې عقله څرګندیږي
زنحق[2] د خپل پردي ورسره قست[3] شي

یوه ورځ به اجل هسې پیاله ورکا
چه په خښه دې تر قیامته پورې مست شي

---

(۱) د شاعر له خواد (دسترس) اړولی شکل.
(۲) برناحق . په ناحقه.
(۳) کست، قصد، ضد.

ACKU

۲۷۰۹ د و باره به نېستي ورېشي یو نسه! ۳۰۲

هغه خولې چه (په) اول له نېستو هست شي

زړه مې ستا په جدائي هسې درق شي … لکه ګير دچا په خونه کښې سارق[1] شي

تر چشمانو به بې تل خوناب څڅېږي … هغه زړه چه د هجران له تېغه شق شي

د رقیب په نخره[2] خم به شي بې شماره … د وه یاران چه په یاري متّفِق شي

ځواني عمر د یار په در کښې صرف کړه! … مولا هم په پیر غلام باندې مشفق شي

که دې سل طبیبان پښن د عشق په رنځ مړ شي … بې دلبره به دې کله بل حاذق[3] شي

بې اخلاصه لافه چار په کوم حساب ده … یار هغه چه په یاري کښې صادق شي

تر نصیب زیاتې د ستني تر سیم[4] نشته … که حرص دې تر مغربه تر مشرق شي

صابران په صبر کښېناسته فارغه (۱۵۶) … اعتبار بې د خپل رزق په خپل رازق شي

دچا شهد په ځان زهر شو یو نسه!

۲۷۱۸ او دچا په مزاج زهر موافق شي ۳۰۳

پېژاند ه د دولس کالو ګران لیدلی … بیا د هر کال بې جدا جدا تفصیل دی

یکایک به بې و تا و ته بیان کړم … او له کال له دې کالو نو شپچقا ئیل دی

---

(۱) سارق = غل.

(۲) برخه

(۳) حاذق = خورا پوه طبیب.

(۴) په قلمي نسخه کښې : سوم

ACKU

شُچقائیل سال د موش او د گاو دی — پارسائیل خرگوش، پلنګ یې تشقائیل دی
لوئیل سال نهنګ، ایلانئیل مار دی — ینتائیل سال اسپ، گوسفند قوئیل دی
پیچائیل تخاقوئیل حمدونه[1] مرغ دی — ابتائیل سال سپی یې قال و قیل دی
تنکوزئیل سال خوګ په ترکي ژبه — د کلونو شمار حساب په دې سبیل دی
دیوه دوره راځي د بل تېرېږي — سر و لم یې په جهان تغییر تبدیل دی
چه د صبر ګنج لري همېش خوشحال[2] وي — کیمیاګر مې چېرې نه لید [می] چه بخیل دی

د صورت خرخره بوخوت غورځې یونس!
۲۷۲۷ — چه ښکاري[3] ورپسې لنډ دی[4] عزرائیل[5] دی — ۳۰۴

---

(۱) حمدونه، مرېز، کرک، بودنه.
(۲) په قلمي نسخه کښې: به نهال.
(۳) " " " " : ښکاره ی.
(۴) " " " " : لنډی.
(۵) - الف: عزرائیل هغه ملکه چه د سا کښو سا اخلي.
ب: په دې شعر کښې، شاعر د ترکي تاریخ د کلونو نومونه یاد کړي دي. جبره داسې ده چه پخوا، هر اولس د تاریخ د پاره، بېل حساب درلود. په دې کر کښې ترکي تاریخ چه الغوریې تاریخ هم نومېږي راځي. ترکي تاریخ د ولس کاله یو دوره بولي او د هر کال د پاره بېل نوم لري او دا کلونه په دې ترتیب دی:
(۱) سیچقان، موش (مږک) (۲) اود، گاو (غویی) (۳) پارس، پلنګ، (٤) توشقان، خرگوش (سوی)
(۵) لوئی، نهنګ (٦) ییلان، مار (۷) یونت، اسپ (۸) قو، گوسفند (پسه)
(۹) بیچ، بوزینه (بیزو) (۱۰) تخاقو، مرغ (۱۱) ایت، سګ (سپی) (۱۲) تنکوز، خوګ.
د هر نامه په پای کښې د (ایل) کلمه زیاتېږي چه د (کال) معنا ورکوي؛ لکه: توشقان ئیل = د سوی کال.
د دغو نومونو او تاریخ ابوالفضل په آئین اکبري کښې په مفصل ډول لیکلی دی (اسماعیلي مطبعه، دهلی، د ۱۲۷٤ هق چاپ).
لکه چه ګورو د یونس په پورتني شعر کښې ځینې نومونه غلط ضبط یا ترجمه شوي دي چه موږ پکښې څه ګوتې ونه وهلې، که څوک حیرې شکلونه غواړي موږ پورته ولیکل.

ACKU

د رخسار په څېر دې ګل د انار نه دی — د قامت په څېر دې سرو چنار نه دی
لکه څوک د یار په تش لیده مستېږي — مستېږه هومره په مې په کوکنار نه دی
لعل ستا د لعل لبو سیالي نه کړه — در په څېر ستا د دندانو ابدار نه دی
مست د میو به بیدار په یو وقت شي — مست د مینې دې هېڅېږي[1] بیدار نه دی
په بازار د عشق کښې درد و غم متاع ده — تن پرور د غم خریدار نه دی
لوی دریاب په کاڼي لوټه نه خوځېږي — عارفان له بدګویانو ازار نه دی
چه د یار د صفا مخ جوهر وګورم — هسې ګل د نوبهار پښم دار نه دی
سر مې ستا د غم له باره خالي مه شه (۱۵۷) — خو په تن مې تورې څادرې انبار نه دی

چه په درد د عاشقۍ درد من نه وي
۲۷۳۶ ویونس تر دسې یو په شمار نه دی ۳۰۵

هغه کس په بوی د مینې خبر نه دی — چه فدا یې دل و جان د دلبر نه دی
په قوي کوښښ به ورېشي تر مراده — هر طالب چه په همت کښې لاغر نه دی
که رقیب په اشارت و په دعا[2] مري — کوم انګشت زما په مشت کښې خنجر نه دی
زر د او پښیولي حاجت له کاڼي دي — نور په زړه د عاشقانو نظر نه دی
د ژوندون عمر یې باد سره هوا تېر شه — چه دلبر یې هم اغوش دېر نه دی

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: هجرې.
(۲) کېدی شي چه دا عبارت (د بد دعا) وي.

ACKU

په کوښښ د یار د وصل دعوه مه کړه! — څو کشش د یار وتا ته رهبر نه دی (۱)
عشق و عقل له ازله سره وران دي — اتفاق شوی (۲) د زید و عمر (۳) نه دی
که د عشق لاڼې وهي باور مې نه شي — څو یې تن د تیر قضا ته سپر نه دی
د توبې کتان (۴) دې هومره نه دی یونسه! ٢٧٤٥
٣٠٦ څو یو ځل (۵) دې مخ په مخ د قمر نه دی

څو په تیغ د عاشقۍ ګایل (۶) نه دی — د وصال د سبو ملهم و قابل نه دی
چه مسند که د دلبر د کوڅې خاورې — د مسند و زنلیچو (۷) ته مایل نه دی
عاقبت به تر منزله پورې ورشي — هر طالب چه په طلب کښې کاهل نه دی
د فکر لیچې مې سترې په لامبو شوې — لا ښکاره مې د خپل بحر ساحل نه دی
که یې اوښ په عقل لښلې (۸) بې عشقه — په نژدې (۹) د عاشقانو عاقل نه دی

---

(۱) د دري یو شاعر وایي:
اګر از جانب معشوقه نه باشد کششی
کوشش عاشق بیچاره به جایی نه رسد

(۲) په قلمي نسخه کښې: شوونی. کېدی شي چه دا کلمه (شوی) وي.

(۳) زید او عمر دوه عربي نومونه دي چه په عربي کلاسیک ګرامر کښې په مثالونو کښې زیات ویل کېږي. دا جمله ډېره شهرت لري: ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًوا، یعنې زید عمرو ووهه. په دې مثال کښې عمرو وهلی شوی نوم دی چه د (ع) په زور لوستل کېږي او په (و) یې تلفظ نه کېږي، ځکه چه (و) دې د پاره ورسره لیکل کېږي چه د عُمَر (د عین په پېښ) له نامه سره التباس رانه شي مګر په دغه کښې د (عمرو) په نامه ...

(٤) ؟

(۵) په قلمي نسخه کښې: یو ځل.

(٦) ګایل، ګهایل، ګهایل = زخمي، مجروح.

(۷) زنلیچه = وړکوټی، قالین، قالینچه - دالغت د (زلوچه) په شکل هم راغلی دی:
په مسند د زلوچې یې خانان نه کړه
هغه ذوق خوښي خندا چه په حصیر کړم (سکندر خان خټک)

(۸) لښلی = کوچ کول، لېږد بدل.

(۹) په نژدې، چه اوس موږ (په نزد) وایو.

هر گردن په خپل ګناه سره ماخوذ دی — په تقصیر د غیر[1] هیڅوک حامل نه دی[2]

نفس خو خپله مدعا لره تاوان غواړي — پروا دار د ستا په حق په باطل نه دی

۲۷۵۳ (۱۵۸) هغه یار په یار حساب نه دی یونسه! ۳۰۷

چه په غم کښې له یارانو شامل نه دی

کرشمې نازونه وار و لره نه دي — نازیبا و بدبو تاړو[3] لره نه دي

قنج و ناز دي نازنین کاچه پر ښایي — بدو شونډو لویو داړو لره نه دي

د پټ راز خبرې کیږي ور راز دار ته — داخبرې ګریوان پاړو[4] لره نه دي

د عاشق په اوښیو زړه ګروهیږي — زمېږه په اوبو تراړو[5] لره نه دي

خال و خط یې و پاکبازو ته ښایه — بزرګ لفظ توبو کراړو[6] لره نه دي

په همت بازو شاهین ښکار چه منظور[7] شي — د بادشاه منګولې خړو لره نه دي

د لیونګانو یې په زنځیر د زلفو بند شو — سلسلې ورو غوغاړو لره نه دي

---

(۱) په قلمي نسخه کښې: عنبر.

(۲) د قرآن شریف ایت تلمیح تشوی دی چه وایي: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ، یعني: یو څوک د بل په ګناه نه نیول کیږي.

(۳) بوتاړ = د خنا ورخ. د توهین د پاره انسان ته هم ویلی شي.

(٤) ګریوان پاړ = بې شرم، بې حیا، جنګیرک ....، ګریبان پاره.

(۵) تراړه = د غره لمن، شګلنه زمکه، کلکه زمکه، تره.
تره په اوسني ادب کښې: د تره په تورو تړو کښې چه ښوی ګلستان دی
ګلبن دلغوان دی. (خدمتګار)

(٦) کراړه = کلکه، کاڼیزه زمکه. کړوړ، کلک، مضبوط، ناتراش.

(۷) په قلمي نسخه کښې: تړون.

یوه شپه راسره کښېنه چه زړه تش کړم   د د پرهار ویل ولاړ ولړه نه دي

۲۷٦۲ د یونس د پاره ته خانده چه روغ یې
خوب خندا د خم لتاړ ولړه نه دي ۳۰۸

کړي زوړ په بوسه ځوان شي عجب نه دی   که مړ ویه عاشقان شي عجب نه دی
زما[1] ستر ګړې د خیال ځما نخانه ده   که یې خیال یکښې ځمان شي عجب نه دی
چه په ښکي حسن مطبوع[2] شي له ازله   که تابع یې دلبران شي عجب نه دی
